
khanlibrary.org



# د لارې مشال

Download from:aghalibrary.cm

لیکوال: سیدقطب (شهید)
ژباړن: محمد نسیم ستانېزی

khanlibrary.org



د لوی الله جل جلاله په نامه

# د لیکوال سریزه

## د بشریت تراژیدی :

بشریت نن د دوزخ د ژوری کندی پر څنډه ولاړ دی ، د دی لامل دا نه دی چې یو سترنړی وال خطر د بشریت د آرامی او سوکالی په سر چورلکونه وهی ، ځکه چې تر اوسه پوری دا خطر یو ظاهری علامه ده د راتلونکې وخت لپاره ، اصلی مرض نه دی .

ددی اصلی لامل دا دی چې نن د بشریت لمن د ژوندانه د ستونزو د اوارولو لپاره له ارزښتناکې پانګی نه تشه ده هغه ارزښتناکه معنوی پانګه چې ناروغه بشریت ته پری نه یوازی جسمانی روغتیا او سلامتیا ور په برخه کیدله بلکه حقیقی پرمختګ یې هم په برخه کیده .

په خپله د لویدیځ د پوهانو او عامو خلکو هم خپل روحانی فقر او افلاس ته پام دی ، ځکه چې د لویدیځ د تهذیب په لمن کې هم اوس د بشریت د بی شمیره ستونزو او کړکیچونو د آوارولو لپاره ، داسی څه نشته چې هغوی ته یې د سوغات په توګه ورانډی کړی ، لویدیځ په خپله اوس د یوه ناروغ حیثیت لری نو ځکه د بل ناروغ درمل نشی کولای .

د غرب د معنوی او روحانی کمزوری دغه حال دی چې لږ تر لږه د خپل ځان د پایښت لپاره هم داسی څه نشی کولای چې که نور څه نه وی نو خپل اجتماعی ضمیر خو پری ډاډه کړی .

د لویدیځ جمهوریت اوس د فکری او معنوی پانګی د نه درلودلو له امله دومره نیستمن شویدی چې خوراکې اوس د ختیځ د افکارو په سمسوره کرونده کې وږو ټولولو ته اړ شویدی ، د ختیځ بلاک د سوسیالیزم وټه ائیز ( اقتصادی ) نظریات چې غرب یې اوس په خپلولو لګیا دی زمونږ د ادعا څرګند ثبوت دی .

له بلی خوا نه خپله د ختیځ بلاک په حال هم ژړا پکار ده ، د ختیځ بلاک په ټولنیزو نظریاتو کې مارکسیزم ځان مخکې، مخکې کوی ، دغی نظریې

khanlibrary.org



د خپل پیدایښت په پیل کې د ختیځ نړۍ څه چې د لویدیځ یو شمیر زیات خلک هم په خپل ځان رامات کړل او د دی عارضی بری علت هم دا وۀ چې دا یوازی یو سیاسي نظام نه بلکه د عقیدی تبی یې هم ورته کړی وۀ .

خو اوس مارکسیزم له فکری پلوه له ماتی سره مخامخ دی ، که څوک دا ووایې چې د مارکسیزم نظریه اوس د یو داسی حکومت په چوپړ کې ده چې له اصلی مارکسیزم نه ډیر واټن لری نو څه بی ځایه خبره به نه وی ، په عمومی ډول دغه نظریه له انسانی فطرت سره په مقابل لوری کې پرته ده او د انسانی فطرت له غوښتنو سره په جګړه بوخته ده .

دغه نظریه اوس لکه میکروب یوازی په یوه خیرن ، خچن او لړلی ماحول کې وده کولای شی او یا په یوه داسی ماحول کې وده او پرمختګ کولای شی چې د هغه ماحول خلک مریې صفته وی او له کلونو کلونو راهیسی له دکتا توری سره آموخته شوی وی .

خو د دغی نظریی بدمرغی دا ده چې اوس په دغسی یو ماحول کې هم د هغی اقتصادی تجربی له ناکامی سره مخامخ شویدی ، داسی نتیجه یې ورنکړه لکه څومره چې یې پلویان ورته په تمه وو ، اقتصادی اړخ ، د دغی نظریی د ملا د تیر حیثیت لری چې ټوله ودانی یې پر همدی اړخ درولی ده او ویاړ پری کوی ، روس د سوسیالستی حکومتونو د ملک او مخکښ حیثیت لری .

خو د هغوی زیات خوراکي څیزونه اوس هم له نورو هیوادونو نه راځی په داسی حال کې چې د تزار په وخت کې هم روسانو له خپلی اړتیا نه زیات غنم لرل خو اوس یې له بهرنیو هیوادونو نه اخلی ، دا ځکه چې د هغوی د کروندی نظام ناکام شویدی ، بلکه باید داسی ووایو چې هغه نظام چې د فطرت مخالف وی له خپله لاسه یې ناکامی په برخه کیږی .

## نوی لیډر شپ ته اړتیا

که مونږ پورتنی لیکنه په غور ولولو نو دا خبره به هم بی له شکه ومنو چې ، بشریت اوس یوه نوی قیادت او مشرتابه ته اړتیا لری ، تر اوسه پوری د بشریت لارښوونه او قیادت د غربیانو په لاس کې وۀ خو د هغوی دغه رهبری

khanlibrary.org



او قیادت اوس رنګیدونکې دی ، لکه څنګه مو چې مخکې وویل د غربی قیادت د زوال او کمزورتیا علت دا نه دی چې د مادی تهذیب او یا له اقتصادی او نظامی پلوه کمزوری شوی وي بلکه د لویدیځ د رهبری او قیادت د کمزورتیا او زوال اصلی لامل دا دی چې غربی انسان اوس د هغو ژوند بڼونکو معنوی ارزښتونو نه بی برخی دی چې د هغی په واسطه دی د قیادت او رهبری وړ ګڼل کیدای شو .

همدا لامل دی چې د تاریخ په ستیج یې اوس رول پای ته رسیدلی دی ، اوس په دغه کړکیچن حالت کې یوی داسی رهبری ته ډیره سخته اړتیا ده چې له یوی خوا نه د اروپا د تخلیقی ذهن د محصول ( مادی پرمختګ ) ساتنه وکړی او نور هم پسی د بشریت د ښیګړو لپاره وده ورکړی او له بل پلوه بشریت ته د ټولنیز ژوند داسی بڼې او غوره نمونی وړاندی کړی چې په تاریخ کې یې ساری نـه وی او بشری علم تر اوسـه له هغی سره نا اشنا وی .

له دی سره سره بشریت ته د ژوند داسی یوه کړنلاره هم ور وښیی چې له انسانی فطـرت سره اړخ ولګوی، مثبته او تعمیری وی، حقیقت خوښوونکې وی .

دغه ډول ژوند بڼونکې ارزښتونه او د ژوند ، ځانګړی نظام یوازی په اسلام کې موندل کیدای شي ، له اسلام نه پرته په کوم بل ماخذ او قاموس کې د هغی لټول هسی بوس دلول دی ، د علمی پرمختګ نهضت هم اوس خپل ارزښت له لاسه ورکړیدی ، دغه نهضت په شپاړسمه عیسوی پیړۍ کې د خلکو له علمی بیداری سره سم پیل شوی وۀ .

اتلسمه او نولسمه پیړۍ د دغه نهضت د لوړتیا زمانه وه خو اوس د دغه نهضت په لمنی کې هم د ژوند پانګه خلاصه شویده .

هغه ټول وطنی او قومی الواکونه ( نظریې ) چې په دغه وخت کې را برسیره شویدی او هغه ټول نهضتونه چې د دغو نظریاتو پر بنسټ ولاړ وو له هغوی سره هم اوس د بشریت د اوسنیو او راتلونکو ستونزو د حل کومه

khanlibrary.org



نسخه نشته لنډه دا چې تولو انفرادی او تولنیزو نظریو د عمل په ډګر کې د حال په ژبه د خپلې ناکامی اعلان کړیدی .

په دغـه ډول انتهایې او نازک پـراو کې چې د بشریت نا آرامی ، ستونزی او کړکیچونه خپل وروستی پراو ته رسیدلی دی اوس د اسـلام او مسلمان امت وار دی چې د تاریخ پـه بستر ناروغه بشریت تـه د روغتیا زیری ورکړی .

اسلام له اوسنیو مادی اختراعاتو سره نه یوازی مخالف نه دی بلکه هغه د انسان د ژوند د پاینبت لپاره مادی پرمختګ یو ضروری او لومړنی کار ګڼی ، کله چې ، اسلام د ځمکې پر مخ د الهی نیابت ویاړلی منصب ترلاسه کړ نو له هماغه لومړی ورځی نه یې دا هم په ډاګه کړیده چې د مادی پرمختګ حاصلول د اسلام لومړنی اصل دی .

د همدی امله اسلام له دی نه هم لږ پر مخ ولاړ او د ځینی مخصوصو شرایطو پر اساس یې د مادی پرمختګ زیار او ستونزو ته د الهی قیادت درجه ورکړه او هغه یې د انسانی تخلیق د غرض او غایې د پوره کولو لپاره یوه وسیله وګڼله الله جل جلاله فرمایې چې :

وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً [البقره : ۳۰]

( او یاد کړه هغه څه چې ستا رب ملائکو ته وویل ، چې : د ځمکې پر مخ خپل خلیفه پیدا کوم ) .

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ [الذاریات : ۵۶]

( ما نه دی پیدا کړی پیریان او انسانان ، مګر د دی لپاره چې زما عبادت او بندګی وکړی) .

الله جل جلاله چې مسلمان امت د کوم مقصد لپاره راپورته کړی اوس هغه وخت راغلی دی چې مسلمان امت د خپل موجودیت مقصد پوره کړی .

په دغه برخه کې الله جل جلاله فرمایلی دی :

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ [ال عمران : ۱۱۰ آیت ]

khanlibrary.org



( تاسو په نړۍ کې د ډیرو ښو خلکو له ډلې نه یاست چې د بشریت د لارښوونې لپاره ، د عمل میدان ته راغلی یې ، تاسو خلکو په نیکې حکم کوی له بدی نه یې ایساروی او پر الله جل جلاله ایمان لری ) .

وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا [البقره : ۱۴۳ آیت]

( او په دی توګه مونږ تاسو نه یو منځنی امت جوړ کړیدی چې تاسو د دنیا په خلکو شاهدان واوسی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په تاسو شاهد و اوسی ) .

**اسلام خپله دنده ( وظیفه ) څنګه ترسره کولای شی ؟**

اسلام تر هغه وخته پوری خپل مقاصد سر ته نشی رسولای ترڅو چې د یوی اسلامي ټولنی په توګه تبارز ونه کړی په بله وینا اسلام باید د خپل مقصد او هدف د ترسره کولو لپاره د یوه اسلامي امت او قوم بڼه غوره کړی ، د نړۍ په هیڅ وخت او زمان او په تیره بیا په اوسنی وخت کې هیڅکله هم د تش نظر د خاوندانو په چیغو سورو باندی چا غوږ نه دی ګرولی ، تر هغی یې چې په ټولنه کې د هغه نظر ژوندی نمونه نه ده لیدلی ، نو له دی امله مونږ ویلی شو چې د ریښتونی مسلمان امت ( وجود ) له څو پیړیو راهیسی ورک دی ، ځکه چې مسلمان امت د کوم هیواد نوم نه دی چې هلته اسلام خپور شوی وی ، او نه د کوم ( قوم ) نوم دی چې پلرونه نیکونه یې د تاریخ په کوم پړاو کې د اسلامي نظام تر سیوری لاندی اوسیدلی وی .

بلکه دا د یوی داسی انسانی ډلی نوم دی چې د ژوند کړه وړه افکار او نظریات قوانین او ضوابط ، اجتماعی معیارونه او ارزښتونه د منلو او نه منلو اصول ، ټول د اسلامي نظام له سپیڅلی منبع نه سرچینه اخلی ، په دغو اوصافو متصف مسلمان امت چې له کوم وخت راهیسی د عدم دی ځرندی ( زیر زمینی ) د ښامار خوراک شوی دی ، له هماغی شیبی نه د ځمکې پر مخ د الهی شریعت تر سیوری لاندی حکومت او د ژوند کارو بار ټال شوی دی .

khanlibrary.org



خو که چیرته اسلام بیرته خپل تیر برم او پرتم ته رسیدل غواړی او د دنیا د اوسنی کړکیچن حالت سمون چې اوسنی لالهانده بشر هم ورته په ډیره بی صبری ، سترګی پر لار دی نو باید چې تر هر څه لومړی د مسلمان امت ، وجود په خپله اصلی او پخوانی بڼه احیاء کړی .

هغه مسلمان امت چې څو پیړیو او نسلونو راهیسی یې د ضمیر په ښیښه د وخت او مهال خړه دوړه پرته ده ، هغه چې د غلطو نظریاتو تر ډیریو لاندی پرته ده ، هغه چې د له ځانه جوړ شوو قوانینو او روایاتو تر تورو خاورو لاندی پټه ده او هغه چې د باطلو قوانینو او د سا تیرو په ډیریو کې ورکه ده .

هغه چې اوس یې له اسلام او د اسلام د ژواک او چال چلند سره د توپیر خلیج نور هم ژور شوی دی ، خو دی تولو سره سره ځینی خام خیاله او لنډ اندی په دی خوش باوری هم اخته دی چې د اسلام وجود اوس قایم او دایم دی او تش په نامه اسلامي نړۍ یې هستوګنځی دی .

زه له دی خبری نه ناخبره نه یم چې د اسلام د بیا ژوندی کولو ( احیای مجدد ) زیار او هڅی او د مشرتابه او رهبرۍ د لاسته راوړلو ترمینځ ډیره لویه فاصله ده ، له یوی خوا نه د مسلمان امت دغه حال دی چې ، د خپل موجودیت اصل یې له ډیر پخوا راهیسی هیر کړی دی او د تاریخ د واکمنی له ستیج نه یې د رخصتیدو ډیره اوږده موده وتلی ده .

د اسلام د غیر حاضری په دی اوږده موده کې د بشریت د رهبری او قیادت په کرسی ، مختلفو نظریاتو او قوانینو او ځینی روایاتو تکیه کړی وه ، دا هغه دوره وه چې د اروپا له نبوغه سمسور ذهن په کې د سا
کولتور ، قانون او نورو مادی وسایلو په تخلیق کې داسی ست
وښودلی چې د هغی له املې بشریت نن د مادی ترقی او ا
لوړتیا لوړو څوکو ته رسیدلی دی .

چې په دی توګه څوک نشی کولای په
د انتقاد ګوته په آسانی کیښودلا
چې د هغی سیمی لمن
له دغسی سوغا

ت نه تشه وی .

khanlibrary.org



خو ددی ټولو خبرو سره سره بیا هم د اسلام را ژوندی کول او اقتدار ته رسول یو نهایت ضروری کار دی ، که د اسلام د بیا را ژوندی کولو په لومړیو هڅو او یا د امامت د لاسته راوړلو په مینځ کې هر څومره اوږد واټن وی او یا هر څومره ژور جهیلونه زمونږ د لاری خنډ وی ، نو د اسلام د بیا ژوندی کولو له نهضت نه په دی پلمه لاس نشو اخیستلای ، ځکه چې دغه عمل په دی لاره کې لومړی ګام دی او هرومرو به اسلام له دغه پراو نه تیریږی .

**د نړۍ د مشرتابه او امامت لپاره د کومو صلاحیتونو درلودل ضرور دی ؟**

سره له دی چې مونږ ته د خپل کار او عمل تاکلی بریدونه څرګند دی ، خو بیا هم مونږ په ځانګړی توګه دا خبره ځانته څرګنده کړو چې هغه کوم صلاحیتونه دی چې د هغی له مخی مسلمان امت د نړیوال امامت دنده ترسره کولای شی ؟

ددی مسئلی روښانول له دی امله ضروری دی چې مونږ د اسلام د بیا ژوندی کولو په کار کې له هماغه لومړی پراو نه د دغو صلاحیتونو په پیژندنه کې له تیر وتنو سره مخامخ نشو .

مسلمان امت نن د دی جوګه نه دی او نه تری زمونږ دا طمعه ده چې هغه به د بشریت لپاره د مادی ایجاداتو په لړ کې داسی کوم خارق العاده او ناشونی علمی صلاحیت څرګند کړی چې ، د هغی له امله بشریت د هغوی ذهانت او علمی صلاحیت ته ګوتې په غاښ شی او د تسلیم سر یې په مخکې کوږ کړی او د همدی مادی پرمختګ د برکت له امله یو ځل بیا د خپل نړیوال امامت سکه په خلکو ومنی ، د اروپا نابغه ذهن د دی میدان په څغاسته کې تر هر چا مخکې دي .

دومره مخکې چې لړ تر لړه څو نورو راتلونکو پیړیو پوری هم دا هیله نشی کیدلای چې د مادی پرمختګ په دی څغاسته کې یې را لاندی او یا تری مخکې شو ، نو له دی امله مونږ ته د یوه بل داسی صلاحیت د درلودلو ضرورت دی چې اوسنی تهذیب یې نه لري .

خو دغه خبری مطلب دا نه دی چې مونږ دی د ژوند د مادی پرمختګ ارخ له نظره بیخی وغورځوو او بابیزه یې وګڼو ، بلکه په دی لاره کې باید

khanlibrary.org



ستونزی وګالو ، خولی توی کړو ، لاسونه تپاکې کړو چې لږ تر لږه له هغوی سره د سیالی کولو جوګه شو .

دا له دی امله نه چې زمونږ په نظر په اوسنی پراو کې د نړۍ د امامت او زعامت د ترلاسه کولو لپاره یوازینی لار ده بلکه له دی امله چې زمونږ د وجود د پایښت او بقا لپاره یوازینی شرط دی ، او په خپله اسلام چې انسان یې د ځمکې پر مخ د خلافت وارث ګڼلی دی .

د ځینو مخصوصو شرایطو په نظر کې نیولو سره یې د خلافت کار ، د الله جل جلاله عبادت او انسانانو نور تخلیقی کارونه د ژوند غرض او غایه ګڼلی دی نو له دی امله یې مادی پرمختګ او ترقی پر مونږ لازم ګرځیده .

د بشریت د رهبری او قیادت د لاسته راوړلو لپاره ، له مادی پرمختګ نه پرته یوه بل صلاحیت ته هم ضرورت دی او دا صلاحیت یوازی د ژوند هغه نظام او ګروهه کیدلی شی چې له یوی خوا انسانیت ته دا موقع په لاس ورکوی چې د خپلو مادی پرمختګونو ساتنه وکړی او له بلی خوا نه د بشر د ژوند فطری ارتیاوی او غوښتنی د یوه داسی نوی او روښانه نظر تر سیوری لاندی پوره کړی چې د بل هر نظر نه د بشر له فطرت سره زیات اړخ لګوی او بیا دغه ګروهه او د ژوند نظام عملاء د یوی انسانی تولنی بڼه غوره کړی ، یا په بله وینا د یوی اسلامي نظریې ښکارندویه تولنه وی .

## د اوسنی وخت جاهلیت

که مونږ د بشر د موجوده ژوند اصولو او بنسټونو ته ځیر شو او هغو منابعو ته سرسری شان وګورو چې د اوسنی وخت د نظامونو ورشو پری خړوبیږی نو په اسانی سره به راته څرګنده شی چې توله نړۍ نن د جاهلیت په سمندر کې لاهو شوی ده .

او د دغه جاهلیت روزل شوو جاهلانو هم د بشریت په تاریخ کې داسی ګلان کړلی دي چې د اوسنی پیړی حیرانوونکو اختراعاتو ، د ژوند سوکالی او اسانتیاوو هم د هغوي په رسوایې او سپکاوی پرده ونه غورځولای شوه .

khanlibrary.org



د دغه جاهلیت ، مانې چې پر کوم بنسټ ولاړه ده هغه د ځمکې پر مخ د الله په ستر اقتدار کې لاسوهنه او حاکمیت دی ، د ځمکې پر مخ د اقتدار سنبالول د الوهیت مخصوص صفت دی او د اوسنی پیړی جاهلیت له ، دغه اصل نه بغاوت کړی دی .

ځکه چې د دغه عصر جاهلیت ، د حاکمیت او اقتدار واګی انسان ته سپارلی دی او ځینو انسانانو ته یې د ځینو نورو انسانانو په پرتله د ( ارباب من دون الله ) مقام ورکړیدی ، د اوسنی عصر ، جاهلیت ، هغه ساده او ابتدای بڼه نه لری چې د پخوانی زمانې ( جاهلیت ) ورسره اشنا وٴ .

بلکه د اوسنی ( جاهلیت ) دا دعوه ده چې انسان دا حق لری چې په خپله د خپل ژوند د سمون لپاره د افکارو او نظریاتو تخلیق وکړی ، قوانین وټاکې او همدا رنګه د ژوندانه هر اړخ لپاره په خپل فکر نظم ودسپلین جوړ کړی .

په دی لړ کې د ژوند د سمبالولو لپاره څه ډول قوانین رالیږلی دی ؟ څه لارښوونې یې نازل کړی دی ، او په کوم ډول ؟ د بشریت د دغې باغي اقتدار او بې کیزی حکومت نتیجه دا ده چې د الله تعالی مخلوق نن د ظلم او تیری له لاسه تر پوزی پوری رسیدلی دی ، د کمونیستی نظامونو تر سیوری لاندی چې نن د بشریت کوم سپکاوی کیږی او یا د پانګوالی نظامونه بادارانه چې د غلامی کوم زغرد بیوزلو او کمزورو قومونو او خلکو په څټ اینبسی دی هغه په حقیقت کې د دغه بغاوت یوه څرګنده نښه ده چې د ځمکې پر مخ یې د الله جل جلاله د اقتدار په مقابله کې ښودلی ده الله تعالی چې انسان ته د کرامت او شرافت کومه جامه ور اغوستی هغه یې له خپلی ناپوهی او خود خواهی نه غورځولی ده نو ځکه له دومره کړاوونو سره مخامخ دی .

## د اسلام او جاهلیت د اختلاف اصل

په دغه برخه کې، د اسلام د تولنیز ژوندانه نظر د نورو نظریو ترمینځ یو څانګړی او جلا حیثیت لری ، د اسلامي قانون د ژوندانه له نظام نه پرته

khanlibrary.org



چې سړی هر نظام وګوری نو په ډاګه به یکې په یو ډول نه په یوه ډول یو انسان د نورو انسانانو د بندګی او اسارت تر زغ لاندی نسکور ووینی .

یوازی د اسلام آزادی بښونکې نظام دی چې د هغی تر سیوری لاندی هر انسان نور انسانان هم د ځان په څیر د نورو له بندګی او اسارت نه آزادلیدلای شی ، چې یوازی او یوازی به یې د الله جل جلاله د بندګی افتخار په برخه وی او بس یوازی به یې د الله جل جلاله د فیض او برکت نه درګاه نه د لاربښوونې او هدایت ځلانده لمر په وړانګو سترګی روښانه کیږی او یوازی یې د هغه په مخ کې د بندګی ملا کږیږی .

دا هغه برید دی چې د اسلام او غیر اسلامي تولنیز نظام پولی سره په کې جلا شوی دی ، دا دی د ژوند په هکله د اسلام هغه رون ، نوی او ممتاز تصور چې مونږ یې نن د نړیوالو د بی شمیره تولنیزو ستونزو د اوارولو لپاره هغوی ته وړاندی کوو .

دا تصور انسانی ژوند په تولو اړخونو کې ژور بدلون راوستلای شی ، دا هغه بی ساری او ناپایه خزانه ده چې نن تری بشریت بی برخی دی ، د مغربی تهذیب په لمن کې د بشریت لپاره داسی سوغات نشته او نه دا کار اروپا د اریانونکو تخلیقی صلاحیتونو له وسی پوره دی .

ددی خزانی د رابرسیره کولو په لار کې د لویدیځی او ختیځی اروپا دواړو لاسونه او پښی شلی شویدی ، دا خبره مونږ په پوره ډاډ او اطمینان سره کولای شو چې مونږ د داسی یوه نظام د راوستلو ادعا لرو چې نن یې ساری په نړۍ کې نه لیدل کیږی او بی نهایت بشپړ او غوره نظام دی .

نن د تول بشریت په خزانه کې داسی ژوند ببنونکې او امید ببنونکې پانګه نشته ، غرب نشی ګولای چې د نورو مادی وسایلو په توګه هغه هم پیدا کړی ، دومره نبوغ او ذکاوت یکې نشته ، خو څرنګه چې مونږ مخکې وویل ددی نظام ښه والی تر هغه پوری ښه نشی څرګندیدلای تر هغی چې هغه ته د عمل واک ورنکړای شی ، نو له دی امله دا خبره ضروری ده چې د دغی ژوند ببنونکې نظرین پلویان او منونکې دی په خپل ژوند او کړو وړو کې خلکو ته د هغی عملی نمونی وښیی .

khanlibrary.org



ددی مقصد د تر سره کولو لپاره پرته له دی نه بله هیڅ چاره نشته چې په کوم اسلامي هیواد کې د دغه ستر او ارزښتناک کار د پیل ډبره کې نه ښودل شی ، د اسلام د بیا راژوندی کولو لپاره دغه یوازینی لاره ده چې په پای کې به په لنډه او یا اوږده موده کې د انسانی امت د رهبری او امامت چاری د دغی انقلابی ګروهی د پلویانو لاسته ورشی .

**د اسلام د بیا ژوندی کولو لار کومه ده ؟**

اوس دا پوښتنه پیدا کیږی چې د اسلام د احیای مجدد پیل څرنګه وی ؟ د دی پوښتنی لنډ ځواب دا دی چې لومړی دی یو صالح تولګی مینځ ته راشی چې د دی ستر او انسانی کار د سر ته رسولو لوړ وکړی او بیا په پرله پسی او نه ستړی کیدونکو هلو ځلو د منزل په لور وړاندی لاړ شی او د جاهلیت په دی بی سرو سمندر کې د یوه ځیرک او ماهر مانو په څیر دغه د انسانیت د ارمانونو بیړی ساحل ته رسوی .

په دغه لوی سفر کې باید دی دغه نړیوال او هر اړخیز جاهلیت سره د اړیکو درلودلو په ترڅ کې په یوه ډول ځانګړی او جلا دریځ ولری او په بل ډول ، یو څه اړیکې هم ورسره ولری ، دغه صالح تولګی چې د کوم منزل په لور وړاندی تګ کوی دوی ته باید د خپلی لاری نښی او د لاری د واټن ( فاصله ) اندازه په پوره توګه څرګند وی چې د هغی په لیدلو د خپل ستر کار په ښه او بد ، طبیعت او د خپلی وظیفی په حقیقت او اهمیت او د دغه اوږد سفر د پیل او ختم په خصوصیاتو پوه وي .

نه یوازی دا څیزونه باید وپیژنی بلکه هغه باید په دی هم پوه وی چې د دغه جهان شموله جاهلیت په مقابل کې د هغه دریځ څه دی ؟ په کومو څیزونو کې هغه له نورو انسانانو سره شریک دی او په کومو کې جلا دی ؟ دی په خپله د کومو ښیګړو او صفاتو لرونکې دي ؟

او د شا وخوا جاهلیت په کومو خصوصیاتو سمبال دی ؟ او همدا رنګه د دی جاهلانو سره د اسلام په ژبه څنګه وغږیږی او پر کومو مسایلو ورسره خبری وکړی ؟ او په پای کې دی هغه ته دا هم معلومه وی چې په دی تولو کارونو کې له کوم ځای نه او څه ډول لارښوونه لاسته راوړي ؟

khanlibrary.org



د دغه اوږده منزل د لاری د نښو او واټن په پیژندلو کې د اسلامي ګروهی لومړی ماخـذ مونږ سره مرسته کولای شی ، له لومړی ماخذ نـه زمونږ مراد ( قرآنکریم ) دی ، د دغه اسمانی کتاب بنیادی زده کړه مونږ تـه د دغی لاری نښی راښیی یا به د هغو بنیادی تعلیماتو تصور مونږ تـه لارښوونه وکړی چې قرآن حکیم ددغه او څار او نیک ټولی په زړه کې انځور کړی دی .

چې د هغی په واسطه الله جل جلاله په نړۍ کې د خپل حکمت او قدرت اریانوونکې پیښی وښودلی او یو ځل ، دغه ټولی د انسانی تاریخ تګ لاره بدله کړه او د هغه تګ لوری یې هغه خواته وګرځاوه چې د الله جل جلاله مشیت سره سم او برابر وۍ .

## منتظر حقیقت

دا کتاب ما ، د هغه مخکښ او صالح ټولی لپاره چې زه یې منتظر حقیقت ګڼم لیکلی دی ، د دغه کتاب څلور بابونه زما له تفسیر ( فی ظلال القرآن ) نه اخیستل شویدی ، چې ما پکې د موضوع د ارتباط او ضرورت له مخی ځینی شیان زیات او ترمیم کړیدی .

له دی سریزی نه پرته نور ، اته بابونه ما په مختلفو وختونو کې لیکلی دی ، د قرآنکریم د ربانی نظر ، د ژوندانه د سمون په برخه کې به چې ما غور او فکر کاوه او په دغه وخت کې به د دغه ربانی کلام ځینی حقایق ماته راڅرګندیدل ، هغه می د کاغذ پر مخ کښلی دی .

زما دا افکار په ظاهره خواره واره معلومیږی خو یوه خبره په دی ټولو کې شریکه ده او هغه دا چې دغه نظریات د لارۍ نښی ( معالم فی الطریق ) دی ، ښکاره خبره ده چې د هری نظریې د نښو همدا حال وی ، په عمومی ډول دغه لیکنه د معالم فی الطریق لومړی ټوک دی .

khanlibrary.org



هیله ده څرنګه چې الله تعالی ماته د دی کتاب د لیکلو توفیق راکړ په دغه برخه کې به د نورو مجموعو توفیق او ځواک هم را په برخه کړی[۱].

---

[۱]- د نومیالی سید دغه هیله ترسره نشوه ځکه معالم فی الطریق د هغه وروستی تصنیف دی [ژباړن].

khanlibrary.org



## لومړی فصل

# په قرآنی اصولو روزل شوی او څار نسل

د اسلام په نامه سربندونکې باید د تل لپاره د اسلامي تاریخ یوه ځانګړی او مشخص اړخ ته په خاصه توګه پاملرنه وکړی ، ځکه چې د تاریخ دغه اړخ د اسلامي دعوت پر څرنګوالی او نوعیت باندی یو خاص اثـر لری ، نو له دی کبله پکار ده چې د اسلامي بلنی ( دعوت ) تـوغ اوچتوونکې که په هر هیواد ، وخت او زمان پوری اړه لری ، د تاریخ په دغه اړخ ژور فکر وکړی .

د تاریخ دغه اړخ د دی ستر حقیقت څرګندوونکې دی چې اسلامي دعوت د الهی کتاب ( قرآنکریم ) د تعلیماتو په رڼا کې یو وخت داسی او څار او غوره نسل روزلی وٴ چې ساری یی په اسلامي تاریخ کې څه چې په ټول انسانی تاریخ کې هم نه موندل کیږی .

له دغه اوڅار نسل نه زمونږ مراد د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام دی ، له دغه نسل نه وروسته په تاریخی دورو کې د اسلامي دعوت مدعیانو داسی نسل ونه روزلی شو ، سره له دی چې د تاریخ په هر پړاو کې دغه ډول غوره اشخاص موجود وو .

خو داسی هیڅکله هم نه دی شوی چې په دغه ډول افکارو او اخلاقو متصف خلک دی په یو زیات شمیر په یوه سیمه کې را پیدا شوی او یا راټول شوی وی ، لکه څنګه چې د اسلام په لومړنیو وختونو کې را ټول شـوی وو ، دا یو داسی بدیهی حقیقت دی چې ثبوت یې پـه خپله د تاریخ پاڼی دی .

په دی کې یو خاص رمز پټ پروت دی مونږ باید تر هغی د تاریخ دغه بدیهی حقیقت په پوره غوره ولولو چې د دغه راز پـه اسـرارو پوه شو .

**له صحابه یې کرامو نه وروسته دغه ډول بی ساری ټولی ، ولې مینځ ته رانغی ؟**

د اسلام د بلنی او لارښوونی اصول چې په کوم کتاب کې موجود دی ، هغه اوس هم له مونږ سره شته ، د دغه کتاب د وړاندی کوونکې هستی ،

khanlibrary.org



رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلیماتو احادیثو او پاک سیرت نمونی ار اصول اوس هم داسی ، زمونږ په مخکې دی لکه څنګه چې د هغه وخت د لومړی اسلامي ټولنی په مخکې وو ، هغه چې بیا یې تر اوسه پوری د تاریخ په ستیج د رهبری او امامت ځواک ونه مونده .

که مونږ دی مسئلی ته لږ ځیر شو نو دا توپیر به ډیر ژر راته څرکند شی چې ، دا ولی ؟ یوازی په همدومره توپیر چې په هغه وخت کې خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم شخصاء د دوی امامت او رهبری کوله او اوس زمونږ په برخه دغه ویار نشته ، خو ایا یوازی همدغه توپیر د اسلام د بی ساری تنظیم د بیا نه راتګ علت دی ؟

که داسی وایې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک وجود د اسلامي دعوت د قیام او پرمختګ لپاره په هر حال او هر وخت و زمان کې بالکل ضروری او حتمی سوال وای نو الله جل جلاله به هیڅکله هم اسلام یو نړیوال دین او د ټول بشریت لپاره په هر وخت او زمان کې د نجات یوازینی لاره نه وای ګرځولی ، نه به یې اسلام ته د بشریت لپاره د الهی وروستنی پیغام خیثیت ورکاوه .

نه به یې د ځمکې پر مخ د ټولـر انسانانو د ټولنیزو ، سیاسي او وټه ایزو ( اقتصادی ) ستونزو د حل ذمه واری تر قیامت پوری ورسپارله ، الله تعالی د قرآن حکیم د ساتلو ذمه په خپله کړیده دا ځکه چې هغه علیم او خبیر ذات په دی پوهیده چې اسلام له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته بیا هم را ژوندی کیدونکې دی ، او بشریت به په خپلو ښیګړو نیکمرغه کړی .

نو له همدی امله کله چې دغه دعوت درویشت کلنی ته ورسیده او د ځوانی په جوش وخروش کې و نو الله جل جلاله خپل محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپل ابدی رحمت ارامګاه ته وغوښته ، له هغه مبارک نه وروسته یې دغه دین ټولی نړۍ لپاره تر وروستی شیبی پوری جاری کړ .

زمونږ له سترګو نه د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم ، د مبارک وجود نشتوالی د هغه معیاری او نمونه اسلامي ټولی د فقدان او نشته والی یوازینی علت نشی کیدلی .

khanlibrary.org



## لومړی لامل ( علت )

نو بیا خو مونږ ته پکار دی چې د کوم بل لامل او سبب په لټه کې شو ، په دی لړ کې مونږ باید هغی منبع او ماخذ ته نظر واچوو چې په رڼایې د لومړیې اسلامي اوځار نسل د فهم او شعور سترګی رونی شوی وی ، ښایې په هغی کې به تغیر راغلی وی .

د هغه اسلوب او میتود څیړته هم باید پوره غور وکړو چې د صحابه یی کرامو په روزنه کې ترینه کار اخیستل شوی و ، ښایې په هغه میتود کې به څه بدلون راغلی وی ؟ له هغی چینی نه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو فهم او شعور حاصل کړی ؤ ، هغه یوازی او یوازی ، قرآن ؤ ، د رسول کریم صلی الله علیه وسلم احادیث او تعلیمات د دغی فیضه ډکې چینی شا وخوا ته راټوکیدلی ګلان دی .

کله چې له ام المؤمنین حضرت عایشه رضی الله عنها نه پوښتنه وشوله چې د حضور صلی الله علیه وسلم اخلاق څنګه وو ؟

نو هغی درنی میرمنی وفرمایل : کان خلقه القرآن ( د هغه مبارک اخلاق د قرآنی تعلیماتو ژوندی نمونی وی ) ، لنډه دا چې قرآنکریم یوازینی چینه وه چې صحابه کرام تری خړوبیدل ، همدا د ژوند هغه بلنه او بی خطره لار وه چې هغوی د ژوند تر پایه پری مزل کاوه او خپلی پاکې موٴخی ( هدف ) ته پری ډیر ژر ورسیدل ، د هغوی د ژوند ټول کارونه د همدی کتاب قرآن په رڼا کې ترسره کیدل .

یوازی له ( قرآن ) نه د ژوند په چارو کې ګټی اخیستلو دا معنی نه لرله چې هغه وخت په دنیا کې د کوم بل تهذیب او ثقافت آثار موجود نه وو ، علمی څیړنی او ساینسي اختراعات موجود نه وو ، حقیقت دا دی چې د اوسنی تهذیب ټول مظاهر هغه وخت هم په مختلفو بڼو موجود وو .

د ساری په توګه د رومیانو تهذیب موجود وو ، د رومیانو د علم او حکمت او قانون او حکومتی سیستم نغاری هره خوا ډنګیدلی ، چې اوس هم د اروپا تهذیب او تمدن پر هماغه بنسټ ولاړ دی او یا لږ تر لږه د هماغه پخوانی تهذیب پرمختللی بڼه ده .

khanlibrary.org



د یونانی تهذیب میراث هم د منطق ، فلسفی ، ادب او فن په بڼه کې موجود و چې تر اوسه پوری د لویدیځو افکارو یوازینی ماخذ دی ، د عجمو د تهذیب او تمدن ، ارټ ، شاعری ، پخوانی ادب ، ګروهی او حکومتی نظامونه انګازی هم هره خوا خوری وي .

نور هم ډیر تهذیبونه د جزیره العرب شا وخواته موجود وو ، مثلا د هندی او چینی تهذیب او رومی او عجمی تهذیب دواړو وړمی د جزیره العرب له ریګستانونو سره سره د شمال او جنوب لور ته هم الوتلی ، له دی نه پرته د یهودیانو او مسیحیانو ابادی په خپله د جزیره العرب په مینځ کې وي .

نو له دی امله مونږ په پوره باور دا خبره کولی شو چې د صحابه یې کرام ، لومړنی مخکښ اسلامي نسل ، د استفادی کولو یوازینی ماخذ له دی امله ( قرآن ) نه و چې هغوی له فکری جمود سره مخامخ وو او یا له نورو تهذیبونو سره بالکل ناشنا وو .

بلکه له ( قرآن ) نه د دینی اصولو په فهم او درک کې د یوازینی ماخذ په توګه استفاده کول د یوی ارادی او غوڅی پریکړی پر اساس و ، زمونږ د دی خبری ثبوت په خپله د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه وینا ده چې حضرت عمر رضی الله عنه ته یې کړی وه .

یوه ورځ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د حضرت عمر رضی الله عنه په لاس کې د تورات یو څو پاڼی ولیدی ، هغه پدی کار متاثر شو او وی فرمایل : والله لو کان موسی حیا بین اظهرکم ما حل لله الا ان یتبعنی [1]

( په الله جل جلاله سوګند چې که په خپله موسی علیه السلام هم نن ستاسی په ډله کې وای ، نو هغه به هم ماته غاړه ایښی وای ) .

له دی پیښی نه په ډاګه څرګندیږی چې نبی صلی الله علیه وسلم ارادتا غوښتل چې د اسلام د دغه لومړی او څار نسل ذهن او فکر یوازی د قرآن کریم د علم او برکت له چینی نه څړوب شی ، د هغه صلی الله علیه وسلم

---

۱ - دغه روایت د حضرت جابر رضی الله عنه دی او حافظ ابو یعلی د حماد او شعبی په استناد رانقل کړی دی [ لیکوال ]

khanlibrary.org



منظور له دی کار نه دا و چې د دغه بی مثله نسل زړونه چې اوس د روزنی په مرحله کې دی او د راتلونکې ستر بوج به یې پر اوږو وی یوازی د قرآنی هدایاتو او لارښوونو له مینی نه ډک شی او په قرآن کې د ښوول شوی نظام له مخی د خپل ژوند چاری سمبال کړی .

نو له دی امله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د حضرت عمر رضی الله عنه په لیدلو چې د قرآن په ځای یې بل ماخذ لوسته ، په غصه شو ، په حقیقت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتل داسی یو بی مثله نسل وروزی چې وروسته له ده نه د بشر د زعامت او امامت درووند رسالت سر ته ورسولی شی .

داسی نسل چې زړه او دماغ یې بالکل پاک او سوچه وی ، د احساس او شعور ښیښه یی تکه سپینه او شفافه وی ، دومره پاکه او شفافه چې د قرآن د ښوونی او روزنی له اصولو نه پرته د نورو افکارو په دوړو بالکل خړه شوی نه وی .

دغه نسل یا ټولی ، په تاریخ کې یو بی مثاله او ځانګړی تنظیم ګڼل شویدی او علت یې هم دا دی چې د هغوی ښوونه او روزنه او د دینی علومو حصول یوازی له یوه ماخذ نه شویدی ، خو وروسته بیا داسی وخت راغی چې د دغی یوازینی الهی چینی په رنو اوبو کې ځینو ، د نورو چینو ، خړی اوبه هم ورګډې کړی ، وروستنیو نسلونو چې له کومی چینی نه د علم زده کړی ته ملا وټړله نو د هغی چینی دا حال و چې د یونانی فلسفی ، منطق ، عجمی کیسی ، اسرائلیات ، مسیحی الهیات او د نورو تمدنو او مذهبونو د چینی ځاځکې هم ورلویدلی وو ، چې هغه پخوانی خوند او رنګ یې ورپاتی نشو .

له همدی امله د قرآنکریم پر تعبیر او تفسیر باندی هم ددغو افکارو او نظریانو سیوری ولویده ، د کلام علم تری متاثر شو ، فقه او د فقی اصول هم تری بی تاثیره پاتی نشول ، تر لومړی غوره نسل وروسته چې څومره نسلونه راپورته شول د هغوی علمی تنده د همدی مخلوطی چینی له اوبو خړوب شوه .

khanlibrary.org



چې په نتیجه کې د صحابه کرام په څیر خالص او مخلص اسلامي ټولی بیا مُنځ ته رانغی ، مونږ دا خبره بی له شکه او شبهی نه کولای شو چې د اسلام د لومړنی ممتاز او غوره نسل او د وروستنیو نسلونو د ښوونی او روزنی ترمینځ د توپیر بنیادی وجه په وروستیو وختونو کې د اسلام د هدایاتو او لارښوونو په یوازینی منبع کې د نورو ډول ډول ماخذونو اختلاط او ګډون دی چې ځینی یې مونږ پورته یاد کړه .

**دویم لامل**

د دی توپیر د پیدا کولو یو بل اساسی عامل هم موجود دی ، هغه دا چې په کوم ډول چې صحابه کرام د قرآن له فیض وبرکت نه مستفید کیدل ، په وروستیو وختونو کې په هغی کې هم بدلون راغی ، اصحابو به د قرآن کریم تلاوت د دی لپاره نه کاوه چې خپل معلومات زیات کړی ، خپل ادبی ذوق تسکین کړی او یا ذهنی تفریح وکړی ، له هغو حضراتو نه یوه هم هیڅکله په دی غرض قرآن نه زده کاوه چې خپل عمومی معلومات اضافه کړی یا د علمی او قانونی چارو او مسایلو په زده کړه خپل پخوانی علم ته وده ورکړی یا د خپل علمی شخصیت د کوم اړخ کمی پوره کړی .

هغوی قرآن یوازی او یوازی د دی لپاره زده کاوه چې د شخصی ژوند په هکله د ځمکې او اسمانونو خاوند څه ډول لارښوونه کړیده ؟ په هغه ټولنه کې چې دوی ژوند کوی د ټولنیز ژوند لپاره څه ډول احکام موجود دی ؟ د ژوند د هغه مخصوص او ځانګړی دود لپاره چې دی او د ده ملګری یې مخکښ دی .

د الله تعالی له خوا څه ډول تفصیلات ورکړل شویدی ؟ د دغه غوره او مخکښ ټولی هر وګړی د یوه منظم او باد سپلینه سپایی په توګه د قرآن احکام بی له کوم ځنډه منل او خپل ژوند دود به یې له هغی سره سماوه ، هغوی به په یو ځل مطالعه کې د قرآن ډیر آیتونه ، نه لوستل ، ځکه هغوی په دی پوهیدل چې په دی توګه به په یو دم د هغوی په اوږو د ډیرو فرایضو او احکامو بوج راپریوزی .

khanlibrary.org



هغوی به په یو ځل ایله د لسو آیتونو تلاوت کاوه ، هغه به یې په یادو زده کول او په خپل ژوند کې به یې عملی کول ، په دی توګه به په پای کې هغه د قرآنی هدایاتو یو ژوندی مثال ګرځیدلی و ، د هغه وخت د دغه تعلیمی میتود تفصیل مونږ ته د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه له یوه روایت نه را رسیدلی دی .[1]

د الله جل جلاله د احکامو په مننه کې به د هغو حضراتو نه یوازی روحانی تنده ماتیدله بلکه د الله جل جلاله د کتاب د علم او عرفان بی شمیره لاری به یې هم پر مخ خلاصیدلی ، که چیری هغوی یوازی د مجرد علم او خبرتیا لپاره قرآن لوستلی وای نو هیڅکله به هم هغوی ته دغه روحانی نشاط او خوښی نه وای ور په برخه شوی ، نه به یې د علم او عرفان په ناپایه سمندر کې د ساحل په لور لامبو وهلای .

د الله جل جلاله د احکامو په وړاندی د سملاسی اطاعت احساس د هغوی لپاره د قرآن په لارښوونو باندی عمل ډیـر اسانه کړی ؤ ، د الله جل جلاله احکام د دی پر ځای چې د هغوی پر اوږو بوج شی بی کچه ورته اسانه شوی وو ، په اسانی سره یې د خپل ورځنی ژوند جز ګرځولی شول .

د قرآن احکام دومره د هغوی له روح سره اخښل شوی وو چې ټول ژوند یې د قرآن د لارښوونو مظهر وو ، هغوی د یوه ثقافت ژوندی نمونی وی چې پـــه ذهنی تمایل او د کتاب په پاڼو پـــوری محدود نه و ، بلکه د یـــوه داسی عملی نهضت بڼه یې غوره کړی وه چې د ټول بشریت د ژونـــد لاره یې واړه وله .

قرآن د خپل فیض او برکت دروازی د هغو خلکو پر مخ خلاصوی چې د هغه درشل ته په داسی احساس او جذبه حاضر شی چې په قرآن پوه شم نو عمل به پری کوم ، قرآن د دی لپاره نه دی نازل شوی چې هغه دی د ذهنی خوند او ذوق د تسکین کتاب وی او یا دی یوازیې د فنی او ادبی شاهکار

---

۱ - د حضرت عبدالله بن مسعود دغه روایت حافظ ابن کثیر د خپل تفسیر په سریزه کی رانقل کړیدی [ مؤلف ]

khanlibrary.org



په توګه نړیوالو ته اسمانی سوغات وی او یا دی د پخوانیو کیسو او تاریخ یو دفتر وی .

سره له دی چې په ضمنی توګه د قرآن د دغو ټولو ښیګړو لرونکې دی ، خو د نزول مقصد یې دا دی چې له هر څه نه مخکې( قرآن ) د ژوند کتاب دی ، هغه د انسان لارښود دی ، د دی لپاره راغلی دی چې د ځمکو او اسمانونو خالق خپلو بندګانو ته د ژوندانه څه ډول دود غوره ګڼلی دی .

د ژوند د دغه مقصد او هدف په نظر کې نیولو سره قرآن ورو ، ورو ، د خپلی روزنی په مخصوص انداز صحابه یې کرام وروزل او په وار وار یې ورو ورو هغوی ته خپل احکام او هدایات نازل کړل ، الله جل جلاله د ښوونی او روزنی دغه تدریجی او تعمیری اصولو ته د اشاری په ترڅ کې فرمایې :

وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنزِيلًا [بنی اسرائیل : ۱۰۶ آیت]

( او دا قرآن مونږ لږ لږ نازل کړیدی چې تاسو یې په وقفو وقفو خلکو ته واوروی او هغه مونږ په درنګ او مکث په تدریج سره نازل کړیدی )

قرآنکریم ، یو ځلی ندی نازل شوی ، کله به چې په ټولنه کې نوی نوی اړتیاوی مینځ ته راغلی ، د خلکو فهم او شعور به پرمختګ کاوه ، عام انسانی ژوند د پرمختیا پراوونه وهل ، اسلامي ټولنی ته به چې د ژوند په عملی ډګر کې نوی ستونزی او مسئلی ورپیښی شوی نو ورسره به د هغی د حل او پریکړی لپاره قرآن هم نازلیده یو آیت یا څو آیتونه به د یوی مخصوصی پیښی او حالاتو په مناسبت نازلیدل او هغه ستونزی به یې حلولی ،د عمل لایحه او ضوابط به یې ورته جوړول .

د هغوی د شعور او احساس او معاملاتو تیروتنی به یې سمولی ، په هره معامله کې به یې له الله جل جلاله سره ده هغوی د ژوندانه د چارو اړیکې پیدا کولی ، هغوی به یې له خپل پروردګار سره د هغو صفاتو په رڼا کې اشنا کول چې د کائناتو په هر اړخ کې یې تاثیرات لیدل کیږی .

له همدی امله هغوی هم دغه حقیقت په څرګنده احساس کړی و چې د ژوند په هره شیبه کې د الله تعالی تر لارښوونی او کتنی لاندی ژوند ترسره

khanlibrary.org



کوی او د الله جل جلاله د رحمت تر سیوری لاندی په ډاډه زړه دژوند مزل کوی ، د همدغه احساس له امله د هغوی عملی ژوند د هغه مقدس اسمانی ژوند دوی ( قانون حیات ) په اصولو برابر روان و چې د الله جل جلاله له خوا به ورته ښوونه کیدله .

نو له دی امله معلومه شوه چې دغه قانون ( زده کړه د عمل لپاره ) له اصحابو نه دغه ډول غوره او ممتاز ټولګی جوړ کړی و او وروستنی نسلونه چې د کوم اصل په رڼا کې وروزل شول هغه ( زده کړه د څیړنی او تفریح نه عبارت وه ) بی له شکه دا توپیر هغه دویم اساسی عامل دی چې وروستنی نسلونه یې له لومړنی بی مثاله نسل سره لری .

**دریم لامل**

دریم لامل هم په دغه تاریخی حقیقت کې بی تاثیره نه دی ، د دی لامل څیړنه هم په دی برخه کې مناسبه ښکاری ، د رسالت په وخت کې به چې کوم سړی د اسلام اصولو ته غاړه ایښوده نو هغه به د خپل جاهلیت پر خوی ، یو دم د بطلان کربنه راښکله ، کله به چې هغه د اسلام دایره کې قدم ایښوده نو داسی احساس به ورسره و چې هغه د خپل ژوند د کتاب یو نوی باب پیل کوی .

او یوه نوی پړاو ته چې له پخوانی جاهلی ژوند سره رټ توپیر لری ورننوځی هغه به وروسته له دی د جاهلی ژوند ټولو اعمالو ته په سپکاوی او شک وشبه کتل ، پر هغه به دغه احساس غالب و چې هغه ټول تیر کارونه او ماحول ناولی او غیر انسانی وۍ ، د اسلام او هغو ترمینځ هیڅ ډول مناسبت او جوړښت نشته ، نو لدی احساس او قلبی ویری سره به هغه د اسلام په لور هڅه کوله چې هلته یې د لارښوونی په نور د زړه تیاره ګوټونه روښانه شی .

او که کله به نفس اماره پر هغه زور ور شو او پری ایښو عادتونو خواته به یې تمایل پیدا شو او یا به یې د اسلام د احکامو په عملی کولو کې د لتی او تنبلی احساس وکړ ، نو سمدستی به د ګناه له احساس او د الله جل جلاله له ویری ناکراره شو او توبه به یې وکړه ، په دی لټه کې به شو چې د

khanlibrary.org



خپل روح د پاکوالی او تطهیر لپاره بیرته د قرآن کریم لارښوونو ته مخه وکړی او د خپل ژوند په هره برخه کې د هغی د عملی کولو هڅه وکړی .

کوم سړی به چې د اسلام لمنی ته پناه ور وړه نو وروسته له هغی به د هغه د جاهلی ژوند او نوی اسلامي ژوند د اړیکو ترمینځ بالکل یوه ستره فاصله موجوده وه ، هغه به دغه کار شعورا په خپله خوښه او د قرآن د لارښوونو سره د مینی او درناوی له امله کاوه ، نو له دی امله به د هغه اړیکې د شا وخوا جاهلی تولنی له نورو خلکو سره بالکل شلیدلی او په مکمله توګه به یې اسلام ته غاړه ایښوده .

سره له دی چې د سوداګری او ورځنی ژوند په چارو کې به د هغوی اړیکې له مشرکینو سره موجودی وی ، خو دغه کار به د هغه پر مسلمانی هیڅ اثر نه غورزاوه ځکه چې د احساس او شعور اړیکې او یوازی د ژوند د کارو بار اړیکې دوه جلا جلا څیزونه دی .

له جاهلي ماحول ، جاهلی دود او رواج ، جاهلی افکارو او نظریاتو او جاهلی خوی او عادتونو نه له یوی مخی لاس اخیستل او د توحید لمنی ته پناه ور وړل په حقیقت کې یوه ستره پریکړه وه ، چې د اسلام د غوره لارښوونو تاثیر یې په ښه توګه څرګنداوه .

هغه به د نړۍ په هکله د جاهلیت تصور یو مخیزه پریښوده او د اسلام تصور به یې خپلاوه د یوه نوی قیادت تر سیوری لاندی به له اسلامي تنظیم سره یو ځای کیده ، خپل ځان به یې په پوره وفاداری اطاعت او سرښندنه دغی نوی مشرتابه او قیادت ته وقف کړ ، دا هغه ستره پریکړه وه چې د هغه د ژوند تګ لاره به یې له نور لارونه چوره بیله کړه ، له دغی پریکړی نه وروسته به هغه د ژوند نوی سفر پیل کاوه ( آزاد سفر ) د جاهلی روایاتو دودونو او رواجونو له بوج نه بالکل آزاد سفر .

په دغه سفر کې به که کوم مسلمان له ستونزو سره مخامخ کیده ، هغه د ازمینښت هغه ستونزی وی چې د جاهلیت لاسونو به هغه ته رسولی ، خو هغه به د ازمینښت دغه سخته دوره په صبر ، زغم او خندا تیروله ، ځکه

khanlibrary.org



هغه به د حق په لاره د تلو هوډ مخکې کړی و ، نو ځکه به د جاهلیت تصوراتو او جاهلی تولنی ظلم او ستم د هغه د ارادی مانی نشوای نړولای .

**زمونږ لپاره د کار کولو سمه لار کومه ده ؟**

نن هم مونږ له جاهلیت سره لاس په ګریوان یو ، دا جاهلیت هم د هغه جاهلیت په څیر دی چې اسلام په لومړنیو وختونو کې ورسره مخامخ و ، بلکه تر هغی لا زیات ناوړه ځکه دی چې زمونږ تول ماحول د جاهلیت په منګلو کې ایسار دی ، زمونږ په افکارو عقایدو ، عادتونو ، ثقافت او د هغی ماخذونه ، ادب ، هنر ، موجوده حکومت او قوانینو کې هم د جاهلیت روح ورننوتی دی .

ان تردی هغه شیان چې مونږ له ناپوهی نه ورته د اسلامي ثقافت ماخذ ، اسلامي فکر او اسلامي فلسفه وایو هغه تول د جاهلیت پیدا وار دی ، همدا وجه ده چې اسلامي قوانین مو په زړونو کې کور نشی جوړولی ، زمونږ اذهان او زړونه د اسلام په پاکو وړانګو نشی روښانه کیدلای ، او په تولنه کې مو اوس هغه ډول غوره او مثالی تنظیم او انسانان نشی را پیدا کیدلی لکه څنګه چې د اسلام په لومړنیو وختونو کې مینځ ته راغلی وو .

نو له دی امله مونږ ته پکار ده او د اسلامي نهضت غوښتنه هم همدا ده چې د نهضت د روزنی او مبارزی په موده کې له هغو تولو جاهلی صفاتو او کړو وړو نه څانونه خلاص کړو چې پکې اوسیږو ، او ان تردی چې لا استفاده هم تری کوو .

پر مونږ لازمه ده چې له پیل نه د الهی فیض او برکت له هغی چینی نه ځان خړوب کړو چې لومړنی غوره اسلامي تولی تری ځان خړوب کړی و ، او هغه چې الله جل جلاله یې له نورو خړو اوبو نـــه د اختلاط او ګډون ضمانت کړیدی .

قرآنکریم چې تل به پاک وی ، مونږ له پکار ده چې د کاینناتو او انسانانو د ژوند دود په حقیقت او د دی دواړو پـه خپل مینځی اړیکو او بیا د الله تعالی له وجود سره د دی تولو اړیکو او مناسباتو تصور یوازی د الهی تلپاتی ( جاویدان ) چینی نه واخلو .

khanlibrary.org



په دی لړ کې دا هم ځانته څرګنده کړو چې د ژوند په هکله سم تصور څنګه دی ؟ زمونږ دود او اخلاق څه ډول دی ؟ د حکومت نظام مو باید څه ډول وی ؟ سیاست او اقتصاد به مو پر کومو بنسټونو ولاړ وی ؟ لنډه دا چې د ژوند په هره برخه کې باید له ، همدی کتاب نه لارښـوونی ترلاســه کړو ، دا مو باید په یاد وی کله چې د الهی ګټوری چینی ( قــرآن ) نه خپله علمی او دینی تنده ماتوو او ځان پــه پورتنیو مسایلو خبروو نو له مونږ ســره باید دا جذبه ( علم د عمل لپاره ) موجــوده وی او د همــدغه احساس تر تاثیر لاندی یې ولولو ، نه د تفریح او ادبی تندی د ماتولـو او یا د بحث او څیړنی د شوق لپاره .

مونږ باید قــرآن ته داسی رجوع وکړو چې راتــه معلومــه شي چې هغه ( قرآن ) له مونږ نه د څه ډول انسان جوړیدلو غوښتنه کوی ، چې مونږ هماغه ډول انسانان له ځانه جوړ کړو ، دا بیله خبره ده چې د حقیقی مقصد ( دینی اصول ) د حاصلولو په دوران کې به مونږ ته د قرآنی فنی او ادبی حسن او کمال هم راڅرګند شی .

زړه وړونکې او هښوونکې کیسی به یې زمونږ په زړه کې کور جوړ کړی ، د قیامت د مناظر ویروونکې بڼه او لمبو تاو به هم احساس کړو .

او د وجدانی منطق په بڼ کې به یې هم ګلونه بوی کړو ، لنډه دا چې هغه ټول خوندونه چې د علم وړی تږی ورپسی لا لهانده او د ذوق خاوندان ورپسی ستومانه دی ، بی له شکه به زمونږ په برخه شی ، خو زمونږ د څیړنی او تحقیق اصلی مطلب او مقصد دا نه دی ، زمونږ مقصد دا دی چې قرآن رانه څه ډول عملی ژوند غواړی ؟

د ژوند او کایناتو په هکله هغه اجمالی تصور څه ډول دی چې قرآن مونږ په هغی معتقد کوی ؟ د الله جل جلاله په باره کې راته څه ډول شعور او احساس تلقین کوی ؟ څه ډول اخلاق یې خوښ دی ؟ د ژوند د سمون لپاره پر بشریت کوم ډول حکومت او قانون خوښوي ؟

khanlibrary.org



## ه جاهلیت سره د اړیکو شلول

دا هم زمونږ وظیفه ده چې په خپل شخصی ژوند کې د جاهلی تولنی له کړاو ، ربړونی او جاهلی تصوراتو له نفوذ او تاثیر او همدا رنګه د جاهلی روایاتو ، دودونو او لیډر شپ له تسلطه نه ځان چور آزاد کړو .

زمونږ کړنلاره د جاهلی تولنی او نظام ســره سوله او مصالحت ، Compromise) نه ده او نه مونږ له هغه سره وفاداری کولای شو ، جاهلی تولنه د خپلو جاهلی اوصافو او ځانګړتیاوو له امله ، د دی وړ نه ده چې مونږ دی ورسره د سولی او ښو اړیکو درلودلو هیله ولرو .

نو له دی امله تر هر څه د مخه مونږ باید لومړی ځان بدل کړو چې بیا تولنه بدله کړای شو ، زمونږ لومړنی هدف د تولنی په عملی ژوند کې انقلاب راوستل او د جاهلی نظام جړی له بیخه ایستل دی ، ځکه چې په بنیادی توګه د اسلام له اصولو سره ضد واقع شویدی .

او همدا رنګه د هغه چا پر ضد قیام چې د جبر او تشدد له وسایلو نه زمونږ پر ضد کار اخلی او د دغه ډول نظام تر سیوری لاندی مو له ژوند نه بی برخی کوی چې الله تعالی یې له مونږ نه غوښتنه کوی .

د ژوند په دغه نوی سفر کې باید تر هر څه د مخه زمونږ لومړی قدم دا وی چې مونږ د جاهلی تولنی د تولو اصولو او نظریو دورکولو او پر هغی د بری میندلو هڅه وکړو ، له جاهلی تولنی سره د سازش او سودا بازی لپاره مونږ په خپل اسلامي ژوند دود او نظریاتو کې د ویښته هومره تغیر او بدلون هم رانه ولو .

داسی خبری باید زمونږ په خیال کې هم ونه ګرځی ، ځکه انحرافات په لومړی سر کې له ډیرو کوچنیو اصولو نه بیلیږی ، د جاهلیت لاره بیله ده او زمونږ بیله ، که مونږ یو قدم هم له جاهلیت سره واخیسته نو بی له شکه به مو د خپل ژوندانه د نظام د رسی سر هم له لاسه خوشی شی او د حق لاره به هم ورکه کړو .

مونږ باید په دغه سخته او اغزنه لار کې جبر وتشدد ستونزی او کړاوونه په سړه سینه وزغمو ، تردی لا هم باید ستری قربانی ورکړو ، که مونږ په

khanlibrary.org



ریښتینی توګه د هغی لاری مسافران یو چې له مونږ نه مخکې پری د اسلام نومیالی زامن تللی وو .

او که چیرته مونږ په ریښتیا د هغو پاکو انسانانو په قدم قدم کیښودل غواړو چې الله جل جلاله د هغوی په واسطه خپل پاک او تر ټولو لوړ نظام د نړۍ پر مخ خپور کړ او هغوی ته یې د جاهلیت په وړاندی بری او نصرت ور په برخه کړ .

نو بیا خو مونږ باید دا ټولی ستونزی او کړاوونه په ورین تندی وزغمو ، مونږ د الله جل جلاله د رضا په وړاندی د خپلی خوښی خاوندان نه یو ، نو له دی امله غوره خبره دا ده چې هر وخت په دی مسئله خبر واوسو چې زمونږ د کار د میتود فطرت او مزاج څنګه دی ؟

زمونږ د مسلک دریځ او روحیه څه ډول ده ؟ او د هغی لاری لوړی او ژوری کومی دی چې د هغی په پوهیدلو مونږ د جاهلیت له تورتم نه په داسی بری راوتلی شو لکه څنګه چې د صحابه و کرامو غوره او ممتاز ټولی له دغه ستر ازمیښت نه په بری راوتلی ؤ .

khanlibrary.org



## دویم فصل

# د قرآن د انقلاب لار

## د مکې دورې بنیادی مسئله

د قرآنکریم ، د مکې سورتونو برخه د دیارلس کلونو په موده کې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوه ، په دغه ټوله موده کې قرآن کریم ، یوازې همدا یوه مسئله تر بحث او څیړنې لاندې نیولې وه ، په نوعیت کې یې هیڅ ډول بدلون رانغې .

خو د بحث او میتود اندازه به یې په پرله پسې توګه بدلیده ، قرآن هر ځل د دې مسئلې په وړاندې کولو کې له نوې اسلوب او طرز نه کار اخیستی دی ، هر ځل به داسې احساسیده چې ګنې دا مسئله د لومړې ځل لپاره تر څیړنې لاندې نیول شویده .

د قرآنکریم ټوله مکي دوره ، د همدې مسئلې د ستونزو د حل لپاره وقف شویده ، د قرآن په نظر دغه مسئله ، د دې نوې آسمانې دین لپاره تر ټولو ستر او لومړې درجه ارزښت لري ، ډیره ستره مسئله وه ، اساسي او اصولي مسئله وه .

د ګروهې ( عقیدې ) مسئله وه ، دغه مسئله له دوه سترو نظریو نه جوړه شوې وه ، یو د الله جل جلاله الوهیت او د انسان بندګۍ او دویم د دواړو ترمینځ په خپلو کې سره د اړیکو او روابطو نوعیت ، قرآنکریم په دغه بنیادی مسئله کې انسان ته د انسان په حیث خطاب کاوه ، ځکه چې دا داسې مسئله وه چې له ټولو انسانانو سره یې یو شان اړیکې درلودې .

که هغه انسان به په عربو کې اوسیده او که په عجمو کې، د قرآن د نزول د زمانې انسانان وو او که د را وروسته زمانې ، دا یوه داسې انسانۍ مسئله وه چې د ترمیم او تغیر پکې هډو سوال نه پیدا کیده ، دا په کائناتو کې د انسان د وجود د پایښت مسئله ده ، د انسان د عاقبت مسئله ده ، د

khanlibrary.org



همدی مسئلی له مخی دا څرګندیږی چې د انسان دریځ او مقام په نړۍ کې څه دی ؟

او په کائناتو کې له نورو مخلوقاتو سره د ده تعلق څه دی ؟ او په خپله د کائناتو او موجوداتو له خالق سره د ده څه اړیکې دی ؟ دا د مسئلی هغه اړخ دی چې د هغی له امله په همدی مسئله کې هیڅ بدلون نه شی راتلی ، دا ځکه چې دا مسئله د کائناتو او د کائناتو د یو ډیر کوچنی جز " انسان " سره نیغ په نیغه اړیکې لری .

د مکی دوری په ژوند کې، قرآن انسانانو ته دا ښودله چې د ده د وجود او شا وخوا خواره واره جهان د پیدایښت اصلی حقیقت څه دی ؟ هغه انسان ته دا وایې چې دی څوک دی ؟ له کومه راغلی دی ؟ او د څه لپاره راغلی دی ؟ او په پای کې به چیرته ځی ؟ دی خو معدوم و ، کومی هستی د وجود د خلعت په ښلو ونازاوه ؟ کومه هستی به د ده ژوند پای ته ورسوی .

او د ژوند له پای نه وروسته به له څه ډول انجام سره مخامخ کیږی ، قرآن انسان ته دا هم وایې چې د دغه ( وجود ) حقیقت چې دی یې وینی او احساسوی یې څه دی ؟ او هغه کومه هستی ده چې دی یې په غیاب کې د قدرت مظاهر وینی خو په سترګو یې نشی لیدلای ؟ دغه طلسمانی کاینات چا مینځته راوړه ؟ څوک یې مدبـر او اداره کوونکې دی ؟ څوک یې په حرکت راولی ؟ څوک هـر ځل ورتـه نـوی نـوی کمیس وراغونـدی ، د دغو تغیراتو د رسی سـر د چا په لاس کې دی ، چې هر بینا سـړی یې لیدلای شی ؟

قرآن ده ته دا هم ور زده کوی چې د کایناتو له خالق سره به د ده رابطه څه ډول وی ؟ او په خپله کایناتو په هکله دی څه روښ ولری ؟ او له دی سره دا هم وربښیی چې د انسانانو خپل مینځی اړیکې دی څه ډول وی ؟

دا وه هغه اصلی او اساسی مسئله چې د انسان پایښت او وجود او د ژوند راشه درشه یې پر چورلیځ چورلی ، ترڅو چې دنیا ودانه وی په دی ستری مسئلی پوری به د انسان پایښت او وجود تړلی وی ، د دی مسئلی په څیړنه او سپړنه کې د قرآن د مکې دوری پوره ۱۳ کاله تیر شول ، د دی لپاره چې

khanlibrary.org



د انسانی ژوند بنیادی مسئله همدا ده ، له دی وروسته چې څومره مسایل موجود دی هغه د همدی مسئلی د تقاضا له مخی پیدا کیږی ، د نورو مسایلو حیثیت د دی مسئلی په مقابل کې له جزئیاتو نه زیات ارزښت نه لری ، قرآن د خپل مکې دور په دعوت کې همدغه مسئله اساسی او محوری مسئله ګڼلی ده .

هیڅکله هم په هغه وخت کې د ژوند د نظام په نورو برخو ضمنی او فرعی بحثونه ندی شوی ، تر هغی پوری یې له دغو مسایلو سره تماس نه دی نیولی ترڅو چې الهی حکم نه و راغلی چې اوس د دی مسئلی د تشریح او توضیح حق ادا شویدی .

په دغه وخت کې د توحید دغی مسئلی د الله جل جلاله د هغه غوره ټولی په زړونو کې په پوره توګه ځای نیولی ؤ ، چې الهی قدرت هغوی د دین د رامنځته کولو او قیام وسیله ګرځولی وو او د هغوی په لاسونو یې په عملی ډول د خپل دین د خپرولو پریکړه کړی وه .

هغه څوک چې د حق دین د بلنی او خپرونی په نیت راپورته کیږی او په دنیا کې د یوه داسی نظام جوړول غواړی چې په عملی توګه د دین نمایندګی وکړای شی ، هغوی باید په دی ستر حقیقت د ( توحید عقیده ) بیا غور وکړی ، همدا هغه حقیقت دی چې قرآن د هغی د پوخوالی او کلکوالی لپاره د مکی ژوند پوره دیارلس کاله تیر کړل ، په دغه اوږده موده کې یې لږ تر لږه یو ځل هم د لږی مودی لپاره له دی مسئلی نه پام بل خوا ونه ګرځاوه ، او د ژوند د قانون په هکله یې نور مسائل ونه څیړل ، نه یې د هغو قوانینو او احکامو د بیانولو ضرورت احساس کړ چې په راتلونکې کې په اسلامي ټولنه کې نافذ کیدل .

## د رسالت د کار پیل له همدی مسئلی نه شوی و

دا د الله جل جلاله حکمت ؤ ، چې د رسالت د کار پیل له همدی مهمی مسئلی نه چې د ( عقیدی او ایمان ) مسئله وه وشوه او د اسلامي دعوت د ملا تیر حیثیت یې غوره کړ یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د حق په لاره کې لومړی قدم له همدی مسئلی نه اوچت کړ او ویې فرمایل :

khanlibrary.org



( ای خلکو ! شاهدی ورکړی چې له الله جل جلاله نه پرته بل الله نشته ) . بیا یې په همدی بلنه خپل ټول وخت تیر کړ چې ، انسانان له خپل حقیقی پروردګار نه خبر کړی او یوازی یې د هغه د بندګی په لاره بوځی .

که په یوه سرسری نظر او د انسانی محدود عقل په رڼا کې سړی د عربو ژوند ته وګوری نو څرګنده به شی چې عربو په اسانی سره دغی مفکورې ته غاړه نه ایښوده ، عرب د خپلی پوهی په برکت د ( اله ) او ( لا اله الا الله ) په مفهوم تر هر چا ښه پوهیدل ، هغوی ته ښه څرګنده وه چې له الوهیت نه مطلب ، ( اعلی حاکمیت ) دی ، هغوی پدی هم ښه خبر وو چې یوازی الله تعالی ته د الوهیت مخصوصول په ښکاره توګه همدا معنی لری چې اقتدار او حاکمیت به په مکمله توګه د کاهنانو ، پنډتانو ، د قبایلو د سردارانو او نورو امیرانو او حاکمانو له لاسه ووزی او د الله جل جلاله حکم او حکومت ته به راجع کړای شی .

د انسان په زړه او ضمیر ، مذهبی شعایرو او مناسکو او همدا رنګه د ژوندانه په معاملاتو ، پانګی او شتمنی ، عدل او قضا ، په ارواحو او اجسامو لنډه دا چې پر هر څه باندی به یوازی او یوازی د الله جل جلاله قدرت حاکم وی او بس .

هغوی ښه پوهیدل ، چې د ( لا اله الا الله ) اعلان په حقیقت کې د دنیاوی اقتدار پر خلاف یو چلینج دی چې د الوهیت تر ټولو ستر صفت ( حاکمیت ) باندی یې په ناروا توګه خپله اچولی ده ، دا په حقیقت کې د هغو ټولو قوانینو او نظامونو پر خلاف د بغاوت اعلان و چې د حاکمیت د حق د قبضی له مخی مینځ ته راغلی وو ، د هغوی ټولو قوتونو پر ضد د جنګ اعـلان دی چې د خپلو جوړو کړو شـریعتونو او قوانینو په زور په دنیا کې د ( لمن الملک ) نغاری ډنګوی .

عرب د خپلی ژبی په باریکیو او مفاهیمو ښه پوهیدل او د لا اله الا الله حقیقی مفهوم یې ښه تر ادرک کړی وُ ، له هغوی نه دا خبره هم پټه نه وه چې د هغوی له خپل ځانه جوړ کړی نظام ، رهبری او قیادت سره دغه دعوت څه ډول رویه کوی ، له همدی امله هغوی دغه دعوت یا په بله وینا د انقلاب

khanlibrary.org



پیغام ته له داسی سختی غصی او میرځی نه ډک هرکلی ووایه او داسی صف آرایې یې د اسلام په مقابل کې وکړه چې هر څوک تری خبر دی .

اوس به دا پوښتنه را پیدا شی چې دغه دعوت ولی په دغه ډول پیل شو ؟

الهی حکمت ولی دا پریکړه وکړه چې د دغه دعوت پیل به له مصیبتونو او ازمیښتونو سره وی ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ولی د قومیت له مفکوری نه خپل کار پیل نه کړ ؟

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حق دین د خپرولو لپاره مبعوث شو نو هغه وخت د عربو حالت داسی و چې تولی سمسوری او حاصل خیزه سیمی یې د نورو قومونو په لاس کې وی ، په شمالی برخه کې د شام سیمه د رومیانو تر تسلطه لاندی وه چې عربی حکمرانانو به د رومیانو تر لاس لاندی په کې حکومت کاوه .

جنوبی سیمه ، توله د فارسیانو په لاس کې وه چې هغوی هم د دغو سیمو واکمنی تر خپل لاس لاندی عربو شیخانو ته ورسپارلی وه ، د عربو په لاس کې یوازی د حجاز ، تهامه او نجد سیمی وی چې وچ ډاګونه وو او ځای پر ځای به پکې د خرما باغونه موجود وو .

دا خبره هم بی دلیله څرګنده ده چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په خپل قوم کې د امین او صادق په نامه مشهور وو ، د رسالت له پیل نه پنځه لس کاله مخکې د قریشو اشرافو هغه د حجر اسود په شخړه کې د حکم په توګه منلی و او په دغه برخه کې یې د هغه پریکړه په خوښی سره منلی وه .

د نسب له پلوه هم د بنی هاشم د کورنی د سترګو تور و چې د قریشو له ډیرو درونو کورنیو نه ګڼل کیده ، د پورتنیو خبرو له مخی ، دا په یقین سره ویلی شو چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم کې ددی خبری توان موجود و چې د خپلو وطنوالو تر منځ د عربی قومیت په مړه جذبه کې نوی ساه وپوکې او د هغوی د قومیت احساس راوپاروی ، پـه دی توګه هغه عربی قومونه پر ځان راټول کړی چې تل به په خپلو کې سـره په جګړو اخته وو ، او پاتکی پاتګی شـوی وو ، تل د مـرګ ژوبلی او کسات اخیستلو پـه اور کې سوځیدل .

khanlibrary.org



که خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم غوښتلی وای نو په اسانی سره یې کولای شول چې دغه خواره واره عرب د قومیت تر یوه توغ لاندی راټول کړی او هغوی ته د قومیت درس ورکړی ، د ذلت او عزت په توپیر یې پوه کړی او په دی توګه د عربو شمالی سیمی له رومی او جنوبی یې د فارس د ښکیلاک ګرو له منګولو نه وژغوری او په دی توګه د عربی قومیت او عربیت توغ د جزیره العرب شا وخوا او اکنافو کې ورپوی او د یوه متحده عرب شهنشاهی د بنسټ تیږه کیږدی .

دا خبره هم له حقیقت نه لری نه ده چې که چیری رسول الله صلی الله علیه وسلم د قومیت توغ راپورته کړی وای ، نو د جزیره العرب بچې بچې به یې تر سیوری لاندی دریدلی وای او د هغه د هری غوښتنی په مقابل کې به یې د لبیک په چیغو کومی وچ شوی وای .

په دی توګه به رسول صلی الله علیه وسلم د دیارلس کاله اوږدی مودی هغه کړاوونه نه سهل لکه څنګه یی چې د خپل دعوت په لای کې وسهل ، ځکه چې د هغه دعوت د عربو د ټولو واکمنانو د شخصی ګټو او اقتدار غوښتنو مخالف و .

سربیره پردی دا هم یو حقیقت دی چې په هغه کې دا اهلیت او صلاحیت موجود وو ، چې کله عربو د هغه مبارک د قومیت پالنی دعوت په پوره صداقت او مینه منلی وای او د رهبری منصب یې هغه صلی الله علیه وسلم ته سپارلی وای او د اقتدار ټولی کلی ګانی د هغه لاس ته ورغلی وای ، او د عربی شهنشاهی د لویې او عظمت تاج یې د هغه پر سر اینبی وای .

نو بیا به یې له خپل دغه بی مثله قدرت نه د توحید د سکې په وهلو کې کار اخیستی وای ، وروسته له دی یې چې خلک خپل انسانی اقتدار ته لاس په نامه کړی وای نو بیا به یې د الله جل جلاله د اقتدار په وړاندی په سجده کړی وای ، خو علیم او حکیم الله ذات ، خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم په دغه لاره روان نه کړ ، بلکه هغه ته یې دا حکم وکړ چې په ډاګه دا اعلان وکړی چې [ لا اله الا الله ] له الله جل جلاله نه پرته بل معبود نشته ) او له دی سره سره یې په دی خبره هم تنبیه کړ چې له دغه اعلان نه وروسته

khanlibrary.org



به ته او هغه د ګوتو په شمیر کسان چې دغه اعلان په سر سترګو ومنی په دغه لار کې د هیڅ ډول سربندنی او کړاوونو له زغم نه ځان په ډډه نه کړی .

## د قومیت پالنی د لاری نه غوره کولو لامل

آخر ولی الله جل جلاله د حق د دعوت لپاره دغه اغزنه لاره غوره کړه ؟ ښکاره خبره ده چې الله جل جلاله د خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د ایماندارو او وفادارو ملګرو لپاره دا نه غوښتل چې د حق په لار کې دی دومره کړاوونه پری راشی .

خو الله جل جلاله په دی پوهیده چې له دغی لار نه پرته بله کومه لار نشته چې د دغه دعوت له مزاج سره دی برابره وی ، او نه دا کومه سمه او غوره لار وه چې د الله جل جلاله مخلوق دی د ایرانی او رومی طاغوت له منګلو خلاص شی او د عربی طاغوت د غلامی مندری یې په غوږونو کې واچولی شی ، طاغوت چې هر چیرته وی طاغوت دی .

دا نړۍ د الله جل جلاله تخلیق ده او په دی کې به یوازی د الله جل جلاله حکومت چلیږی ، د الله جل جلاله د اقتدار سکه هغه وخت چلیدلی شی چې د نړۍ په ناپایه فضا کې د [ لا اله الا الله ] توغ ورپیږی ، دا خبره نه سمه وه او نه چا منلی شوه چې د الله جل جلاله په ویره ځمکه کې دی اوسیدونکې مخلوق ، د رومی او ایرانی طاغوت د ظلم ځنځیرونه شلولی وای او د عربی طاغوت د ظلم او تیری زولنی یې پښو ته غورځیدلی وای ، طاغوت چې په هره جامه کې وی طاغوت دی .

انسان یوازی د یوه الله جل جلاله بنده او غلام دی او هغه هم یوازی په هغه صورت کې د الله جل جلاله د حکم غلام او بنده دی ، چې د ده په ژوند کې یوازی او یوازی د الله جل جلاله جنډه ورپیږی ، یو عرب چې په لغوی لحاظ له [ لا اله الا الله ] نه کومه معنی اخیستله هغه دا وه چې له الله جل جلاله نه پرته به د هیچا حاکمیت نه وي ، له الله جل جلاله نه پرته به بل هیڅوک او هیڅ مقام د شریعت او قانون منبع او ماخذ نه وی او پر انسان باندی د انسان غلبه او اقتدار پاتی نشی ، ځکه اقتدار له خپلو ټولو مفاهیمو سره د الله تعالی لپاره خاص کړای شویدی .

khanlibrary.org



اسلام چې د انسانانو لپاره د کوم قومیت علمبردار دی هغه د دغی عقیدی پر اساس جوړ شویدی : ټول قومونه چې په هر رنګ او نژاد پوری اړه لری ، عرب وی که رومی که ایرانی... د دغی ګروهی له نظره تر الهی ویاړلی توغ لاندی د ژوند په چارو کې برابر حقوق ولری " .

د قرآن په نظر د اسلامي دعوت لپاره دغه لار سمه او فطری ښکاری .

**حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ولی د اقتصادی انقلاب لار غوره نکړه ؟**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت په وخت کې، په عربی ټولنه کې د پانګی او شتمنیو د منصفانه ویش ، عدل او انصاف سم اصول موجود نه و ، د پانګوالی او سوداګری پـه ټولو چارو د لږ کسانو تسلط موجود و ، د ( سود ) په ذریعه به یې د خپلی پانګی او سوداګری د زیاتوالی هڅه کوله ، د ټولنی زیات اکثریت له لوږی او نیستی سره مخامخ وو .

شتمن خلک د مال او شتو په ځیر د عزت او شرافت اجاره داران هم وو ، خواران او نیستمن لکه څنګه چې له مال او شتو نه بې برخی وو ، همدغه راز له عزت او شرافت نه هم بی برخی ګڼل شوی وو .

د دغی موضوع په نظر کی نیولو سره ، سړی ویلی شی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ولی د کوم ټولنیز نهضت د رامینځ ته کولو هڅه ونکړه چی د مال او شتو د منصفانه ویش اصول یې وضع کړی وای او د امیرانو او اشرافو پر ضد یې پاتکیزه ( طبقاتی ) جګړه پیل کړی وای او له پانګوالو نه ئی د خوارانو او بزګرانو حقوق اخیستی وای ، دا هم له امکانه لری نه وه چی ، که چیری رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم ټولنیز دعوت پیل کړای وای نو عربی ټولنه به حتما په دوه برخو ویشل شوی وای .

خو په یقین سره ویلای شو چی غالب اکثریت به د رسول صلی الله علیه وسلم ملاتو کړی وای ، په دی توګه به یې د پانګوالو او اشرافیت له ظلم او زیاتی نه د هغه وخت مظلوم او مستضعف انسانان ژغورلی وای ، دیر کم اقلیت به د هغه په مقابل کی دریدلی وای ، هغه به هم هغه څوک و چی د خپلو شتو او پانګی بریښنائی د ضمیر ښیښه خړه کړی وه .

khanlibrary.org



که چیری نبی صلی الله علیه وسلم دغه لار غـــوره کړی وای نو زیاته بـه اغیزمنه او ګټوره وای او داسی حـال بـه نـه پیښیده چې ګرده ټولنه دی د [ لا اله الا الله ] د اعـلان په مقابل کې صف ارایې وکړی او یوازی یو څو د ګوتو په شمیر خلک دی د حق دغه دعوت ته لبیک ووایې .

سړی دا هم ویلای شی چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم کې بی له شکه دا صلاحیت موجود و چې ، اکثریت د ده فرمان منلی وای او د رهبری واک او اختیار هغه ته ورکړ شوی وای ، چې په پانګو او شتمنو لږ خلکو یې بری موندلی وای ، نو بیا به یې له دغه منصب او اقتدار نه هغه د حکومت الهی او توحید د پلوشو د خپرولو لپاره کار اخیستی وای چې دی ورته مبعوث شوی وُ .

لومړی یې چې خلک د خپل انسانی اقتدار په مخکې اطاعت او فرمان وړنی ته چمتو کړی وای نو بیا به یې هغوی ته د خپل پروردګار په مخکې د سجدی کولو حکم ورکړی وای او د هغه بندګی ته به یې رابللی وای .

د دغی لاری د نه غوره کولو لامل

خو علیم او حکیم الله ذات خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په دی لاره هم د تلو اجازه ورنکړه ، الله جل جلاله ته دا معلومه وه چې ، د اسلامي نړیوال دعوت لپاره په دغه خامه او کنډو کپر لاره تګ مناسب نه دی ، هغه پوهیده چې په ټولنه کې د حقیقی عدالت او انصاف غوښتی هغه وخت غوړیدلای شی چې اوبه خور یې د الهی پاکې او رنې چینی له اوبو نه وی او د ټولو معاملاتو د رسی سرد الله جل جلاله د قدرت په لاس کې وی .

ټولـنه هـره هغـه پـریکړه پـه خوښـه او رضـا ومـنی چـې د پـانګی او شـتو منصفانه ویش په هکله له الهی دربـار نـه صـادر شوی وی ، د ټولنی د هر وګړی په زړه کې دا خبره نقش وی چې ، کوم نظام چې دلته نافذ کیدونکې دی ، د هغـه نظـام شـارع د الله جـل جلاله ذات دی او د دغه نظام له مننی او اطاعت نه هغه ته نه یوازی د دی دنیا خیر او برکت ور په برخه کیږی بلکه د هغی دنیا خیر او ثواب یې هم په برخه کیږی .

khanlibrary.org



د ټولنې باید داسې حالت نه وي چې د ځینې خلکو سترګې حرص او تمې رندې کړې وي او د ځینو نورو زړونه دې د کینې او رڅې په اور کې سوځې او ټول کارونه په کې د زور او کوتک په مرسته سر ته رسیږي ، د ویرې او ډار اچولو په واسطه پکې د حکومت پریکړې وچلول شي ، د انسانانو زړونه او روح مړاوی شي ، لکه څنګه چې په اوسنیو هغو نظامونو کې دغه ډول اعمال جاري دي چې د غیر الله د الوهیت پر اصولو ولاړ دي .

حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولې خپله بلنه د خلکو د اخلاقو له سمون نه پیل نکړه ؟

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت په وخت کې د جزیره العرب د اوسیدونکو اخلاق له هر پلوه مخ په ځوړ وو .

بد اخلاقي خپل وروستی پړاو ته رسیدلی وه ، یوازې بدوی فضایل د خامو اخلاقو په ډول موجود وو ، د ظلم او ستم تور پیچاول ګرده ، ټولنه په لمن کې رانغښتې وه ، دغه حالت د جاهلی دورې یوه نومیالی شاعر زهیر ابن ابی سلمی په خپل شعر کې په ډیر حکیمانه انداز بیان کړیدی .

ومـــن لم یزد عن حوضه بســـلاحه

یهـــدم ومـــن لا یظلم الناس یـــظلم

( څوک چې ځان په وسله نه ساتی ، له منځه ځی او هغه څوک چې په خپله په نورو خلکو ظلم او تیری ونکړی په ده به خپله ظلم او تیری وشی ) .

د جاهلی دورې دغې حیا سوز او خراب حالت ته د هغه وخت په دغه مقوله کې هم اشاره شوی ده ، انصرا خاک ظالما او مظلوما ( د خپل ورور ملاتړ کوه که هغه پر چا تیری کاوه او که تیری پری کیده [1] ) .

شراب څښل او جواری کول د ورځینی ژوند ساده مشغولا ګڼل کیده ، سربیره پردی چې دغه عمل ته چا په سپکه سترګه نه کتل ځینو به ویاړ هم

---

[1]- د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې هم دا جمله راغلی ده خو هغه مبارک دا څرګنده کړیده چې د ظلم سره د مرستې ملاتړ معنی دا ده چې هغه له ظلم نه ایسار کړای شی .

khanlibrary.org



پری کاوه ، د جاهلی دوری ټولی شاعری د جوار ګرو د جواری او شرابو د خم په چورلیځ چور لکونه وهل طرفه ابن العبد وایي :

فلو لا ثلاث هن من عیشه" الفـــــتی
وجدک لم احفل متی قام عـــــــودی
فمنهن سبقی العـــاذلات بشر بـــــه
کمیت متی ما تعل بـــالماء تزبـــد
وما زال نـــــشرابی الخـمور والـــذتی
وبـــذلی وانفاقـــی طـــریفی وتالـــدی
الـــــی ان تحـــامتی العشیره کلها
وافـــردت افـــراد البـــعیر المعـبد

۱ - که دری څیزونه چې د یوه ځوان د ژوند سره ټرلی دی نه وای ، نو له ما سره به د هیڅ شی پروا نه وای ، په دی شرط چې د ژوندی پائیدلو په اندازه راته خوراک رسیدلای .

۲ - له هغو نه یو هم په شراب څښلو کې له حریفانو نه بری ورډل دی ، او شراب هم هغه دوه آتشه چې که اوبه پری ورګډی شی ، نوره نشه هم راولی .

۳ - شراب څښل ، عیش بزل او اسراف خو له پخوا نه هم زما په ختې کې موجود و او اوس هم دی .

۴ - اخر هغه ورځ راغله چې زه خپل ټول ، کول ، له ځانه لیری کړم لکه څنګه چې د اوښانو له رمی نه پوم وهلی اوښ شړل کیږی .

زنا په ډول ، ډول شکلونو موجوده وه او د جاهلی ټولنی له ویاړونو څخه شمیرل کیده ، دا یو داسی حمام دی چې په دی کې د هر وخت جاهلی ټولنی د پخوانی زمانی وی او که د اوسنی زمانی " تش په نامه مهذبی ټولنی " لوڅی لپړی ښکاری .

حضرت عایشه رضی الله عنها د جاهلیت د وخت د ټولنی حالت داسی بیان کړیدی ، د جاهلیت د وخت په عربانو کې څلور ډوله نکاح موجوده وه :

**لومړی ډول** : یو خو د نکاح دود شوی عام شکل و لکه اوس چې دود دی ، په داسی ډول چې یوه سړی به بل سړی ته د هغه د لور ، خور او یا هغی

khanlibrary.org



ښځی لپاره چې د هغه په تولیت کې به اوسیده ، د نکاح کولو پیغام ورلیږه او د مهر له ادا کولو نه وروسته به یې په نکاح کوله .

**دویم ډول** : د نکاح دویم ډول داسی و چې ښځه به له حیضه پاکه شوه ، میړه به ورته وویل چې فلانی سړی را وغواړه او له هغه سره یو ځای شه ، دی به په دغه موده کې له خپلی ښځی نه جلا اوسیده او تر هغه وخته پوری به له خپلی ښځی سره نه یو ځای کیده ترڅو به چې له هغه بل سړی نه له ښځی سره د حمل اثار نه و ښکاره شوی ، د حمل د اثارو له څرګندیدو نه وروسته ، د ښځی خاوند کولای شول چې بیرته له خپلی ښځی سره یو ځای ، هغه دا کار د دی لپاره کاوه ، چې لور نسبه زوی یې په برخه شی ، د نکاح دغه شکل ته به یې استبضاع ویل .

**دریم ډول** : د نکاح دغه ډول داسی و چې یوه ډله خلک چې شمیر به یې له لسو کم و سره یو ځای به شول ، په ګډه به یوی ښځی سره یو ځای کیدل ښځه به چې حامله شوه ، نو د ماشوم له پیدا کیدو نه به یو څو ورځی وروسته ښځی هغه ټول نارینه راوغوښتل ، هغوی له ورتلو نـه انکار نشوای کولای .

چې ټول به ورغلل نو ښځی به هغوی ته ویل چې تاسو ته خو د خپل عمل نتیجه څرګنده ده ، ما یو ماشوم زیږولی دی ، بیا به نو هغی ښځی له هغو خلکو نه یوه کس ته اشاره وکړه چې دا ماشوم " زوی یا لور " ستا ده نو هماغه سړی به د هغه ماشوم پلار شو او هغه به هم له دغه نسبت نه انکار نشو کولای .

**څلورم ډول** : د نکاح څلورم ډول داسی و چې ډیر خلک به راټول شول ، په ګډه به یوی داسی ښځی ته ورغلل چې ، هغی ته به هر څوک ورتلای شول ، په اصل کې به دغه ښځی بد لفامه ( فاحشه ) وی ، د نښی په توګه به یې په خپلو دروازو جنډی درولی وی ، هر سړی به چې خپله غریزه سړوله نو هلته به ورته .

که داسی ښځه به حامله شوه نو د ماشوم له زیږیدو نه وروسته به هغه ټول خلک ورته راټول شول او یو قیافه پیژندونکې به یې راوغوښته ، هغه به

khanlibrary.org



چې دغه ماشوم هر یوه ته منسوب کړ ، نو هغه به د هماغه سړی زوی شو او د هغه له منلو نه یې انکار نشوای کولای [ بخاری کتاب النکاح ] .

اوس سړی دا پوښتنه کولای شی چې که رسول الله صلی الله علیه وسلم یو اصلاحی او اخلاقي تنظیم اعلان کړی وای او په هغی سره یې د ټولنی د اخلاقو د اصلاح او نفس د پاکوالی کار پیل کړی وای ، نو لکه څنګه چې د هر اخلاقي او مصلح انسان په چاپیریال کې د ښو اخلاقو او غوره صفاتو ، پاک نفسه انسانان موندل کیږی ، په همدی ډول به د هغه مبارک ملګرتیا ته هم ډیر شریف او پاک خویه انسانان راټول شوی وای ، چې د خپلو هم جنسو په اخلاقي انحطاط به د زړه له کومی خواشینی وو .

دغی ډلی به د خپل پاک فطرت او غوره اخلاقو په لرلو سره حتما د هغه مبارک صلی الله علیه وسلم د اصلاح او تطهیر دعوت ته ، په ورین تندی لبیک ویلای وای .

دا هم په یقین سره ویلای شو چې که پیغمبر صلی الله علیه وسلم دغه کار پیل کړی وای ، نو بی له شکه به د یو شمیر غوره انسانانو په تنظیم او راټولولو بریالی وای ، چې بیا به دغو خلکو د خپل اخلاقي پاکوالی او روحانی پاکیزه ګی له امله حتما د توحید ګروهه منلی وای ، او د ستونزو او کړاوونو سیلاب ته به یې په پوره میړانه اوږه ورکړی وای .

په دغه ډول به د روسول اکرم صلی الله علیه وسلم دغه دعوت چې الوهیت یوازی د الله جل جلاله لپاره مخصوص دی له دومره زیات مخالفت سره نه وای مخامخ شوی .

## ددغه میتود خامی په څه کې وه ؟

خو الله جل جلاله په دی پوهیده چې دغه لار هم منزل ته نه رسیږی ، هغه ته معلومه وه چې د اخلاقو مانی یوازی د ګروهی پر بنسټ ودانیدلای شی ، داسی ګروهه چې له یوی خوا د اخلاقي معیارونو د منلو او نه منلو بریدونه وتاکي او له بلی خوا هغه قوت هم وتاکي چې دغه معیارونه ورځنی اخیستل شوی دی او د یوه سند حیثیت ولری .

khanlibrary.org



په دی کې د هغی جزا او سزا بریدونه هم ټاکل شوی وی چې د دغو معیارونو منونکو او یا نه منونکو ته د هغه ( قوت ) له خوا ورکول کیږی ، که چیری سړی کلکه ګروهه او له خدایې ( قوت ) نه ویره ونه لری ، نو اخلاقي معیارونه که په هر څومره لوړه سویه هم جوړ شوی وی د پرله پسی تغیر او بدلون له څپو نه به خلاصی نشی ، او که پردی بنسټ د هر ډول حکومت ودانی ودانه کړای شی .

هغه به د تذبذب او سرګردانی په حال کې وی ، هیڅ ډول قانون به ورسره نه وی کوم بل لیدونکې او محتسب قوت به نه وی ، ځکه چې زړونه به د مکافاتو او مجازاتو له مفهوم نه خالی وی .

## هر اړخیز انقلاب

د زیاتو هڅو او هلو ځلو په نتیجه کې چې د الوهیت د ګروهی ډیوه د خلکو په زړونو کې بله شوه او هغه د قوت تصورهم د خلکو په زړونو کې ثبت شو ، چې دغی ګروهی ته یې د ریښتونولی سندور کاوه ، یا په بله وینا انسانانو خپل ( الله جل جلاله ) وپیژانده او یوازی د هغه بندګی ته یې غاړه کیښوده ، کله چې انسانانو د نفسی غوښتنو د مریې توب نه ځان وژغوره او د ځان په څیر بادارانو د غلامی زغ یې هم له اوږو ښکته کړ او د ( لا اله الا الله ) نقش یې په پوره توګه پر زړونو کینناسته .

نو الله تعالی د دی ګروهی د منونکو په واسطه هغه څه تیار کړل ، چې د مخه یې تجویز کړی وو ، د الله ځمکه او بندګان د رومی او ایرانی خدایګو ټوله فساد او بندګی نه خلاص شول ، خو ددی مطلب دا نه و چې اوس به نو د نړۍ پر مخ د عربی قدرت سکه چلیږی ، بلکه مطلب دا و چې د الله تعالی د حکم تعمیل به کیږی .

له همدی امله د الله جل جلاله ځمکه له رومی ایرانی او عربی باغیانو څخه پاکه شوه ، نوی اسلامي ټولنه له ظلم او تاړاک نه بالکل پاکه وه ، دغه ټولنه اسلامي وه او په پوره توګه په کې د الهی د عدل ډیوه روښانه وه ، دلته هر نیک او بد د الهی د عدالت په تله تلل کیدل ، د دغه ټولنیز عدالت بنسټ د ( تو [illegible] ګروهه ) وه او اصطلاحی نوم یې اسلام و .

khanlibrary.org



له دی مبارک نوم سره هیڅکله هم د بل نوم او یا اصطلاح یو څای کول ښه نه ایسی ، په دغه مهر ، باندی یوازی همدغه د [ لا اله الا الله ] عبارت خوند کوی او ښه ښکاری

سروری زیبا فقط اس ذات بے همتا کو هے

قیادت او رهبری یوازی له هماغه بی ساری ذات سره ښایې

د خلکو نفسونه او اخلاق د جاهلیت له زنګو پاک شول ، زړونه او ارواګانی یې په الهی نور منوری شوی ، دغه اصلاح او سمون په داسی بی ساری ډول مینځ ته راغی چې له یو څو استثنایې مثالونو نه پرته ، د نورو هغو جزا ګانو د اجرا کولو هیڅ نوبت هم رانغی چې الله جل جلاله تیری کوونکو ته ټاکلی وی .

دا ځکه چې د خلکو په زړونو اوس د هغوی د ویښ ضمیر پیره د فعالو څارنو ( پولیسو ) په توګه موجوده وه ، د هغوی لپاره د پولیس او قاضی وظیفه ، د الله جل جلاله د خوښی او رضا حاصلول ، د اجر خواهش د الله جل جلاله له عذاب نه ویری او خوف اجرا کوله .

مخکینی ذکر شوی اصول هغه مخفی څارن ( پولیس ) وو چې د هر مسلمان په زړه کې موجود وو ، لنډه دا چې انسانی نظام ، انسانی اخلاق او انسانی ژوند ، د خپل پوخوالی او لوړتیا هغو پوړیو ته رسیدلی و چې نه د مخه دغه پړاو ته رسیدلی و او نه د اسلام له لومړیو وختونو نه بیا تر اوسه رسیدلی دی .

## دغه ستر انقلاب څه ډول پیل شو ؟

دغه ستر انقلاب او د انسانیت د کمال حکومت ، یوازی په دی توګه لاسته راغی چې : هغو خلکو چې الهی دین د یو حکومت ، یو نظام او یو جامع او هر اړخیز شریعت په توګه مینځ ته راوستی و ، هغوی په خپله تر هر څه د مخه د دغه دین حکومت په خپل زړه د خپل ضمیر اخلاقو او د ژوند په ټولو چارو کې منلی و .

د یوی ګروهی او فکر په توګه ورته لاس په نامه وو ، خپل اخلاق یې په ټاکلو معیارونو برابر کړی وو ، په خپلو عباداتو کې یې د اسمانی سند به

khanlibrary.org



توګه منلی و او په خپلو چارو کې یې د همدی حکومت سکه چلوله ، د دغه دین قیام او حکومت ته د رسیدو په صورت کې له دوی سره یوازی او یوازی وه ژمنه ( وعده ) شوی وه .

په دغه ژمنه کې له هغوی سره د بری او اقتدار یو کوچنی جز هم شامل نه و ، حتی دغه جز هم نه و شامل چې دغه دین بـــه د دوی په لاسونو د بری پرلو ته رسیږی ، هغوی تـــه چې په دی برخه کې څه ویل شوی وو هغه یـــوازی همدومره و چې د بری پـــه صورت کې به هغوی ته د جنت ژوند ور پـــه برخـــه شی .

هغه سخت جهاد چې خلکو وکړ او هغه زهره چاودی ازمیښتونه چې خلکو وسهل ، هغه استقامت او ثبات چې د حق په دغه دعوت کې خلکو وښوده او بالاخره په کوم زغم او حوصله چې د جاهلیت په مقابل کې خلکو د دغه ستر حقیقت ملاتړ وکړ چې د ( لا اله الا الله ) په الفاظو کې پټ دی ، چې د هر وخت او زمان د طاغوتی حکمرانانو د نارامی او تشویش سبب دی .

د دی ټولو نه هیریدونکو خدمتونو ، منډو ترړو او هلو ځلو په مقابل کې له دوی سره بیا هم وایو چې یوازی یوه ژمنه شوی وه چې مخکې مو وویل : ( یوازی د سبا وعده ) .

کله چې الله جل جلاله هغوی د ازمیښت په سره بتی کې واچول او هغوی بیا هم خپل ثبات وښوده او له هر نفسانی خواهش او لذت نه بیزاره شول ، او کله چې الله تعالی په دی پوه شو چې دوی اوس په دی دنیا کې د هیڅ ډول انعام او بخشش تمه نلری او نه دی ته سترګی په لار دی چې د دغه دعوت د بری جنډه دی د دوی په لاسو ورپول شی .

او دغه دین له دی نه ډیر لوړ دی چې د دوی د هلو ځلو او سرښندنو په نتیجه کې دی بری ته ورسی ، د دوی په زړونو کې د پلرونو او نیکونو په اصل و نسب د ویاړنو د جذبی سکروټی ایری شوی دی ، نه پکې د قومی ویاړ نوغی پاتی شویدی او نه ورسره د هیواد د لوړتیا جذبه پاتی شوی ده او نه پکې د قبایلی عصبیتونو خوی بوی پاتی شویدی .

khanlibrary.org



نو له دی امله کله چې الله جل جلاله دوی په دغه ټولو نیکو صفاتو ګڼلی ( آراسته ) ولیدل نو بیا الله جل جلاله د دوی په هکله خپله ستره پریکړه وکړه چې : دا خلک اوس د هغه ستر امانت یعنی د ځمکې پر مخ د خلافت بار په اوږو اوچتولی شی .

دا مسئله په هغه ګروهه کې په څرګنده توګه څیړل شویده ، د هغی ( ګروهی ) د اصولو غوښتنه همدا ده چې د ځمکې پر مخ هر ډول حاکمیت یوازی د الله جل جلاله لپاره مخصوص دی ، په زړه او ضمیر ، اخلاقو او عباداتو ، مال او ځان او ټولو حالاتو باندی یوازی د همدې ذات حاکمیت دی ، الله جل جلاله ته دا معلومه وه چې دا ډله به د هغه سیاسی اقتدار ، ریښتونی ساتونکې وی چې د دی لپاره دوی ته ورکړل شویدی چې : د ځمکې پر مخ د الهی شریعت اصول نافذ کړی او د الهی عدل مانی ودانه کړی .

خو په دی اقتدار کې به شخصاء د دوی او د دوی د خپلو خپلوانو او تبر لپاره هیڅ برخه نه وی ، بلکه ټول اقتدار به د الله جل جلاله لپاره وی او د الله جل جلاله د دین او شریعت په خدمت کې به وی ، ځکه هغوی پوهیدل چې د دی اقتدار منبع د الله جل جلاله ذات دی او هغه دوی ته په امانت ورسپارلی دی .

## د حق نظام د بری یوازینی لار

که د اسلامي دعوت کاروان په همدغه توګه خپل سفر نه وای پیل کړی ، نوری ټولی جنډی یې نوی رانسکوری کړی او یوازی د توحید جنډه یې نه وای رپولی ، په همدغه اغزنه لار نه وای تللی چې په ظاهره پری تګ ډیر سخت او نه زغمونکې و ، خو په حقیقت کې ډیر اسانه او له برکته ډکه لار وه ، نو هیڅکله به هم د دغه پاک او مبارک نظام یو جز هم په دومره لوړ معیار د عمل ډګر ته نه وای راغلی .

په همدی توګه که چیری دغه دعوت د خپل کار په پیل کې د قومیت بیرغ راپورته کړی وای او د اقتصادي اصلاح په جامه کې راغلی وای او د اخلاقي سمون په قالب کې ننوتی وای او یا یې د حق له دغه شعار ( لا اله الا الله ) سره ځینی نور شعارونه هم یو ځای کړی وای ، نو دغه پاکیزه او

khanlibrary.org



مبارک نظام به چې د دغې عقیدې په نتیجه کې مینځ ته راغلی وای ، هیڅکله هم د یوه خالص ربانی نظام په توګه خپل اثر نه وی ښندلای ، د قرآن حکیم مکې دور د دغې ګروهی د برم لرونکې دی .

همدغې دوری د خلکو پر زړونو او اذهانو د الله جل جلاله د الوهیت نقش ثبت کړ ، د انقلاب د فطری لاری لارښوونه یې خلکو ته کوله که څه هم په ظاهره له ډیرو کړاوونو ډکه وه ، له نورو لارو نه یې خلک ایسارول ، که څه هم په ظاهره پرې تګ اسانه ښکاریده ، اسلام په هر حال کې خپلو پلویانو ته یوازی د انقلاب د فطری لاری د تلو سلا ورکوله .

د دعوت په پیل کې جزوی مسایل ولی ونه څیړل شول ؟

په همدی ډول د قرآنکریم ، دغه اړخ هم د حق د داعیانو لپاره د غور او څیړنې وړ دی ، چې د قرآن په مکې دوره کې ټول بحثونه یوازی د ګروهی په چورلیږ چورلی او د ژوندانه د نظام هغه اړخونه یې نه دی څیړلی چې د دی ګروهی اصول یې غوښتنه کوی .

نه یې د هغو احکامو او قوانینو اصول څیړلی دی ، چې د.دی ګروهی په رڼا کې د ژوندانه د نظام او راکړې ورکړې مسایل تنظیموی .

په حقیقت کې د دی دین د مزاج غوښتنه دا وه چې قرآن د مکې دوری په ژوند کې خپل دعوت یوازی په عقیدی پوری محدود کړی ، څرګنده ده چې ټول دین د الله جل جلاله د وحدت په نظریې ولاړ دی او د دی دین د قانون او ټولنی نظام به ټول د همدی نظریې په بنیاد ولاړ وی .

د دین مثال د هغې ځانګوری او ګوری ونی دی چې ګڼ سیوری لری ، او تر لیری ځایونو پوری رسیږی ، ښاخونه یې سره جوخت لګیدلی او له اسمان سره خبری کوی ، د دغه ډول ونی جړې په فطری ډول د خپل غټ والی او ځانګور توب له مخې په ځمکه کې ډیری ژوری تللی وی او شا وخواته یې هم تر ډیری اندازی پوری خپری کړی وی ، د دی دین مثال هم کټ مټ د همدغې ونی په څیر دی ، چې اصولو یې د ژوند په هر اړخ خپل سیوری غورځولی دی .

khanlibrary.org



د انسانیت په هره وړه او لویه خبره بحث او څیړنه کوی ، د انسانانو د ژوند تنظیم یوازی په دنیا کې نه بلکه په عقبا کې هم کوی ، یوازی د عالم شهود مسایل نه بلکه د عالم غیب مسئلی هم حلوی او یوازی په ظاهری او مادی معاملاتو کې لاسوهنه نه بلکه د انسانی ضمیر په بی پایه عمق ( ژورتیا ) او د زړونو د پټو ارادو او نیتونو په غیر مرئی تموج او څپو هم تعرض کوی او هغه سموی .

دغه دین یوه قوی او پراخه اسمانځک ( اسما نخراش ) ته ورته ودانی ده چې د بنسټ پراخوالی او ژور والی یې هم د لوړتیا پوخوالی او پراختیا هومره دی .

د دین د حقیقت او مزاج دغه اړخ په خپله د دین د ودانی او پراخولو د تعمیر او توسیع د کار د ځانګړی لار څرګندونه کوی ، له همدی ځایه څرګندیږی چې په زړونو کې لومړی د ګروهی د زړی ایښودل او بیا د هغی داسی پالل چې یوه داسی ونه ترینه جوړه شی چې تل په خپل ځای کې تانده وی او جړی یې د بدن رګ رګ او ګوټ ګوټ ته ور ورسیږی او په ټول بدن یې د ګروهی سیوری خپور شی .

دغه ډول ونه سمی روزنی ته زیاته اړتیا لری ، په دی ډول به د دین د ستری سمسوری ونی د هغو برخو چې په فضا کې د لوړو ښاخونو په شکل دی او د هغی برخی چې په ځمکه کې د جړو په شان دی یوه هم اهنګی او برابر والی پیدا کیږی ، بلکه لا تردی هم زیاته دا چې هغه ریښی او جړی به نوری هم دومره ټینګوی څومره چې د ظاهری برخی د بوج اوچتولو لپاره ضروری وی .

کله چې د ( لا اله الا الله ) عقیده د زړه په ژورو برخو کې ځانته کور جوړ کړی ، نو له دی سره سره د ژوند هغه ټول نظام هم هلته په کډه ورځی چې د دغی ګروهی عملی تفسیر دی ، له دی نه پـه خپله څرګندیږی چې دا یوازینی او ځانګړی نظـام دی چې په هغه باندې د دغی ګروهی ، ګروهمن ( معتقد ) نفسونه راضی کیدای شی ، مخکې له دینه چې د دی نظام تفصیلات د هغوی مخی ته ور وړاندی کړی او د هغه له احکامو او قوانینو

khanlibrary.org



څخه يې خبر کړی ، هغه لا د مخه د دی نظـام حکومت ته لاس په نامه شوی وی .

د ايمان غوښتنه هم دا ده چې په لومړی قدم کې به بی له اړيتوپړيتو ( چون وچرا ) د اطاعت او تسليم په جذبه ولاړ وی ، له همدی امله کله چې له مکې دوری نه وروسته د مدينی دوره راغله نو هغو پاک نفسو صحابه کرامو د همداسی اطاعت او تسليم د جذبی تر اثر لاندی د هغو ټولو قوانينو او اصلاحاتو مننه په ورين تندی وکړه چې قرآن د هغوی د ښيګړو لپاره وخت په وخت رالېږلی وو .

کوم حکم به چې نوی جاری شو نو سرونه به يې بی له ځنډه د هغه د مننی او تعميل لپاره ټيټ شول ، د هيڅا په خوله به هم دا اعتراض کلمه نه راتلله ، له يوی خوا نه به فرمان لا غوږونو ته نه و رسيدلی چې له بلی خوا به يې د عمل لپاره هر څه برابر وو ، هيڅکله هم په کې چا اړی پيدا نکړی ، شراب حرام شول ، د سود د حرمت ايت نازل شو ، له جواری نه خلک ايسار شول .... لنډه دا چې دجاهلی دوری ټول دودونه تر پښو لاندی شول خو ، په څه ډول ؟

يوازی د قرآن د څو ايتونو په نزول ؟ !

که د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خولی په څو مجردو خبرو ؟ !

د دی په مقابل کې دنيا‌وی حکومتونه وګوری ، هغوی د هر څيز د ختمولو لپاره له قانون نه مرسته غواړی ، قوانين جوړ وی . انتظامی اداری جوړ وی ، پوځ او پوليس ( څارن ) په کار ، ګوماری ، زيات اختيارات لاسته راوړی ، په راډيو تلويژن او ورځپاڼو کې له تبليغ او پروپاګند نه کار اخلی ، خو له دی ټولو سره سره بيا هم هغوی له ښکاره مخالفتونو سره مخامخ وی او د ټولنی لمن له ډول ډول فسادونو نه ډکه وی .[1]

---

۱ - په اسلام کی شراب څنګه حرام شول ؟ په دغه موضوع باندی د ( فی ظلال القرآن ) په پنځم ټوک کی له ۷۸ - ۸۵ مخ پوری مفصله څيړنه شويده ، د شرابو په تحريم کی چی د امريکا حکومت له کومو ستونزو او ناکاميو

khanlibrary.org



## عملی او حقیقت خوښوونکې دین

د دین د مزاج یو بل اړخ هم چې څلایې د هغه په پاکیزه نظام کې له ورایه څرګنده ده د غور وړ ده ، هغه دا ده چې دغه دین د یوه پاخه عملی تحریک د کړنلارې لایحه ده ، د دی لپاره دی چې په انسانی ژوند عملاء حکمرانی وکړی ، له همدی امله د ژوند له عملی حالاتو سره په جګړه بوخت دی چې د هغوی په هکله د خپل چلند بریدونه وتاکې ، چې هغه یا سم او اصلاح کړی او یا یې چور بدل کړی .

او یا یې په خپل حالت پریږدی له همدی کبله د دغه دین قانون جوړول یوازیې په هغو حالاتو پوری تړلی دی چې بالفعل موجود وی او په هغه تولنه کې به تر اجرا لاندی نیول کیږی چې په اصولی توګه یې د الله جل جلاله وحدانیت منلی وی .

په حقیقت کې دغه دین د کومی ، فلسفی نظری ، نوم ندی چې د محض مفروضاتو پر بنسټ یې خپله ودانی جوړه کړی وی ، بلکه دا یـو عملی نظام دی چې د عمل او حرکت له دنیا سره اړیکې لری ، له همدی امله لومړی باید یوه مسلمانه تولنه چې د الوهیت په ګروهه ګروهمنه وی مینځ ته راشی او دا لوړه یې کړی وی چې ستر حاکمیت له الله جل جلاله نه پرته بل چاته نه ښایې .

له الله جل جلاله نه پرته د بل چا حاکمیت نفی کړی او د هر هغه قانون جواز ، بند کړی چې بنسټ یې د الوهیت په ګروهه نه وی ولاړ ، دغه تولنه چې مینځ ته راشی او بالفعل له مختلفو عملی مسائلو سره مخامخ شی ، د قانون او نظام لپاره ورته ضرورت پیښ شی ، نو هماغه وخت دغه دین د احکامو ، قوانینو ، نظام او ضوابطو په جوړونه پیل کوی او هغه خلک په

---

سره مخامخ شویدی ، د هغی تفصیل د مولانا ابو الحسن ندوی په ( ما ذا خسر العالم الاسلامی با انحطاط المسلمین ) نومی کتاب کی وګوری چی هغه د مولانا مودودی د ( تنقیحات ) نومی کتاب په حواله چی په اسلامک پبلکیشنز لمیټید کی چاپ شوی رانقل کړیدی [ لیکوال ] .

khanlibrary.org



پام کې نیسی چې په اصولی توګه یې د دغه دین هر قانون او ضابطه منلی ده او نور ټول اصول او قوانین یې اصولا له خپل ژوند نه ایستلی وی .

## د قوانینو د انفاذ لپاره قوت ته ضرورت دی

د دغی ګروهی منونکې باید ازاد وی او په ټولنه کې یې اقتدار او مشری په برخه وی ، چې په دغه اقتدار او مشری سره هغوی وکولای شی ، په ټولنه کې دغه نظام او د هغه ټول احکام جاری کړی ، پدی توګه بـه دغه نظـام په پوره برم او پرتم خپل جوهر وخلوی او احکام به یې هم په سمه توګه د اجر وړ وګرځی .

سربیره پردی کله چې دغه دین د ټولنی له عملی مسائلو سره مخامخ کیږی ، نو بیا هم د احکامو او قوانینو ضرورت پیښیږی او د دی ترڅنګ د دغو غوښتنو د پوره کولو لپاره د سیاسی قدرت موجودیت حتمی دی ، د قرآن په مکې ژوند کې مسلمانان آزاد نه وو ، په خپله ټولنه کې یې هم سیاسی نفوذ او اقتدار نه درلوده ، د دوی عملی ژوند هم یو مستقل او جلا شکل نه و غوره کړی ، چې دوی هغه د الهی د شریعت له مخی تنظیم کړی وای ، نو له همدی امله د الله تعالی له خوا نه هم په دغه وخت کې د دوی لپاره کوم انتظامی قوانین نازل نه شول ، په دغـه دوره کې چې د الله جل جلاله له دربار نه هغوی ته څه نازل شوی وو .

هغه یوازی او یوازی د توحید د ګروهی په هکله و او یا د دغی ګروهی له پیدا کیدو نه وروسته د هغی د نیکو نتایجو په نتیجه کې د عالی اخلاقو پیدایښت و ، خو کله چې د مدینی په ژوند کې الله تعالی هغوی ته د یوه ازاد او خپلواکه ټولنی واکمنی ور په برخه کړه ، نو د الله جل جلاله له خوا نه هم هغوی ته د ژوند عام ضوابط او اصول نازل شول .

د دوی لپاره داسی یو نظام مینځ ته راغی ، چې د مسلمانی ټولنی د عملی ژوند ارټیاوی یې په ښه توګه ترسره کولای شوی ، د مدینی د سیاسی قدرت څواک د دغه نظام ملاتړ او د رسمی تائید (Sanction) قوت و .

د الله جل جلاله حکیم او خبیر ذات دا غوره نه وه ګڼلی چې ټول قوانین او ضوابط د مکې په سیمه کې نازل کړی ، چې مسلمانانو په تیار حالت کې

khanlibrary.org



هغه ذخیره کړی وای او کله چې په مدینه کې د اسلامي حکومت د قیام بنسټ ایښودل شوی وای ، نو هغه یې سمدستی جاری کړی وای ، دغه ډول روش د اسلام او دین منافی دی ، اسلام لدغه ډول احتیاطی تدابیرو نه ډیر زیات دور اندیشه او عملی دین دی د اسلام دا لار نه ده چې د فرضی مسائلو لپاره فرضی لاری چاری وسنجوی او خپل وخت پری ضایع کړی .

بلکه اسلام د هغی ستونزی د حل لار لټوی چې پیښه شوی وی ، که چیرته اسلام وګوری چې واقعا هم داسی یوه ژوندی او قوی اسلامي ټولنه مینځ ته راغلی ده چې د خپلی بنی او له حالاتو او مسائلو سره د مخامخیدو له مخی یې د الهی شریعت په مقابل کې د تسلیم لاسونه په سینه ایښی دی او له غیر الهی شرایعو نه بیزاره ده ، نو په هغه صورت کې به اسلام ، بی له کوم مکث او ځنډه ، د حالاتو ، شرایطو او اړتیا وو ، په نظر کې نیولو سره قوانین وضع او د نفاذ غوښتنه به یې وکړی .

## تر اسلامي حکومت د مخه د اسلامي قانون جوړول بی ګټی کار دی

هغه خلک چې نن له اسلام نه دا غوښتنه کوی چې لومړی دی خپل نظریات مدون او مرتب کړی ، د خپل نظام بڼه دی مونږ ته څرګنده کړی او د ژوندانه د مسائلو د قانون مجموعه دی ترتیب کړی ، حال دا دی چې دوی ښه وینی چې د ځمکې پر مخ داسی ټولنه نشته چې نور ټول انسانی قوانین مسترد کړی او بالفعل د خپلو چارو واګی د الهی شریعت په لاس کې ورکړی او هغوی دا اختیار هم ولری چې د هغی په زور دغه قوانین نافذ کړی ، نو په ښکاره توګه څرګندیږی چې هغه کسان چې له اسلام نه دغه ډول غوښتنه کوی هغوی د اسلام له مزاج سره نا اشنا دی او د ژوند په ناپایه سمندر کې د دین له عملی کړنلاری نه نا خبره دی ، هغوی پدی هم نه پوهیږی چې د دین له عملی انفاذ نه د الله جل جلاله منشاء څه ده .

په حقیقت کې له دین نه دغه ډول مطالبه کوونکې حضرات غواړی چې دین له خپلی اصلی او فطری تګ لاری واړوی او خپل اصلی او اصولی تګ لوری پریږدی ، خپل تاریخ بدل کړی او د عامو انسانی نظریاتو او انسانی شریعتونو په څیر سطحی بڼه غوره کړی .

khanlibrary.org



د هغوی دا هڅه ده چې دین خپله فطری لاره او فطری مراحل پریږدی او کومه لنډه او اسانه لار غوره کړی ، چې فوری او عارضی غوښتنی او خواهشات یې پوره شی ، ارمانونه او غوښتنی یې هم هغه دی چې د هغې د پیدایښت سبب ، هغه شکست او ماتی ده ، چې د نیمګړو انسانی قوانینو په مقابل کې ده ته ورپیښ شویدی ، له دی سره سره دوی غواړی چې دغه دین هم د مجردو نظریاتو او مفروضاتو یوه مجموعه شی او د بحث موضوع یې هم داسی حالات او پیښې وی چې د هغې عملی وجود عنقاوی .

خو د الله جل جلاله ارادہ دا ده چې دا دین په هغه ډول نافذ شی څرنګه چې د مخه شوی و ، لومړی دی دغه دین د عقیدی په ډول ومنل شی چې د انسانانو په زړونو ، افکارو او ضمیر باندی خپله پاچهی ټینګه کړی ، نو بیا به د همدغې عقیدی غوښتنی پوره کړای شي .

د دغه دین لومړی غوښتنه دا ده چې انسان دی پرته له خدایه د هیچا په وړاندی سر نه ټیټوی ، له الله نه پرته دی له هیڅ منبع او ماخذ نه د ژوند قوانین نه اخلی ، کله چې په دغه ګروهه منور تولګی تیار شی او په ټولنه کې هم د هغوی عملی واکمنی تثبیت شی ، نو بیا به د همدی ګروهی په رڼا کې داسی قوانین جوړ شی چې د دغې ټولنې عملی اړتیاوی ترسره کړی او د عملی ژوند تنظیم یې وکړي .

دغه د دین د قیام سمه او اصلی لاره ده چې د الله جل جلاله خوښه ده ، د الله جل جلاله له غوره کړی لاری نه پرته هیڅکله هم بله لار نشی مثل کیدای که خلک هر څومره خواهشونه او غوښتنی هم وکړی .

## د دین د قیام سمه لار

پر دی اساس د اسلامي دعوت مخکښه ډله باید په دی پوه شی ، کله چې هغوی خلکو ته د دین د احیا او تجدید بلنه ورکوی ، نو لومړی غوښتنه دی تری همدا کوی چې هغوی د اسلام په بنیادی عقیده اقرار وکړی ، که څه هم هغه خلک ځانته مسلمانان وایي او د مسلمانانو نومونه یې هم پر ځان ایښی وی او د پیدایښت تصدیق یې (Certificate) هم د دوی د مسلمانی شهادت ورکړی .

khanlibrary.org



په هر صورت د اسلامي دعوت علمبرداران باید لومړی همدغه مسلمانان په دی پوه کړی چې : اسلام د یوه داسی حقیقت نوم دی چې تر هر څه د مخه باید سړی ( لا اله الا الله ) له حقیقی مفهوم سره د زړه له کومی ومنی ، د دی حقیقی مفهوم دا دی چې دی به د ژوند په هره چاره کې د حاکمیت واک یوازی الله جل جلاله ته ورکوی او هغه خلک چې د الله جل جلاله له حکم نه سر غړوی او دغه حاکمیت د خپل ځان لپاره وړ ګڼی ، نو د هغه د دغی ادعا تردید به کوی .

د اسلامي عقیدی منل په دغه ډول او مفهوم باندی په انسان دا لازموی چې د ژوند په ټولو چارو کې به د همدغی ګروهی تر سیوری لاندی یون کوی ، په همدغه ډول به عبادت کوی او د ژوند په هر اړخ به یې د همدغی ډیوی رڼا خوره وی .

کله چې د خلکو په مینځ کې د دین تحریک راپورته کیږی باید هغوی ته د دین د دغه اړخ اساسی اهمیت ور په ګوته شی ، ځکه چې په نړۍ کې لومړی اسلامي تحریک هم د اسلام همدغه اړخ د خپل دعوت اساس او بنسټ ګرځولی وۀ .

د قرآنکریم د مکي ژوند دیارلس کاله د همدی ګروهی د ریښتونوالی او پوخوالی په برخه کې تیر شول ، همدا وجه ده چې که کوم ټولی یا جمعیت د دین د دغه ډول مفهوم او عقیدی په لرلو سره په اسلامي تحریک کې ګډون کوی ، نو دغه ټولی ته سړی په حقیقی معنی اسلامي ټولی یا اسلامي ټولنه ویلای شی ، یعنی هغه ټولنه چې دا صلاحیت او اهلیت لری چې د دوی په ټولنیز ژوند کې د اسلام قوانین جاری شی ، ځکه چې دغه ټولی په خپله خوښه دا خبره منلی ده چې د دوی د ژوند ټول نظام به د اسلام پر بنسټ ولاړ وی ، د ژوند په هیڅ ډول معامله کې به د الله جل جلاله له حاکمیت نه پرته د بل هیچا حاکمیت نه منی .

کله چې یوه ټولنه بالفعل مینځ ته راشی او د اسلامي نظام اساسی تعلیمات یې مخی ته کیښودل شی او ټولنه په خپله د اسلامي نظام د عمومی ضوابطو په درشل کې دننه داسی احکام او قوانین وضع کړی ، چې

khanlibrary.org



د دوی د ژوندانه عملی اړتیاوی یې غوښتنه کوی ، زمونږ په نظر د اسلام د عملی ، حقیقت خوښوونکې او د ژوند د حکیمانه نظام د عملی کولو د مختلفو لارو او مراحلو نه همدغه لار سمه او ګټوره ده .

د ځینو تلوار ګندو مسلمانانو چې د دین د اصل او حقیقت د درک پوهه یې کمه ده او د دین د سمې او خدایې لاری د عمل په هکله یې غور نه دی کړی ، ( چې د علیم او حکیم ذات د بی پایانه حکمتونو پر بنسټ ولاړه ده ، او د ژوند د اړتیاوو په هکله د هغه د بشپړ علم برکت دی ) .

هغوی ډیر ځله داسی فکر کړیدی چې یوازی د اسلامي نظام د بنیادونو او یا یوازی د اسلامي قوانینو او احکامو نه به د خلکو خبرول د اسلامي دعوت لار اسانه کړی او د خلکو په زړونو کې به په خپله د اسلام په هکله د همدردی جذبه را پیدا شی ، دا نظریه یوازی د هغو حضراتو په لنډ اندی ( لنډ فکری ) او خام خیالی دلالت کوی چې د هغوی د عجلت خوښوونکو اذهانو محصول دی .

دا د هغی قبیل تخیل دی چې مخکې مو یاد کړیدی ، چې په څه ډول په خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم حضور ته هم دغه ډول تجویزونه وړاندی کیدای شی او ویل کیدای شي چې که هغه خپل دعـوت د قوم پالنی او نشنلیزم په کوم شعار او یا اقتصادي اصلاح په دعـوت او یا د اخلاقي سمون له تحریک نه پیل کړی وای نو د هغه د منزل لار بـه لنډه او اسانه شوی وای او هغه به د ستونزو په اغـزنه لار کې پښیبلو پښو تګ ته نه اړ کیده .

د اسلامي دعوت په پیل کې په اصولی توګه تر هر څه د مخه دا ضرور ده چې د انسان زړه یوازی او یوازی د واحد الله د مینې کور شی ، د هغه د عبودیت او بندګی اعلان وکړی او د هغه شریعت ته تسلیم شی او بل هر شریعت لری وغورځوی .

مخکې له دینه باید هغه ته د شریعت ښیګړی په تفصیل سره وښودل شی چې د هغه د رغبت او تمائل احساس نور هم غښتلی شی ، له شریعت سره رغبت او تمایل خو باید اصلا د الله جل جلاله د بندګی له چینی نه

khanlibrary.org



راوخوتېږی ، د دوی په زړونو کې باید له الله جل جلاله نه پرته د نورو له غلامی نه د خلاصون جذبه ډیره پیاوړی وی .

دا سمه خبره نه ده چې په زړونو کې له الهی قانون سره هغه وخت مینه را پیدا شی چې له نورو قوانینو سره د اسلام د قوانینو پرتلیزه ( مقایسوی ) مطالعه وشی ، له هغی نه وروسته د ځینو خلکو د اسلامي قوانینو هغه اړخونه چې له انسانی قوانینو نه بهتر دی خوښ شی .

بی له شکه خدایې نظام سر تر پایه د خیر او برکت چینه ده او د دی خبری د ثبوت لپاره همدومره ، کافی ده چې دغه قوانین او نظام الله تعالی د خپلو مخلوقاتو لپاره غوره ګڼلی دی ، د غلامانو شریعت په هیڅ ډول هم د الله جل جلاله له شریعت سره برابری نشی کولی خو زمونږ د خبرو مطلب دا دی چې د اسلامي دعوت روح او بنیاد دا نه دي .

د اسلامي دعوت بنیاد یوازی ( اسلام ) دی او اسلام د هغه حقیقت نوم دی چې د الله جل جلاله شریعت ، په هر حـال کې بی له څنډ او کومـی ناغیړی نه منی او له نورو ټولو شریعتونو نه ، بـه چې پـه هره بڼه وی انکار وکړی .

له دی پرته د اسلام هیڅ مفهوم نشی کیدلای ، د هغه چا چې له دغه ابتدایې اسلام سره مینه او پیوستون پیدا شی نو وروستنی پریکړه به هم څرګنده ده چې د شریعت په ګټه وی ، خو د دی له منلو نه وروسته به هغوی دیته اړ نه وی چې د اسلامي نظام د بېګړو ، حسن ، ښکلا او د هغه د افضیلت او برتری په هکله تفصیلات ورکړو او د هغوی مینه او تمایل ورسره پیدا کړو ، دا و د ایمان په هکله د بدیهی حقایقو له جملی نه یو با ارزښته او بنیادی حقیقت !

## اسلام له جاهلیت سره څه ډول مقابله کوله ؟

له پورتنیو تفصیلاتو نه وروسته مونږ د دی خبری کول ضروری ګڼو چې قرآنکریم په څه ډول د مکې په دیارلس کلنی ژوند کې د ګروهی مسئله اواره کړله ، قرآن اسلامي ګروهه د یوی مجردی نظریی (Theory) او یا د الهیاتو په توګه نه ده وړاندی کړی او نه یې د ګروهی د بیانولو په برخه کې

khanlibrary.org



هغه اندازه غوره کړی دی ، چې زمونږ علم الکلام د کلامی بحثونو په برخه کې غوره کړی دی .

بلکه د هغی سرچپه ( برعکس ) اسلام تل د انسان فطرت ته اشاره کړیده او له هغو څیزونو نه خپل دلایل را اخلی چې د انسان په شا وخوا کې موجود دی ، اسلام انسان د اوهامو او خرافاتو له انبار نه راباسی او د هغه فطری صلاحیت ته ځلا او رڼا وربښي ، چې له مودو راهیسی د خرافاتو زنګ وهلی او له کاره لویدلی دی ، په دی توګه قرآن د انسانی فطرت له مخه پلو پورته کوی او هغه د دی وړ ګرځوی چې د هغه موثر او لطیف اړخونه وپیژنی او قبول یې کړی .

دا خو د قرآنی تعلیماتو یو عمومی اړخ و ، خو د اسلام انقلابی او تعلیمی اړخ دا و چې د توحید د ګروهی له مخی یې په ټولنه کې د جاهلی نظریاتو او روایاتو پر ضد جګړه پیل کړی وه ، چې انسانیت یې تر انبار لاندی دفن شوی وی او د څو خدایانو د غلامی ځنځیرونه یې ور په غاړه کړی وو ، نو پردی اساس په دغه ډول حالاتو کې د اسلام لپاره د مبارزی دغه شکل وړ نه و چې د یوی ( نظریې ) په توګه یې وړاندی کړی وای .

مناسب او غوره شکل همدا و چې د عملی مقابلی عزم وکړی او د عمل میدان ته ور ودانګی او د انسان په زړه او دماغ چې د جهالت کومی پردی غورپدلی وی هغه څیری کړی ، ټولی مر کوندی یی له لاری جارو کړی ، هغه ټول دیوالونه چې د حق د لاری خنډ دی وی نړوی .

په همدی توګه د عقلی مجادلی اسلوب هم چې په وروستیو پیړیو کې د علم الکلام په توګه مینځ ته راغی او ټول دارو مدار یې د لفظی منطق پر بنسټ ولاړ ؤ ، هم د اسلام د وړاندی کولو لپاره مناسب ډول نه و ، ځکه چې قرآن له ټول انسانی ماحول او د هغی له شا وخوا متحرکو اسبابو او عواملو سره په جګړه بوخت و ، د خبرو مخه یې ټول انسانیت ته متوجه وه ، چې د جاهلیت په ناپایه سمندر کې یې د ډوبیدو ویره موجوده وه ، د دی مقصد لپاره د ( الهیاتو ) د وینا طرز او ډول هم مناسب او ګټور نه و .

khanlibrary.org



دا څکه چې اسلامي عقیده سره له دی چې له وجدان سره تعلق لری ، خو د عملی ژوند لپاره هم د عمل لایحه لری ، د عمل په دنیا کې هم د هماغی لایحی انفاذ غواړی ، د الهیاتو د نظری بحثونو او ذهنی خیال پر دازیو په څیر یی نه غوښتل چې د ژوند په محدوده او تنګه دایره کې پاتی شی .

قرآن له یوی خوا نه د اسلامي جماعت په زړونو کې د ګروهی مانی ودانوی او له بلی خوا نه له دغه جماعت سره د شا وخوا په جاهلی سنګرونو باندی هم په قوت او شدت حمله کوی ، په خپله د اسلامي جماعت د افکارو او اعمالو او اخلاقو سره هم چې د جاهلیت اثار پکې پاتی وی مخالفت او جګړه کوی ، چې په پای کې د همدغه ډول دوه اړخیزو جګړو او نا مساعدو حالاتو په بهیر کې د اسلامي ګروهی شانداره مانی ودانه شوه .

خو د محض ( نظریی ) او یا ( الهیاتو ) په بڼه نه وه او نه د کلامی ( جدلیاتو ) په جامه کې ، بلکه د یوه ژوندی متحرک او فعال تحریک په بڼه چې مظهرئی د قرآن روزل شوی غوره اسلامي ټولی ( جماعت ) و ، د دغه جماعت ټوله فکری ، عملی او اخلاقي پرمختیا د ښوونی او روزنی له پلوه د اسلامي نهضت د تصوراتو په رڼا کې شوی وه .

هغوی ته چې کوم ډول روزنه ورکړ شوی وه هغه پردی روحیه ولاړه وه چې دغه ټولی به د یوه منظم او جنګیالی لښکر په توګه له جاهلیت سره په جګړه بوخت وی ، څکه چې د دی نهضت پرمختګ د ګروهی او فکر د پرمختګ او لوړتیا عملی تفسیر و ، دا وه د اسلام د تګ سمه او نیغه لار چې د اسلامي فطرت ښه ترجمانی کولای شی .

## اسلام نظری نه بلکه عملی دین دی ؟

د اسلامي دعوت علمبرداران باید د دین مزاج او مبارزی د لاری هغه اصول چې په پورته ډول مو یاد کړل په غور وځیړی او ورته ځیر شي ، له دغه غور او فکر نه وروسته به دوی ته څرګنده شي چې د ګروهی د ودانی د ودانولو هغه اوږده موده چې په مکه کې تیره شوه ، داسی نه وه چې یوازی یی د اسلام د نظریاتی زده کړی په مسئله بسنه ( اکتفا ) کړی وي .

khanlibrary.org



په حقیقت کې د ګروهی د مانې د ودانۍ لو پړاو هغه مرحله چې عملا پکې د اسلامي تحریک فعالیت مینځ ته راغی او د اسلام د مثالی غوره ډلی د تشکیل د بنسټ ډبره عملا کیښودل شوه ، دوه جلا او یو له بله بیلی مرحلی وی ، په حقیقت کې دا دواړه مرحلی یوه مرحله وه چې په یو وخت کې پکې د ګروهی نیالګی هم کیښودل شو او د اسلامي نهضت پاڅون هم د عمل ډګر ته راووت .

د اسلام د عملی وجود لپاره یی لاره هم اواره کړه له همدی امله که چیری څوک په ګانده ( اینده ) کې د اسلام د بیا ژوندی کولو هڅه کوی نو باید چې دغه ډول دود ( روش ) غوره کړي .

غوره دا ده چې د عقیدی د تعمیر مرحله اوږده وی او د تعمیر کار ورو ورو سر ته ورسیږی ، هر قدم باید د استحکام او ثبات ښکارندوی وی ، دغه مرحله باید د ګروهی په هکله له بی فایدی بحثونو نه ځار نه شی ، بلکه په دی مرحله کې باید عقیده د یوه ژوندی حقیقت په توګه سترګی پرانیزی ، لکه څنګه چې په فطری ډول د عقیدی غوښتنه ده او د یوه داسی غوره مثالی ډلی په بڼه کې ځان وښیی چې د ننی او بهرنی پرمختګ مظهر یی په خپله عقیدی د پرمختګ مظهر وي .

د یوه داسی عملی تنظیم په بڼه وی چې جاهلیت ته د جګړی بلنه ورکړی نه یوازی د فکر او نظر په سنګر کې بلکه د عمل او کردار په محاذ کې هم ورسره په جګړه بوخت شی ، چې په دی توګه عقیده په یوه محسوس پیکر بدله شی او د دغه الغا وتلغاو په مینځ کې وده او پرمختګ وکړي .

تر کومه ځایه پوری چې په اسلامي ګروهی پوری اړه لری دغه خبره د اسلام له پلوه بالکل غلطه نه بلکه زښته ډیره خطرناکه هم ده چې عقیده د ښکاره او څرګندو بحثونو په شکل پرمختګ وکړی او مازی ( محضی ) د نظری بحث او مجرد فکری تحقیق په میدان کې محدوده پاتی شی ، قرآنکریم په مکې دوره کې د عقیدی په تعمیر او استحکام کې پوره دیارلس کاله د دی امله نــه و تیر کړی چې هغه یو ځلی نازله شـوی وه ،

khanlibrary.org



که الله جل جلاله غوښتلی وای نو ټول قـرآن کـریم یې هم پـه یو ځلی نازلولای شو .

بیا به یې د قرآن منونکو ته دیارلس کالو پوری څه نه ویل تر هغی پوری چې هغوی په دغه موده کې د اسلامي نظریی پر علمی او نظری دواړو برخو. ښه نه وای پوهیدلی ، خو الله تعالی دغه لار غوره کړه ځکه د هغه منظور نظر نور څه وو .

الله جل جلاله په نړۍ کې د یوه بی ساری نظام د حکومت ټینګول غوښتل ، هغه په یوه وخت کې د عقیدی تعمیر ، د دغه مخکښ تحریک تاسیس او هم د دوی د نماینده ټولنی د تنظیم مینځ ته راوستل غوښتل ، هغه غوښتل چې د عقیدی په قدرت ، تحریک او ټولنه دواړه په پښو ودریږی او د تحریک او جماعت د کارنامو له برکته عقیده ړنا پیدا کړی .

الله جل جلاله غوښتل چې عقیده د جماعت متحرک او عملی ژوند وی او د جماعت تحریک او ګرمجوشی ، د عقیدی آئینه وی ، الله جل جلاله په دی پوهیده چې د انسانانو اصلاح او د ټولنی روغ تشکیل کوم داسی کار نه دی چې سمدلاسه دی په یو څو شپو ورځو کې وشي .

دا ځکه چې د عقیدی د تعمیر او ودی لپاره خو به ضرور دومره وخت پکار وی لکه څومره چې د یوه فرد اصلاح او د یوه مثالی ټولی د تشکیل او تنظیم لپاره پکاریږی ، چې له یوی خوا د عقیدی ودانی بشپړه شی او له بلی خوا یوه داسی غوره ډله مینځ ته راشی چې د دغی ګروهی حقیقی مظهر او عملی تفسیر وي .

د دین سپیڅلی مزاج همداسی دی د قرآنکریم ه مکې دور نه هم د هغه د دغه ډول مزاج د څرنګوالی کیفیت څرګندیدای شی ، مونږ باید د دین د مزاج طبیبان شو او د خپلو ناکراره غوښتنو او له عقله لرې انسانی نظریاتو د ماتی خوړلو احساساتو له سیلاب سره په یوه مسیر کې لاړ نشو .

د دین د مزاج د تبدیلولو هڅه ونکړو ، دین د خپل دغه مخصوص مزاج کارنامه ډیره پخوا د ( مسلمان امت ) په نامه د یوی نومیالی غوره ډلی په روزلو کې ښودلی ده ، په اینده کې هم که څوک د یوه داسی امت د جوړولو

khanlibrary.org


هڅه وکړی او وغـواړی چې اسلام بیا په نړۍ کې پـه خپلو پښو ودریږی ، نو د دین د دغـه ډول مزاج او د کار کولو د لارو چـارو په واسطه یې درولی شي .

مونږ باید په دی ښه پوه شو چې داسی هر ډول زیار او هڅه له یوی مخی غلطه هم ده او خطرناکه هم ، چې مقصد یې دا وی چې د اسلام په څیر ژوندی او عملی عقیده چې د یوی قوی متحرکې او ژوندی ټولنی په وجود کې خوریږی او د یوه منظم مثالی غوره تحریک بڼه اختیاروی ، هغه له خپل فطری پرمختګ او عمل نه بی برخی کړای شی او د یوی مجردی نظریې په توګه د درس او تدریس او عملی مباحثو میدان وګرځی ، چې وکولای شو د انسانی خوارو او پمنو نظریاتو په وړاندی د اسلامي نظریې برتری او لوړتیا جوته کړو .

د اسلامي ګروهی غوښتنه خو دا ده چې ژوندی انسانان د هغی مثالی او غوره ډله واوسی او د یوه پاخه تنظیم د عمل پر نامه وی ، د یوه داسی نهضت بڼه غوره کړی چې د شا وخوا جاهلیت سره هم لاس په ګریوان وی او د خپل تنظیم په غړو کې هم د جاهلیت پاتی اثرات له مینځه یوسی ، دا ځکه چې مخکې له دینه چې انسان ، د دی عقیدی په نور منور شی په خپله هم د جاهلیت یو جز و .

د لږو ډیرو جاهلی اثراتو پاتی کیدل په ده کې کومه ناممکنه خبره نه ده ، اسلامي عقیده د خپل دغه ماهیت له مخی په دومره پراخه پیمانه د خلکو په اذهانو او زړونو کې ځای نیولی شی چې هغه د نظریاتی بحثونو له کوچنی او تنګی دایری نه څو برابره ارتپه وی .

او له دی سره سره هغه یوازی د اذهانو او زړونو په ایلولو ( تسخیرولو ) نه بسیا کیږی ، بلکه د هغوی د اعمالو څارنه هم کوی ، الوهیت ، کاینات ، ژوند او انسان دا هغه مباحث دی چې د دوی په هکله د اسلام تصور نه یوازی دا چې زښت زیات جامع هر اړخیز او بشپړ دی ، بلکه حقیقت او لازمی هم دی ، اسلام د خپل مزاج او فطرت پر اساس دا نه غوښتل چې د وچو عقلی او علمی تصوراتو یوه مجرده نظریه شی .

khanlibrary.org



دا هم د اسلام د فطرت نه مخالفه ده او هم د اسلام له هدف او غایت نه ، د اسلام چې کوم شی خوښیږی هغه دا ده چې د ژوندیو انسانانو په جامه کې راڅرګند شی او یو ژوندی تنظیم یې نماینده وی ، یو عملی نهضت یې د غوښتنو عملی تفسیر وی ، د اسلام د پرمختګ لاره هم ډیره عجیبه ده هغه کسان چې اسلامي دعوت منی د یوه منظم او فعال تنظیم په چوکاټ کې د کښت په توګه وده کوی .

تر هغی چې د پوخوالی هغه مرحلی ته ورسیږی چې د نظر او عمل له پلوه کوم توپیر په کې نه وی پاتی شوی ، د خپلی ودی په وخت کې هغوی هیڅکله هم د یوی مجردی نظریې د خاوندانو په څیر د ژوند له عملی مسایلو نه جلا نه اوسی بلکه په واقعی توګه د عمل او حرکت په بهیر کې ټول پراوونه سر ته رسوی .

پاتی شوه دا لار چې لومړی دی ( اسلامي تصور ) په نظری او تجریدی لحاظ پوخوالی تـــه ورسیږی او بیا دی هغه د عمل او نهضت پـــه میدان کې وده وکړی ، نو د ودی او پرمختګ دغه لار د دغه دین له فطـرت ، نصب العین او مخصوص جوړښت ســره له هر پلوه نا مناسبه ، خطـــرناکه او زیان منه ده .

الله جل جلاله فرمایي : وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَى مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنزِيلًا [بنی اسرائیل : ۱۰۶]

( او دغه قرآن مونږ لږ لږ نازل کړیدی چې تاسی یې په وقفو وقفو خلکو ته واوروی او هغه مونږ په تدریج سره نازل کړیدی ) .

د دغه ارشاد له مخی د اسلام دواړه اړخونه قصدا په یوه وخت کې په دغه ډول غوره ګنل شویدی ، د قرآن لږ لږ نازلیدل ، او بیا هغه په وقفو وقفو خلکو ته اورول ، دغه لار د دی لپاره غوره کړای شویده چې د ګروهی پر بنسټ ودانیدونکې نظام د محض یو نظر په شکل نه بلکه د یوه ژوندی او فعال تنظیم په وجود کې ځان ښکاره او تر پوخوالی ورسیږی .

khanlibrary.org



## د دین د فکر او عمل لاری خدایې دی

د اسلام مدعیان او مخکښان باید په واضحه توګه دا خبره هم په یاد وساتی ، لکه څنګه چې دغه دین یو ربانی او خدایې نظام دی ، همدغه راز یې د دعوت او کار لاری چاری هم په الهی وحی پوری اړه لری ، د دین د فطرت او د کار په لارو چارو کې په کامله توګه هم اهنګی او همرنګی موجوده ده ، که څوک وغواړی چې له دغی لاری پرته په بله کومه لار د دین د عملی کولو څه وکړی هغه به یوه بی ګټی هڅه وی .

دغه دواړه لاری سره نژدی جلا کیدلای او پدی خبره هم باید پوه شی ، لکه څنګه چې دغه دین د فکر او نظر له انقلاب نه د عمل او کردار د انقلاب راوستلو لپاره راغلی دی په همدی توګه غواړی چې د فکر تګ لوری هم بدل کړی ، چې د عقیدې د تعمیر او په عملی ژوند کې د انقلاب د راوستلو لپاره ورنه کار اخیستل کیږی ، دغه دین عقیده هم جوړه وی او د امت د تشکیل لپاره هم هڅه کوی او ترڅنګ یې خپل ځانګړی فکری نظام ته هم وده ورکوی .

د هغه ودونی ( رایج کولو ) لپاره ډیر زور او قوت پکار اچوی اکه څومره چې د عقیدی په تاسیس او د عمل په بدلون کې لګوی ، له همدی امله د دغه دین ځانګړی فکری نظام ، ځانګړی ایډیالوژی او غوره مثالی او ژوندی تحریک دری واړه بیل ، بیل څیزونه نه دی ، بلکه دری واړه په یوه وخت سر ته رسیږی ، ځکه چې دا دری واړه د یوه ګل دری پانی دی .

له پورتنی څیړنی نه مونږ ته څرګنده شوه چې د دین د احیاء د کار طرز او دود یو مخصوص طرز دی ، اوس په دویم پړاو کې باید مونږ تـه دا هم څرګنده شی چې د کار دغه لار یوه ځانګړی او یوازینی او ابـدی لار ده ، دغه مخصوصه طـریقه د اسلامي دعـوت پـه کوم مخصوص پړاو پـوری اړه نه لری .

نه د حالاتو او شرایطو تابع ده او نه د محیط او نه یوازی د هغو حالاتو لپاره تاکل شویده چې د لومړنی غوره او مثالی تنظیم د پاڅون په وخت کې وو ، د اسلامي دعوت د کار دغه ځانګړی لار د زمان او مکان له قیودو نه

khanlibrary.org



آزاده ده ، هر کله که د حق د دین د عمل او پاڅون هلی ځلی بری ته رسیږی نو د دعوت د دغی ځانګړی لاری په نتیجه کې به رسیږی .

د اسلام مسئولیت یوازی همدومره نه دی چې د خلکو په اعمالو او عقایدو کې انقلاب راولی ، بلکه دا هم د اسلام د مسئولیت په دایره کې شامل دی چې د خلکو د فکر په طرز او نظر کې هم یو مثبت بدلون راولی او همدا رنګه هـم د حالاتو او تصوراتو پـه باره کې د هغوی پـه نـړۍ لید ( جهان بینی ) کې بدلون راولی ، ځکه چې د اسلام د فکری نظام منبع او ماخذ هم د الهی هدایت چینه ده .

له همدی امله اسلامي طرز فکر د خپل جوړښت او فطرت له مخی هم له هغو ټولو اند دودونو ( طرز فکر ) سره بالکل مخالف دی چې لنډ اندو او فانی انسانانو تخلیق کړیدی .

که مونږ د یوی مجردی نظریې په توګه د اسلام د پوهیدلو هڅه وکړو او وغواړو چې دغه نظر یوازی د بحث او لوست د میدان یوازینی لوبغاړی وی ، نو په دی توګه به مونږ په حقیقت کې اسلام له ربانی طرز فکر او خدایی لاری نه جلا کړی وی او د انسان د فکری نظام تابع کړي به مو وي .

یعنی دا چې د الله جل جلاله له خوا د بشریت د خیر او ښیګڼی لپاره ټاکل شوی ( طرز فکر ) معاذ الله له انسانی اند دودنه بی ارزښته دی او مونږ د الله جل جلاله د نظریی او عملی نظام ته ترقی ورکوو او د انسانی نظامونو سره یې د سیالولو هڅه کوو ، دغه ډول نظر بی اندازی خطرناک او زیانمن دی ، دغه ډول فکری او ذهنی هزیمت د ملت لپاره سخت زیانمن او بربادوونکې وی .

د حق نظام هغو ټولو ته چې د اسلامي دعوت په میدان کې په عمل بوخت دی د فکر او تدبر ځانګړی پیمانی او میتودونه ورکوی چې د هغی پـه مرسته هغوی د هغو فکری میتودونو او پیمانو د زیان او خرابی نـه ځان پـه ښه توګه وساتلی شی ، چې جاهلیت په ټوله نـړۍ کې دود کړیدی ، هغو چې د عقلونو ښیښی یې ګردجنی او د تعلیم او ثقافت خواړه یې پـه زهرو لړلی دی .

khanlibrary.org



که د دی ابجې بلا ( سترې بلا ) په مقابله کې مونږ په دین داسی وپوهیږو چې هغه د دین د فطرت مخالف او د غالب جاهلیت نتیجه وی ، نو مونږ به سخت دوه اړخیزه زیان کړی وی ، له یوی خوا به مو دین له خپلی هغی اصلی وظیفی او عمل نه ایسار کړی وی ، چې د هغی د سر ته رسولو لپاره بشریت ته را استول شویدی او له بل پلوه به مو د یوه انسان په توګه ځان له یوه داسی طلایی چانس نه بی برخی کړی وی چې په هغی سره مونږ د اوسنی پیړی د جاهلی نظام له منګولو نه خپله مری خلاصولی شو .

او له هغو تولو زهرجنو اثراتو نه خپل ځانونه ژغورلی شو ، چې زمونږ ذهن او روزنه یې زهرجنه کړیده ، د مسئلی دغه اړخ هم ډیر دروند او خطرناک دی او دغه ډول خساره او زیان به هم ډیر تباه کوونکې ثابت شی .

د اسلامي انقلاب د مینځ ته راوړلو لپاره چې د فکری نظام او عمل د لایحی څومره ضرورت دی نو د هغی اهمیت او ضرورت د اسلامي نظام د عقیدی او د ژوند له قانون نه کم نه دی ، ځکه چې دا دواړه اړخه له یو بل نه جلا نه دی ، که مونږ ته دا هر څومره ښه او په زړه پوری ښکاری او مونږ د اسلامي نظام او ګروهی د ښه والی په برخه کې هر څومره د قلم نیلی وځغلوو مګر یو حقیقت باید بیا هم زمونږ له سترګو نه پټ پاتی نشی او هغه دا چې زمونږ دا خدمت به هیڅکله هم اسلام د یوه واقعی تحریک په توګه په پښو ونه دروي .

دا خبره هم باید له یاده ونه باسو چې که مونږ اسلام په دغه ډول خلکو ته وړاندی کړو ، نو له دی نه به بهرنی نه بلکه هغه خلک هم ګټه واخلی چې عملا د اسلامي تنظیم لپاره کار کوی ، او خپله دغه خلک هم شاید هغومره ګټه ورځنی واخلی چې د خپل تحریکې سفر په دوران کې ورته اړتیا لري .

نو له همدی امله په دی هکله زه بیا وایم چې اصلی او سمه لاره دا ده چې له یوی خوا اسلامي عقیده بی له کوم ځنډه په عملی تحریک بدله شی او له بلی خوا دغه تحریک له هماغی شیبی باید د عقیدی سم تصویر او حقیقی ترجمان واوسی .

khanlibrary.org



زه بیا بیا دا خبره کوم چې د اسلام د بری همدغه فطری لار ده او دغه فطری لار نه یوازی لنډه او سمه سوتره ده ، بلکه ډیره موثره او پـه زړه پوری هم ده ، له هغو ټولو لارو نه د انسان فطـرت ته نژدی ده چې د نظـریاتو او افکارو د جر وبحث او مجردو علمی څیړنو په بنه خلکو ته وړانـدی شویـدی .

حال دا دی چې هغه مرحله چې انسان د هغو نظریو پر بنسټ د کوم عملی تحریک ودانی پیل کړی او یا په خپله د هغو نظریاتو ژوندی نمونه وګرځی او د هغی په لارښوونه قدم په قدم وړاندی لاړ شی ډیره لری ده او نه هیڅکله د هغو خلکو د مینځ ته راتلو امکان پیدا کیدی شی .

**د اسلامي نظام له انفاذ نه مخکې د اسلامي قانون د تدوین غوښتنه سمه نه ده :**

که پورتنی نظر د اسلام د نظریی او ګروهی په هکله سم وی نو هغه باید د اسلامي نظام د بنیادونو او د هغوی د قانونی تفصیلاتو په هکله په لومړی درجه کې درست وی ، د اوسنی جاهلیت کوم تور جال چې زمونږ شا وخوا ته نن غوړیدلی دی ، هغه د ځینی مخلصو اسلامي رونړ اندو ( روشن فکرانو ) او خادمانو په اوږو دومره دروند بار دی چې هغوی دیته اړ باسی چې له بی صبری نه کار واخلی او د اسلامي نظام ټول پراوونه په چټکې یو پر بل پسی تیر کړی .

هغوی هلته له یوی بلی نازکې پوښتنی سره مخامخ کیږی ، خلک له هغوی نه بیا بیا دا پوښتنه کوی چې د هغه نظام تفصیلات کوم دی چې تاسو یې ادعا کوی ؟ د اسلام د نافذولو لپاره تاسو پر هغه باندی څومره ریسرچ ( څیړنه ) کړیدی ؟ څومره مضامین او مقالی دې پری لیکلی دی ؟ فقه دی تر کومی اندازی د نوو اصولو په رڼا کې ترتیب کړیده ؟

ته به وایې چې اوس د اسلامي شریعت د نفاذ لپاره له خلکو سره د بل څه کمی نشته ، یوازی د فقهی احکامو او فقهی څیړنو کمی دی ، د الله جل جلاله حاکمیت یې منلی دی او د الله جل جلاله د شریعت په حکومت یې هم خوښه ده ، بس یوازی همدا یوه نیمګړتیا موجوده ده او هغه دا چې د (

khanlibrary.org



مجتهدینو ) له خوا په نوی دود باندی د فقهی اصول نه دی جوړ شوی ، په حقیقت کې دا پر اسلام باندی د مخالفانو بی سرو بوله ملنډی دی ، پر دی باندی باید هر هغه سړی له غصی نه تور او شین شی چې په زړه کې یی د اسلام په هکله د ذری همومره مینه او غیرت هم وی .

**د جاهلیت له چل ول نه باید ځان وساتو :**

د جاهلیت له دغه ډول حیلی او نیرنګ نه یوازینی مطلب دا دی چې د الهی شریعت د پرمختګ او ردولو څه پلمه په لاس ورشی او پر انسان باندی د انسان د باداری د شهنشاهی جنډه د تل لپاره پورته کړی ، هغوی دا هم غواړی چې د الله جل جلاله د وحدانیت د ډیوی پتنګان د دین د پاڅون له هغی لاری نه بی لاری کړی چې الله جل جلاله ورته غوره ګنلی ده او غواړی چې هغوی په هغو اصولو هم محکم او ثابت پاتی نشی چې د فکر او عقیدی پرمختګ دی د تحریک په بڼه څرګند شی .

هغوی غواړی چې د اسلامي دعوت هغه مزاج هم مسخ کړی چې د هغی له مخی د اسلامي نظری تکمیل د اسلامي نهضت په توپانی فضا کې سر ته رسیږی ، د اسلامي نظام خدو خال په عملی هڅو سره څرګندیږی .

قانون جوړونه به د اسلامي ژوند عملی مسایل او حقیقی ستونزی په نظر کې نیسی خو د حق لاری تلونکي باید د جاهلیت په دغو ناوړه هلو ځلو خپل تګ لوری پری نږدی ، لکه هغوی باید په پوره زړورتیا د بل هر طرز فکر د کار او فعالیت زمینه له مینځه یوسی چې د جاهلیت له خوا د دوی د تحریک او دین د پرمختګ په لار کې مرکونډی شیندی .

د حق له مدعیانو نه باید د مومو پوزی جوړی نشی چې د دین مخالف عناصر یې هره خوا تاو کړی هماغه خوا کږی شی ، دا د دوی وظیفه ده چې د جاهلیت ټول اسرار او چلونه رابرسیره کړی او کرغیړنه څیره یې خلکو ته وښیی ، نو په خاصه توګه د هغوی دغه مسخره غوښتنه هم باید په پوره شدت سره رد شی چې د اسلامي ( فقی تجدید ) په پرده کې یې یوی داسی ټولنی ته غواړی چې نه د الله جل جلاله د قانون برتری لوړتیا منی او نه یې له غیر الهی قوانینو نه د کرکې اعلان کړیدی .

khanlibrary.org



دغه ډول خبری په حقیقت کې د یوه پاخه او ګټور کار نه د مسلمانانو د اغفال په خاطر کیږی او د دی لپاره کیږی چې د اسلام مینه وال یوازی په هوا کې تخم وشیندی او بیا یې حاصل ته په تمه واوسی ، نو له دی امله دا د دوی ایمانی وظیفه ده چې د دغه ډول چلونو او مکرونو توره پرده څیری کړی او پری یې نږدی چې بری ته ورسیږی ، دغه دین چې د پاڅون او نهضت د پرمختګ کومه نتیجه ورکړی ده باید کټ مټ په هماغه توګه د دین د حکومت د رامینځ ته کولو لپاره هلی خلی وشی ، په دغه نسخه کې د دین د قوت او طاقت راز پټ پروت دی او همدغه نسخه یې د برم او شوکت منبع هم ده .

اسلام او د اسلام د احیای مجدد ، د کار او اصولو طریقه دواړه مساوی اهمیت لری ، په دواړو کې دوه رنګی نشته ، د پرمختګ او بری بله هره لار چې هر څومره لنډه او په زړه پوری ښکاری د اسلام کاروان د مقصد منزل ته نشی رسولای .

د انسانی فکر محصول نظامونه خو د بهرنیو جوړو شوو نسخو په واسطه په پښو دریدی شی ، خو هغوی زمونږ د نظام له مینځ ته راوړلو نه عاجز دی ، نو له دی امله د اسلامي نهضت لپاره د دین پاڅون او قیام په ځانګړی لار باندی تګ او پابندی دومره ضروری ده څومره چې د اسلام د بنیادی ګروهی او تولنیز قانون پابندی لازمه ده ، ځکه چې : ان هذا القرآن یهدی للتی هی اقوم ( دغه قرآن تاسو ته د هغی لاری په لور ښوونه کوی چې بالکل سمه او صافه ده ) .

khanlibrary.org



## دریم فصل

# د اسلامي ټولنې د جوړولو سمه لار او ځانګړتیاوې

### د انبیاء و اصلی دعوت :

د اسلامي دعوت هغه دوره چې د بنسټ ډبره يې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو مبارکو لاسونو کیښوده ، د هغی اوږدی سلسلی ( لړی ) وروستی کړی وه ، چې د الله جل جلاله د نبیانو په لارښوونه او مشری د نړۍ له لومړی سر نه راپیل شوی وه ، د انسانی تاریخ په اوږدو کې له پیله د حق لور ته دعوت یوه موخه ( هدف ) درلوده ، او هغه دا چې بشریت له خپل ( خالق ) سره اشنا کړی ، د هغه له یو والی برم او عظمت سره يې اشنا کړی ، هغوی د یوه الله تعالی بندګی او عبودیت ته راوبولی او په نړۍ کې د دروغی خدایانو د ځواک ( قدرت ) لمنه ورټوله کړی .

د تاریخ په مختلفو پړاوونو کې له یو څو د ګوتو په شمیر کسانو نه پرته چې کله کله به يې د یو الله جل جلاله له وجود نه انکار وکړ ، نورو انسانانو په ټولنیز ( مجموعی ) ډول هیڅکله هم د ( الوهیت ) له نظریې نه انکار او سر غړاوی نه دی کړی .

او نه يې کورټ د ( الله جل جلاله ) له وجود نه انکار کړیدی ، هغوی خو یا د خپل رب او پالونکي په هکله درست معرفت او بصیرت نه درلوده او په دغه لار کې د ځینی ننی زمانی رنځور ذهنه ، فیلسوف ډوله کسانو په خبرو تیروتی وو او یا يې له یو الله جل جلاله سره نور هم په الوهیت کې شریکول ، کله به يې سره له دی چې عبادت هم کاوه او ګروهه به يې هم درلوده ، بیا به يې هم له هغه واحد ذات سره بل معبود شریکاوه ،یا د عقیدی په توګه او یا به يې د غیر الله جل جلاله د حاکمیت په توګه د بل غلامی کوله .

دغه دواړه صورته بیا هم شرک دی او شرک په هر حال کې سره برابر دی ، په هر ډول چې وی ، ځکه چې انسان د الله جل جلاله له دین او حق لاری بی لاری کوی ، له هغی لاری نه د الله جل جلاله هر نبی له مودو راهیسی بشر ته د هغی په ښوونه بوخت وو .

khanlibrary.org



خو د اوږدی مودی په تیریدو به هغه لارښوونی دوی هیری کړلې او بیرته به یې د هغه جاهلیت خواته مخه کړله چې الله جل جلاله به په خپل فضل وکرم له هغی نه خلاص کړی وو ، هغه به د شرک په کړلیچونو د ژوند مزل پیل کړ ، کله به د غیر الله د عبادت او عقیدی تر حده او کله به هم د نورو حاکمیت منل ، د بندګی تر حده او کله به هم په یوه وخت کې په دواړو ناروغیو اخ ، وو .

## په کایناتو کې د انسان اصلی دریځ

د انسانی تاریخ په هر پړاو کې د الهی دعوت همدا یوه ځانګړتیا ( خصوصیت ) وه ، د دغه دعوت نصب العین ( اسلام ) دی ، چې معنی یې ده ، انسانان د خپل خالق او پروردګار تابع او فرمان منونکې کول ، د بندګانو له مرییتوب نه د هغوی خلاصول او د الله جل جلاله د بندګانو په لیکه کې یې درول ، د انسانانو له حاکمیت او باداری ، او د هغوی د رنځورو اذهانو د وضع کړو قوانینو له منګولو نه د هغوی خلاصول او د ژوند په هره برخه کې یې د یوه الله جل جلاله د احکامو او لارښوونو جاری کول ، د الهی حکومت د اقتدار جنډه پورته کول او د هغه له خوا درا استول شوو قوانینو منلو ته غاړه ایښودل .

د الله جل جلاله رالیږلو نبیانو د ځمکې پر مخ همدغه رسالت درلوده ، او د الله جل جلاله محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم هم چې د کوم هدف لپاره مبعوث شوی و ، د بشریت د خیر او ښیګړو لپاره د هغه پیغام هم همدغه و چې مخکې مو یاد کړ ، هغه غواړی چې انسان په دی توګه د الله جل جلاله د حکومت او قدرت په مخکې د تسلیم لاسونه په سینه کیږدی او فرمان یې ومنی ، لکه څنګه چې دا ټول کاینات له پیړیو ، پیړیو راهیسی د الله جل جلاله له فرمان نه د ذری هومره هم سر غړاوی او نافرمانی نشی کولای ، انسان د دی کایناتو یو ډیر کوچنی جز دی .

نو له دی امله هغه ( قدرت ) چې د انسان د طبعی ژوند مسیر او تګ لوری ټاکې هماغه ( قدرت ) باید د هغه د ورځینی ټولنیز ژوند په سمون کې هم حاکمیت ولری ، هغه نظام او قدرت چې دا ټول کاینات یې تر

khanlibrary.org



تصرف او سلطی لاندی دی ، او همدا رنګه پخپله د انسان ځینی غیر ارادی اړخونه هم د هغه په تصرف کې دی ، او انسان له هغی نه پرته کوم بل قانون د ځان لپاره نشی جوړولی او د هماغو قوانینو په اطاعت مجبور دی .

ځکه انسان د خپلی ودی ، روغتیا ، ناروغی ، مرګ او ژوند په برخه کې د پنځ ( طبعیت ) له قوانینو سره مخالفت نشی کولای ، جبرا یې پابند دی ، په پنځ کې دغه قوانین د الله جل جلاله په قدرت جاری شویدی ، انسان حتی په خپلو ارادی کړو کې هم د نتایجو په برخه کې د کایناتو د قانون په وړاندی بی وسی دی ، په دغو ټولو برخو کې هغه د الله جل جلاله د سنت په بدلولو قادر نه دی .

نه په دی خبره توانیدلای شی چې د پنځ پر حاکمو قوانینو او نوامیسو کې په خپله خوښه څه بدلون راولی ، نو له دی امله انسان ته پکار دی چې د خپل ژوند په هکله هم د اسلامي قوانینو پیروی وکړی او د ژوند له وړو ، وړو مسئلو او پېښو نه واخله ان تر لویو پېښو پوری په ټولو کې ، الهی شریعت ، حاکم وګرځوی نو پدی توګه به د ده د ژوند په غیر ارادی او ارادی برخو کې توازن او هم اهنګی پیدا شی ، له بلی خوا به د ژوند د دواړو اړخونو او پراخه کائناتو ترمینځ هم سمون او برابرتیا راشی .

## د جاهلیت له هر اړخیز تسلط نه د خلاصون سمه لار

د جاهلیت تومنه او مایه له داسی فاسدی مادی نه جوړه شوی ده چې باید پر انسان باندی د انسان د حکومت سلطه ټینګه کړی ، چې په دی توګه انسان د فطرت له نظام نه جلا کړی او د انسان د ژوند غیر ارادی او تکوینی برخی د انسان له اختیاری او تشریعی برخو سره په مخالفت او ضدیت اخته کړی ، هماغه جاهلیت چې په مقابله کې یې د الله جل جلاله رسولانو او نبیانو د اسلامي دعوت بیرغ راپورته کړ ، او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د همدغی جاهلیت د له مینځه وړلو او د حق د ډیوی د روښانولو لپاره دنیا ته تشریف راوړی وٴ ، دغه جاهلیت د کومی مجردی نظریې په توګه موجود نه وٴ .

khanlibrary.org



په تیره په ځینی حالاتو کې خو یې له سره کومه ( نظریه ) هم نلرله ، تل د یوه متحرک او ژوندی تنظیم په بڼه راپورته شویدی ، او د یوی داسی ټولنی په شکل یې تبارز کړیدی چې خپل ځانګړی لیډر شپ ، ځانګړی تصورات ، اصول ، روایات ، عادات ، انګیرنی ، او ننګیرنی لري .

هغه یوه منظمه ټولنه وی د غړو ترمینځ یې خپل مینځی اړیکې له یوه بل سره د مرستی منظم توافق او وفاداری پر اصولو له دی امله ولاړی وی چې ټوله معاشره په شعوری او غیر شعوری توګه د خپل ځان د ساتنی لپاره بی له کوم توپیره په تحرک او فعالیت کې ژوند تیروي .

د خپل شخصیت د ساتنی په لار کې هغوی له ټولو خطراتو سره مقابله کوی او په له مینځه وړلو کې یې بی دریغه هڅه کوی ، همدا رنګه که چیری څوک د دوی د مستقل نظام لپاره څه قسم خطر رامینځته کړی ، د هغه مخنیوی هم په پوره قوت او شدت سره کوي .

نو ځرنګه چې جاهلیت محض د یوی علمی نظریې په بڼه نه بلکه د یوی ژوندی او فعالی ټولنی په بڼه مینځ ته راځی ، نو د دغه جاهلیت د مانې د نسکورولو او د دی لپاره چې تیروتلی انسانان بیرته د لوی الله جل جلاله دربار ته د بندګی د سجدی لپاره حاضر کړو ، هره هڅه او زیار چې څوک په دغه لار کې یوازی د دی لپاره ګالی چې اسلام مازی د یوی علمی نظریې په توګه نړۍ والو ته وړاندی کړی بی ګټې او زیانمن دی ، جاهلیت عملا په نړۍ کې د حکومت پر مسند تکیه وهلی ده او تر شا یې هم ژوندی منظمه او متحرکه اداره موجوده ده ، په داسی حالت کې به د اسلام لپاره یوازی په علمی نظره هڅه او کوشش د جاهلیت په مقابله او ماتولو کې نه یوازی دا چې بریالی ګام نه وی ، بلکه د جاهلیت له قوت سره به انډول هم نه وی .

ځرنګه چې د اسلام مقصد دا دی چې د یوه بالفعل موجود نظام مانې ونړوی او د هغی پر ځای د داسی یوه نظام مانې جوړه کړی چې د خپلو اصولو او قوانینو له مخی له جاهلی غالب نظام سره په هره لویه او وړه مسئله کې اختلاف لری .

khanlibrary.org



نو په داسی صورت کې د عقل غوښتنه دا ده چې نوی نظام هم د یو ژوندی منظم فعال تحریک او قوی ټولنی په توګه د عمل میدان ته د مبارزی لپاره راوځی ، په داسی ټینګ هوډ او لوړه روحیه چې د هغی نظریاتی بنسټ ، امنیتی تدابیر ، ټولنیز نظام ، د غړو ترمینځ اړیکې او روابط نه جاهلی حاکم نظام نه په هر اړخ کې امتیازی او غوره صفات ولری .

## د اسلامي ټولنې ایډیالوژیکي بنسټ

هغه ایډیالوژیکي بنسټ چې اسلام د تاریخ په هر پړاو کې د خپلی ټولنی ودانی پری ودانه کړیده . هغه دغه شهادت دی چې [لا اله الا الله] ، د دغه شهادت مقصد او مطلب دا دي چې معبود یوازی الله جل جلاله دي ، هماغه رب او پالونکې دي ، هغه د کائناتو د نظام منتظم دی ، هماغه ریښتونی حاکم دی ، زړه او ضمیر باید یوازی د هغه د وحدانیت په نور منور شی ، په خپلو عباداتو ، کړو وړو او شعائرو کې باید د هغه د وحدانیت ثبوت وړاندې شي ، د عملي ژوند په قانون کې باید د هغه د وحدانیت اصول حکم فرماوی .

له دغه هر اړخیز حاکمیت نه پرته د [ لا اله الا الله ] عملی شهادت ناممکن دی ، په شرعی لحاظ هم دغه ډول شهادت د منلو وړ نه دی ، دغه کامل او هر اړخیز ژبنی شهادت ته د داسی یوه عملی او موثر نظام جامه ور اغوستل کیدای شی او پر بنسټ یې هم داسی یو نظام منځ ته راتلی شی چې منونکې یې ته یې مسلمان او نه منونکې ته یې نا مسلمان ویلای شو .

په نظری لحاظ د دغه بنسټ ایښودل دا ښه والی لری چې د انسانی ژوند چاری په پوره توګه د الله جل جلاله په واک او حاکمیت کې وی او انسان د خپل ژوند په ټولو چارو کې له خپله انده کومه پریکړه ونکړی ، بلکه په ډیره کوچنی مسئله کې هم د الله جل جلاله حکم ته مخه وکړی او د هغی پیروی وکړی ، د الله جل جلاله د حکم د پیژندلو لپاره باید یوه وسیله او ذریعه موجوده وي .

هغه ذریعه د الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم دی ، د شهادت په کلمه کې دغه ذریعه د اسلام د دویم رکن په حیث بیان شویده او

khanlibrary.org



فرمایلی یې دی چې : ( واشهد ان محمد رسول الله ) " او زه شاهدی وایم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رسول دی " .

دا هغه نظریاتی بنسټ دی چې د اسلام مانې پری ودانه ده او د اسلام اصلی روح دی ، دغه بنسټ د انسانی ژوند مکمل قانون جوړوی چې د ژوند په هر اړخ کې یې نافذول ضروری دی ، د یو مسلمان د ژوند ټولی انفرادی " وګړیزی " او ټولنیزی مسئلی اوارولی شی

که د اسلامي حکومت په خاوره کې وی او که ترې بهر وی په هغه روابطو پوری اړه لری چې له یوی اسلامي ټولنی سره یې ټینګ او ده به داسی روابطو او اړیکو پوری مربوط وی چې یوه اسلامي ټولنه یې نورو غیر اسلامي ټولنو سره ټینګوی .

## په جاهلی ټولنه کې اوسیدونکې مسلمان

لکه څنګه چې مونږ په پورته ډول وویل : اسلام یوازی یوه جامده او مجرده نظریه نده چې خلک یې د ګروهی په توګه ومنی او د معمولی شان عبادت تر حده پوری عمل وکړی او بیا دی پر زور او قوت ولاړی جاهلی ټولنی د ماشین یوه فعاله پرزه وګرځی ، د اسلامي ایډیالوژی دغه ډول منونکې ، د اسلام عملی وجود منځ ته نشی راوستلای .

که څه هم د شمیر له مخی هغوی زیاته برخه تشکیله کړی ، دا څکه چې ( نظري مسلمان ) چې د جاهلی ټولنی د ترکیبی اجزاؤ یو جز دی ، خامخا به د جاهلی ټولنی تنظیمی غوښتنو ته غاړه ږدی ، د هغو ټولو اساسی ضروریاتو پوره کولو ته به چې د دغی ټولنی د ژوند او بقاء لپاره ضروری دی په شعوری او یا غیر شعوری توګه طوعا او کرهاً اړ کیږی .

بلکه تر دی لا زیاته خبره دا ده چې د همدغی ټولنی د ساتونکې او څارونکې په توګه به هم عمل وکړی ، د هغو عناصرو او عواملو په ټکولو او نابودولو کې به برخه واخلی چې د ده د وجود او نظام د ورانیدلو لپاره تری ویره موجوده وی .

دا څکه چې که ( کل ) دا ټول وظائف سر ته ورسوی نو ( جز ) خو ورسره لازما په ارادی توګه او یا غیر ارادی توګه د دغو وظائفو د سر ته رسولو

khanlibrary.org



لپاره د ( کل ) په پله پل ږدی ، په بله وینا دغه ډول ( نظری مسلمان ) چې د کومی جاهلی ټولنی مخالفت په نظری توګه کوی ، هغه په نا ځان خبری توګه عملاء د هغی د ټینګښت لپاره لګیا وی ، بلکه تر هر څه د مخه دی د هغه نظام ژوندی حجره هم ثابتیدای شی .

ځکه چې د همدغه نظام او ټولنی لپاره د بقاء عناصر او د ژوند اسباب برابروی ، خپل تجربی لیاقت او مهارت ، علم او پوهه ، د ځوانی ځواک او قدرت ، د هغی خدمت ته ګوماری ، د دی لپاره چې د هغی عمر اوږد او ځواکمنه شی ، په داسی حال کې چې باید دغه ټول قوتونه د دغې جاهلی ټولنی د له مینځه وړلو لپاره په کار ولویږی چې پر ځای یې د یوی اسلامي ټولنی مانی ودانه شی .

## له جاهلي قیادت نه سرغړونه ضروری ده

له همدی امله دا خبره ضروری ده چې د اسلام نظریاتی بنسټ ( د الوهیت عقیده ) له پیل نه د یوه منظم او فعال ټولی ( جماعت ) په بڼه څرګند شی ، دغه ټولی به له جاهلی ټولنی نه کورټ جلا وی ، چې کړنلار یې د اسلام او الله جل جلاله د حاکمیت مخنیوی دی .

دغه نوی ټولی باید له هره اړخه ممتاز او غوره صفت ولری او د یو نوی قیادت په چورلیځ وچورلی ، هغه قیادت چې د چارو واګی یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې وی او له هغه نه وروسته هر هغه اسلامي قیادت او رهبری د دغه امانت مسئولیت په غاړه لئنئری چې د انسانانو لپاره یـوازې د الله جل جلاله ( الوهیت ، ربوبیت ) د الله جل جلاله اقتدار او حاکمیت او د الله جل جلاله د قانـون او شریعت تر سیوری لاندې ژوند کول غواړي .

هغه څوک چې دغه شهادت اداء کړی چې : له الله جل جلاله نه پرته بل الله نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رسول دی نو هغه باید له جاهلی ټولنی سره خپلی اړیکې وشلوی او له جاهلی قیادت نه چې په هره جامه کې وی بغاوت وکړی .

khanlibrary.org



که د کاهنانو ، پنډتانو ، جادوګرانو ، او قیافه پیژندونکو مذهبی قیادت او رهبری وی ، که سیاسی ، تولنیز یا اقتصادي قیادت وی ( لکه څنګه چې دغه ډول قیادت د نبی صلی الله علیه وسلم په وخت کې د قریشو په برخه و ) ، دی باید خپلی تولی وفاداری مرستی او تجربی د نوی اسلامي تولی او د هغه الله جل جلاله پیژندونکې او الله جل جلاله منونکې مشرتابه او قیادت ته وقف کړی .

## په جاهلی چاپیریال کې د اسلام د احیاء لار

دغه فیصله کونکې اقدام باید له هماغه شیبی نه وشی په کومه شیبه کې چې څوک اسلام ومنی او دغه شهادت ورکړی چې [ لا اله الا الله ] او [ محمد رسول الله ] اسلامي تولنه له دغی انقلابي اقدام نه پرته منځ ته نشی راتلای ، اسلامي تولنی یوازی پدی هم منځ ته نشی راتلای چې د خلکو په زړونو کې د اسلام د نظریاتی بنسټ ډبره کیښودل شی ، که د دغه ډول قولی ( وینایې ) مینه والو او پلویانو شمیر په نړۍ کې هر څومره زیات هم شی بیا هم اسلامي تولنه نشی جوړیدلی .

د اسلامي تولنی د جوړیدلو لپاره دا لازم او ضروری ده چې هغه څوک چې قولا د اسلام شهادت اداء کوی له هغوی نه باید داسی یو تحریک جوړ شی چې ډیر منظم او فعال وی ، د غړو ترمنځ یې له یو بل سره د مرستی همدردی او هم فکری مزی تینګ وی .

په هره خبره کې هم اهنګ او همنوا وی ، یو ځانګړی هویت ولری ، د دغه نهضت غړی باید د انسانی جسم د غړو په څیر یو منظم تولنیز حرکت ولـری او له خپل وجود نه دفاع وکړی ، د تینګښت لپاره یې هڅه وکړی ، ریښی یې باید د ځمکې تل ته ورسیږی ، د ځانګو او ښاخونو تر سیوری لاندی یې باید د نړۍ مستضعفین په ډیره هوساینه د خپل ژوند په چارو او د الله جل جلاله په عبادت بوخت واوسي .

هغه ټول عوامل او سببونه چې دغه ستر وجود ته د میکروب په څیر زیان رسوی له مینځه یووړل شی ، دغه تولی دندی ( وظیفی ) د یوه داسـ غه مغز و ، ویښ او روښانه ضمیر، تر رهبری او قیادت لاندی ترسـ

khanlibrary.org



شی چې د جاهلی قیادت نه بالکل جلا او تر هغی څو ګرایه منظم او فعال واوسی ، چې له یوی خوا نه د خپل نهضت په منډو تړړو کې یو رنګی او د نظر او عمل یو والی راوستلی شی او له بلی خوا د هغوی د اسلامي وجود په لا ټینګښت ، پرمختیا او پراختیا کې ښه ترا پرمختګ وکړای شي ، چې د خپل مقـابل دښمن ( جاهلی وجود ) اغیزی په یـوه مخیزه توګه له مینځه یوسی .

دا وه هغه فطری لار او متود چې د هغی پر اساس په نړۍ کې د اسلامي حکومت رونې مشال د جهالت په تورو تیارو کې لګیدلی و ، هغه د نظریاتی قانون په شکل منځ ته راغی ، سره لدی چې په مجمله توګه و ، خو د خلکو د ژوند په ټولو چارو کې نافذ و .

د هغی پر بناء یو محکم ژوندی او متحرک تنظیم منځ ته راغی ، نه یوازی دا چې د جاهلی ټولنی په مقابل کې یې خپل خانګړی شخصیت په جلا توګه تثبیت کړ بلکه جاهلیت ته یې د مقابلی چلینج هم ورکړ ، هغه هیڅکله هم له عمل نه لیری نه و او نه مازی " محض " د یوه خیالی الواک ( نظریی ) په توګه میدان ته راوتلی و ، په آینده کې هم د هغه وجود د یوه عملی نظام په توګه منځ ته راتلای شی .

که څوک له سره د جاهلی ټولنی د بی شمیره ظلمونو او جنایتونو په تورتم کې د اسلام د ډیوی روښانول غواړی ، نو د تاریخ په هره مرحله او هر هیواد کې چې وی خامخا به د اسلام پر مزاج او فطرت باندی ځان پوهوی ، ځکه چې پرته له دینه به هیڅوک هم په سمه توګه د هغه د روزنی ، پالنی ، ودی او پرمختګ لپاره په ښه توګه زمینه برابره نکړی شی .

## د اسلام نصب العین د انسان د " انسانیت " پرمختګ دی

تر پورتنی تفصیل وروسته انسان باید پدی هم پوه شی چې ، اسلام د پورتنی ښودل شوی لاری پر اساس د الوهیت د عقیدی پر بنسټ ، د مسلمان امت د تشکیل لپاره هڅه او هاند کوی ، غواړی چې هغه د یوی وحدت خوښونکې متحرکې او فعالی ټولنی په څیر تبارز وکړی ، د دی

khanlibrary.org



تولنی د ارتباط او اړیکو یوازینی منبع به عقیده وی ، نو د دی تولو هلو ځلو او منډو تړړو نه به یې مقصد څه وی ؟

د اسلام مقصد په حقیقت کې له دی تولو هلو ځلو نه دا دی چې د انـ (انسانیت) د غفلت له درانه خوبه راویښ کړی ، د اسلام پـــه مکتب کې یې ور وزی ، د ضمیر او وجدان له ښیښی نه یې د جاهلیت تـــور ماحول زنګ وتوړی ، د الوهیت او توحید د عقیدی پـــه وسپنتوړی ( ســـوهان ) یی صیقل کړی .

هغه ته وده ورکړی ، خواک او قدرت یې زیات کړی او د انسان په وجود کې یې په ټیلو غوښتنو غالب کړی ، اسلام په خپل حکومت او خپل نظام سره غواړی چې دغه ارزښتناک هدف ته ورسیږی ، د اسلام د تولو قوانینو ، لارښونو ، احکامو ، هدف او مقصد همدغه دی .

انسان په ځینو صفاتو او خویونو کې له حیواناتو سره ګډ دی ، له همدی امله د همدغو اوصافو او خصائلو له مخی د ساینس ځینی لیونیان او د ( ساینټفک جهالت مخکښان ) پدی وهم کې دی چې ګنی انسان به هم د نورو حیواناتو په څیر د حیواناتو د یوی ډلی یو غړی وی .

او ځینی خو یې لا پدی خام خیالی هم اخته کړی وو ، چې انسان به د جماداتو یو قسم وی ، خو حقیقت دا دی چې انسان له حیواناتو سره په ځینو صفاتو کې د ګډون سره سره داسی صفات او خویونه هم لری چې له هغو دواړو نه یې جلا کوی ، او هغه ته د یو ځانګړی موجود حیثیت وربښی چې د ( ساینټفک جهالت مخکښانو ) هم بالاخره پدی خبره اعتراف کړیدی .

په حقیقت کې ډیرو څرګندو شواهدو او حقایقو هغوی دیته اړ کړل چې په کائناتو کې د انسان امتیازی او غوره حیثیت ته قائل شی خو سره لدی هم د دوی د دغه اعتراف مخلصانه ندی [1]

---

۱ - د دغو خلکو مخکښ د نوی د ویښ همدغی ( جولین هکسلی ) دی [ لیکوال ]

khanlibrary.org



## د انسانیت د پرمختګ نتیجې

په دغه برخه کې چې د اسلام سپیڅلی نظام د بشریت کوم چوپړ کړیدی ، د هغی له ښو نتایجو نه هیڅوک هم سترګی نشی پټولای ، اسلام د رنګ ژبی ، توکم ( نسل ) وطن او مادی ښیګړو ، جغرافیایې کرښو او بریدونو کمزوری اړیکې ټولی وشلولی ، د هغی پر ځای یې خلک د ایمان ، او عقیدی په یوه قوی او نه شلیدونکې ځنځیر وټرل .

پر همدی بنسټ یې د اسلامي ټولنی مانی ودانه کړه ، په دغه ټولنه کې یې د انسان او حیوان د ګډو صفاتو پر ځای یوازی د انسانی صفاتو روزنی او ودی ته پاملرنه وکړه ، د هغو ولې ئې د اسلام د سپیڅلی چینی په پاکو اوبو خړوب کړې ، د دغه ستر کار له نتایجو نه یوه سترہ او انسانی نتیجه دا وه چې : اسلامي ټولنه یوه داسی وسیع الظرفه او وسیع النظره ټولنه شوه چې د هغی په توده او خوږه غیږ کې ، د هر نسل ، هر قوم ، هری ژبی ، او هر رنګ خلکو په خوښی او خوشالی سره ژوند تیرولای شو ، د دغی ټولنی په وګړو کې د حیوانی خصایصو او بریدونو ، نوم او نښان هومره څه هم موجود نه وو .

د دغی ټولنی په ناپایه سمندر کې د انسانی نسلونو د لوړ اهلیت او لیاقت ، پوهی او تجربی کوچنی ویالی سره یو ځای رابهیدلی او له یو بل سره به ګډیدلی ، له دغه ګډ والی او امتزاج نه یو داسی لومړی درجه مرکب جوړ شو چې سره له دی چې عمر یې نسبتا کم و خو د خپل وخت د ټولو انسانی صلاحیتونو او انسانی فکر او ذهن علمی خزانی یې په خپله لمن کې رانغښتی وي .

سره له دی چې په دغه وخت کې لاری ټولی اوږدی ، او اغزنی وی او مواصلاتي وسیلی هم ډیری کمزوری وی ، خو هم د دغی لوړی اسلامي ټولنی د رفتار ګاډی دومره ګړندی و چې ، عربی ، فارسی ، شامی ، مصری ، مراکشی ، ترکې ، چینی ، هندی ، رومی ، یونانی ، اندونیشایې او افریقایې سیمو ته په لږه موده کې ورسیده ، لنډه دا چې د هر نسل او سیمو ممتازی ځیری د اسلامي ټولنی په پراخه انګړ کې راټولی وي .

khanlibrary.org



د ټولو خصوصیات او ځانګړتیاوی سره شریکې وی ، له یو بل سره بی د مرستی ، همدردی ، توافق او هم اهنګی د احساس په لرلو د اسلامي ټولنی او اسلامي تهذیب د ودانی په ودانولو کې برخه واخیسته .

دغه اریانوونکې تهذیب چې د تاریخ په آرشیف کې بې ساری نشته د یوی ورځی لپاره هم ( عربی تهذیب ) نه و ، بلکه هر وخت خالص " اسلامي تهذیب " و .

همدا راز هیڅکله هم دغه تهذیب یو ( قومی تهذیب ) ندی ګڼل شوی ، بلکه تل د یوه ( نظریاتی تهذیب ) په توګه پیژندل شویدی د هر قوم او نسل خلک د دغه تهذیب په ویاړونو کې په برابره توګه شریک وو ، د مینی او اخلاص په سپیڅلو مزو سره ټرل شوی وو ، په هغوی ټولو کې د همدی یوه احساس څپی په غورځنګ وی چې ټول د یوی لاری لاروی دی .

له همدی امله هغوی د دغه تهذیب پرمختګ کې خپل هرڅه ځار کړل ، خپل ممتاز نسلی خصوصیات او قومی افتخارات هر څه یې د همدی تهذیب پښو ته خاوری کړل ، د خپلی پوهی او ټجربی ځواک یې د همدی یوه چمن د ښکلا لپاره وقف کړ .

دا د دی لپاره چې دوی په داسی رسی سره ټرل شوی وو ، چې یو سر یې د الله جل جلاله د قدرت په لاس کې و ، په هغه کې چې د دوی " انسانیت " بی له کومو اړو او ځنډ نه پرمختګ کاوه ، دا هغه ښکاره ښیګړی وی چې په ټول انسانی تاریخ کې د یوی انسانی ټولنی په برخه شوی هم ندي .

## ایا پخوانیو ټولنو هم د " انسانیت " د پرمختګ لپاره هڅه کړې وه ؟

په بشری تاریخ کې تر ټولو ممتازه ټولنه د روم امپراطوری ګڼل کیږی ، په دغـه ټولنه کې د بی شمیره مختلفو نسلونو او ګڼو ژبو ویونکې او مختلفو رنګونو وګړی ( افراد ) راټول شـوی وو ، خو د دوی اتحاد ، یو والی او ټولنه د " انسانی اړیکو " پر بنسټ نه وه ولاړه ، نه له دی نـه کوم بل لوړ معیار " ګروهه ، عقیده " ، د دوی ترمینځ موجود و، چې په هغی سره راټول شـوی واي .

khanlibrary.org



دغه ټولنه په پاڼکیزو " طبقاتی " اصولو ولاړه وه ، یـوی خواته " اشـراف " وو ، او بلی خوا تـه " مریان " ، ټولـه امپراطـوری پـه همدغه دوه پاڼکو ( طبقو ) ویشل شوی وه ، سربیره پردی د نسلی امتیازاتو بازار هم ښه تود و ، چې د هغی له مخی رومی نسل تر ټولو لـوړ او بادار نسل و او نـور ټول نسلونه یې خپل مریان ګڼل ، نو له همدی امله د انسانی معیارونو په لحاظ دغه ټولنه هغو پورې ته نه وه رسیدلی ، چې د اسلامي ټولنی په برخه شوی وو ، په نتیجه کې دغی ټولنی له هغومره برم پرتم او عظمت سره سره بیا هم هغه چوپړ چې اسلامي ټولنی بشریت ته وکړ ونکړای شو .

## ایا معاصرې ټولنې انسانیت ته خدمت کولای شی ؟

په اوسنی عصر کې هم ډیری پرمختللی ټولنی مینځ ته راغلی دی ، د ساری په توګه د انګلیس امپراطوری ، چې له رومی ټولنی سره دومره توپیر نلری ، ځکه دا ټولنه هم په نړیواله کچه د یوی لوټماری ډلی لخوا اداره کیدله ، د دغی امپراطوری بنسټ هم د انګریزانو د برتری او نوو اباد شوو سیمو په زیښښنه ( استثمار ) او وینو څښلو ولاړ دی چې پر تخت یې د برتانیا د امپراطوری د یو ناځی .

د نورو اروپایې سلطنتونو هم همدا حال دی ، د اسپانیا او پرتګال پاډشاهیو او د فرانس د امپراطوری ټولو هم دا یو حال دی ، ټولی د ظالمانه نظامونو مخکښی او د خوارانو په وینو لړلی شهنشاهی وی ، کمونیزم هم د یوی نوی او عجیبی ټولنی د مانۍ جوړول غوښتل ، او د هغوی دیوالونو د نړولو ادعا یې کوله چې ، رنګ ، نسل ، قوم ، وطن او جغرافیی یې بریدونه ټاکلی وو .

خو د دغی ټولنی بنسټ هم د " انسان دوستی " پر اصولو نه و ولاړ ، بلکه د پاڼکیز ویش " طبقاتی تقسیم " اساس یې د ټولنی بیخ بنا ګرځولی وه ، له دغه پلوه کمونیستی ټولنه د رومی ټولنې هغی دویم مخ دی ، په رومی ټولنه کې د شرفاوو ډلی ته امتیاز ورکول کیده او په کمونیستی ټولنه کې یې د پرولتاریا " کارګرانو " طبقی ته تش په نامه امتیازی حیثیت ورکاوه .

khanlibrary.org



خو په واقعیت کې چې د دغی جذبی تر شا کوم احساس حکم فرما دی ، هغه له نورو ټولو طبقو سره د دښمنی او میرځی پر ستنو ولاړ دی ، په خپله د پرو لتاریا له پاټکې " طبقه " سره هم له یوه حیوان نه زیات سلوک نه کیږی .

د دغه ډول کم ظرفی ، تنګ نظری ، له کینی او رخی ډکې ټولنی په بن کې به نو له ترخی میوی نه پرته بله کومه میوه شنه شی ؟ چې یوازی د انسان ډیر وادنی او حیوانی جذباتو ته وده ورکړی او د هغی پر بنسټ د ټولنی د ودانولو هڅه پیل کړی ، په انسان کې یوازی حیوانی او تیټ اوصاف راپورته کړی او هغه په ښه توګه وروزی ، ان تردی پوری چې نور ټول انسانی صفات یی تر اثر لاندی کمزوری او بی ځواکه شی .

دا ځکه چې د داسی ټولنو په نظر کې د انسان بنیادی غوښتنی هغه دی چې د حیواناتو بنیادی غوښتنی هم دی ، لکه کور ، ډوډی ، کالی او جنسی تمایلات چې د دغی فلسفی پر بنسټ باید ټول بشری تاریخ د خوراک او څښاک پیدا کولو په هڅه کې سرګردانه او لالهانده واوسی ، د خیټی مریان دی وی ، او نور انسانی ارزښتونه دی هیر کړی .

## اسلام د دغه میدان یوازینی اتل دی

یوازی اسلام د ژوند هغه الهی نظام دی چې د انسان د ډیرو لورو خصوصیاتو او ځانګړتیاوو ، دودی او روزنی لپاره هڅه کوی او د انسانی ټولنی په ودانولو کې له هغه نه ګټه اخلی ، اسلام تر ننه پوری د دغه میدان یوازینی اتل دی ، هغه خلک چې له دغه نظام نه سرغړونه کوی او د کوم بل نظام د مینځته راتګ لپاره هلی ځلی کوی ، هغه نظام که د هیواد پالنی " وطن پرستی " پر بنسټ ولاړ وی او که د قوم پالنی پر بنیاد ، نسل ، رنګ او ژبی ته ارزښت ورکوی که د طبقاتی غورځو پرځو مخکښان وی او که د داسی نورو فاسدو او خوسا نظریو پر بنسټ ولاړ وی ، ټول بی له شکه د بشریت دښمنان دی .

هغوی په حقیقت کې نه غواړی چې انسان په نړۍ کې خپلو لورو خصوصیاتو ته تبارز ورکړی چې الله جل جلاله د هغوی په فطرت کې

khanlibrary.org



نغښتی دی او نه یې دا خوښیږی چې انسانی ټولنه د ټولو انسانی نسلونو له هر اړخیزو تجربو او پوهی نه ګټه واخلی او د دی لپاره کوم ګډ او مناسب نظام مینځ ته راولی ، د داسی خلکو په برخه کې الله جل جلاله فرمایلی دی :

قُـــلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا()الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَـــبُونَ أَنَّهُـــمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا()أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَـــتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا() ذَلِكَ جَزَاؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوا وَاتَّخَذُوا آيَاتِي وَرُسُلِي هُزُوًا [کهف : ۱۰۳ - ۱۰۶]

( ای محمده ! هغوی ته ووایه ، ایا تاسو ته خبر درکړو په هغو خلکو چې د عمل له مخی زیانمند ترین د خلکو دی ، هغه چې د دنیا په ژوند کې یې ټولی هلی ځلی ضایع شویدی ، خو دوی داسی تصور کوی چې ښه عمل کوی او په سمه لار روان دی ، دوی هغه خلک دی چې د خپل رب او پالونکې د ایتونو له منلو نه یې انکار کړیدی او د هغه حضور ته یې په وړاندی کیدو یقین او باور ندی کړی ، نو د دی له امله د هغوی ټول اعمال ضایع شول ، نو د قیامت په ورځ به مونږ هغوی ته هیڅ ارزښت ( قدر ) ورنکړو ، د دوی جزا جهنم دی ، د هغه کفر په بدله کې چې کړی یی دی او د هغه تمسخر او استهزا په بدله کې چې زما د آیتونو او پیغمبرانو سره یی کړیدی ) .

khanlibrary.org



## څلورم فصل

# د الله جل جلاله په لار کې جهاد

## د جهاد پراوونه

امام ابن قیم رحمه الله علیه په زاد المعاد نومی اثر کې یو باب لیکلی دی چې سر لیک یی دی : له منافقینو ( دوه مخو ) سره د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم روش او کړنلاره له بعثت نه بیا تر هغه وخته چې د خپل الله جل جلاله حضور ته ورغی څه ډول وه ؟ په دغه باب کې نوموړی امام په حقیقت کې د اسلامي جهاد کړنلاره او اصول بیان کړیدی .

هغه لیکې چې ، د وحی لومړی کلمه چې پر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نازل شوه ، هغه دا وه " اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ..... " ووایه د خپل رب په نامه چې پیدا یی کړل .... " دا د هغه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د نبوت پیل و ، الله جل جلاله هغه ته فرمایلی وو چې دغه وحی په زړه کې وساتی ، نورو ته یی لا د هغی د رسولو او تبلیغ حکم نه و ورکړی .

بیا الله جل جلاله دا آیت نازل کړ يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ()قُمْ فَأَنذِرْ ( ای په جامه کې نغښتیه پاڅه ! او خلک وویروه ! ) ، په دی توګه د " اقرا " په وحی الله جل جلاله هغه مبارک ته نبوت ور وبانبه او د " يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ " په ارشاد یی هغه ته د رسالت منصب ورکړ ، بیا یې هغه ته حکم وکړ چې خپل نژدی خپل او خپلوان له الله جل جلاله نه وویروه او له هغی وروسته عرب ملت د هغوی له ناروا ، اعمالو نه وویروه ، بیا هغه ټول عرب چې ستا شا وخواته په لری سیمو کې پراته دی او په پای کې ټول نړیوال وویروه .

له همدی امله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تر دیارلس کلونو پوری په دعوت او تبلیغ سره له الله جل جلاله نه خلک ویرول او د خپلو ناسمو اعمالو له پای نه یی خبرول ، په دغه اوږده موده کې د حق لور ته دعوت بی له جګړی او جزیی اخیستو نه روان و ، هغه ته به همدا حکم کیده چې له صبر او زغم نه کار واخلی ، عفو او ښښنه خپل شعار وګرځوی .

khanlibrary.org



وروسته بیا د هجرت ( لیږد ) حکم ورته وشو ، د جګړې اجازه هم ورته وشوه ، بیا ورته دا حکم وشو هغه څوک چې له تاسو سره جګړه کوی له هغو سره جګړه وکړی او له هغو سره چې تاسو ته څه نه وایې او له تاسو سره جګړی ته نه راوځی څه مه وایې .

له دی نه وروسته بیا دا حکم وشو چې له مشرکینو سره تر هغه وخت پوری جنګ وکړی چې دین ټول د یوه الله جل جلاله قانون وګرځی ، د جهاد د حکم له راتلو نه وروسته دری ډوله کفار موجود وو :

لومړی هغه ډله چې سوله یی خوښوله .

دویمه هغه ډلـه چې جګړه یې کوله .

دریم اهل ذمه وو له هغو کفارو سره چې حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د سولې د ټرون لاسلیک کړی وۀ ، د هغوی په هکله حکم راغی چې له هغوی سره خپله ژمنه ( تعهد ) پوره کړی ، ترڅو چې هغوی په خپله دغه ټرون ته په درنه سترګی ګوری له هغوی سره خپلی ژمنی سر ته ورسوی او که له هغوی نه د خیانت اندیښنه لری ، نو خپل ټرون ورسره مات کړی .

خو تر هغی پوری د هغوی پر ضد وسله پورته نه کړی چې څو پوری مو خبر کړی نه وی ، دا حکم هم نازل شو چې له عهد ماتوونکو سره جګړه وکړی ، کله چې د برات آیت نازل شو نو په هغه کې دری ډوله احکام بیان شوی وو ، د اهل کتابو په هکله داسی حکم راغلی و : " هغه کسان چې له الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دښمنی کوی له هغوی سره باید تر هغه وخته جګړه وکړی چې یا جزیه ومنی او یا اسلام " .

د کفارو او منافقینو دوه مخو په هکله دا وویل شوه چې : د هغوی پر ضد باید سخت جهاد وکړی او سخته سزا ورکړی ، لکه څرنګه چې هغه مبارک صلی الله علیه وسلم بیا له هغوی سره په تورو او نیزو جهاد وکړ او له منافقینو سره یې په دلیل او برهان جهاد وکړ ، په دغه سوره کې دا هم ویل شوی وو چې له کفارو سره خپلی ټولی معاهدی ماتی کړی او خبر یې کړی .

khanlibrary.org



په دی برخه کې معاهده کوونکې دری ډوله وو ، یو هغه ډول چې له هغوی سره د جګړې حکم شوی و ، دا هغه ډله وه چې په خپله یې عهد او ټرون مات کړی و ، او په خپل عهد یی وفا نه وه کړی ، حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم له هغوی سره جګړه وکړه او بری یی په برخه شو .

دویمه ډله هغه خلک وو چې تر یوه ټاکلی وخت پوری هغه ورسره عهد کړی و او هغوی له خپل عهد او ټرون نه سرغړونه ، نه وه کړی ، نه یی د مسلمانانو پر خلاف له چا سره مرسته کړی وه ، د دوی په برخه کې الله جل جلاله وفرمایل چې له دوی سره دی د معاهدی موده پوره کړای شی .

دریمه ډله هغه خلک وو چې له هغوی سره مسلمانانو هیڅ ډول عهد او ټرون نه درلوده او نه هغوی له مسلمانانو سره جګړه او دښمنی کوله ، یا داسی خلک هم وو چې تر ټاکلی وخت پوری ورسره مسلمانانو پر یو بل د نه بلوسی ( تعرض ) معاهده او ژمنه کړی وه .

د داسی خلکو په هکله دا حکم راغی چې دوی ته دی څلور میاشتی مهلت ورکړای شی چې دا مهلت پای ته ورسی او اسلام ته غاړه کې نږدی ، نو بیا دی ورسره جهاد وشی چې بیا د الله جل جلاله د همدی فـرمان له مخی له عهد ماتوونکو ســره جهاد وشو او ووژل شول ، له هغه چا سره چې کوم عهد او ټرون نه و شـوي او یا د نا معلومی مودی لپاره و، هغوی تــه څلور میاشتی مهلت ورکړ شو، هغه چا چې له مسلمانانو سـره پــه خپلو وعــدو وفا کړی وه ، له هغوی ســره د معاهــدی د وخت د پوره کولو حکم وشو .

په دی توګه ټول خلک د اسلام پلویان شول او د مهلت د مودی تر پای ته رسیدو پوری په کفر کې پاتی نشول ، په اهل ذمه وو باندی جـزیه ومنل شوه ، لنډه دا چې د برات سوره د نازلیدو نه وروسته د هغــه د چلند له کفارو ( محاربین ، اهل عهد او اهل ذمه وو ) سره دری ډوله و .

عهد کوونکې په پای کې په اسلام مشرف شول یوازی دوه ډوله خلک پاتی شول ، محاربین ( جګړه کوونکې ) او اهل ذمه ، جګړه کوونکې به تل

khanlibrary.org



له مسلمانانو نه په ویره کې وو ، په دی توګه د ځمکې پر مخ ټول انسانان په دری ښو د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مخی ته ودریدل .

لومړی هغه کسان چې پر نبي صلی الله علیه وسلم یې ایمان راوړ او د مرګ تر وروستی سلګی یی ورسره د ژوند سړی تودی وګاللی ، دویمه ډله سوله غوښتوونکې خلک و چې اسلام امان ورکړ ، دریمه ډله خایفین یا ویریدونکې چې له اسلام نه په ویره کې وو او د جګړې په حالت کې پاتی شول ، د منافقینو او دوه مخو په برخه کې الله جل جلاله ورته وفرمایل چې د هغوی ظاهری اعمال او ښه قبوله کړی ، او د باطنی حالاتو په هکله یې قضاوت الله تعالي ته وسپاری .

د پوهی دلیل او منطق په وسله ورسره جهاد وکړی ، د حق فرمان و چې ، له هغوی نه مخ وګرځوی او له میرځی نه ډک چلند ورسره وکړی ، په پوره فصاحت او بلاغت ورته تبلیغ وکړی ، د دی ترڅنګ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د هغوی جنازی ته له تلو نه او یا د هغوی د قبرونو ترڅنګ حاضریدو نه هم ایسار کړ ، په دی یی هم خبر کړ چې که حتی دی هم ورته ښښنه وغواړی ، نو الله جل جلاله به هغوی ونه ښښی .

دا و له دوه مخو او منافقینو سره د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم چلند ، په دغه مضمون کې د اسلام جهاد ټول پراوونه په ډیر غور ، رالنډ شویدی ، په دغه لنډیز کې د حق دین د ژوندی او متحرک نظام دوربینی او دور اندیشی او ځینی نورو غوره او امتیازی صفاتو ډیوه له ورایه ځلیږی ، چې د جهالت د تورتم په لاره کې د مؤمنانو لپاره رونړ مشال دي .

دغه مضامین د دی وړ دی چې ښه په غور ولوستل شی چې د هغه دین په نصب العین او کړنلاره چې د نړۍ د رهبری او قیادت ادعا لری ښه پوه شی ، څو مونږ په دی خبره صادقانه اعتراف کوو چې د اسلام د جهادی کړنلاری هر اړخیز څرګندونه په دی وخت کې زمونږ له وسی وتلی خبره ده ، مونږ دلته په اجمالی صورت د جهاد په مختلفو اړخونو د خپل توان تر حده رڼا اچوو .

khanlibrary.org



## لومړنی څانګړتیا

د الله جل جلاله د دین لومړنی غوره امتیازی صفت دا دی چې ټول قوانین یی د ژوند په ډګر کې د عمل وړ او حقیقت دی ، جهاد یو انسان جوړوونکې تحریک دی او په تحریک کې موجود انسانان د ژوند دغه انسانی اړخ ته رابولی ، په دغه لار کې له هغو وسایلو نه کار اخلی چې د انسان له عملی ژوند سره اړخ لګوی ، ځکه چې د دغه تحریک مقابله له یوه داسی جاهلیت سره ده چې له یوی خوا یی د خلکو په افکارو او نظریاتو د خپسی په څیر منګولی لګولی دی او له بلی خوا یی د هغه پر بنسټ د ژوند د عملی نظام کوډله جوړه کړیده .

همدا رنګه په دریم پړاو کې د دغه ډول نظام د ټینګښت او پایښت لپاره د هغه تر شا سیاسی او مادی اقتدار موجود دی ، له همدی امله اسلامي نهضت ته پکار دی چې د جاهلیت د مقابلی او ماتی لپاره له هغوی سره له برابرو وسایلو نه کار واخلی .

دغه نهضت د افکارو او عقایدو د سمون لپاره له تبلیغ او تلقین نـه کار اخلی او د جاهلی نظام د مادی او سیاسي ځواک د له مینځه وړلو لپاره له مادی قوتونو او جهاد نه کار اخلی ، ځکه چې جاهلی نظام د عامـو خلکو د افکارو او عقایدو د اصلاح او سمون پـه لار کې خنډونه پیښوی او پـه خپلو جاهلی بی لاری کړونکو تبلیغاتی وسایلو سره خلک خپل اطاعت تـه اړ باسی .

د دی پر ځای چې خلک د الله جل جلاله بندګی ته راوبولی د فرعون صفته انسانانو د بندګی او مرئیتوب مندرې ئې په غوږونو کې وراچوی ، اسلامي نهضت له جاهلی نظام او قدرت سره په زور ازمایلو او جګړه کې یوازی په تبلیغ او تلقین بسنه نکوی او نه د عامو انسانانو د افکارو او عقایدو د بدلون لپاره له زور او جبر نه کار اخلی ، دغه دواړه اصول ، د دغه دین د کړنلاری د نورو اصولو ترڅنګ یو برابر ارزښت لری او په یوه ډول باید پری عمل وشئ .

khanlibrary.org



د دغه دین د قیام او پاځون لومړی موخه همدا ده چې یو انسان د بل انسان له مرئیتوب نه خلاص کړی او د یوازینی الله جل جلاله بندګی ته ټول انسانان راوبولی .

## دویمه ځانګړتیا

د جهاد دویمه غوره ځانګړتیا دا ده چې دا یو عملی تحریک دی چې په هر پړاو کې له بل نه پرمختګ کوی او په هر پړاو کې له خپلو عملی اړتیاوو او غوښتنو سره سمی لاری او مناسب وسایل غوره کوی ، هره موجوده مرحله د راتلونکې مرحلی د راتګ لپاره لار هواروی ، په حقیقت کې دغه دین د عملی ژوند له تجریدی نظریاتو سره سر وکار نه لری او نه د ژوند مختلف پړاوونه د جامدو او نه بدلیدونکو وسایلو پر اساس پر مخ بیایي ، هغه خلک چې د دین د جهاد په قوانینو بحث کوی او قرآنی آیتونه نه د استدلال په توګه وړاندی کوی ، له یوی خوا د دین له پورتنی غوره صفت نه سترګی پټوی او له بلی خوا د هغو پړاوونو له نظری حقیقت نه خبر نه دی ، چې د جهاد نظام له هغو نه تیر شوی دي .

نه یې دی خبری ته پام دی چې د قرآن د مختلفو آیتونو د جهاد له هر پړاو سره څه تعلق دی ، دغه ډول خلک چې د اسلامي جهاد په برخه کې څه وایي نو په ډیره ساده ګی او علمی شډلتیا تری نه خبره ګډوډه شی ، د اسلامي جهاد نظام په بی لاری کوونکې توګه بیانوی او له قرآنی ایتونو په زوره د خپل مطلب د اثبات لپاره کلی اصول راباسی ، چې دغه ډول اصول په هغو آیتونو کې قطعا نه ځایږی .

د هغوی اساسی غلطی په دی کې ده چې دوی د قرآن د هر سوره په هکله داسی فکر کوی چې ګنی په دی برخه کې همدا وروستنی دی او په ده کې د دین وروستنی او کلی حکم هم بیان شویدی ، دغه ډول مفکرینو په حقیقت کې د اوسنیو خواشینوونکو حالاتو د فشار او ناخوالو په مقابل کې په روحی او عقلی ډول وسله غورځولی ده ، په هغی ناروغی اخته دی چې اوسنی اسلامي نسل هم پرې اخته دي .

khanlibrary.org



له دوی سره د عقیدی او عمل له مخی د اسلام له مارک او لیبل نه پرته نور څه نه دی پاتی ، دا د همدغه ماتی خوړلی ذهن محصول او اثر دی چې دغه حضرات فرمایې " اسلام یوازی د دفاعی جنګ پلوی کوی " او غم خو دا دی چې دوی پدی ورانوونکې خبره او بی لاری کوونکې استدلال پدی ګومان دی چې مونږ په دین زښت زیات احسان کړیدی .

حال دا دی چې د دغه غلط تاویل په نتیجه کې هغوی دین د خپلی امتیازی او غوره کړن لاری د کار له اصولو نه لاس اخیستو ته رابللی دی ، په حقیقت کې دا خبره دا معنی لری چې دین باید خپل هغه نصب العین او کړنلاره چې په نړۍ کې د ټولو طاغوتی د قصرونو د نړولو او د فرعونانو ، نمرودانو او قارغونیانو ورو ورو په ماتولو پسی راغلی دی پریږدی .

اسلام ددی لپاره راغلی چې بشریت د الله جل جلاله بندګی ته راوبولی ، د دی لپاره راغلی چې انسان د انسانانو مرئیتوب نه خلاص کړي او یوازی د خپل رب په درګاه کې سر کیږدی ، خو دا هم باید په یاد ولرو چې اسلام خپله دغه کړن لاره د توری په زور پر خلکو نه منی ، بلکه د سیاسی قدرت تر اخیستلو وروسته هغوی خلکو ته د آزادی عقیدی د درلودلو فضا برابروی ، اسلام د نړۍ پر مخ ټول د اقتدار په څوکې ناست سیاسی نظامونه رنګوی او یا هغوی خپل اطاعت ته اړ کوی او جزیه تری اخلي .

پدی توګه هغوی هغه ټولنی لاری چې د اسلامي عقیدی په منلو کې خنډونه پیښوی اواروی ، تردی وروسته بیا خلکو ته مکمله آزادی وربښی چې هغوی دغه عقیده منی او که نه .

## دریمه ځانګړتیا

دریمه امتیازی او غوره ځانګړتیا دا ده چې د دین دغه سخته او اغزنه لار او له هر پراو سره د نوو وسایلو او ذرایعو نه کار اخیستل دین له خپلو بنیادی اصولو او مقاصدو نه نشی بی لاری کولی ، دین له هماغه لومړی ورځی نه که د رسول الله صلی الله علیه وسلم نژدی خپلوان یې مخاطب وو او که قریشو ته یې خطاب کاوه ، یا یې له ټولو عربو سره خبری کولی او که

khanlibrary.org



د ټولې نړۍ له اوسیدونکو سره ګړیده ، له ټولو سره یې په همدغه یوه اساس او بنیاد خبره کوله .

هغه له ټولو نه همدا یوه غوښتنه کوله چې د انسانانو له بندګی او مریتوب نه ځانونه خلاص کړي او د یوه الله جل جلاله بندګی ته غاړه کیږدی ، د دغه اصولو په برخه کې دین هیڅ ډول سازش او سودا بازی نه کوی او نه له چا سره له هیڅ ډول نرمش نه ځار اخلی .

وروسته بیا دین د خپل دغه یوازینی مقصد لپاره د یوی منظمی طرحه شوی نقشی بر اساس په کار پیل کوی ، دغه طرح شوی پلان څو ټاکلی پړاوونه لری او د هر پړاو بری ته د رسولو لپاره له غوره او نورو وسایلو نه کار اخیستل کیږی .

## څلورمه ځانګړتیا

څلورم غوره امتیازی صفت دا دی چې دین د اسلامي ټولنې او نورو ټولنو ترمینځ اړیکو ته یوه ټاکلی او قانونی بڼه ورکوی ، لکه څنګه چې د " زاد المعاد " له ذکر شوی لنډیز نه څرګندیږی ، پر کوم بنسټ چې دغه قانون ولاړ دی ، هغه دا دی چې اسلام ( د الله جل جلاله فرمان او اطاعت ته غاړه کیښودل ) داسی یو عالمګیر او هر اړخیز حقیقت دی چې منل یې پر بشریت لازم او واجب دی .

که چیری څوک دغه لار نه غوره کوی او عمل پری نکوی نو هغه ته پکار دی چې له اسلام سره د سولی او مصالحی لار غوره کړی او د کوم سیاسی نظام او یا مادی طاقت په بڼه د اسلامي دعوت په لاره کې مرکوندی ونه کری ، د ټولنی هر وګړی آزاد پریږدی چې په خپله خوښه دغه لار غوره کړی او که نه یې غوره کوی هم څه ستونزی او کړاو ورته پیښ نه کړی .

د نورو لپاره په دغه لار کې خنډ نشئ ، که څوک د اسلام په دغه لار کې خنډونه پیښوی نو دا د اسلام وظیفه ده چې له هغه سره تر هغه وخت پوری جګړی وکړی چې هغه یا له اسلام سره د وفاداری لوړه وکړی او یا د مرګ او نیستی ژوری کندی ته ورولویږی .

khanlibrary.org



هغه د ماتی خوړلی او ویریدلی ذهن ادیبان او عالمان چې " په اسلام کې د جهاد په حقیقت د قلم نیلی ځغلوی او هڅه کوی چې د دوی په اصطلاح د اسلام له لمنی د جهاد داغ وتوړی ، دوه اصله سره ګډوی :

لومړی د دین دغه اصل چې په زور او جبر باندی د عقیدی منل نه خوښوی ، لکه څنګه چې د قرآنکریم له صریح حکم " لا اکراه فی الدین " نه څرګند دی .

دویم د دین دغه کړنلاره چې هغه ټول سیاسی او مادی قوتونه د نښتی کندی ته ور غورځوی ، هغه عقیده چې د دین او انسان ترمینځ خندق کیږی او انسان د انسان بندګی ته رابولی او د الله جل جلاله له عبادت نه یی ایساروی ، دغه دواړه اصول بالکل مختلف دی او له یو بل سره هیڅ اړیکې نه لری .

نه د دواړو د ګډولو او یو ځای کولو څه ګټه شته ، خو بیا هم د ماتی خوړلی او غلامانه ذهنیت خاوندان دا هڅه کوی ، چې دغه مباحث سره ګډ کړی او غواړی چې په اسلام کې د جهاد مفهوم یوازی په دی خبره کې را خلاصه کړی ، چې په ننی اصطلاح ورته " دفاعی جګړه " وایی ، حال دا دی چې جهاد بالکل یو جلا او ځانګړی واقعیت دی ، د اوسنی پیړۍ له جګړو سره بالکل کومی اړیکې نه لری ، نه د جنګ د اسبابو او عواملو له پلوه او نه د ظاهری بنې له مخې .

د جهاد اسباب او عوامل باید په خپله د اسلام په مزاج کې ولټول شی او همدا رنګه په دنیا کې د هغه د کردار او روش له مخې وڅیړل شی ، د هغو لـوړو اهدافو او اصولو پـه مینځ کې بایـد ولټول شي چې الله جل جلاله د دغـه دیـن لـپاره ټاکلی دی او د هغوی د عملی کولـو لـپاره یـی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تـه د رسالت د ستر منصب ویاړ ور وبانبه ، بیا ئې هغـه تـه خاتم النبیین او د هغـه رسالت تـه خاتم الرسالات لـوړه درجه ورکړله .

حق دین په اصل کې د دغه نړیوال او جهانی اعلان نوم دی چې په نړۍ کې انسان د انسان په مرئیتوب نه او په خپله د نفس له مرئیتوب نه چې د

khanlibrary.org



انسان د غلامی یوه بله بڼه ده آزادوی ، دغه اعلان په حقیقت کې د هغه لومړی اعلان طبیعی نتیجه ده چې وایې :

" د الوهیت مقام یوازی د یوه الله جل جلاله لپاره وړ دی " ، د هغه د ربوبیت شان پر ټوله نړۍ محیط دی ، د دی خبرې ښکاره او څرګند مطلب دا دی چې دین د انسان د حاکمیت په هره بڼه ، هر شکل هر نظام او هر پراو کې همدا رنګه د ځمکې پر مخ د هر هغه هیئت او انقلاب مخالفت کوی چې په هغی کې حکمرانی د انسان په لاس کې وی ، یا په څرګندو الفاظو انسان د الوهیت مقام په یوه نه یوه پلمه د ځان لپاره غوره کړی وی .

د حکومت داسی نظام چې د معاملاتو وروستی رجوع پکې انسان نه وی او انسان د ټولو اختیاراتو وروستی منبع وی ، په حقیقت کې په دی صورت کې انسان ته د الوهیت درجه ورکوی له ځنی انسانانو د خپل ځان په څیر انسانانو ته " ارباب من دون الله " جوړیږی .

خو کله چې دا اعلان وشو چې ربوبیت او الوهیت یوازې د یوه الله جل جلاله لپاره خاص کړی شوی دی ، نو د دی خبرې مفهوم دا دی چې د الله جل جلاله غصب شوی اقتدار او حاکمیت باید له غاصبینو نه واخیستل شی او بیرته دی الله جل جلاله ته ور وګرځول شي .

دغه غاصبین بایـد له هغو تختونو نه راکوز کړای شي چې د خپلی ځان جوړ شوو شـریعتونو په ذریعه یی د مظلوم بشریت په څټونو ایښی دی ، ځانته د هغوی د رب مقام ورکوی او هغوی خپل مریـان ګڼی ، پـه لنډو بـه مطلب دا وی چې د الوهیت او ربوبیت د آواز پورته کولو موخه دا ده چې د ټولو انسانی شهنشاهیو لمڼی ټول شی ، د نړۍ پر مخ یوازې د الله جل جلاله د بادشاهی د عدل فـرش وغوړیږی یا د قـرآن په خوله دغه اعلان وشي .

وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَهٌ [زخرف : ۸۴]

( هماغـه دی چې یوازی په اسمان کې هم الله جل جلاله دی او پر ځمکه هم الله جل جلاله دی ) .

إِنْ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ [یوسف : ۴۰]

khanlibrary.org



( حکم یوازی د الله جل جلاله لپاره دی ، هغه فرمان ورکړی دی چې له هغه پرته د بل چا بندګی او عبادت مه کوی ، همدغه حق دین دی )

قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ[آل عمران : ۶۴]

( ورته ووایه چې ای اهل کتابو د داسی یوی کلمی " حقیقت " په لور راشی چې زمونږ او ستاسو ترمینځ برابره او یو شان ده ، هغه دا چې نه به له الله جل جلاله نه پرته د بل چا عبادت کوو او نه به له هغه سره بل څه شریکوو ، له مونږ او تاسو نه به ځینی نور خلک له حقیقی الله جل جلاله نه پرته بل څوک په خدایی نه غوره کوی ، که له دغی بلنی نه یی مخ وګرځاوه ، نو ورته ووایه چې په دی شاهد اوسی چې مونږ د الله جل جلاله بندګی ته غاړه ایښې ده ) .

## په نړۍ کې الهی حکومت څنګه جوړیدای شی ؟

په نړۍ کې د الله جل جلاله حکومت یا بادشاهی جوړیدل دا معنی نلری چې یو څو " مقدس وګړی " یعنی دینی لارښوونکې دی د حاکمیت پر مسند تکیه وکړی ، لکه څنګه چې د کلیسا د بادشاهی همدغه حال وو ، او نه دا خبره سمه ده چې د اله وو څو نمایندګان دی د حکومت د چارو واګی په لاس کې واخلی ، لکه څنګه چې په تیوکراسی یا د مقدس خدای حکومت " په نامه دود د چارو واګی به د یوی مخصوص کورنی لاس کې وو او د الله جل جلاله په نامه به یی هر څه کول .

د الله جل جلاله د بادشاهی او حکومت معنی دا ده چې د الله جل جلاله شریعت پر خلکو حکومت وکړی او د ژوند په ټولو چارو کې وروستی پریکړه پر همدی اساس وشی ، خو سړی باید دا خبره په نظر کې ونیسی چې په نړۍ کې د الله جل جلاله د بادشاهی ټینګول او پاځون د انسان د پادشاهی له خاتمی سره برابره ده ، د غاصبینو له لاس نه د قدرت واګی اخیستل او د الله جل جلاله شریعت ته ورسپارل ، الهی شریعت جاری کول

khanlibrary.org


او د ټولو انسانی قوانینو د تنسیخ اعلان - دا ټول ستر او بنیادی کارونه په مجرد دعوت او وچ تبلیغ سر ته نه رسیږی .

هغه خلک چې د الله جل جلاله د مخلوق په څټونو سپاره دی ، د الله جل جلاله په قدرت یی غاصبانه قبضه کړیده او د خپل اقتدار ، زغ یی د نورو پر څټ ایښی دی .

هغوی په داسی تبلیغ او غوښتنه کله د خپل اقتدار له تخت نه په داسی اسانی راکوزیږی ، که داسی وای نو د الله جل جلاله پیغمبرانو ته به په نړۍ کې د حق دین خپرول یو اسانه او بسیط کار وای ، خو د انبیاؤ د ژوند له تاریخ او د حق دین په مقابل کې له را پیدا شوو خنډونو نه څرګندیږی چې خبره برعکس ده .

دومره د ستر اعلان چې د الوهیت او ربوبیت صفات یوازی د الله جل جلاله لپاره مخصوص کړای شوی دی او بیا د دی اعلان مهمه نتیجه چې انسان به له الله جل جلاله نه پرته د هر قسم اقتدار او حاکمیت نه آزاد وی ، یوازی یو نظریاتی ، فلسفیانه او منفی ډول اعلان نه و بلکه یو مثبت ، متحرک او انقلابی اعلان و چې کړنلاره یی د داسی یوه نظام راوستل و چې د اسلامي شریعت پر اساس پر خلکو حکومت وکړي .

عملا یی بشریت د نورو همنوعو له مریتوبه خلاص کړ او د یوه الله جل جلاله د عبادت او بندګی ویاړیی ور وبانښه ، ښکاره خبره ده چې د دومره ستر کار د سر ته رسولو لپاره دا ضروری وه چې دغه اعلان یوازی د مجرد تبلیغ او دعوت په ساحه کې محدود پاتی نشی ، بلکه د دی سره دا هم لازم او ضروری وه چې دغه اعلان د یوه منظم تنظیم بنه غوره کړی چې د عملی ژوند له کړکیچونو سره په برابره توګه د نورو وسایلو او ذرایعو پر اساس مقابله وکړی .

انسان د تاریخ په هر پراو کې په تیره اوسنی او ښایی په راتلونکې زمانه کې هم ، د حق دین په مقابل کې په ډول ډول چلونو او فریبونو لاس پوری کړی دی او دا هڅه یی کړیده چې د دغه دین په ښیګړو توری خاوری راواړوی او د خلکو له نظره یی پټ کړی .

khanlibrary.org



دا ځکه چې دا دین د بشریت قاطع اکثریت څه چې ټول بشریت د بل همنوع له غلامی نه خلاصوی ، نو ځکه ځینی خود غرضه او قدرت مینو انسانانو تل د دین د پرمختګ په لار کې په فکری او مادی لحاظ خنډونه پیښ کړیدی ، سیاسی ، اجتماعی او اقتصادي د یوالو نه یی وهلی دی ، د نژادی او پاتکیزو اختلافاتو او نابرابر یو چیغی او سوری یی وهلی دی .

د دی ترځنګ په خپله د انسان منحرف عقاید او باطل تصورات هم لګیا دی ، په خپل وار سره خپل کار کوی ، او د دغو دواړو له اتحاد نه یو بی نهایت کړکیچنه فضا را پیدا شویده .

که تبلیغ د خلکو عقاید ، تصورات او افکار اصلاح کوی نو د " جهاد تحریک " له دغی لاری نوری مرکوندی لزی کوی او لاره هواروی ، چې په سر کې یې تر ټولو د مخه سیاسی قدرت دی چې د ډیرو کړکیچنو فکری ، نژادی ، پاتکیزو توپیرونو ، ټولنیزو او اقتصادي ( وټه ائیزو ) ستنو په مرسته ولاړ دی .

دغه دواړه تکړه مجاهدین یعنی " تبلیغ او جهاد ت " چې سره یو ځای شي ، نو له څلور خواو نه په دښمن اثر غورځولی شی او له هغو ټولو عواملو او سببونو سره د خپل نوی نظام په مینځ ته راوستو کې مرسته کولی شی ، چې د یوه نظام د مینځ ته راتګ لپاره ضروری دی ، د جاهلي نظام هغه ټول عوامل او اسباب په متقابله برابرو عواملو له مینځه وړلای شی ، په دغه ځمکه کې د انسان د حقیقی آزادی نه بلکه په ټوله نړۍ کې د بشریت د حقیقی آزادی او دغه ستر رسالت د سر ته رسولو لپاره د دغو دواړو اصولو یعنی تبلیغ او د جهاد اوږه په اوږه کار کول یوه ډیره په زړه پوری او مهمه مسئله ده چې څو څو ځلی باید د هغه چا تر غوږ تیره شی ، چې د دغه ډول ستر کار د سر ته رسیدو لپاره یی لیځی رانغښتی دی .

## د بندګی اصلی حقیقت

د انسان د آزادی اعلان د اسلام په واسطه یوازی د عربو لپاره نه و او نه د دی دین پیغام یوازی په عربی سیمو پوری محدود و ، ځکه چې دغه رسالت او پیغام د ټولی نړۍ لپاره و ، د دغه دین مـوضوع ( انسان ) دی

khanlibrary.org



- ټول انسانان او د عمل ډګر یې د ځمکې پراخـه غولی [د ټولی ځمکې مخ ] دی .

الله جل جلاله چې له ټولو بشری نیمګړتیاوو او کمزوریو نه پاک دی، یوازی د عربو پروردګار او پالونکې نه دی ، ان تردی چې په هغو خلکو پوری هم اختصاص نلری چې د اسلام دین یی منلی دی ، الله تعالی رب العالمین دی .

د ټولـو نړۍ والـو رب او پالونکې دغه دین د ټولی نړۍ قدرت او ځواک د هغـی د واقعـی رب لاسـونو تـه ورسـتنوی ، هغـوی د غـیر الله د بـندګی او مرئیتوب له ناولو منګولو نه خلاصوی .

د اسلام له نظره همدغه بندګی او عبودیت دی چې انسان د داسی قوانینو کړی په غاړه کړی چې په خپله د همده په ځیر انسانانو جوړ کړیدی ، او دا هماغه بندګی او " عبادت " دی چې دغه دین د هغی په برخه یی پریکړه کړیده چې دغه ډول عمل یوازی د الله جل جلاله لپاره ښایی .

هغه ځوک چې غیر له الله جل جلاله نه بل چاته د دغه ډول قوانینو پر اساس په دا شان عبادت کوی ، که هغو د دینداری زرګونه دعوی هم وکړی ، هغه له دین نه وتلی دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښکاره او څرګندو ټکو کې ویلی دی چې د وخت د حاکم نظام د قانون او حکومت " اطاعت " د عبادت دویم نوم دی .

د عبات په هغه مفهوم چې کله نصاری او یهودو د یوه الله جل جلاله له " عبادت " نه مخ وګرځاوه نو هغوی په مشرکینو کې وشمیرل شول [ ترمذی ] له عدی بن حاتم رضی الله نه روایت کړیدی کله چې ده " عدی بن حاتم " ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت او بلنه ور ورسیده ، نو هغه شام ته وتښتیده ، ځکه چې هغه د جاهلیت په وخت کې د نصاری وو په دین ګروهیدلی ( معتقد ) و .

خو خور او څو نـور ملګری یې د مسلمانانو پـه لاس قیدیان شـول ، د الله جل جلاله استازی د هغه په خور احسان وکړ ، هغه یی آزاده کړه او څه بخشش یی هم ورکړ ، هغه سمدلاسه خپل ورور ته ورغله او هغه یی د

khanlibrary.org



اسلام منلو ته وهڅاوه ( ترغیب کړ ) او دا مشوره یې ورکړه چې د حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم دربار ته ورشی ، " عدی " د خپلې خور خبره ومنله او له هغه دربار ته یې د پلې ورتګ ملا وترله .

کله چې هغه ( عدی بن حاتم ) د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې ودریده نو هغه صلی الله علیه وسلم هغه وخت دغه ایت لوسته : اتخذو احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله ( هغوی د الله جل جلاله پر ځای د خپلو علماوو او راهبانو عبادت کاوه ) .

عدی وویل : اې د الله رسوله ! در نه ځار شم ، مونږ د راهبانو عبادت نه کاوه او نه مو د هغو بندګی کوله .

د الله رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : هو ! تاسو د هغوی بندګی او عبادت کاوه ، ځکه هغوی حلال په تاسو حرام او حرام درباندی حلال کړل او تاسو یې هم پیروی کوله ، نو له همدی امله تاسو د هغوی عبادت او بندګی کوله ، ځکه د الله جل جلاله له حکم نه پرته د چا پیروی په حقیقت کې ستاسو بندګی او عبادت و چې ورته کاوه مو .

نو له دی امله د الله جل جلاله دغه رالیږل شوی مفسر چې کوم تفسیر له دغه آیت نه کړی دی هغه بالکل قطعی دی ، ځکه څوک له هغه صلی الله علیه وسلم نه پرته د الله جل جلاله د کلام په توجیه او تفسیر ښه پوهیدای شی ؟ نو له دی امله د هغه صلی الله علیه وسلم ارشاد په دی هکله یوه غوڅه پریکړه ده چې د هر غیر الهی حکومت له قانون او فتوی نه پیروی کول په حقیقت کې هماغه بندګی او عبادت دی او د دغه عمل له کولو نه وروسته عامل د اسلام له دایری نه په خپله وځی .

همدا رنګه له دغه نص نه دا هم څرګندیږی چې د غیر الله له عبادت نه مراد دا دی چې ځینی انسانان د ځینی نورو لپاره د دغه مبارک آیت د حکم مصداق ګرځی ... اربابا من دون الله ، د حق دین د خپل هغه فرمان او د آزادی په اعلان سره له الله جل جلاله نه پرته بل هر نوع پرستش العاء کړیدی .

khanlibrary.org



هغه څوک چې منکران دی دغه دین د هماغو د نابودولو لپاره راغلی دی ، او بیا بیا دا وایی چې د دغه دین اعلان دی چې د ځمکې پر مخ ټول انسانان د غیر الله له بندګی او مرئیتوب نه آزاد شی .

## اسلام د دعوت او تحریک پر دواړو اړخونو ولاړ دی

که د انسان علمی ژوند له پورتنی یاد شوی اعلان سره سمون ونه لری ، نو د دغه حالت د سمون لپاره اسلام ناچاره دی چې په یوه وخت د تبلیغ او جهاد په دواړو وسلو سره د عمل میدان ته ور ودانګی او هغو سیاسی قدرتونو ته کاری ضربی ورکړی چې انسانان د غیر الله بندګی ته اړ کوی ، د الله جل جلاله له شریعت نه پرته پر هغوی حکمرانی او باداری کوی .

د اسلام دعوت د خلکو تر غوږونو رسوی ، که دغه ډول عمل ونکړی نو نتیجه به داسی وی چې که دغه حالت کې څوک د اسلام دعوت او تبلیغ وهم منی نو بیا به هغه ته هغه آزادی نه وی چې له حاکم قدرت نه بی ویری او بی پروا اسلام قبول کړای شي .

د دی لپاره ضروری ده چې اسلام طاغوتی قدرتونه له خپلو مانیو سره یو ځای د نیستی کندی ته وغورځوی دا مهمه نه ده چې دغه طـاغوتی قدرتونـــه په کومه جامـــه کې دی د نژادی توپیر ناری وهی او که د پاتکیزو ( طبقاتی ) تضادونو رپی ( بیرغ ) یی راپورته کړی دي .

له دی امله اسلام باید یو داسی ټولنیز ، اقتصادي او سیاسی نظام مینځ ته راولی چې د انسانانو د آزادی غوښتنی هڅو ته عملی بڼه ورکړی او د نړۍ پر مخ د هغوی د هیلو څرګندوونکې او مرستیال وی .

## د اسلام له نظره د انسان د آزادی مقصد

اسلام هیڅکله هم دا نه غواړی چې پر خلکو باندی د برچې په زور عقیده ور وتپی " تحمیل کړی "، خو دا خبره هم واضحه او څرګنده ده چې اسلام یوازی د یوی مجردی عقیدی نوم نه دی ، بلکه لکه څنګه مو چې مخکې وویل : اسلام د انسانانو د آزادی یو عمومی اعلان دی ، د نورو انسانانو له بندګی او مرئیتوب نه لومړنی موخه یی هم همدا ده چې د داسی نظامونو او

khanlibrary.org



حکومتونو د اقتدار کمبله ټوله کړی چې د خپل اقتدار زغ یی د خپلو همنوعو په څټ اینبی دی ، او انسانان د نورو انسانانو غلامی ته اړ کوی .

کله چې اسلام د مظلومانو له څټ نه د انسانی حاکمیت او بندګی زغ لیری کړ ، نو بیا د دغو انسانو عقل او روح ته د اسلام د منور دعوت پیشنهاد کوی ، وروسته له هغی بیا هغوی آزاد پریږدی چې دغه الهی دعوت او ژوند جوړوونکې نظام منی او که نه ، خو د دی آزادی مطلب دا هم نه دی چې انسان د خپل نیمګړی فکر او هوا وهوس په غوښتنه چې هر څه یی زړه وغواړی وکړی او خپله فیصله وکړی چې یا د انسانانو مرئیتوب کې ژوند وکړی او یا نور انسانان خپل مریان کړی او یا خپلو کې یو ځانته له بل نه معبود جوړ کړی .

په نړۍ کې چې حکومت کوم نظام مینځ ته راځی هغه هم باید د یوه الله جل جلاله د بندګی پر بنسټ ولاړ وی ، د ژوند د قوانینو ماخذ یی هم باید یوازی د الله جل جلاله ذات وی ، ځکه د داسی یو نظام په سیوری کې به هر وګړی ته ډاډه زړه دا آزادی موجوده وی چې هره ګروهه یی چې زړه وغواړی ومنی ، په همدغه صورت کې د دین او قانون ، اطاعت او فرمانبرداری او بندګی یوازی د الله جل جلاله لپاره خاص کیدای شی .

د دین " اسلام " مفهوم د عقیدی له مفهوم او معنی نه ډیر جامع دی ، او په اسلام کې یوازینی ممکنه لاره هغه ده چې د ټولو انسانی جمعیتونو متنوع ډولو ته د اسلام د دغه هر اړخیز او جهانی روش پر اساس یوازی د لوی الله جل جلاله په مقابل کې د کوچنی والی احساس وکړی .

دین په دغه برخه کې پر عقیده باندی تکیه کوی ، خو د ده د قدرت او پراختیا ساحه د عقیدی تر هغی ډیره پراخه ده ، ځکه د اسلامي حکومت په پالیسی کې دا ځای شته دی چې ګڼ شمیر خلګ پکې واوسی ، چې د اسلام حکومتی قانون ته ( چې د الله جل جلاله د بندګی پر بنسټ ولاړ دی ) وفادار وی ، خو اسلام یی د عقیدی په توګه نه وی قبول کړی .

khanlibrary.org



## ایا اسلام یو دفاعی نهضت ( غورځنګ ) دی ؟

هغه څوک چې د اسلام له روح او مزاج نه خبر او اګاه وی لکه څنګه مو چې مخکې وویل ، په بنه توګه پوهیږی او بنایې پخپله دی نتیجی ته ورسیږی ، چې د اسلامي نهضت قیام او پاڅون له دی دوو لارو نه پرته ناشونی دی : لومړی جهاد بالسیف او دویم جهاد بالقول .

او دا حقیقت به هم ورته څرګند وی چې اسلام په هغه محدود معنی ( دفاعی نهضت ) نه دی چې په اوسنی مروجه اصطلاح له " دفاعی جګړی " نه تعبیر کیږی ، دغه سرسری او غلط نظر په حقیقت کې د هغه حضراتو د غلامانه ذهنیت محصول دی چې د حالاتو د بټی له تاوه متاثر شوی او پر اسلام باندی یی د مستشرقینو د عیارانه حملو په مقابله کې ماتی خوړلی ، نو بیا یی د اسلام دغه ډول تصویر وړاندی کړی دی .

اسلام د یوه څپاند سمندر په توګه د انسان د آزادی په مخ کې هر خس وخاشاک په مخه کړی وو ، د دی لپاره چې د بشریت د مرئیتوب بیړی د حقیقی آزادی ساحل ته ورسوی ، هغه د انسان د عملی ژوند له ټولو اړخونو سره په جګړه او مبارزه بوخت و .

د هر اړخ د مثبت سمون او اصلاح لپاره یی هغه وسایل غوره کړی وو چې د هغه د سمون لپاره غوره او وړ وو ، د اسلام د جهاد نهضت له ډیرو کړکیچنو پراوونو نه په بری سره تیر شویدی او په هر پراو کې یی د وخت او زمان له شرایطو سره له هغو وسایلو نه کار اخیستی چې زښت زیات اغیزمن وو .

بالفرض که دا هم ومنو چې د اسلام د " جهاد تحریک " یو دفاعی تحریک دی نو بیا باید د " دفاع " د لفظ مفهوم او معنی ته تغیر ورکړو ، له دفاع نه مقصد باید " دفاع له انسان " څخه وی یعنی د هغو ټولو سببونو او عواملو په وړاندی له انسان نه دفاع کول چې د انسان آزادی سلبوی او یا لږ تر لږه د انسان د ریښتینی آزادی په لار کې خنډ کیږی .

کیدای شی چې دغه عوامل د افکارو او عقایدو په بنه وی او یا د داسی سیاسی نظامونو په جوړه " شکل " چې د سیاسی ، وټه ایزو " اقتصادي "

khanlibrary.org



طبقاتی او نژادی امتیازاتو پر بنسټ ولاړ وی ، کله چې د اسلام لمر په نړۍ کې نوی څیره ووهله نو هغه وخت هم د دغو عواملو او سببونو چې د انسان د آزادی په لار کې خنډ کیږی ، تورتم موجود و ، او د اوسنی پیړی په جهالت کې هم د هغوی ځینی بنې دود دی .

که د " دفاع " کلمه دغه پراخه مفهوم غوره کړی نو مونږ په اسانی سره کولای شو چې د هغو ادعاوو په مفهوم پوه شو چې په هغی سره د اسلامي جهاد د تحریک په لار کې موانع ایجاد وی .

دا لا څه چې په خپله د اسلام ربښتینی مفهوم به هم زمونږ مخی ته د لمر په څیر څرګند شی ، مونږ باید ددی خبری په درک او پوهیدلو کې هیڅ وخت ضایع نکړو چې : د اسلام مطلب د یوه انسان له بندګی نه د بل انسان آزادی ده ، د الهی تعلیماتو او ربوبیت په مقابل کې غاړه ایښودل او په نړۍ کې د انسانی خپل سری د پای ته رسونی اعلان او یوازی الهی شریعت او د لوی الله جل جلاله حکومت !!!

هغه هڅی چې د " دفاع " د مفهوم لپاره په هماغه محدوده او ساده معنی کیږی چې د هغی له مخی د " جهاد " کلمی ته هم همدا لنډه او تنګه جامه ور واغوندی ، چې د اوسنی پیړۍ د " دفاعی جګړی " په مفهوم کې رانغښتی دی او همدا رنګه هغه هلی ځلی چې د دی خبری د تائید او د اسنادو او مدارکو د پیدا کولو لپاره کیږی چې د جهاد مفهوم یوازی له اسلامي هیواد نه دفاع ده .

او اسلامي خاوره هم د دوی په نظر هماغه " جزیره العرب " ده ، په حقیقت کې هغه ناکامی هڅی او هلی ځلی دی چې غواړی یا خو د دین د مفهوم په هکله پر خپله ناپوهی او نارسایي پرده وغوړوی او یا دغه په ظاهره د اسلام خوا خوږی ، د جهاد پر اصلی رول او اغیزه پوی شوی نه دی ، چې د اسلام جهادی نهضت په نړۍ کې څومره انقلابی او مثبت رول لری ؟

یا خو دغو خوارانو د حالاتو د فشار او د اسلامي جهاد په کړنلاره او اصولو د مکارو مستشرقینو د حملو په مقابل کې وسله ایښی ده او غوښتی یی دی چې یو دفاعی حالت غوره کړی ، دا ځکه چې د اسلام په

khanlibrary.org



برخه کې د دوی د درک او لید ساحه دومره پراخه نه ده لکه څومره چې د دغه دین اصول او قوانین عمیق او ژور دی .

ایا څوک دا ویلی شی چې که حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه پردی خبری باور درلودای چې رومی او ایرانی لښکری پر جزیره العرب حمله نه کوی ، نو هغوی به بیا د اسلام د ځلانده لمر د وړانګو د خپرولو هڅه نه کولای ؟

څرګنده ده چې د دی خبری ځواب منفی دی ، ځکه چې له دی نه پرته اسلام پرمختګ نشوای کولای ، که هغوی پر اسلامي خاوره یرغل هم نه کاوه ، خو دا څوک ویلی شی چې هغوی به د اسلام د خپرولو مخنیوی نه وای کړی ، حتما یی کاوه ، ځکه چې د اسلامي دعوت خپریدل او د خلکو له خوا یې منل په خپله د هغوی د امپراطوری د پای اعلان معنی درلوده .

طبعا به هغوی په دغه لار کې زیات خنډونه پیښول او د دغو بی شمیره ستونزو په لړ کې ، سیاسی نظام ، د ټولنی نژادی او طبقاتی امتیازات او بیا د دغو نژادی او طبقاتی توپیرونو له ګیډی نه راوتی اقتصادي نظام او د دغه اقتصادي نظام ملاتړ سیاسی قدرت او نور مادی وسایل ـ دغه ټول د اسلام د خپرولو په لار کې ستر خنډونه وو .

دغه ډول تصور او فکر به څومره ساده ګی او بوله توب وی چې یو دعوت د نړۍ پر مخ د ټول بشریت د آزادی اعلان وکړی او بیا د ټولو پورتنیو خنډونو ، او موانعو مقابله یوازی په تبلیغی جهاد وکړی او په دی اسره هم وی چې خلک هغه ومنی ! په دی کې هیڅ شک نشته چې تبلیغی جهاد هم د دین له غوره او مهمو ارکانو نه دی ، خو کله ؟ هغه وخت چې ټول انسانان د هر ډول ګروهی په منلو کې آزاد وی .

له همدی امله دغه دین هم لومړی انسانان د لاری له ټولو موانعو او خنډونو نه آزاد وی او بیا په دغه ډول یوه آزاده فضا کې له هغه نه د اسلام د منلو غوښتنه کوی او بیا دی " لا اکراه فی الدین " پر قانون عمل کوی ، خو که چیری د پورتنیو عواملو حکومت موجود وی او د بشر د آزادی په لار کې

khanlibrary.org



خندونه موجود وی نو له دی نه پرته بله چاره نشته ، چې لومړی هغه په زور او قدرت لیری شی .

ځکه کله چې دغه دعوت خلک د الهی بندګی غاړه ایښودلو ته رابولی ، نو هغه وخت باید خلک ذهنا او جسما له هر ډول زنځیرونو او زولنو نه آزاد وی او په ډاډه زړه د دغه دعوت د منلو او یا نه منلو په هکله پریکړه وکړی ، د آزادی په خوند آزاد خلک ښه پوهیدای شی ، د آزادی له چیغی سره یوازې آزاد خلک خپله چیغه په ډاګه غبرګولی شی .

که چیری د اسلامي دعوت چلند او اسلوب د انسان د آزادی فیصله کوونکې اعلان وی او بیا دا اعلان او زیری محض په فلسفیانه عقایدو او خیالاتو کې محدود شوی نه وی ، بلکه د عملی ژوند له نیمګړتیاوو سره تل په جګړه اخته وی او د ژوند په هر اړخ کې د یوه مثبت ژور او بنیادی بدلون د راوستو لپاره هڅه کوی ، نو بیا خو د دغه ډول انقلابی غورځنګ " نهضت " لپاره چې د بشریت د آزادی رسالت پر غاړه لری او د بشریت د اوسنی تورتم او جهالت له تیارو نه ئې د هغوی د را ایستلو هوډ کړی وی " جهاد " یو بیخی بنیادی او ضروری جز دی ، اسلام او جهاد سره په هر ډول حالت کې نوک او وری دی که اسلامي هیواد او یا په سمه او اسلامي اصطلاح ـ دار الاسلام د سولی او امن په حالت کې وی او که د ګاونډیو هیوادونو تر یرغل او حملی لاندی .

کله چې اسلام د امن او سولی نوم اخلی نو هغه امن او سوله دا نه ده چې یوازی دی په دی کې خلاصه شی چې سوله دی په هغه ځای کې وی چې هلته مسلمانان اوسیږی او له ستونزو او کړاوونو دی خلاصی وی .

اسلام چې د کومی سولی او امن غوښتونکې دی هغه دا دی چې په نړۍ کې په بشپړه توګه د الله جل جلاله حکومت ټینګ شی ټول انسانان د هغه د عبودیت سجده پر ځای کړی ، داسی ونه کړی چې د کائناتو د خالق بندګی پریږدی او د ځان په څیر انسانانو مرئیتوب مندری په غوږ کې واچوی .

د نبوت تر زمانی وروسته ، د اسلام د اصولو په هکله د اعتبار وړ پراوونه هغه وروستی پراوونه دی چې په هغوی کې جهاد د الله جل جلاله د

khanlibrary.org



حکم پر اصولو ولاړ و ، د اسلامي دعوت لومړی او منځنی پړاوونه په دی برخه کې د اعتبا وړ نشی کیدای .

د جهاد لومړی او منځنی پړاوونه اوس تیر شویدی او لکه څنګه چې امام بن قیم رحمه الله علیه په خپل کتاب کې لیکلي چې " په پای کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم د سوره برات تر نازلیدو وروسته له کفارو سره دری ډوله پالیسی غوره کړې وه .

لومړی له هغه کفارو سره چې له اسلام سره په جګړه بوخت وو ، دویم هغه چې له مسلمانانو سره یې د سولې ټړونونه درلودل ، دریم اهل ذمه وو ، کله چې سوله غوښتوونکې او معاهدین د اسلام په نور منور شول ، نو یوازی دوه ډلی کفار د هغه په وړاندی پاتی شول ، یو محاربین او دویم اهل ذمه .

محاربین هغه کفار وو چې له هغه صلی الله علیه وسلم نه په ویره کې وو او هر وخت به جګړې ته چمتو وو ، په حقیقت کې د نړۍ ټول انسانان مونږ د اسلام په مقابل کې په دری ډلو ویشلای شو : یو هغه مسلمانان چې په الله جل جلاله او د هغه د استازی په پیغمبری ئې ایمان راوړه .

دویم هغه سوله خوښوونکې کفار چې حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم امن ورکړ ، چې اهل ذمه تری مراد دی ، دریم هغه خلک چې له اسلام نه به تل په ویره کې وو او د جګړې حالت یې غوړه کړی و .

په دغه بحث او څېړنه کې چې له کفارو سره د اسلامي دعوت د برخورد کومې جولې " شکلونه " بیان شویدی ، په منطقی توګه همدغه جولی د دغه دین له مزاج او مقاصدو سره اړخ لګوی ، د حالاتو ناخوالو ځپلی ذهنونو او د مستشرقینو له حملو نه ویریدونکې افکار چې د اسلامي جهاد د نقش او رول کومه تشریح او توضیح کوی ، هغه د اسلام د انقلابی او آزادی ښښونکې دین له مزاج او کړنلاری نه ډیر لری دي .

## د جهاد تدریجی حکمونه

په لومړنیو وختونو کې چې مسلمانانو مدینی ته هجرت ( لیږد ) پیل کړ ، نو الله جل جلاله هغوی ته له کفارو سره د جګړې نه کولو حکم وکړ ، او

khanlibrary.org



مسلمانانو تـــه یی وفـــرمایل : کفوا ایدیکم واقیموا الصلوة واتو الزکوة ( لاسونه مو چاته مه ور اوږدوی ، لمونځ کوی او زکات ورکړی .

وروسته بیا هغوی تـه د جګړې او قـتال حکـم وشـو او داسـی یـی ورتـه وفرمایل : د أُذِنَ لِلَّذِيـــنَ يُقَـــاتَلُونَ بِـــأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيـــرٌ() الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْـــعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَـــرُ فِـــيهَا اسْـــمُ اللَّـــهِ كَثِيرًا وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَنْ يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيـــزٌ()الَّذِيـــنَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ [الحج : ۳۹ - ۴۱]

(هغو کسانو ته د جګړې اجازه ورکړ شوه چې ( کفار ) له هغوی سره جګړه کوی ، ځکه چې پر هغوی ظلم او تیری شویدی ، او یقینا الله تعالی هغوی ته د مرستی او نصرت په ورکولو ډیر ښه قادر دی ، هغه کسان چې له خپلو کورونو نه په ناحقه او ناروا ایستل شویدی ( بله ګناه یی نلرله ) پرته له دی نه چې وایی زمونږ رب ، الله جل جلاله دی ، که چیری الله جل جلاله ځینی خلک په ځینی نورو سره نه دفع کولای نو په دی صورت کې به د راهبانو خلوت خانی د نصاری وو کلیسا ګانی ، او د یهودو عبادت خانی او د مسلمانانو مسجدونه چې د الله جل جلاله نوم پکې ډیر یادیږی وران شوی وای ، الله جل جلاله له هغه چا سره مرسته کوی چې له الله جل جلاله سره مرسته کوی ، الله جل جلاله ډیر ستر توان او قدرت لری ، دا هغه خلک دی چې که مونږ ورته د ځمکې اقتدار وبانبه لمونځونه به کوی ، زکات به ورکوی ، پر نیکیو ( معروف ) به خلکو ته امر او له بدو ( نواهیو ) ځینی به یی منع کوی ، د ټولو کارونو انجام د الله جل جلاله په لاس کې دی ) .

تردی وروسته بله مرحله راغله ، په هغه کې مسلمانانو ته حکم وشو چې هغه خلک چې ستاسو پر ضد توره راپورته کوی له هغوی سره جګړه وکړی .

الله جل جلاله فرمایی :

khanlibrary.org



وَقَـــاتِلُوا فِـــي سَـــبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ [ بقره : ۱۹۰ ]

( د الله جل جلاله په لار کې له هغه چا سره چې له تاسو سره جګړه کوی جګړه وکړی ) .

او په پای کې یی د ټولو مشرکینو پر خلاف په عمومی ډول جګړه فرض کړه او داسی حکم وشو .

وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً [د توبه سورت ۳۹ آیت ]

( له ټولو مشرکینو سره په جګړه او قتال لاس پوری کړی لکه څنګه چې هغوی ټولو له تاسی سره په جګړه او قتال لاس پوری کړیدی)

قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ [د توبه سورت ۲۹ آیت ]

( له هر هغه اهل کتاب [ یهود او نصاری ] سره ( چې پر یوه الله جل جلاله او د قیامت پر ورځ ایمان نلری او هغه څه چې الله جل جلاله او د هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم حرام کړیدی ، حرام نه ګڼی او حق دین ته غاړه نه ږدی جګړه وکړی ، له هغوی سره چې کتاب ورکړ شوی د الله جل جلاله له خوا تر هغه پوری جګړه وکړی چې په خپل لاس په داسی حال کې جزیه درکړی چې خوار او ذلیل وی )

د امام بن قیم رحمه الله د وینا له مخی مسلمانان په لومړی مرحله کې له مشرکینو او کفارو سره له جګړی نه ایسار شوی وو ، بیا وروسته د هغی اجازه وشوه ، تردی وروسته یی د هغه خلکو پر خلاف د جهاد امر وکړ چې لومړی یی په جګړه لاس پوری کړی و او په پای کې د ټولو مشرکینو او کفارو پر خلاف جګړه او جهاد فرض شو .

د جهاد په برخه کې د قرآن واضح او صریح نصوص او همدا رنګه جهاد ته هڅوونکي احادیث او د اسلام د لومړیو وختو جګړی او د اسلامي تاریخ په هره پاڼه کې د جهاد افسانی ، دا ټول هغه واضح او څرګند دلایل دی چې

khanlibrary.org



د دی په موجودیت کې به د هیڅ مسلمان زړه هم د جهاد په هکله هغه تفسیر ونه منی چې د هغو حضراتو د نیمګړی پوهی او ګنجی ذهن محصول دی .

په حقیقت کې د حالاتو کړکیچ او په اسلام باندی د مستشرقینو د مکارانه حملو څپیړو د هغوی د ذهن مخ شین کړی دی او خپله ماتی یی منلی ده ، داسی له عقله پاک به څوک وی چې د الله جل جلاله واضح او صریح احکام هم واوری او ور سره یی د رسول الله صلی الله علیه وسلم صریح اقوال او احادیث هم له نظره تیر شوی وی ، د اسلامي سوبو د تاریخ پاڼی یی هم اړولی وی او بیا هم په دی خام خیالی اخته شی چې د جهاد ټول اصول او احکام عارضی او د وخت او مهال له مصلحت سره سم هدایتونه وو او یوازی هغه برخه یی دایمی حیثیت لری چې د سرحدونو په ساتنی پوری اړه لری .

الله جل جلاله په خپلو هغو آیتونو کې چې د لومړی ځل لپاره یی پر مسلمانانو له کفارو سره د جګړی په برخه کې نازل کړی او هغوی ته یی د جګړی او قتال امر وکړ ، نو دا ئې هم ورته وښوده چې جهاد د دغه دین له فطری او دایمی اصولو نه یو اصل دی او په دنیاوی ژوند کې به د الله تعالی جل جلاله دغه ابدی او مستقل اصول جاری وی ، ترڅو ځینی انسانان له ځینو نورو نه شر او ستم دفع کړی ، چې د الله جل جلاله له ځمکې نه فساد او بدی ورکه شی .

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ() الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَنْ يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا [د الحج سورت ۳۹ -۴۱ ایتونه]

(هغو کسانو ته د جګړی اجازه ورکړ شوه چې ( کفار ) له هغوی سره جګړه کوی ، ځکه چې پر هغوی ظلم او تیری شویدی ، او یقینا الله جل جلاله هغوی ته د مرستی او نصرت په ورکولو ډیر ښه قادر دی ، هغه کسان چې له خپلو کورونو نه په ناحقه او ناروا ایستل شویدی ( بله ګناه یی نلرله )

khanlibrary.org



پرته له دی نه چې وایی زمونږ رب ، الله جل جلاله دی ، که چیری الله جل جلاله ځینی خلک په ځینی نورو سره نه دفع کولای نو په دی صورت کې به د راهبانو خلوت خانې د نصاری وو کلیسا ګانی ، او د یهودو عبادت خانی او د مسلمانانو مسجدونه چې د الله تعالی نوم پکې ډیر یادیږی وران شوی وای ) .

له دی امله چې حق او باطل د یو بل ترڅنګ نشی اوسیدلای نو د دی فرمان موقعیت هم ابدی او همیشنی دی ، د عارضی حالاتو وخت او مهال تابع ندی ، دا یوه همیشنی او مستقله جګړه ده چې د ځمکې پر مخ به د انسان د ازادی اعلان ژوندی ساتی ، له کوم وخت راهیسی چې اسلام د نړۍ پر مخ د ربوبیت پر اصولو د ولاړ نظام د مینځ ته راوستلو اعلان کړیدی او د یوه انسان د غلامی او مرئیتوب له بد مرغی نه ئې د بل انسان د خلاصون لوړه کړیده .

نو له همماغه وخت راهیسی هغو طاغوتی قدرتونو چې د الله جل جلاله پر حاکمیت او د انسان پر ازادی یې ظالمانه منګولی ښخی کړیدی ، د اسلام د پرمختګ په مقابل کې توره په لاس په یوه صف کې دریدلی دی ځکه د دغه ډول ازادی ښښونکې حکومت وجود او مینځ ته راتګ په هیڅ ډول هم نشی زغملای ، په خپله اسلام د الله جل جلاله په وړاندی د دغو باغیانو له مینځه وړلو ته ملا تړلی ده او د مظلومو انسانانو له څټونو نه یی د هغوی د استبداد د زغ په لری کولو کې ډیل نه دی کړی .

د مصطفوی ځراغ د رښا او بولهبی شرارت د تورتم ترمینځ به دا جګړه تر هغه وخته جاری وی او د جهاد سمندر به هم تر هغه وخته څپاندوی چې بولهبی تیاره ورکه شی او محمدی رښا پر ټوله نړۍ خوره شی ، د نړۍ ټول طاغوتان د جهاد د څپانده سمندر څپی د فرعون استوګنځی ته ور ورسوی ، ترڅو د ټولی نړۍ دود او دستور د الله جل جلاله د دین او د ژوند د قانون په ازادی ښښونکې لار روان شی .

khanlibrary.org



## په مکې دوره کې ولی د جهاد بالسیف اجازه نه وه ؟

په مکه کې د جهاد نه کولو دوره د یوی اوږدی مودی د نقشی او پلان لپاره یوه تاکتیکي مرحله وه ، همدغه تاکتیک د مسلمانانو د هجرت په لومړیو وختونو کې تر اجرا لاندی و ، خو له ابتدایی پړاوونه وروسته چې مسلمانانو د جهاد لپاره توری له تیکې را وایستلی نو هغوی سره یوازی دا احساس نه و چې مدینه منوره وساتی ، په دی کې هیڅ شک نشته چې د مدینی د پولو او بریدونو ساتنه به هم د هغوی په نظر کې وه خو دی مسئلی د اسلامي تحریک لپاره له یوی ابتدای حیلی نه زیات ارزښت نه درلوده .

اصلی مقصد نور څه وو ، د دغه تاکتیک اصل هدف دا و چې د اسلامي تحریک د " طلوع مرکز " د کفارو له زیان نه په امن پاتې شی او د دغه کاروان په لار کې خنډونه پیښ نشی ، د انسان د ازادی ستر او عظیم کاروان د هدف لور ته پر مخ ولاړ شی ، هغه ټول دیوالونه چې په دی لاره کې حایل دی له بیخه یی ونړوی ، د مکې دوری په ژوند کې که مسلمانانو د بالسیف جهاد اجازه نه درلودله نو دا خبره څه له عقله لری نه وه او سړی پوهیدای شی چې دا ولی ؟

• ځکه چې په مکه کې د تبلیغ ازادی موجوده وه ، له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه د بنو هاشم د قبیلی نورو دفاع کوله او له همدی امله هغه ته د ازادانه دعوت موقع په لاس ورتلله ، او هغه صلی الله علیه وسلم خپل دعوت او پیغام د خلکو تر غوږ ورسولای شو .

له هغوی نه یی د خپل دین د منلو غوښتنه کولای شوه او د مکې له هر وګړی ســره یی پخپله خبری اتری کولای شوي ، په مکه کې داسی کوم منظم سیاسی قــدرت نه و چې پر تبلیغ دی داسی بندیز ولګولای شي چې خلک یی چور له اوریدو نه بی برخی شي ، نو له همدې امله د اســلامي نهضت لپاره په دغه وخت کې د زور او قوت د کارونی کومه خاصه اړتیا نه پیښیده .

پردی سربیره داسی نور عوامل هم وو چې د دعوت په دغه مرحله کې له جګړې او قتال نه پرته د دعوت د پرمختګ لپاره پکار وو ، دغه ټول

khanlibrary.org



عوامل او لاملونه ما د فی ظلال القرآن ، د أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ آیت په تفسیر کې بیان کړیدی ، د دغه تفسیر د ځینی برخو را اخیستل به دلته بې ګټې نه وي .

دویم لامل : په دغه پراو کې د جهاد بالسیف د نه کولو علت دا هم کیدای شی چې د اسلامي دعوت مرحله په یوه مخصوص او ځانګړی چاپیریال ، مخصوص نوم ، او ځانګړو حالاتو په بهیر کې د وګړو د روزنې او استعدادونو د رابرسیره کولو مرحله وه .

په داسی یوه ماحول کې روزنه او د استعدادونو راټولول د ګټو مقاصدو لپاره یو ضروری کار و ، چې له هغې نه یو مقصد دا هم و چې یو عرب انسان داسی وروزل شی چې هغه خبری او حالات وزغملې شی چې د هغې له زغم او سهلو سره نا اشنا و .

د ساری په توګه شخصا په خپل ځان او په هغو کسانو چې د ده په حمایت کې دی ، د بل چا له خوا د تیری او ظلم زغمل او په ډیر صبر او زغم د داسی حالاتو له توغه وتل ، د دې لپاره چې د خپل شخصیت د پرستش " پالنې " او نفس له غلامی او مرئیتوب نه آزاد شی ، ترڅو د ده په ژوند کې یوازی له ځانه دفاع او یا د خپلو حلیفو ساتنه د ده د ژوند د ټولو مصروفیتونو او محرکاتو یوازینی چورلیځ ونه ګرځی .

له بل پلوه هغه ته د ضبط نفس او د ځان د کنترول روزنه ورکول کیده ، د دی لپاره چې دغه سړی لکه څنګه چې دده طبیعت دی ، د کومې نا دودی په اوریدو بې حوصلې او بې واکه نشی او د هیڅ ډول هیجانی پېښې په لیدو ئې لاس د توری موټی ته ور اوږد نشی .

بلکه د دی پر ځای باید د ده په ټولو حرکاتو ، سکناتو او مزاج کې پوره اعتدال ، وقار او شان وشوکت څرګندوی ، هغه ته دا روزنه هم ورکړای شی چې هغه د یوی داسی ډلې د دسپلین له پابندی سره ځان روږدی کړی چې نهایت منظمه وی ، ځکه چې د یوه ستر لارښود د مشرتابه ویاړنې په برخه دی .

khanlibrary.org



د ژوند په هر دود دستور ، او کاروبار کې دوی هماغه رهبر ته رجوع کوی ، د دوی هر ډول کړه " افعال " باید د رهبر د احکامو آئینه وی ، پرته له دی چې دا په نظر کې ولری چې دا حکم د ده له طبیعت ســره جوړ دی ، که نه ؟

په مکې دوره کې د یوه عرب د خوی د اصلاح او روزنی لپاره پورتنی مسایل د بنسټ ډبری وی ، مقصد دا و چې د لوړو خویونو ، پتمن وګړی راټول کړای شی او یوه داسی اسلامي ټولنه مینځ ته راولی چې د رهبر د ورځو په اشاره د هدف په لور روان شی پر مختللی او مهذبه وی ، له وحشیانه ، قبایلی مفاسدو نه پاکه او منزه وی .

درېیم لامل : په دغه مرحله کې د جهاد بالسیف دعوت نه کولو یو لامل دا هم کیدی شی ، چې د قریشو ټولنه د قومی افتخاراتو او نسبی شرافت او له نورو نه د برتری له احساس نه ډکه ټولنه وه ، په دغه ډول یوه چاپیریال کې له امنه ډک دعوت او سوله ئیز چلند ښه اغیزه لری تردی چې سړی توری ته لاس کړی .

نو له همدی امله په دغه پراو کې د جګړې او توری له لاری دعوت خپرول د لا زیاتو دښمنیو او میرځیو اور ته ببوزی وهل و ، او د عربو ترمینځ د نورو دښمنیو او د وینی بدل اخیستو تخم شیندل وو .

په عربو کې له پخوا راهیسی د وینی د بدل اخیستو دود روان و چې له همدی امله یی د " دا حس ، غبراء او سیوس " د جګړو لمبی تر ډیرو کلونو پوری مړه کیدو ته پری نښودلی ، تر هغی چې ډیر ټبرونه په کې له مینځه لا نړل ، د وینی د بدل اخیستلو نوی جذبی به د هغوی په زړونو کې د اسلام له نامه سره یو ځای نقش شوی وی او دا نوی دښمنی به یی د اسلام محصول ګڼلی ، چې بیا به دا اور هیڅکله هم نه وای مړ شوی .

په نتیجه کې به اسلام د یوه جهانی دعوت، او دین پر ځای د بی پایه خونړویو جګړو او قومی دښمنیو په احساس بدل شوی وای ، او د هغه بنیادی تعلیمات به له هماغه پیل نه خلکو د فراموشی کندی ته غورځولی وای ، په آینده کې به یی هیڅکله هم بیا د ژوند هیله نه وای پیدا شوی .

khanlibrary.org



څلورم لامل : دا هم کیدای شی چې په دغه وخت کې جهاد بالسیف د کورنیو شخړو د مخنیوی لپاره منع کړای شوی وئ ، په دغه وخت کې په مکه کې کوم منظم سیاسی قدرت نه و چې ایمان راوړونکو ته سزا ورکړی او یا نور ډول ، ډول کړاوونه پرې تیر کړی .

دغه کار د هر مؤمن د کورنی مشر کاوه ، هر مؤمن به د خپلی کورنی له مشر نه په کړاو اخته و او هغه به هم فکر کاوه چې د خپلی کورنی د کوچنی غړی د تادیب او تعذیب حق لری ، نو په دغه ډول یوه فضا کې واضحه خبره ده چې د جګړی او قتال اجازه دا معنی لری چې په هر کور کې د پلار او زامنو او ورونو او نورو خپلوانو ترمینځ جګړه پیل شی چې په دی توګه د کورنیو جګړو یوه نه شلیدونکې لړی ( سلسله ) پیل کیدله .

د اسلام دښمنانو ته به دا ښه موقع پلاس ورغلی وای چې ووایی : " دغه دی اسلام " ! او په واقعیت کې خو دا خبره د اسلام په باره کې هغه وخت شوی هم وه ، سره له دی چې اسلام په هغه وخت کې له کفارو سره جګړه او قتال روا کړی نه و .

خو قریشو به د حج په موسم کې د لیری ځایونو عربو ته چې د حج او تجارت په نیت به راغلی وو ، ویل چې " محمد صلی الله علیه وسلم نه یوازی دا چې د خپل قوم په مینځ کې تفرقه اچوی ، د پلار او زوی ، ترمینځ بیلتون راولی " ، قریشو به دا اعتراض هغه وخت کاوه چې مسلمانانو ته د هغوی په مقابل کې د توری را ایستلو اجازه نه وه شوی .

خو که چیری په ربښتیا سره اسلام ، زوی ته د پلار د سر وهلو او غلام ته د بادار د قتل امر کړی وای او په هر کلی او کور کې دا محاذ پرانیستل شوی وای نو بیا به مغرضینو څه ویل او عملا به د اسلام څه حال شوی وای ؟

پنځم لامل : دا علت هم کیدای شی چې الله جل جلاله په دی پوهیده چې د اسلام زیاتره مخالفین چې په اوله کې به ئې مسلمانان له ډول ډول کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کول او په دغه لار کې به یې پری د هر ډول ستونزو زغملو ازمیښتونه کول .

khanlibrary.org



یوه ورځ به خپله د اسلام مخلص سر تیری شی ، او ان تردی چې د رهبری تر مقام پوری به ورسی ، ایا عمر بن خطاب رضی الله عنه د همدغه ډول خلکو له ډلی نه نه و ؟ آیا د اسلام له منلو وروسته چې هغه کومی درجی او مرتبی ته ورسیده هغه څرګندونی ته اړه لری ؟

شپږم لامل : دا علت هم کیدای شی چې د عربو او په تیره بیا په قبایلی چاپیریال کې په فطری توګه له مظلوم نه په دفاع راولاړیږی ، هغوی ظلم او تیری زغملی خو شی ، خو تیښته او په شا تګ نه پیژنی ، د عربو دغه د همت او غرور سمندر هغه وخت زیات توپانی کیږی چې دغـــه ډول ظـــلم او تیری د دوی اشـــرافو او سپین روبـــو تـــه متوجه وی ، د مکې پـــه ماحول کې داسی ډیـــری پیښی مینځ ته راغلـــی دی چې زمونږ د خبری ریښتینوالی جوتوی .

د مثال په توګه کله چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه غوندی ډروند او پتمن انسان د مکې پریښودلو او کوم بل ځای هجرت کولو ته اړ شو نو " ابن الدغنه " دغه خبره نه شوه زغملی او هغه یی له هجرت نه ایسار کړ ، ځکه هغه دغه مسئله د عربو له پاره ننګ او عار ګڼله ، نو له دی امله هغه له حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه دا غوښتنه وکړه چې ته به زما په حمایت کې یی زه پناه درکوم خو ځه مه !

د داسی پیښو بل ښه مثال د هغی وثیقی څیرول دی چې په هغی سره د بنو هاشم قبیلی د ابو طالب پر کورنی باندی د خوراک څښاک او نورو اړتیاوو بندیز لګولی و ، خو کله چې د هغوی ولږه او تنده زیاته او نوری له حوصلی نه د دغو ستونزو زغمل بهر شوی وو او د عربو ځوانان په دی خبر شول نو هغوی د همدردی او زړه سوی د جذبی او احساس تر اغیزی لاندی دغه وثیقه ټوټه ټوټه کړله .

دغه ډول نخوت او غرور د عربو ځانګړی او امتیازی صفت و ، په داسی حال کې چې د پخوانیو تهذیبونو خلک چې د انسانانو له سپکاوی او تذلیل سره روږدی وو ، په دغه ډول مسایلو کې له سرچپه چلند سره مخامخ کیږی ، ځکه هلته هغه څوک چې د ظلم او تیری په مقابل کې زغم

khanlibrary.org



او تحمل ښیی ، د خپل چاپیریال د انسانانو له خوا د هغه زغم او تحمل ته په درناوی نه کتل کیږی ، بلکه لا یی سپکوی ، نو پر ځای یی د ظالم درناوی او احترام کوی ، خو په عربو کې برعکس د مظلوم پر خوا دریږی .

اووم لامل : په دغه وخت کې د جهاد نه فرض کیدو یو علت د مسلمانانو د شمیر کموالی هم کیدای شی هغوی یوازی په مکه کې وو ، او اسلامي دعوت وړانګو لا تر دغه وخته پوری د عربو نوری سیمی نه وی روښانه کړی ، یوازی د ګډو وډو خبرونو په واسطه شا وخوا سیمو ته د دغه نهضت د خپریدو او پاځون ازانګی ور رسیدلی وی .

نورو قبایلو داسی فکر کاوه چې دا مسئله د قریشو خپله کورنی مسئله ده ، نو ځکه یی په کې لاسوهنه نه کوله ، او وروستی پریکړی ته منتظر وو ، نو که په دغه وخت کې جهاد پر مسلمانانو فرض شوی وای ، دغه جګړه به ضرور د دغه کم شمیره مسلمانانو په ورکیدو پایته رسیدلی وای .

که مسلمانان هر څومره تورزن شوی وای او هر یو څو څو کسه وژلی وای بیا به هم دغه جګړه د نړۍ له مخ نه د دوی په بیخی ورکیدو پایته رسیدلی وای او د شرک ځیلی به په خوری شوی وای ، د اسلامي نظام د پاځون ستوری به د نړۍ په تور اسمان کې نه وای ځلیدلای او هیڅکله به د دغه نظام د عملی وجود پسرلی نه وای راغلی ، په داسی حال کې چې هغه د دی لپاره مینځ ته راغلی و چې د انسانی ژوند د مانی عملی نقشه د هغه پر بنسټ ودانه شی .

## مدینی ته د هجرت په لومړیو ورځو کې د جهاد اجازه ولې نه وه ؟

د مدینی د ژوند په پیل کې هم له کفارو سره د جګړی اجازه او امر نه و شوی ، د دی لامل دا و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینی له یهودو او هغو عربو سره چې د مدینی شا وخواته میشته وو د سولی ټرون کړی و ، هغوی تر اوسه پر خپل شرک ولاړ وو ، د هغه دغه اقدام په حقیقت کې د دغه نوی پراو فطری غوښتنه وه او د هغی ښیګړی دا وی چې :

لومړی خو دا چې په دغو سیمو کې د تبلیغ او تلقین لپاره لار پوره اواره نه وه ، هلته هیڅ ډول سیاسی قدرت نه و چې د مسلمانانو په تبلیغ او

khanlibrary.org



تلقین او دغو سیمو ته په تګ راتګ څه ښندیز ولګوی ، د شا وخوا ټولو اوسیدونکو د مسلمانانو دغه نوی جوړه شوی ټولنه په رسمیت وپیژندله او د هغی د سیاسی او ټولنیزو مسایلو د حل لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مشری ټول یوه خوله شوی وو .

د سولی په پورتنی ټرون کې دا خبره څرګنده وه چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له اجازی نه پرته هیڅوک هم د سولی د ټرون د لاسلیک کولو او یا د جګړې د امر ورکولو او یا نورو اړیکو ټینګولو حق نه لری ، دا حقیقت د لمر په څیر روښانه و چې د مدینی منوری اصلی سیاسی قدرت د مسلمانانو په لاس کې و ، له همدی امله د اسلامي دعوت لپاره لاری پرانیستل شوی وی ، د عقیدی ازادی موجوده وه او خلکو به چې هره عقیده غوښتله هغه یی منلی شوای ، هیڅ ډول سیاسی قدرت هغوی ایسارولی نشول .

دویم دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم غوښتل چې په دغه وخت کې له نورو شخړو نه ځان وژغوری او یوازې له قریشو سره خپله وروستی پریکړه وکړی ، ځکه چې د قریشو مخالفت د نورو قبایلو په مینځ کې د اسلام د خپرولو لپاره خنډونه پیښول نور قبایل په دی فکر کې وو چې د قریشو ترمینځ به دغه مسئله کومی نتیجی تـه ورسیږی ، د دغی موضوع په نظر کې نیولو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم بی له دینه چې وخت ضایع کړی ، یوه خوا او بله خوا تـه یې د جنګی ټولیو ( سرایا ) په لیږلو پیل وکړ .

تر ټولو لومړی جنګی ټولی ( سریه ) چې ولیږل شو ، د حضرت حمزه بن عبدالمطلب په مشری وه دغه وخت د هجرت شپږمه میاشت او روژه وه ، تر دغه ټولی وروسته پرله پسی څو ټولګی نور هم ولیږل شول ، یوه ډله د هجرت د نهمی میاشت بله د دیارلسمی میاشت او دریمه ډله د هجرت د شپاړلسمی میاشت په پیل کې ولیږل شوه .

کله چې د هجرت اوه لسمه میاشت پیل شوه نو د عبدالله بن جحش په مشری یوه " سریه " ولیږل شوه ، د لومړی ځل لپاره د دغی سر یې په لیږلو

khanlibrary.org



خونړی جګړه پیښه شوه آن تردی چې خبره جګړی اوویني تویولو ته هم ورسیدله ، دغه جګړه د حرام ( رجب ) په میاشت کې پیښه شوه .

د دغی جګړی په هکله لاندینی آیتونه نازل شول :

يَسْأَلُونَكَ عَنْ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيلِ اللَّـــهِ وَكُفْرٌ بِهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِ مِنْهُ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنْ الْقَتْلِ[بقره : ۲۱۷]

( له تا نه به د حرام د میاشتی او په هغی کې د جګړی په هکله پوښتنه کوی ، ورته ووایه چې جګړه په دی میاشت کې ستره ګناه ده ، خو د الله جل جلاله د لاری بندول ، له هغه سره کفر کول او د حقایقو پټول او له مسجد الحرام نه د خلکو شړل او د " حرام " له ښار نه د اهل حرام ایستل د الله جل جلاله په نزد تر هغی لا ستره ګناه ده ، او فتنه وفساد تر وژلو هم بد دی )

بیا د هجرت په دویم کال کې د بـدر ستره جګړه پیښه شـوه ، د روژی او انفال د سـوره د نازلیدو میاشت وه چې د بدر پـه جګړه پـه کې تبصره شوی وه .

که د دغو حالاتو په رڼا کې د اسلامي نهضت دریځ ته په غور وکتل شی ، نو نور به د دی خبری لپاره په کې هیڅ ځای پاتی نه وی چې د اسلامي نهضت د " جهاد " د اصل مفهوم او معنی په محدوده او تاکلی بڼه د اوسنی پیړی د " مدافعانه جګړی " معنی نه ښندی .

د جهاد د اصل لپاره په حقیقت کې دغه محدوده معنی د "سر وسترګیو" ( مجازا کمونستان ) د ایښودونکو حضراتو او همدا رنګه د مستشرقینو د عیارانه حملو په مقابل کې د مریی ذهنه او ماتی خوړلو مفکرینو د مریې قلم محصول معنی ده .

که نه نو حقیقت دا دی چې جهاد د اسلامي حرکت لومړنی پوړی ، اصل او بنسټ دی ، چې د اسلامي نهضت د پرمختګ متضمن دی .

هغه څوک چې د اسلام د بی ساری پرمختګ او سوبو عوامل د اسلام د خالصو " مدافعانه جګړو " نتیجه بولی او بیا د خپلی نظریې د پخلی لپاره هلی ځلی کوی ، په حقیقت کې د اسلام " دغه خواخوږی " څیړونکې !!! د

khanlibrary.org



مستشرقینو ظالمانه او ناروا حملو ته تسلیم شوی دی ، هغوی اوس پر اسلام داسی حملی کوی او وایی چې نه د اسلام هغه تیر برم پاتی دی او نه ورسره د مسلمانانو هغه ډول مینه چې بیرته یی هغه برم ته ورسوی چې د پیړیو په پوړیو کې یی ساری په تاریخ کې نه لیدل کیږی .

خو له دې نه نا خبره دی چې الله جل جلاله تل د خپل دین د ساتنی لپاره ضرور داسی یوه ډله د دغه ډول ذهنی غلامی نه خوندی ساتی ، چې هغوی په دی ګروهه وی چې اسلام " یعنی دا ابدی او همیشنی پیغام " به د ځمکې پر مخ د ټول بشریت لپاره د انسان د اقتدار زغ مات کړی او له اسلامي قدرت او حکومت نه پرته به د هر ډول تیری او استبداد زنځیرونه وشلوی .

د مسلمانانو د ژوند اصول او قوانین به د الله جل جلاله له فرمان سره سم کړی ،له دغو کم شمیره خلکو نه پرته نور ټول دا هڅه کوی چې د اسلامي جهاد لپاره اخلاقي وجوهات را پیدا کړی ، چې معترضین پری ډاډه کړی ، خو افسوس د دوی په حال او خاوری دی په خوله وی ، د اسلامي جهاد د حقانیت لپاره د قرآن له نصوصو نه بل اخلاقي او قانونی سند چیرته پیدا کیدای شی او نه ورته ضرورت شته .

قرآن کریم په دی هکله فرمایی :

فَلْيُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يَشْرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ وَمَنْ يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيُقْتَلْ أَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا()وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا()الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا [النساء : ۷۴ - ۷۶ آیتونه]

( نو " د الله جل جلاله په لار کې باید هر هغه څوک جګړه وکړی چې د دنیا په مادی ژوند سره یی د آخرت ژوند اخیستی دی ، او هر هغه څوک چې د الله جل جلاله په لار ( جهاد ) کې مړ شی او یا سوبه وکړی ، ډیر ژر به مونږ

khanlibrary.org



هغه ته ستر اجرونه ورکړو ، آخر ولی تاسو د الله جل جلاله په لار کې جهاد نه کوی ، د هغو کمزورو ، ناتوانو ، ښځو او نارینه وو او ماشومانو لپاره چې ظلم پری کیږی ، بی وسی دی او ناری فریاد کوی چې خدایه ! مونږ له دغی سیمی او کور وکلی نه چې اوسیدونکي یې ظالمان دی وباسه ، او له خپلی خوا نه مونږ ته څوک حامی راولیږه او له خپلی خوا نه مونږ ته مرستیال راولیږه ، هغه څوک چې مومنان دی د الله جل جلاله په لار کې جګړه کوی او هغه څوک چې کافران دی د شیطان او طاغوت په لار کې جګړه کوی ، نو ای مؤمنانو ! د شیطان له ملګرو سره جګړه وکړی او باور ولری چې شیطانی چلو نه ډیر کمزوری دی ) .

قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ وَإِنْ يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّةُ الْأَوَّلِينَ() وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنْ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ()وَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَوْلَاكُمْ نِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ [ انفال : ۳۸ - ۴۰]

( ای رسوله ورته ووایه هغوی ته چې کافران دی که اوس هم له کفر نه لاس واخلی هغه څه چې تاسی مخکې کړی دی هغه به در وبښل شی ، خو که چیری خپلو پخوانیو عادتونو ته ور وګرځی ، نو له تیرو قومونو سره چې الله جل جلاله څه کړیدی هغه ټولو ته څرګند دی ، او جګړه وکړی له کفارو سره تر هغی چې د ځمکې پر مخ د فساد نوغی " د کفر غلبه " پاتی نشی او دین ټول د الله جل جلاله لپاره شی ، که چیری هغوی له کفر نه لاس واخیست نو الله جل جلاله په هغه څه چې هغوی یی کوی بینا دی ، که هغوی د الله جل جلاله له دین نه مخ وګرځوی نو په دی پوه شی چې الله جل جلاله ستاسو مل او مرستیال دی ، چې تر ټولو ښه مل او مرستیال دی ") .

قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّى يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ() وَقَالَتْ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتْ النَّصَارَى الْمَسِيحُ

khanlibrary.org



ابْنُ اللَّهِ ذَلِكَ قَوْلُهُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَبْلُ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ()اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ()يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ [ توبه - ۲۹ - ۳۲ آیتونه]

( ای مؤمنانو ! له هغه چا سره جګړه وکړی چې نه په الله تعالی ایمان لری او نه د آخرت په ورځ ، هغه څه چې الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم حرام کړیدی حرام یی نه ګڼی ، او حق دین ته غاړه نه ږدی ، له هغو سره جګړی وکړی چې د الله تعالی له جانبه ورته کتاب رالیږل شویدی ، تر هغی چې ماتی ورکړی ، خوار او ذلیل شی او په خپل لاس جزیه ورکړی ، یهودو ، وویل چې [عزیز ] د الله جل جلاله زوی دی او عیسویان. وایی چې مسیح د الله جل جلاله زوی ، په دغو له حقیقته لری خبرو چې دوی یی وایی ځانونه یی له هغو خلکو سره مشابه کړل چې له دوی نه مخکې په کفر مبتلا شوی وو ، الله جل جلاله دوی هلاک ( لعنت ) کړل چې بیا هم کفر ته ګرځیدلی وو ، خپل عالمان او عابدان یی له حقیقی الله جل جلاله نه پرته په خدایې نیولی وو ، او همدا مقام یی مسیح بن مریم ته هم ورکړ ، په داسی حال کې چې د الله تعالی جل جلاله له خوا ورته د یوه الله تعالی د بندګی کولو حکم شوی و ، له هغه نه پرته بل معبود نشته ، هغه ذات له هغه څه نه چې دوی یی ورسره شریکوی بالکل پاک او منزه دی ، دوی غواړی چې د الله جل جلاله د نور ډیوه په خپلو پوکیو ( خولو ) مړه کړی ، او د خپریدو مخه یی ونیسی ، خو الله جل جلاله به خپل نور تمام او کامل ( خپور ) کړی ، که څه هم پر کافرانو سخته تمامه شی) .

د جهاد د وجود ، وجوهات او محرکات چې په پورتنیو آیتونو کې بیان شویدی هغه دا دی : په نړۍ کې د الله جل جلاله د الوهیت بیرغ راپورته کول ، د بشری ټولنی د ژوندانه د دود په برخه کې د اسمانی او حقانی

khanlibrary.org



اصولو عملی کول او د ټولو شیطانی قوتونو او شیطانی اصولو او قوانینو له منځه وړل ، د انسان د باداری پای ته رسول ، چې نور انسانان د خپلی غلامی په زنځیرونو او زولنو کې مرئیتوب ته راکاږی .

حال دا دی چې انسان یوازی د الله جل جلاله بندګی کولای شی او له هغه نه پرته بل چا ته دا حق حاصل نه دی چې هغوی انسانان د خپلی ګیډی او رنځورو اذهانو د قانون تابع وګرځوی او د خپل شخصی نظر او هوا وهوس ، شریعت پری ومنی .

پورتنی وجوهات او عوامل د " جهاد کولو " لپاره کافی دی د دی ترڅنګ باید د دغه اصول پابندی هم وشی چې لا اکراه فی الدین ( د دین په منلو کې اکراه نشته ) یعنی په خپله خوښه د دین منل او په دی خبره پوره پوره اقرار کول چې د بندګانو د تسلط او اقتدار له خلاصون نه وروسته به د الله جل جلاله د تسلط او اقتدار بیرغ پورته وی ، یا په بله وینا د ژوند په هر اړخ کې به د الله جل جلاله قانون چلیږی ، یو انسان به حتی دیته هم نه اړ کیږی چې اسلام په زوره ومنی .

که تاسو د جهاد په پورتنیو وجوهاتو او عواملو غور وکړی نو نتیجه به دا وی : د کوم هدف لپاره چې اسلام د جهاد بیرغ راپورته کړی دی ، هغه په بشپړه توګه په نړۍ کې د انسان د حقیقی ازادی اعلان دی ، دا ازادی هغه وخت خپلی بشپړتیا ته رسیدلی شی چې انسان د انسان له بندګی نه خلاص وی ، او د الله جل جلاله د بندګی په پراخه ماحول کې ورننوځی چې د خلاصون یوازینی ماحول دی او هیڅ ساری نلری ، ایا د جهاد کولو لپاره یوازی همدغه ستره موخه " هدف " سند کیدای نشی ؟

په هر صورت کې په قرآن کې چې د جهاد کوم عوامل او مقاصد بیان شویدی هغه به هر وخت د مسلمانانو مجاهدینو د پاملرنی وړ وی هیڅکله به هم داسی پیښه نه وی شوی چې له مسلمان مجاهد نه پوښتنه وشی چې ته د څه لپاره جهاد کوی او هغه دی ووایي چې : " زمونږ د وطن بریدونه د دښمنانو د یرغل له خطر سره مخامخ دی ، مونږ د هغی د ساتنی لپاره راپورته شوی یو " .

khanlibrary.org



یا " پر مونږ مسلمانانو د فارس او روم له خوا ظلم او تیری شویدی او د هغی د مخنیوی لپاره جهاد کوو" یا " مونږ غواړو چې د خپل هیواد بریدونه پراخه کړو ، چې زیات غنایم او ولجی په لاس راشی " !! د پورتنیو ځوابونو په خلاف به د اسلامي مجاهد ځواب هغه وی چې ربعی بن عامر ، حذیفه ابن محصن او مغیره بن شعبه د قادسیه په جګړه کې د فارس د لښکرو سپه سالار ، رستم ته ورکړی وو .

رستم له جګړی نه دری ورځی مخکې پرله پسی له دغو درو تنو مجاهدینو نه بیلا بیل همدا یوه پوښتنه کوله چې کومی هڅی او خواهش تاسو دلته راوستی یی ؟ خو د هغوی ټولو همدا یو ځواب و چې :

" الله جل جلاله پر مونږ حکم کړی دی چې د نړۍ ټول انسانان د ځان په څیر انسانانو له مرئیتوب ، بندګی ، ذلت او خواری نه وژغورو او د الله جل جلاله د بندګی او عبادت ویاړ وربښو ، هغوی ته د دنیا له تنګی نه د دنیا د وسعت او پراختیا په لور لارښوونه وکړو .

د ادیانو د ظلم له تورتم نه یی د اسلام د عدل د رڼا په لور سم کړو ، د دغه پاک مقصد لپاره الله جل جلاله خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم له عادلانه دین سره خپل مخلوق ته راولیږه نو هغه څوک چې زمونږ دغه دین ومنی مونږ هم د هغه اقرار منو او بیرته ګرځو، د هغوی هیواد هغوی ته سپارو او هغه څوک چې زمونږ له دین نه سرغړونه کوی له هغه سره جګړه کوو ، تر هغی مو چې د خپل شهادت په بدل کې جنت نصیب شی او یا سوبمن شو .

## د جهاد یو بل فطری لامل

د جهاد پر نورو خارجی وجوهاتو او محرکاتو سربیره د جهاد د جواز یو بل قایم الذات لامل هم شته دی ، چې په خپله د دی دین په خټه او فطرت کې اخښل شوی دی ، د هغه د انسانی ازادی په هر اړخیز غوښتنه کې نغښتی دی ، دغه دین لکه څنګه چې د انسانی ژوند له عملی حالاتو او شرایطو سره د وخت او زمان د غوښتنی له مخی د نورو وسایلو او ذرایعو

khanlibrary.org



په واسطه څنګ په څنګ روان دی او د ژوند په ټاکلو پړاوونو کې په هره مرحله کې د وخت له غوښتنو سره سم کار کوی .

نو په خپله د دغه دین دغه حقیقت خوښوونکې کړنلاره د جهاد د طبیعی والی او فطری والی څرګندونه کوی ، د جهاد لپاره دغه وجه د اسلامي دعوت له پیل نه پیدا کیږی او په دی شرایطو پوری اړه نلری چې پر اسلامي هیواد او یا یی اوسیدونکو باندی د بهرنی حملی ویره شته او که نه ؟ د جهاد د دغه سبب مینځ ته راوړونکې د وخت او حالاتو له غوښتنی سره سم دفاعی جګړی یا اضطراری حالات نه دی ، بلکه د دغی علت مینځ ته راوړونکې هغه بی خدایه ، طاغوتی ټولنی او قدرتونه دی چې په هغوی کې له یوی خوا د اسلامي دعوت لپاره عملی ستونزی او کړکیچونه را پیدا کیږی .

له بلی خوا په خپله د اسلام د ژوند ځانګړی دود او په عملی ژوند کې د اسلام رول او د هغه دعوت ، دا ټول د جهاد ، دغه طبیعی او فطری وجه او علت مینځ ته راوړی ، له بل پلوه دا په خپله هم د جهاد په حقانیت کې یو ستر دلیل دی چې یو مسلمان د الله جل جلاله په لار کې په سر و مال جهاد کوی ، د هغو انسانی او اسمانی اصولو د پرمختګ او عملی کولو لپاره جهاد کوی چې د ده شخصی ګټه په یوه کې هم نشته او نه داسی کوم بل لامل چې مجاهد دی جهاد ته وهڅوی .

کله چې یو مسلمان د جهاد لپاره راپورته کیږی او د جګړی په میدان کې قدم ږدی نو له دی نه مخکې دی یو بل ستر جهاد پیل کوی ، په دغه جګړه کې د ده حریف د ده " د نفس شیطان " وی ، د هغه د هوا وهوس غوښتنی وی ، ښکلی ارزوګانی او خیالونه وی ، شخصی ګټی وی ، د خپل قوم ، خپلوانو او کورنی ګټی وی ، لنډه دا چې د ده جګړه او مقابله له هر هغه مفهوم سره وی چې د اسلامي اصولو خلاف وی .

د ده جګړه د ده د نفس له هر هغه احساس او جذبی سره وی چې د الله جل جلاله له بندګی سره بډوالی ( تضاد ) لری ، او په نړۍ کې د الهی حکومت د پاڅون ( قیام ) او د طاغوت او اله وو په ورکولو کې خنډونه پیښوی .

khanlibrary.org



## د اسلام له نظره د وطن ساتنی اصلی محرک :

هغه څوک چې اسلامي جهاد یوازی د " اسلامي هیواد " په ساتنه او دفاع پورې اړوند ( مربوط ) ګڼی او وایي چې پرته له دی جهاد جواز نلری ، دغه ناخبره ډله په حقیقت کې د اسلام د ژوند دود له عظمت ، او لویوالی نه ناخبره دی او غواړی چې هغه بی ارزښته وښیی .

د دوی په نظر د اسلام د ټولنیز ژوند دغه ایمانی اصول او کړنلاره دومره اهمیت او ارزښت نلری ، لکه څومره یی چې " وطن " لری ، د هیواد د مسئلی او داسی نورو عواملو په باره کې د اسلام نظر هغه ډول نه دی لکه څنګه یی چې دا ښاغلی وړاندی کوی .

د دوی دا نظر د اوسنی پیړی سوغات دی ، دغه نظر د اسلامي شعور او اسلامي ښوونی او روزنی لپاره بالکل نا اشنا او بیګانه نظر ذی ، د اسلامي تعلیماتو له مخی د جهاد د کولو په برخه کې اصلی اعتبار د اسلامي ګروهی ساتنه ده ، یا د هغه ټولنیز ژوند دود ساتنه ده چې د دغی ګروهی عملی تفسیر یې وړاندی کوی او پر همدی بنسټ ولاړه ده ، یا د هغی ټولنی ساتنه ده چې هلته د ژوند چاری د همدی قانون " دوی " له مخی روانی وی .

هیواد په خپل ذات کې د اسلامي نظریې پر اساس کوم خاص ارزښت نلری ، د اسلامي تصوراتو پر اساس که " وطن " ته کوم شی شرف او عظمت وربښلی شی او هغه با ارزښته کولای شی ، هغه یوازی دا خبره ده چې هلته د الهی حکومت بیرغ رپیږی او د الله جل جلاله رالیږل شوی نظام هلته نافذوی ، دغه ډول سیمه چې د نړۍ په هر ګوټ کې وی د ټولو مسلمانانو هیواد دار الاسلام دی .

تر دی وروسته " وطن " د اسلامي ګروهی لپاره کلا او د اسلامي ژوند دود جلوه ګاه ، د اسلام او مسلمانانو کور " دار الاسلام " دی په پای کې د انسان د ریښتونی او بشپړی ازادی د تحریک او نهضت مرکز دی ، بی له شکه له " دار الاسلام " نه دفاع په خپله له اسلامي ګروهی نه دفاع ده .

khanlibrary.org



د اسلامي نظام ژوند دود او د هغې له نماینده ټولنې نه دفاع ده ، یو دفاع د جهاد اصلي او وروستي موخه ( هدف ) نه ده ، او نه د " د دار الاسلام " ساتنه د اسلامي جهاد د نهضت اصل هدف دی ، په حقیقت کې د دار الاسلام ساتنه د الهی حکومت د قیام او پاڅون یوه ذریعه ده ، بله خبره دا ده چې له دار الاسلام نه یو داسی مرکز جوړ شی چې له هغه نه د اسلام ځلنده وړانګی د نړۍ ګوټ ګوټ روښانه کړی او د انسان د ازادی اعلان د نړۍ پر مخ د هر بشر غوږونو ته ورسیږی ، دا خبره مونږ د مخه هم کړی ده چې د اسلام موضوع " انسان " دی نو له دی امله د اسلام د کار ډګر د ټولې نړۍ مخ دی یا په بله وینا هر چیرته چې انسانان اوسیږی .

## جهاد د اسلام فطری اړتیا ده

لکه څنګه مو چې مخکې وویل په نړۍ کې د اسلامي حکومت د پاڅون او قیام په لار کې ډیر مادی قدرتونه خنډ کیږی ، سیاسی قدرت ، ټولنیز نظام ، د خلکو کلتور ، لنډه دا چې ټول انسانی ماحول په دغه لار کې خنډونه پیښوی ، اسلام د دغو ټولو خنډونو د لرې کولو لپاره دیته اړ دی چې مبارزه او جهاد وکړی .

تر هغې چې د اسلام او انسانانو ترمینځ کوم خنډ پاتې نشی او اسلام وکړلی شی چې په ازاده فضا کې د انسان روح او عقل ته خپل دعوت وړاندی کړی ، انسان چې د نورو له مرئیتوب نه خلاص وی ، نو کولای شی چې کومه خبره او نظریه یی خوښه وی ، په خپله خوښه یی د منلو او نه منلو پریکړه وکړی .

د اسلام پر جهاد چې مستشرقینو کومی ناروا حملی پیل کړیدی هغه باید مونږ ونه ویروی او نه مو تیر باسی ، دا خبره هم باید زمونږ د بی صبری او کمزوری سبب نشی چې د وخت او حالاتو سمندر زمونږ پر خلاف بهیږی او د دنیا ستر ځواکونه ( قدرتونه ) هم زمونږ پر خلاف دی .

د مبارزی په دغه ډګر کې باید زمونږ پښې ونه ښویږی ، باید په پوره متانت د خپل ثبات بیړۍ د حالاتو په دغه توپانی سمندر کې د ارمانونو ساحل ته ورسوو ، دا ټولی خبری باید داسی نه وی چې مونږ دومره متاثر

khanlibrary.org



کړی چې د اسلامي جهاد د جواز عوامل د دغه دین له حقیقت او فطرت نه بهر ولټوو ، او په دی هڅه کې شو چې جهاد یو دفاعی ضرورت او د وخت او حالاتو غوښتنه ده .

د جهاد مشال رونې دی ، او لا پسی رونې به وی ، که د دفاعی اړتیاو ـ : وخت او حالاتو غوښتنه وی او که نه ، که مونږ د اسلامي تاریخ په پوړیو کې د جهاد په فصل له پیله تر پایه نظر وکړو نو مونږ ته به د اسلامي جهاد د اصلی محرکاتو او فطری غوښتنو پته ولګیږی چې د اسلام په طبیعت کې پټ دی .

مونږ باید هغه له نظره ونه غورځوو ، جهاد ته اړتیا او ضرورت د اسلام په هغه نړیوال اعلان کې نغښتی دی چې د بشریت د ازادی لپاره دی ، دا اړتیا د اسلام په هغه ټولنیز قانون کې هم پټه ده چې د خلکو د هوسا ژوند متضمن دی ، نو له دی امله به دا خبره سمه نه وی چې مونږ د اسلامي جهاد د اصلی محرکاتو او دفاعی ضروریاتو ترمینځ او د وخت او زمان مصلحت خوښوونکو نظریو ترمینځ توپیر ونکړو او دا دری واړه سره ګډ کړو .

په دی کې هیڅ شک نشته چې دغه دین باید له بهرنیو یرغلګرو نه د خپلی دفاع او ساتنی لپاره هر ډول چمتو والی ولری ، ځکه چې که دین دفاعی قدرت ونلری او محض په دی بڼه وی چې دا د الله جل جلاله د نړیوال ربوبیت اعلان دی ، او د انسان له بندګی نه د انسان د آزادی اعلان او دعوت دی ، او بیا یی د یوه منظم نهضت په بڼه تبارز کول چې له ټولو جاهلی قیادتونو نه باغی وی او بالکل د یوی نوی رهبری او قیادت تابع وی ، او د یوی داسی بی ساری ټولنی د جوړولو مدعی وی .

چې په هغی کې د انسان حاکمیت ځکه نه منل کیږی چې حاکمیت یوازی د یوه الله جل جلاله حق دی ، نو په دغه صورت کې به په دغه بڼه د دین معرفی کول د دی خبری لپاره کافی وی چې د شا وخوا ټولی جاهلی ټولنی او پاتکې ( طبقات ) چې د انسان د بندګی پر بنسټ ولاړ دی .

د خپل وجود د پایښت او بقا لپاره متی راونغاړی ، او د هغه د له منځه وړلو لپاره راپورته شی ، نو ښکاره خبره ده چې په داسی صورت کې به

khanlibrary.org



اسلامي ټولنه هم د خپلې دفاع لپاره څه نا څه انتظام کوی ، د دغه ډول حالت راتلل ضروری دی ، په حقیقت کې له کوم وخت راهیسی چې اسلام ظهور کړیدی دغه ډول حالت هم لازما ورسره پیدا شویدی .

د دغه کشمکش او کړکیچ د خوښولو او یا نه خوښولو پوښتنه اسلام ته نه راجع کیږی ، ځکه چې دغه ډول کړکیچونه په زوره په اسلام ورتپل کیږی ، دا هغه طبیعی کشمکش او کړکیچ دی چې د دوو داسی نظامونو ترمینځ روان وی چې تر زیاتی مودی پوری د خپلې منځی پایښت پر بنسټونو سره یو ځای نشی اوسیدلای ، دا هغه حقیقت دی چې د شک مجال په کې نشته او د همدغه حقیقت له مخی د اسلام لپاره خپله ساتنه او دفاع حیاتی ارزښت پیدا کړی ، چې په پای کې د اسلام لپاره د دغی تپل " تحمیل " شوی دفاعی جګړی له کولو نه پرته بله چاره نه پاتی کیږی .

## اسلام د جاهلیت په وړاندی جګړه نشی بندولی

خو پر پورتنی څرګند واقعیت سربیره باید مونږ یوه بل ستر حقیقت ته هم ځیر شو چې له لومړنی واقعیت نه ډیر مهم او روښانه دی ، د اسلام د فطرت یوه کوټلی پریکړه ده چې بشریت د غیر الله د بندګی له کندی نه راوباسی او په دغه برخه کې یی له لومړی ورځی نه خپلې هڅی پیل کړیدی ، نو له دی امله د اسلامي اصولو لپاره د جغرافیایې او نژادی بریدونو تاکل یوه ناممکنه خبره ده .

دا له اسلامي فطرت سره بالکل متضاده خبره ده ، چې له لویدیځ نه تر ختیځ پوری خواره واره انسانان دی د شر او فساد په خوسا ډنډونو کې غوپی وهی او د دنیاوی خدای ګوتو د نهنګ خولی ته دې برابر وی ، اسلام دی دا هر څه په سترګو وینی او بیا دی کرار د عافیت په کونج کې کینی .

د اسلام پر مخالفینو یو داسی وخت راتلای شی چې د هغوی لپاره د وخت او زمان مصلحت دا وی چې د اسلام پر خلاف به هیڅ ډول ظالمانه او ناروا عمل نه کوی ، په دی شرط چې اسلام دوی ته د دی خبری اجازه ورکړی چې دوی د خپل هیواد په پولو او بریدونو کې دننه په خپله غیر

khanlibrary.org



اسلامي ګروهه ټینګ پاتی شی ، اسلام دی دوی په خپل حال پریږدی او د خپل نړیوال ازادی بښونکې دعوت منلو ته یی باید اړ نکړی .

خو اسلام له هغوی سره په هیڅ ډول د" اور بند " دریځ نشی غوره کولی ، مګر په یوه صورت او هغه دا چې هغوی د اسلام د اقتدار په مخکې د اطاعت سرونه ټیټ کړی او د جزیې ورکول ومنی ، ځکه دا خپله د دی مسئلې ضمانت کوی چې هغوی د اسلامي دعوت لپاره لار پرانیستی پریښی ده ، او په دی لاره کې د کوم سیاسی قدرت په زور ممانعت نشی پیښولی .

د اسلام همدغه فطرت دی مسلمانان د الله جل جلاله د ربوبیت د اعلان او د ټولی نړۍ انسانانو ته د ازادی د پیغام " چې د خپل همنوع له بندګی او عبودیت نه به خلاص وی" له امله مجبور دی چې په هیڅ صورت له جاهلیت سره سوله ونکړی .

د اسلام د هغه پورتنی تصور او دغه تصور ( چې په جغرافیایی او نژادی بریدونو کې به را ایسار وی ، تر هغی چې کوم بهرنی تیری کوونکې قدرت اسلام ته خطره پیښه کړی نه وی ، اسلام د هیڅ ډول اقدام اجازه نلری ) ترمینځ توپیر څرګند دی .

په لومړی حالت کې اسلام یو ژوندی متحرک او ازادی بښونکې قدرت دی ، په داسی حال کې چې په دویم حالت کې د ټولو داخلی او فطری محرکاتو له عمل نه له یوی مخی بی برخی دی او د نورو عادی انسانی ایډیالوژیو په څیر یوه ایډیالوژی ده ، چې د اسلام له آزادی بښونکې فطرت او مزاج سره هیڅ اړیکې نه لګوی .

د اسلام د پرمختګ او تحریک خوښونی د جواز د عواملو او اسبابو د پوهیدلو لپاره په واضحه توګه د دی خبری یاد ساتل ضروری دی چې اسلام د ژوندانه خدایی نظام دی ، دا د کوم انسان د فکر محصول نه دی او نه د کوم انسانی ټولی له خوا جوړ شوی مسلک دی .

نه د کوم مخصوص انسانی نژاد او نسل د ژوند دود او دستور دی ، د اسلام د جهادی نهضت د بهرنیو اسبابو او عواملو لټولو ضرورت پوازی هغه وخت پیښیږی چې زمونږ له سترګو نه دغه ستر حقیقت پټ پاتی شی او

khanlibrary.org



مونږ د دین اصلی روح چې د الله تعالی د حکومت په قیام او پاځون سره د ټولو مصنوعی الله ګوټو د حکومت کمبله ټوله شی ، له یاده وباسو ، دا نا ممکنه خبره ده چې انسان دغه ډول مهم او فیصله کوونکي حقیقت تل په خپل ذهن کې ژوندی هم وساتی او بیا دی د اسلامي جهاد د جواز لپاره د بهرنیو اسبابو او عواملو په لټه کې سرګردانه او لالهانده هم واوسی .

## د اسلام په هکله دوه تصوره او د هغو توپیر :

د اسلام د دغو دواړو تصوراتو په مینځ چې کوم توپیر دی هغه په سمه توګه سړی ته د مزل په لومړی پړاو کې ښه نه څرګندیږی ، یو تصور خو دا دی چې اسلام د جاهلیت پر ضد په جبری توګه جګړی کولو ته اړ کیږی ، ځکه دا د اسلام د وجود فطری غوښتنه ده ، چې جاهلی ټولنی دی پر هغه یرغل وکړی او اسلام به له ناچاری نه له ځان نه دفاع کولو ته اړ شی .

دویم تصور دا دی چې اسلام به فطرتا د خپل ذات او اصل د غوښتنی پر اساس وړاندی تګ وکړی او په پای کې به جګړی په تاوده میدان کې ور داخل شی .

د میتود د اختلاف په لحاظ په پیل کې سړی ته د دواړو تصوراتو توپیر په اسانه توګه نشی څرګندیدای ، ځکه چې په دواړو حالتونو کې اسلام خامخا د جګړی میدان ته ورټلونکي دی ، خو منزل ته تر رسیدو نه وروسته سړی ته دا څرګندیږی چې د دغو دواړو تصوراتو ترمینځ د ځمکې او اسمان هومره توپیر موجود دی ، د اسلام په هکله د دواړو تصوراتو د انګیرنو او ننګیرنو ( احساسات وخیالات ) ترمینځ یو ستر بنیادی خو نازک غوندی توپیر موجود دی .

په هغه تصور کې چې اسلام د ژوند یو خدایی نظام دی او په دغه تصور کې چې اسلام یو سیمه ایز نظام دی زښت زیات توپیر موجود دی ، د لومړی تصور له مخی اسـلام د دی لپاره نړۍ ته راغلی دی چې د الله جل جلاله پر ځمکه د الله جل جلاله د حکومت د قیام او پاځون اعلان وکړی .

ټولو انسانانو ته د یوه الله جل جلاله د بندګی په لور بلنه ورکړی او خپل اعلان او دعوت ته د عمل جامه ور واغوندی ، بیا یوه داسی ټولنه جوړه

khanlibrary.org



کړی چې په هغی کې انسان د انسان له مرئیتوب او بندګی نه ازاد وی او د الله جل جلاله پر بندګی سره راټول وی ، پر دوی باندی یوازی الهی شریعت چې د ستر او بی مثاله ځواک او قدرت نمایندګی کوی حاکم وي .

یوازی دغه ډول اسلام دا حق لری چې هغه ټول موانع او خنډونه له خپلی لاری لری کړی چې د ده په لار کې پراته دی ، ترڅو په یوه ازاده فضا کې د حکومتونو د سیاسی قدرتونو او انسانانو د خپل فکر جوړو کړو ټولنو د قوانینو له ویری نه پرته د خلکو عقل او وجدان ته اسلامي بلنه ورکړي .

د دویم تصور له مخی اسلام محض یو سیمه ئیز نظام دی او یوازی دومره حق لری چې هر کله که کوم قدرت د ده پر سیمه ئیزو بریدونو یرغل وکړ نو هغه به خپله ساتنه کوي .

اوس دا دواړه حالته ستاسو په مخکې دی ، په دی کې هیڅ شک نشته چې اسلام په دواړه حالتونو کې جهاد کوی ، خو په دواړو حالتونو کې د جهاد پارووونکې او هڅوونکې عوامل ، د جهاد موخی ( مقاصد ) او د جهاد له نتایجو نه چې دوه عملی تصویرونه جوړیږی هغه له یوه بل نه زیات توپیر لری ، هم د فکر او نظر له مخی او هم د پلان او غوره والی له مخی .

بی له شکه اسلام دا حق لری چې له هماغه لومړی پراوونه په وړاندی تګ پیل وکړی ، اسلام د کوم ځانګړی تبر او یا تاتوبی میراث نه دی ، د الله جل جلاله دین دی ، او د ټولی نړۍ لپاره دی ، هغه دا حق لری چې هغه ټول خنډونه له خپلی مخی لری کړی ، چې د روایاتو او دودونو په بڼه د اسلام په لار کې پراته دی .

د انسان د انتخاب او ازادی پښو ته یی زولنی ور اچولی دی ، اسلام پر اشخاصو حمله نه کوی او نه پر هغوی باندی د سوک او ځپیړی په زور خپله کړوهه ورتپی ( تحمیلوی ) ، اسلام یوازی پر حالاتو او نظریاتو تیری کوی چې انسانان د هغوی له بدو او زهرجنو تاثیراتو نه چې د هغوی فطرت یی مسموم کړیدی او د هغوی انسانی ازادی یی تر پښو لاندی کړیده خوندی کړی .

اسلام هیڅکله هم له خپل دغه حق نه ، چې انسانان دی د بندګانو له باداری نه خلاص کړی او یوازی د یوه الله جل جلاله د بندګی په لاره یی

khanlibrary.org



روان کړی نشی تیریدلای ، د دی لپاره چې هغوی د الله جل جلاله د ربوبیت او انسانانو د ازادی کامل نهضت د بری تر وروستی پړاو پوری ورسوی .

د اسلامي تصور او عملی تاکتیک له مخی د الله جل جلاله بندګی په خپل پوره برم او شوکت سره یوازی د اسلامي نظام تر سیوری لاندی د عمل جامه اغوستلی شی ، یوازی اسلام دغه غوره ځانګړتیا لری چې د ټولو انسانانو لپاره به یکې حاکم وی .

که محکوم ټپین وی که تور ، شتمن وی که نیسمن ، د لیری ځای وی او که د نژدی یوازی الله جل جلاله قانون جوړوونکې وی او دغه قانون د ټولو لپاره برابر وی ، ټول انسانان په برابره توګه د هغی په مقابل کې د اطاعت او فرمانبرداری لاسونه پر سینه کیږدی .

د ټولنیز ژوندانه نور نظامونه او قوانین ( چې په هغو کې انسانان د ځان په څیر انسانانو بندګی او مرئیتوب کوی ، د ځان په څیر انسانانو د جوړ شوی شریعت اطاعت به کوی ) دغه ځانګړتیا نلری ، شریعت جوړول د الوهیت له خصوصیاتو او صفاتو نه یو صفت دی ، هر انسان چې دا ادعا لری زه انسانانو ته د وخت له غوښتنو سره سم د قانون جوړولو اختیار لرم .

نو په حقیقت کې ده د الوهیت دعوی کړیده ، که ده په ژبه د الوهیت دعوه کړی وی او که نه ، هغه څوک چې د دغه مدعی دا حق یعنی په ازاده توګه د قانون جوړولو حق ومنی نو په حقیقت کې هغه د مدعی الوهیت هم منلی دی ، دا مهمه نه ده چې دی هغه ته د الوهیت نوم ورکوی او که کوم بل نوم او اصطلاح ورته غوره کوی ، اسلام یوازی د عقیدی او فکر نوم نه دی او نه په دغو دواړو کلمو کې خلاصه شویدی ، چې خلکو ته دی خپل پیغام یوازی د وعظ او نصیحت په ذریعه ورسوی او په همدی دی بسنه وکړی .

اسلام د ژوند یو دود دی ، چې د یوه منظم تحریک او نهضت په بڼه کې د انسان د ازادی لپاره عملی اقدام کوی ، د غیر اسلامي ټولنو د ژوندانه قوانین هغه ته دا فرصت په لاس نه ورکوی چې خپل پلویان او مینه وال د خپلی کړنلاری تر اصولو لاندی منظم کړی .

khanlibrary.org



نو له دی امله دا د اسلام وظیفه ده چې هغه ډول نظامونه چې د انسانانو د بشپړې ازادی په لاره کې اغزی کړی لـ مینځه یوسی ، یوازی په دغه صورت کې الهی دین په پوره توګه حکومت کولی شی ، بیا به نه د کوم انسان طاغوتی قدرتی پاتی وی نه به د بل انسان د بندګی او مرئیتوب سوال په مینځ کې وی ، لکه څنګه چې د نورو نظامونو همدغه حال دی چې د قدرت یوه مانې یی د انسان د باداری او بله د غلامی پر بنسټ ولاړه ده .

په اسلام کې د جهاد په هکله د لویدیځ اند دود ( طرز تفکر ) ځای نشته

زمونږ هغه معاصر مسلمان څیړونکې او لیکوالان چې د اوسنیو کړکیچونو حالاتو او مستشرقینو له مکارانه انتقادونو نه یی په روحی او ذهنی توګه ماتی منلی ده ، هغوی د اسلام د پورتنی حقیقت د اظهار او اثبات لپاره چمتو نه دي .

دغو مستشرقینو چې نړۍ والو ته د اسلام کوم تصویر وړاندی کړیدی ، هغه داسی دی چې اسلام د یوه وینی تویوونکې تحریک په توګه توره په لاس پر نورو انسانانو خپله ګروهه او نظریات ورتپی ( تحمیلوی ) ، په حقیقت کې دغه بد مرغه مستشرقین په دی ښه پوهیږی چې اسلام له دغه ډول تصور نه بالکل پاک دی ، خو هغوی له دغه ډول چالاکې او مکاری نه ځکه کار اخلی چې د اسلامي جهاد اصلی عوامل او محرکات مسخ کړی ، خو زمونږ مسلمان محققین همدغه ماتی خوړلی محققین په خپل زعم د اسلام له تندی نه د دغه تور ، ( داغ ) د مینځلو لپاره متی رانغاړی او د داسی دلایلو د پیدا کولو په هڅه کې دی چې دا ثابته کړی چې له اسلامي جهاد نه مقصد یوازی " دفاعی جګړه " ده .

حال دا دی چې دغه ډول خلک د اسلام د فطرت او د هغه له اصل مزاج نه بالکل نا خبره دی ، هغوی خواران په دی هم نه پوهیږی چې اسلام یو نړیوال او انسانی مذهب دا حق لری چې د انسانانو د ازادی لپاره په خپله هر ډول اقدام وکړی ، د اوسنی پیړی د دغو ویریدلو او ماتی خوړلو محققینو ، په ذهن د دین هغه تصور غالب ښکاری چې اصولا د مذهب په برخه کې د لویدیځ تصور دی .

khanlibrary.org


د لویدیځ اند دود له مخی دین یوازی د یوی عقیدی نوم دی چې له انسانی ضمیر سره ارتباط لری او د ورځینی ژوند له مسایلو سره هیڅ اړیکې نه لری ، همدغه لامل دی چې کله که د دین په نامه کومه جګړه پیل شی نو د لویدیځوالو " غربیانو " په نظر دا مطلب لری چې یوه ډله خلک پر نورو باندی خپله ګروهه د توری او توپک په زور منی .

خو په اسلام کې د دین په هکله دغه ډول تصور بالکل ځای نلری ، پردی سربیره د جهاد بیرغ هیڅکله د دغه تصور له مخی نه دی راپورته شوی ، اسلام د انسانی ژوند ، یو خدایی نظام دی ، چې یوازی د الله جل جلاله بندګی ته غاړه ږدی ، د اسلام په نظر د الوهیت سمه نمونه د الله جل جلاله حاکمیت دی .

په دی توګه اسلام د انسان د ورځینی ژوند له سترو مسایلو نه نیولی تر ډیرو کوچنیو مسئلو پوری هم د یوه منظم تنظیم په توګه اداره کوی ، د اسلام جهادی نظام په حقیقت کې د هغه کوشش او هڅی دویم نوم دی چې د خدایی نظام ټینګولو او بری ته د رسولو لپاره کیږی .

پاتی شوه د عقیدی مسئله ، دا خو څرګنده خبره ده چې هغه د رایو او نظر په ازادی پوری اړه لری ، اسلام غواړی چې د انسان د رائې او نظر ټول متاثروونکې عوامل له منځه لری کړی او د ژوند پر هر اړخ اسلامي نظام حکومت وکړی ، فرد د هر ډول عقیدی د منلو او نه منلو ازادی او اختیار ولری ، په خپله خوښه چې کومه عقیده غواړی هغه غوره کړلی شی .

اوس به دا څرګنده شوی وی چې د دین دغه نظریه له هغی نظریې سره په اساسی مسایلو او تفصیلاتو کې له سره تر پایه توپیر لری چې غربیانو وړاندی کړیده .

که هر چیرته دغه ډول یوه اسلامي ټولنه مینځ ته راشی چې د الهی قوانینو او اصولو ژوندی او عملی نمونه وی نو د الله جل جلاله له خوا نه هغوی ته دا حق ورکړ شوی دی چې د پرمختګ لپاره ځې اقدام وکړی ، د چارو واګی ہی په لاس کې واخلی او د عالم په جریده د الهی ژوند دود انځور نقش کړی .

khanlibrary.org


البته د عقیدی او ایمان مسئله هغوی د انسان وجدان او د نظر ازادی ته پریږدی ، الله جل جلاله چې تر یوه ټاکلی وخت پوری مسلمانان له جهاد نه ایسار کړی وو ، هغه یوازی یو مصلحت و ، د کومو اصولو او ضوابطو غوښتنه نه وه ، د نهضت د یوی خاصی مرحلی د ضرورت او اړتیا مسئله وه .

نه د اسلام بنیادی عقیده او نظریه ، د دغه څرګند اصل په نظر کې نیولو سره مونږ ته په روښانه توګه د قرآن د بی شمیره آیتونو د تفسیر په پوهه او درک کې اسانتیا پیښیږی ، چې د اسلامي نهضت په بدلیدونکو مراحلو پوری اړه لري .

د دغو مبارکو ایتونو د لوستلو په وخت کې باید سړی دیته په پوره توګه ځیر شی چې د هغوی یو مفهوم هغه دی چې له هغی مرحلی سره سمون وخوری ، چې پکې نازل شویدی ، دویم مفهوم ئې عمومی مفهوم دی چې ارتباط او اړیکې یې د اسلامي نهضت له نه بدلیدونکو ، ابدی اصولو او ژوند دود سره دی ، مونږ باید د ځیرنې په وخت کې دغه دوه حقیقتونه هیڅکله هم سره ګډ نکړو .

khanlibrary.org



# پنځم فصل

## لا اله الا الله : د اسلام د ژوند دوی ( قانون )

## د اسلامي ژوند دوی ( قانون زندگی ) بنسټ

" لا اله الا الله " ( له الله جل جلاله نه پرته بل معبود نشته ) د اسلامي کروهی لومړی رکن یعنی د شهادت د کلمی لومړی توک ( جز ) دی ، چې پکې ویل شویدی ، یوازی یو الله جل جلاله د بندګی او ستاینی وړ دی ، " محمد رسول الله " د هغی دویم توک دی ، او دا ښوونه پکې شویده چې د بندګی اصول او څرنګوالی باید یوازی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه زده شی ، د مومن او مسلمان زړه هغه زړه دی چې د دغی کلمی دواړو مفاهیمو په پوره توګه پکې د تل لپاره ځای نیولی وی .

ځکه چې د دغو دواړو شهادتونو له ادا کولو نه وروسته چې د ایمان څومره ارکان او اصول موجود دی ، هغه په حقیقت کې د دغو شهادتونو له غوښتنو نه سرچینه اخلی د مثال په توګه ایمان پر ملایکو د الله جل جلاله پر کتابونو ، د الله جل جلاله پر رسولانو ، د آخرت پر ورځ ، پر تقدیر او خیر و شر باندی او دغه راز په لمانځه ، زکات او حج او بیا د ټاکل شوو بریدونو ، لکه حلال وحرام ، د راکړې ورکړې قوانین ، اسلامي لارښوونی او تعلیمات د دی ټولو بنسټ او اساس ذ الله جل جلاله پر بندګی ولاړ دی او د دی ټولو منبع هغه علم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل رب نه ترمونږ پورې را رسولی دی .

اسلامي ټولنه هغه ټولنه ده چې د شهادت د کلمی او د هغی د ټولو غوښتنو عملی تفسیر وی ، که چیری دغی کلمه د غوښتنو وړانګی د ټولنی د عملی ژوند په تیاره کې رڼا را نه ولی نو هغه ټولنه به اسلامي ټولنه نه وی ، یعنی دا چې د شهادت کلمه [ لا اله الا الله محمد رسول الله ] د یوه داسی نظام بنسټ دی ، چې پر هغه باندی د مسلمان امت د ژوند مانی له ټولو سترو او کوچنیو اړتیاوو سره ورانیدلی شی .

khanlibrary.org



د دغه بنسټ له اینبودلو نه مخکې د ژوندانه د خدایې ، د مانې د ودانولو پوښتنه له سره را پیدا کیدای نشی ، په همدی که چیری له دغه بنسټ نه پرته پر کوم بل بنسټ د ژوندانه اصولو مانې ودانه شی یا د دغه بنسټ ترڅنګ کوم بل بنسټ بې شمیره نور بنسټونه هم یو ځای شی او پر هغې د بشریت ژوندانه د مانې د ودانولو هڅه وشی ، نو د هغې په نتیجه کې به منځ ته راتلونکې ټولنې ته په هیڅ ډول هم د اسلامي اصولو نماینده ټولنه ونه شوه ویلی ، الله تعالی فرمایی :

إِنْ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ [د یوسف سورت ۴۰ آیت ]

( د نړۍ واکمن او حکمران یوازی الله جل جلاله دی او تاسو بندګانو ته یې امر کړی دي چې له هغه پاک ذات نه پرته به د بل چا ستاینه او عبادت نه کوی ، د هغه اصول ریښتونی او همیشنی دی ، خو زیاتره خلک پرې نه پوهیږی )

مَنْ يُطِعْ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ [د النساء سورت ۸۰ آیت ]

( چا چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اطاعت او پیروی وکړه هغه په حقیقت کې د الله جل جلاله پیروی او اطاعت کړیدی ) .

دغه لنډ او موجز خو پریکنده ( فیصله کوونکې ) فرمان مونږ ته د دغه دین د اساسی اصولو او بنسټونو په برخه کې چې د عملی ژوند له مسایلو سره یې لرې د یوی سکوتې ( قاطع ) پریکړې په لور راهنمای کوی لومړی د اسلامي ټولنې په فطرت پیژندنه کې له مونږ سره مرسته کوی .

دویم دا چې د اسلامي ټولنې د ودانولو د لارو چارو په برخه کې له مونږ سره مرسته کولی شی .

دریم : مونږ ته دا رابنیی چې اسلام له جاهلی ټولنو سره د راشی درشې لپاره کومه لاره غوره ګڼلی ده .

څلورم : له مونږ سره د اسلام د کړنلاری په ټاکلو کې چې د انسانی ژوند د عملی اړخونو د بدلون لپاره څه اصول لری مرسته کوی .

khanlibrary.org



دغـه اصـول هغـه ستر او بـا ارزښـته اصـول دی چې نـه يـوازی دا چې د پخوانـی اسلامي ټولـنی په جوړښت کې يی خپل ارزښت ښودلی دی لکه په حال او اينده کې هم به ډير مهم او اغيزمن ګڼل کيږی .

## د اسلامي ټولنی غوره ځانګړتيا

د اسلامي ټولـنی لومړنی او غوره ځانګړتيا دا ده ، چې د ژوندانه په ټولو چارو کې د دغـی ټولـنی مـانی د الله جل جلالـه د بـندګی پر بنسټ ودانـه شـويده ، د شـهادت کلمـه " لا الـه الا الله محمـد رسـول الله " د همدغـه معبوديت څرګندونه کوی او د هغی د څرنګوالی بريدونه ټاکي .

د انسـان ګروهه ( عقيده ) هم د همدغی بندګی او عبوديت مظهر وی ، په عـباداتو او دينی شعايرو کې هم د همدغـی بـندګی اثار ځليږی ، د ټولـنی اصول او قوانين د همدغه عبوديت عملی او ژوندی تصوير وی ، هغه څوک چې د حق سبحانه وتعالی په وحدانيت باور نلری ، نو هغه په حقيقت کې د يوه الله جل جلاله بندګی نه ده غوره کړی .

وَقَالَ اللَّهُ لَا تَتَّخِذُوا إِلَهَيْنِ اثْنَيْنِ إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَإِيَّايَ فَارْهَبُونِي()وَلَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَهُ الدِّينُ وَاصِبًا أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَتَّقُونَ [د النحل سورت ۵۱ - ۵۲ آيتونه ]

( الله جل جلاله فرمايی چې په دوه خدايانو مه معتقد کيږی ، ځکه چې الله جل جلاله يو دی ، نو ځکه يوازی له ما نه وويريږی ، هر څه چې په ځمکه او اسمان کې دی هغه ټول د هغه دی ، تل پاتی او هميشنی لازم شوی عبادت ، يوازی د هغه لپاره دی ، نو ايا تاسو له الله تعالی نه پرته له بل چا نه ويريږی ) .

نو په دی توګه هغه څوک چې له الله جل جلاله نه پرته د بل ذات بندګی غوره کوی او يا له الله جل جلاله سره په عبادت کې بل څوک شريکوی هغه د يوه الله جل جلاله بنده نشی کيدلای .

قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ() لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ [ د النحل سورت ۱۶۲ - ۱۶۳ آيتونه ]

khanlibrary.org



( ورته ) ووایه چې زما لمونځ ، روژه ، طاعت و عبادت او زما ټول اعمال ، زما ژوند او زما مرګ یوازی او یوازی د الله جل جلاله لپاره دی ، چې د کائناتو خالق دی ، او هیڅ شریک نه لری او هغه ماته په دی حکم کړی دی او زه لومړنی مسلمان یم ، چې د الله جل جلاله امر ته می غاړه ایښی ده ) .

په همدی توګه څوک چې هغه قوانین پریږدی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ذریعه الله جل جلاله مونږ ته رالیږلی دی او د کومی بلی منبع قوانینو ته غاړه کیږدی ، هغه هم د الله جل جلاله له خالصی بندګی نه بی برخی کیږی .

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنْ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ [د الشوری سورت ۲۱ آیت ]

( ایا دوی له الله جل جلاله سره داسی شریک پیدا کوی چې هغه د دوی د دین په څیر یو داسی قانون جوړ کړی ، چې الله جل جلاله هیڅکله د هغی اجازه نه ده ورکړی ) .

وَمَا آتَاكُمْ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا [الحشر: ۷ ]

( او په هغه څه چې زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته فرمان درکړی هغه واخلی او له هغه څه نه مو چې ایسار کړی ، ایسار شی )

دا و د اسلامي ټولنی اصلی اصول او قوانین ، په دغه ټولنه کې لکه څنګه چې د خلکو په ګروهه او تصوراتو کې د الله جل جلاله د بندګی نور څلیږی ، په همدی توګه د دوی پر عباداتو او مناسکو باندی هم د الله جل جلاله د سوچه بندګی رنګ پریوتی دی ، د دوی په ټولنیز نظام او قوانینو کې هم د الله جل جلاله د بندګی ژوندی نمونه لیدل کیږی .

که له دغو ټولو ارخونو نه په یوه ارخ کې هم د الله جل جلاله د بندګی رنګ او اثر ورک شو ، نو د هغه سړی ټول اسلام ورسره خور و ور شی ، دا څکه چې په دی توګه د اسلام لومړی رکن ( د شهادت کلمه ) چې پر هغی د اسلام مانی ولاړه ده ، له سره مینځ ته راتلای نشی ، په پورته ډول مونږ عرض وکړ چې د اسلامي ټولنی غوره ځانګړتیا دا ده چې د اوسیدونکو

khanlibrary.org



اعتقادات یی هم د همدغه ډول بندګی او عبودیت څرګندونکې وی ، نو دلته دا خبره پر ځای ده چې سړی ووایی اسلامي ایډیالوژی او یا عقیده به څه شی وی ؟

## اسلامي عقیده څه ډول ده

اسلامي " عقیده او ایډیالوزی " څه شی دی ؟ په حقیقت کې دا یوه داسی عقیده او تصور دی ، چې غوښتی یی د انسان په شعور او ادراک کې هغه وخت غوړیږی چې هغه د اسلام حقایق او رموز نیغ په نیغه د الله جل جلاله د لارښوونی له برکتی چینی ( قرآن ) نه ترلاسه کړی .

کله چې د دغه فکر او عقیدی تصویر په پوره توګه د انسان د ضمیر او ذهن پر لوحه انځور شی ، نو هلته بیا هغه ته د خپل رب د حقیقت په باره کې پوره معرفت او بصیرت لاس ته ورځی .

په هغه کائناتو کې چې انسان ساه وباسی نو د هغی کوچنی او واړه ، پټ او ښکاره حقایق بـه هم هغه وخت هغه ته څرګند شی ، چې د هغه ژونـد په برکت دی پـه ژونـدیو انسانانو کې شمیرل کیږی او له هغوی سـره اړونـد ( مربوط ) کیږی ، د هغه پټ او ښکاره حقایق به هـم ورتـه ښکاره شی او له دی سره به ورته د ځان په هکله هم پوهه او بصیرت پیدا شی .

یعنی دی به د انسان له اصلیت نه خبر شی ، نو بیا د همدی عقیدوی تصور له مخی له ټولو حقایقو سره د خپل چال چلند د څرنګوالی بریدونه وټاکې ، له خپل پروردګار سره به داسی سلوک غوره کړی چې له هغه سره د ده د بندګی او عبودیت وړانګی له وړایه ځلیږی ، له پنځ ( طبیعت ) او د پنځ له قوانینو ، نوامیسو ، ژوندیو مخلوقاتو او انسانانو سره به داسی سلوک غوره کوی ، چې ریښی یی د الهی دین له چینی نه اوبه کیږی ، له هغه تعلیم نه به اخیستل شوی وی ، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په واسطه انسانانو ته را رسیدلی دی .

په دی توګه هغـه بایـد د خپل ټول ژوند په بهیر کې د الله جل جلاله د بندګی او عبودیت اظهـار او څرګندونه وکړی او په همدی توګه د ده د ژوند په ټولو کړو او مصروفیتونو د همدغه پاکیزه اصولو او روش مهر لګیدلی وی .

khanlibrary.org



## د اسلامي ټولنې د جوړېدو لاری

د اسلامي ټولنې د څلور خواوو تر ټاکلو وروسته اوس دا پوښتنه پیدا کیږی ، چې دغه ډول ټولنه څنګه جوړیدی شی ؟ او د جوړیدلو سمه لار یی کومه ده ؟

دغه ډول ټولنه تر هغی مینځ ته نشی راتلای ، چې لومړی یو داسی غوره انسانی ټولی ( جمعیت ) مینځ ته رانشی ، چې هغوی دا ومنی چې بندګی او عبودیت به خاص د الله جل جلاله لپاره وی او همدا رنګه دغه ټولی دا ومنی چې هم به په عمل او هم په عقیده کې له الله جل جلاله نه پرته د بل چا اطاعت او بندګی نه کوی ، او همدا رنګه باید ژمنه ( تعهد ) وکړی ، چې په عباداتو او د ژوند په نورو چارو کې به هم له الله جل جلاله نه پرته د بلی منبع قوانینو او لارښوونو ته د لاسوهنی حق نه ورکوی .

له دغی انسانی پریکړی نه وروسته باید دغه خلک له واره د الله جل جلاله د عبودیت او بندګی د اصولو پر بنسټ د خپل ژوند چاری منظمی کړی ، په خپل زړه او ضمیر کې د الله جل جلاله په هکله ساوو او سپیڅلی عقیده او ایمان ور وزی او نور هغه ټول شکمن تصورات او اعتقادات چې د الله جل جلاله له وحدانیت سره منافی دی ، له زړه نه وباسی .

د دغی ټولنی مذهبی دودونه یوازی د الله جل جلاله لپاره وی او له پاتی نورو ټولو سره خپلی اړیکې پریکړی ، د دغه ډول مثالی او غوره اسلامي ټولنی د ټولو قوانینو ماخذ یوازی د الله جل جلاله ذات وی او په دغو قوانینو کې هغوی د نورو قوانینو ګډول ګناه ګڼی .

دا هغه رویه او سلوک دی چې تر عملی کولو وروسته یی دغه ټولی ته په ریښتونی توګه اسلامي ټولی ویل کیدای شی ، هغه ټولنه چې دغه ټولی مینځ ته راولی ، هغی ته " اسلامي ټولنه " ویل کیدای شی ، هیڅ یوه انسانی ټولی ته هم اسلامي ټولی نشو ویلی ترڅو چې د الله جل جلاله په بندګی داسی خالصانه اقرار ونکړی لکه څنګه چې مونږ مخکې بیان کړل .

نه مخکې له دینه چې هغوی د عبودیت پر اساس د خپل ژوند نظام ټینګ کړی ، د هغوی جوړی کړی ټولنی ته څوک " اسلامي ټولنه ویلی شی " ، د

khanlibrary.org



دې خبرې دليل دا دی چې هغه لومړی بنسټ چې د اسلام ودانی پرې ودانيږی او اسلامي ټولنه جوړيږی يعنی " لا اله الا الله محمد رسول الله " د شهادت هغه دوه توکه تحقق نه مومی .

له همدی امله له دينه مخکې چې د اسلام د ټولنيز نظام د جوړښت او عملی کيدو په هکله سوچ وکړو او د هغه نظام پر اساس د يوی اسلامي ټولنی د قيام لپاره لاری چاری ولټوو ، پکار ده چې تر هرڅه لومړی د وګړو زړه او ضمير د غير الله د بندګی له ګرد او دوړو نه پاک کړو ، د هغو وګړو زړونه چې د غير الله د بندګی له دوړو نه پاک شی او ټول سره يو ځای يو ټولی جوړ کړی ، همدغه ټولی به وی چې وګړی به يی د عقيدی او تصوراتو له پلوه ، د عبادت د دودونو ، شريعت او قانون له مخی ، په کامله توګه له الله جل جلاله نه پرته د بل چا له بندګی نه ازاد وی ، نو د اسلامي ټولنی د مانی د بنسټ ډبره ايښودلی شی .

هغه څوک چې په دغه اسلامي ټولنه کې ژوند تيرول غواړی ، هغه يې اوسيدلی شی او هغه بايد هغه عقيده او قانون او عبادت غوره کړی چې د الله تعالی له سوچه بندګی او عبوديت نه پرته يې د بل څيز ، شک هم موجود نه وی ، يا په بله وينا هغه بايد د دغه قولی شهادت يعنی " لا اله الا الله محمد رسول الله " عملی تصوير وی .

دا هغه اصل دی چې د هغی له مخی په نړۍ کې لومړنی اسلامي ټولی جوړ شوی و او لومړی اسلامي ټولنه مينځ ته راغلی وه ، په ګانده ( آينده ) کې يوازی د همدی اصل له مخی د اسلامي ټولی پالنه او روزنه کيدلای شی او د اسلامي ټولنی غوټی ګل کيدای شی .

اسلامي ټولنه په داسی صورت کې مينځ ته راتلای شی چې ټول انسانان له الله جل جلاله نـه پرتـه بله هره هستی که مستقل بالـذات وی او که له الله جل جلاله سره شريکه وی نفی کړی ، يوازی د يوه الله جل جلاله بندګی ته غاړه کيږدی .

له ځان سره دا پريکړه وکړی چې هغوی به د خپل ژوند قانون د الله جل جلاله د بندګی پر اصولو جوړوی ، له دغه ټولی او پريکړی نه به يوه نوی

khanlibrary.org



ټولنه مینځ ته راشی چې سره له دی چې د جاهلی ټولنی له نس نه به راوتلی وی ، خو د خپلی نوی عقیدی ، نوی ژوند دوی ( قانون زندګی ) په برکت به د جاهلی وروستی ټولنی لپاره یو چلینج وی ، د ژوندانه دغه نوی نظام به د اسلام د لومړی رکن ، توحید او محمدی رسالت لا اله الا الله محمد رسول الله د ازلی نور جلوه ګاه ثابته شی .

دا ممکنه ده چې پخوانی جاهلی ټولنه په کلی صورت په نوی اسلامي ټولنه کې وشنل ( تحلیل ) شی ، او دا هم ممکنه ده چې داسی ونه شی ، دا خبره هم له امکانه وتلی ده، چې جاهلی ټولنه له اسلامي ټولنی سره د سولی او روغی هڅه وکړی .

په همدی توګه د اسلامي ټولنی پر خلاف د جاهلی ټولنی عکس العمل ( چا رانګ ) د وسله وال تکر بڼه هم غوره کولی شی ، په دی برخه کې د الهی سنت په دی توګه راغلی دی ، چې جاهلی ټولنی تل په اسلامي ټولنی شبخون کړی دی .

کله هغوی د اسلامي لښکر په هغه مخکښ ټولی یرغل کړیدی چې د اسلامي ټولنی د ودانی د بنسټ له ایښودلو نه هم اوزګار شوی نه وو ، د متفرقو ډلو او ګروپونو په بڼه ویشل شوی وو او کله یی د اسلامي ټولنی له قیام او پاڅون نه وروسته پری یرغل کړیدی ، د حضرت نوح علیه السلام نه واخله ان تر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پورې بی له کومی استثنا د اسلامي دعوت په تاریخ کې همدغه ډول صورت حال مینځ ته راغلی دی .

دا یو څرګند او طبیعی حقیقت دی ، چې نوی اسلامي ټولنه تر هغه وخته پورې د خپلی ودانی ، نه کومه پوړی ودانولای شی او نه خپل موجودیت په چا منلی شی ، تر هغی چې دومره ځواک او قدرت پیدا نکړی چې د هغی پر بنا د جاهلی ټولنی د فشار او یرغل مقابله وکړلی شی .

له قوت نه مقصد یوازی همدا قوت نه دی چې د حملی مخنیوی وکړلی شی ، بلکه دا قوت باید هر اړخیز وی او د ژوند په هره ساحه کې یی اثرات څرګندوی لکه د عقیدی او تصور قوت ، د اخلاقي او روحي روزنی

khanlibrary.org



قوت ، د تنظیم قوت ، او تولنیز نظام قوت او هغه ټول چې د هغی په مرسته د جاهلی تولنی هر اړخیزه مقابله کیدای شی .

او که پر هغی باندی بری ونه مومی لږ تر لږه خو یی په مخکې خندې شی ، او په هیڅ ډول پری نږدی چې د ماتی سره مخامخ شی .

## د جاهلی تولنی څانګړتیاوی

راځی چې اوس وګورو د جاهلی تولنی خصوصیات او حقایق څه دی او اسلام د هغی د مخنیوی لپاره کومه لاره غوره کوی ؟

په لنډه وینا کې د اسلام له نظره له اسلامي تولنی نه پرته بله هره تولنه جاهلی تولنه ده ، که مونږ وغواړو چې سم او منطقی تعریف یی وکړو نو داسی ویلی شو چې : په هره تولنه کې چې بندګی ، که په عقیده او تصور کې وی ، که په عبادت او قانونی نظام کې ، یوازی د الله تعالی لپاره نه وی ، نو هغی ته جاهلی تولنه ویل کیدای شی .

د پورتنی تعریف له مخی چې په دنیا کې څومره تولنی موجودی دی ، هغه ټولی له یوی مخی " جاهلی تولنی " دی .

کمونیستی تولنی د دغی لړی " سلسلی " لومړی کړی دی .

لومړی په دی دلیل چې هغوی د الله سبحانه وتعالی د لوړ ذات په متعلق د کفر او الحاد سلوک غوره کړی دی او د الله جل جلاله له وجود نه بالکل منکر دی ، او د دغه الواک ( نظر ) پلویان دی ، چې د کائناتو خالق او علت ماده یا نیچر (Nature) دی ، په خپله انسان او د هغه د تاریخ خالق او محرک د اقتصادي ( وټه ئیزو ) الاتو او وسایلو پیدا کیدل دی .

دویم په دی دلیل چې د ژوند هغه نظام چې په کمونستی تولنه کې مینځ ته راځی ، په هغی کې بندګی د الله جل جلاله لپاره نشته ، بلکه انسان مجبور دی چې د کمونست ګوند بنده او مریې واوسی ، زمونږ د دغه دلیل ادانه ( پشتوانه ) د کمونیستی ګوندونو موجوده مطلقه قدرت دی ، چې په کمونیستی هیوادونو کې یی د سر په سترګو وینو او نور څوک هم تری انکار نشی کولای .

khanlibrary.org



سربیره پردی د کمونیستی نظام د دغه تصوراتو او قوانینو له مخی چې کومه ټولنه مینځ ته راځی او عملا یی کوم نتایج ښندلی دی ، هغه هم د یوی جاهلی ټولنی په رنګ لړلی دی .

د مثال په توګه د هغوی د تصوراتو یوه ستره ځانګړتیا دا ده چې وایې د انسان " بنیادی غوښتنی کټ مټ د نورو حیواناتو غوښتنی دی ، یعنی خوراک څښاک ، جامی ، کور اود جنسی غرایزو تسکین .

له نورو حیواناتو سره د انسان برابر ګڼل دا نتیجه لری ، چې د انسان په حیث چې کوم لوړ اخلاقي او عاطفی احساسات په ده کې موجود وی ، هغه ټول تر پښو لاندی کړو ، له هغو ټولو ضروریاتو او غوښتنو نه یی بی برخی کړو چې " انسانی روح " ورته اړ دی او له حیواناتو نه پری د انسان توپیر کیږی .

په دغو انسانی ضروریاتو او غوښتنو کې لومړی پر الله جل جلاله باندی ایمان ، او د دغه ایمان غوره کولو ازادی او بی له کومی اړې ، د هغی د اعلان او اظهارولو حق .

په همدی توګه د انسان د فردیت او ځان پیژندنی ازادی او د " زه " د کلمی د اظهار ازادی ، چې د انسان له ډیرو ضروری او اهمو ازادیو نه ده ، دغه ازادی په انسان کې په ډول ډول جولو ( اشکال ) راڅرګندیدای شی ، د شخصی ملکیت په لرلو ، د کار د نوعیت په انتخاب او په هغه کې د خصوصی مهارت په پیدا کولو کې او همدا رنګه د فن ، هنر او علم په وسیله ، د شخصیت په اصلاح او سمون کې هم دغه اضطراب او نا کراری څرګنده وی .

لنډه دا چې کمونیستی نظام د انسان لپاره له هری هغی ازادی نه د بی برخی کولو زیری او فرمان راوړی دی ، چې په هغی سره د حیوان ، انسان او ماشین ترمینځ توپیر کیږی ، ټولی بت پرستی او مشرکې ټولنی هم د جاهلی ټولنو په قطار کې راځی .

دغه ډول ټولنی تر اوسه پوری هم په هندوستان ، جاپان ، فلپائن او افریقا کې موجودی دی ، هغه صفت چې دوی د جاهلی ټولنو په قطار کې دروی دا

khanlibrary.org


دی چې : لومړی خو دا ټولنی له الله جل جلاله نه پرته نوزی هستی هم د الوهیت په صفت منی او یا له الله جل جلاله سره نوری هستی هم شریکې ګڼی .

دویم دا چې هغوی ډول ډول بتان په مختلفو نومونو جوړ کړیدی ، چې نه یوازی د الوهیت په مرتبه ورته قایل دی ، بلکه عملا د هغوی په مخکې د عبودیت ، بندګی او نیاز مندی دودونه پر ځای کوی ، له پورتنیو دلایلو نه پرته یوازی دغه خبره هم کافی ده چې دوی په جاهلی ټولنو کې شمار شی .

ځکه چې هغه قوانین او شرایع چې په دی ټولنو کې چلیږی ، د هغی منبع الله جل جلاله او د هغه شریعت نه دی ، بلکه نوری هستی دی ، که هغه د پادری ، یا کاهن او جادوګر په بڼه وی او که د قوم مشران وی او که سیکولر اداری وی چې له الهی شریعت نه بی نیازه دی او پخپله قوانین جوړوی ، یا یی د کوم قوم ګوند یا کومی بلی هستی په نامه د حاکمیت اغلی منصب په برخه وی .

په داسی حال کې چې د اعلی حاکمیت یا د مطلق حاکمیت منصب له الله جل جلاله نه پرته بل چا سره نه ښایی ، هغه یوازی په دی توګه مینځ ته راتلای شی ، چې الله جل جلاله د خپلو رسولانو په واسطه خپلو بندګانو ته غوره ګڼلی دی ، د ځمکې پر مخ ټولی یهودی او عیسوی ټولنی هم جاهلی ټولنی دی ، هغوی په خپلو عقایدو کې لاس وهلی دی او هغه یی تحریف کړی دی .

د الله جل جلاله له الوهیت سره یی نور هم شریک کړی دی ، دغه شرک په څو بڼو د هغوی په مذهب کې لیدلای شو ، کله د الله جل جلاله د زوی ولی په بڼه او کله هم د تثلیث په بڼه ، کله یی د الله جل جلاله په برخه کې داسی تصور لرلی دی ، چې د الله جل جلاله له حقیقت سره منافی دی ، کله یی له الله جل جلاله سره د مخلوق ، ارتباطه داسی ښودلی دی ، چې له یوی مخی د حق پر خلاف دی - الله جل جلاله په دی برخه کې فرمایلی دی :

وَقَالَتْ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتْ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّهِ ذَلِكَ قَوْلُهُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَبْلُ قَاتَلَهُمْ اللَّهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ [د توبه سورت ۳۰ آیت]

khanlibrary.org


( یهود وایی چې عزیر د الله جل جلاله زوی دی او نصاری وایی چې مسیح د الله جل جلاله زوی دی ، په دغو بی حقیقته او بی سروبو له خبرو چې هغوی یی وایی ځانونه له هغو خلکو سره ورته او نژدی کوی ، چې له دوی نه مخکې کافر شوی وو ، الله جل جلاله دوی تباه او ستړ کړل ، چې په الله جل جلاله پوری دروغ تړی او ځانونه غولوی ) .

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ وَمَا مِنْ إِلَهٍ إِلَّا إِلَهٌ وَاحِدٌ وَإِنْ لَمْ يَنتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ [د مائده سورت ۷۳ آیت ]

( هغه کسان په یقین سره کافر شول چې وی ویل الله جل جلاله د دری کسو دریم دی ، په داسی حال کې چې له یوه الله جل جلاله نه پرته بل هیڅ الله جل جلاله نشته ، او که له هغه څه نه چې دوی یی وایی ایسار نشول نو کافرانو ته به یی سخت دردوونکې عذاب ور ورسیږی )

وَقَالَتْ الْيَهُودُ يَدُ اللَّهِ مَغْلُولَةٌ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ [د مائده سورت ۷۴ آیت ]

( یهودو ، وویل چې د الله جل جلاله لاس تړلی دی ، تړلی دی وی لاسونه د دوی ، او د هغه څه له امله چې دوی ویل د الله جل جلاله په لعنت اخته شول ، د الله جل جلاله د رحمت لاسونه تل خلاص دی ، څه ډول چې وغواړی هغه ډول ښښنه او انفاق کوی )

وَقَالَتْ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوبِكُمْ بَلْ أَنْتُمْ بَشَرٌ مِمَّنْ خَلَقَ [د مائده سورت ۱۸ آیت ]

( نصاری او یهودو وویل چې مونږ د الله جل جلاله زامن او دوستان یو ، ورته ووایه چې ولی نو الله جل جلاله تاسو ته ستاسو د ګناه سزا درکوی ، په حقیقت کې تاسو د نورو په څیر بنیادمان یی چې الله جل جلاله خلق کړیدی ) .

دغو ټولنو ته له دی امله هم جاهلی ټولنی وایې چې د دوی د عبودیت مراسم او شعایر ټول د دوی له تحریف شوو ګمراهانه او مشرکانه عقایدو نه

khanlibrary.org



اخیستل شویدی ، او له دی امله هم جاهلی ټولنی دی ، چې د دوی ټول قوانین او شرایع د الله جل جلاله د بندګی پر اصولو ولاړ نه دی .

نه د بی مثله الله جل جلاله حاکمیت منی او نه د الله جل جلاله شریعت د اختیاراتو یوازینی منبع ګڼی ، هغوی د خپلو جوړو کړو انسانی قوانینو او ادارو له مخی د حاکمیت اعلی پر هغه منصب تکیه کړیده ، چې یوازی او یوازی د الله جل جلاله حق دی .

قرآن د خپل نزول په لومړی مرحله کې دغه ډول خلکو ته د مشرک او کافر لقب ورکړیدی ، ځکه چې دغو خلکو د حاکمیت حق خپلو احبارو او راهبانو ته ورکړی و ، چې په خپله خوښه به یی شریعت وضع کاوه ، او دغو خلکو به بی له کوم ځنډه مانه .

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ [د توبه سورت ۳۱ آیت ]

( هغوی خپل روحانیون او عابدان د خپل الله جل جلاله په صفت منلی وو او په همدی توګه یی د مریمی زوی مسیح هم منلی و ، په داسی حال کې چې مونږ هغوی ته د یوه الله جل جلاله له نمانځنی او عبادت نه پرته د بل الله جل جلاله د ستایلو امر نه وکړی ، هغه الله جل جلاله چې له هغه نه پرته بل څوک د ستاینی وړ نه دی او پاک دی الله جل جلاله له هغه څه نه چې دوی یی ورسره شریکوی )

دغو خلکو پر احبارو او راهبانو د الوهیت عقیده نلرله او نه به یی د هغوی په مخکې د بندګی مراسم پر ځای کول ، بلکه هغوی یوازی دا خبره منلی وه چې احبار او راهبان د حاکمیت حق لری ، له همدی امله هغوی د الله جل جلاله له حکم او فرمان نه ځان بی نیازه ګانه .

هر څه به یی چې د شریعت په نامه جوړول ، هغه به خلکو له واړه د شریعت او الهی قانون په نامه منل ، هغه وخت قرآن د هغوی د مشرک او کافر په نامه یاد کړی وو ، نو اوس خو د هغوی کفر د لمر نه هم څرګند دی

khanlibrary.org



، دا ځکه نن چې هغوی کومو خلکو ته دغه حق ورکړی دی ، هغه احبار او راهبان هم نه دی ، بلکه د دوی په څیر عادی خلک دی .

په دی برخه کې وروستی خبره دا ده ، چې د اوسنی زمانی " تش په نامه اسلامي ټولنی " هم په حقیقت کې جاهلی ټولنی دی دا پدی نه چې ګڼې هغوی له الله جل جلاله نه پرته د کوم بل ذات په الوهیت ایمان لری یا له الله جل جلاله نه پرته د بل چا د بندګی او عبادت مراسم پر ځای کوی ، بلکه جاهلی ټولنی ځکه ورته ویلای شو ، چې د هغوی د ژوندانه قانون او دود د پروردګار د بندګی پر اصولو ولاړ نه دی .

هغوی سره له دی چې له الله جل جلاله نه پرته په بل چا ایمان نلری ، خو د الوهیت خاص صفت او ځانګړتیا یې یعنی حاکمیت یې نورو ته ورکړی دی ، یا په بله وینا نورو ته په دغه حق قایل شویدی ، د ځان په څیر بندګانو حاکمیت یې منلی دی ، چې همدغه حاکمیت د دوی د ژوند د قانون او نورو ، دودونو ، معیارونو او روایاتو ، لنډه دا چې د ټولنیز ژوند اساس او بنسټ یې هم دی ، د حاکمیت د خاوندانو په باره کې الله تعالی فرمایلی دی :

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ [ مائده : ۴۴ آیت ]

( او هغه څوک چې د الله جل جلاله د نازل کړی قانون له مخې پریکړه نه کوی هغه کافران دی ) .

د محکومینو په برخه کې الله جل جلاله فرمایی :

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ [د النساء سورت ۶۰ آیت ]

( ایا دوی نه لیدل ( ای نبی صلی الله علیه وسلم ) هغه کسان چې داسی ګومان کوی چې دوی پر هغه څه چې پر تا نازل شویدی ایمان راوړی او پر هغو کتابونو هم چې ستا نه د مخه نازل شویدی ، خو بیا هم غواړی چې د خپلو مسایلو په برخه کې د طاغوت ( خپل سری واکمنان ) پریکړو ته غاړه کیږدی ، په داسی حال کې چې هغوی ته له طاغوت سره د کفر امر شوی و)

khanlibrary.org



بل ځای په همدی برخه کې فرمایی :

فَلَـــا وَرَبِّـــكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا [د النساء سورت ۶۵ آیت]

(نو قسم دی ستا په الله ای محمده ! دغه خلک به هیڅکله مؤمنان نشی ، تر هغه چې د خپل مینځی اختلافاتو او جګړو په برخه کې ستا پریکړو ته غاړه کې نږدی او بیا پر هغه څه چې ته فیصله وکړی ، د هغو په هکله د ناخوښی ، بی میلی او زړه تنګی احساس ونکړی ، هغه پر ځان بوج ونه ګڼی ، بلکه د زړه له کومی یی منلو ته غاړه کیږدی)

یهود او نصاری الله جل جلاله له همدی امله مجرمان ګڼلی وو ، چې د الله جل جلاله له بندګی نه یی انحراف کړی و ، د شرک او کفر لاری غوره کړی وه ، چې د هغی له امله به یی د الله جل جلاله د بندګی پر ځای د احبارو او راهبانو بندګی کوله .

د دغو ټولو جرایمو یوازینی لامل ( علت ) همدا ښودل شوی و، چې هغوی خپلو راهبانو او احبارو ته هغه ډول واک او اختیار ورکړی و، چې اوس د اسلام ادعا کوونکو د خپل ملت ځینی مشرانو ته ورکړیدی او هغوی ورته په خپله خوښه داسی قوانین جـوړوی چې الهی شـریعت سره اړخ نه لګوی .

د نصاری او یهودو دغه عمل د الله جل جلاله په نزد هغه ډول شرک و ، لکه د نصاری و دغه عمل چې له حضرت عیسی بن مریم نه یی ځان ته رب او واکمن جوړ کړی و او د هغه بندګی ئې غوره کړی وه ، د اسلام په نزد د شرک په دغه دوه ډولونو کې هیڅ توپیر نشته ، دواړه یو شان د الله جل جلاله له بندګی نه د وتلو مفهوم لری ، د الهی دین له احکامو نه سرغړونه د " لا اله الا الله " د شهادت نه سر غړاوی دی .

په اوسنیو اسلامي ټولنو کې خو ځینی په ښکاره او څرګنده توګه د لا دینی اعلان کوی ، او له دین سره خپلی هر ډول اړیکې له یوی مخی نفی کوی ، ځینی ټولنی یوازی په خوله د " اسلام د درناوی " ناری وهی ، خو له

khanlibrary.org


خپل تولنیز نظام نه یې دین په کډه کړی دی او وایی چې مونږ په " غیب " ایمان نه لرو، مونږ د خپل تولنیز نظام مانی د علم او تجربی پر بنسټ ودانوو .

یعنی د علم د مکتب یا (Scientecism) پلویان دی ، او وایی چې ، چیرته چې علم او تجربه (Science and Experience) وی هلته " غیب " څوک نشی منلی ، دغه دواړه د یو بل ضد وی ، خو د دی دغه خیال په خپل ذات کې یو ډول جهالت دی او یوازی هغه خلک دغه ډول خبری کولای شی ، چې له یوه مخی د جهالت ژوندی بت وی ، خینی داسی تولنی هم شته چې عملا یی د " حاکمیت " واک له الله تعالی نه پرته بلی هستی ته سپارلی دی .

هر ډول قانون یی چې زړه وغواړی جوړوی یی ، بیا د خپلی ګیډی د شریعت په هکله دا دعوه کوی چې دا د الله جل جلاله شریعت دی " - دغه راز تولنی له دی امله سره برابری دي ، چې د هغوی اساس او بنسټ د الله جل جلاله پر بندګی نه دی ولاړ .

د دغه اصولی حقیقت تر روښانولو وروسته د دغو تولو جاهلی تولنو په هکله د اسلام دریځ په یوه جمله کې بیانولای شو چې : " اسلام د دغو تولو ، تولنو اسلامیت او قانونی جواز نشی منلای " .

اسلام په دی برخه کې په هغو ظاهری ، عناوینو او نومونو پسی نه ګرځی ، چې دغو تولنو پری خپل ځانونه نومولی دی ، د دی ظاهر فریبی سره سره د دغو تولو تولنو یوه ځانګړتیا سره ګډه ده او هغه دا چې د دغو تولو د ژوند قانون د الله جل جلاله د خالصی بندګی له اصولو سره سمون نه خوری ، له دی امله دغه تولنی له نورو کافرو او مشرکو تولنو سره د جاهلیت په قطار کې شریکې ، هم رنګه او هماهنګه دی .

تر دغه بحث او څیړنی وروسته به مونږ خپله هغی وروستی نکتی ته رسیدلی یو چې د دغه فصل په پیل کې مو بیان کړی وه یعنی په انسانی ژوند کې د مثبت بدلون راوستلو لپاره د اسلامي اصولو همیشنی او ابدی میتودونه کوم دي ؟

khanlibrary.org



هغه میتودونه او دودونه چې د زمان او مکان زولنی یی پښو ته پرتی نه دی او په هره زمانه کې که د اوسنی زمانی لپاره وی او که د راتلونکې ډیری لری زمانی لپاره د اسلام یوازینی اصول او میتودونه دی ، د هغی پوښتنی ځواب مونږ د هغه بحث په رڼا کې ورکولی شو چې مخکې مو " د اسلامي ټولنی غوره ځانګړتیا " تر عنوان لاندی کړی دی ، چې په لنډه توګه یی مفهوم دا دی :

اسلامي ټولنه د خپل ټولنیز نظام او ژوند هره ستره او کوچنی مسئله د الله جل جلاله د بندګی د اصولو پر اساس حل کوی ، د اسلامي ټولنی د فطرت د څرنګوالی تر ټاکلو وروسته مونږ ته د یوی بلی مهمی پوښتنی سم ځواب هم په اسانی سره لاس ته راتلای شی .

هغه پوښتنه دا ده چې هغه اصل او اساس کوم دی چې د انسانی ژوند د ستونزو او کړکیچونو په حل کې باید یوازینی ماخذ ، مرجع او اساس وی ؟ ایا د الله جل جلاله دین او د هغه د ټولنیز ژوندانه قوانین زمونږ ارتیاوو ته ځواب ویلای شی ؟ که نه د دی ارتیاوو د پوره کولو لپاره به کوم انسانی ژوند دوی ( د ژوند قانون ) ته په رجوع کولو هم اړ یو ؟

اسلام د دغو پوښتنو نهایت واضح او څرګند ځواب له زړغیې ( تردد ) نه پرته په خلاص متن زمونږ مخی ته ږدی ، هغه وایی چې د انسانی ژوند د سمون لپاره په ټولنیز ( مجموعی ) ډول ضروری ده ، چې د الله جل جلاله له خوا خپلو بندګانو غوره کړای شوی الهی شریعت پر اصولو عمل وشی ، ترهغی چې د ټولنیز ژوندانه مانی پر دغه بنسټ ودانه نشی نو د ( لا اله الا الله محمد رسول الله ) شهادت هم چې د اسلام لومړنی رکن دی ، تحقق نه مومی او نه خپل حقیقی اغیزی او نتایج ښندلی شی .

تر هغی چې دغه اصل ونه منل شي او له ځنډ او تردد نه پرته د هغی پیروی او اطاعت ونشی ، نو تر هغه وخت پوری د الله جل جلاله د خالصی بندګی غوښتنه هم هیڅکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښودلی لاری پر اساس سر ته نشی رسیدلای .

الله جل جلاله فرمایلی دی :

khanlibrary.org



وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا [د الحشر سورت ۷ آیت]

( هغه څه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم درته وایی هغه ومنی او له هغه څه مو چې ایساروی ایسار شی )

سربیره پر پورتنیو حقایقو اسلام له انسان نه دا پوښتنه کوی چې : انتم اعلم ام الله ( ایا تاسی ښه پوهیږی که الله جل جلاله ؟ ) او بیا په خپله دا ځواب ورکوی چې : والله یعلم وانتم لا تعلمون ( الله جل جلاله پوهیږی او تاسو نه پوهیږی ) وما اوتیتم من العلم الا قلیلا ( هغه پوهه چې تاسو ته درکړ شویدی ډیره کمه او نیمګړی ده ) .

اوس نو څرګنده خبره ده هغه ذات چې ډیر عالم دی ، د انسان روزی ورکوونکې دی ، نو هغه دا حق هم لری ، چې پر انسان " حاکمیت " وکړی ، د هغه " دین " د تولنیز ژوندانه نظام وی او هماغه د ژوند منبع او سرچینه وګڼل شی ، ځکه چې د انسان په خپله جوړو کړو نظریاتو او افکارو کې بدلون راځی ، نیمګړتیا پکې پیدا کیږی او د انحراف ښکار کیږی .

دا ځکه چې بنسټ یی انسانی پوهه او علم دی او دا څرګنده ده ، چې هغه نیمګړی دی ، انسان تر اوسه د فطرت له ډیرو رازونو سره نا اشنا دی ، هغه پوهه چې هغه د پنځ ( طبیعت ) په هکله لری او الله جل جلاله ورکړیده هغه ډیره کمه او نیمګړی ده .

د الله جل جلاله لاره او دود کومه معما او کیسی ( چیستان ) نده ، بلکه څرګنده او روښانه ده ، هغه بر نامه اصول او کړنلاره یی چې د خپل مخلوق لپاره غوره ګڼلی ده ، د هغې بنسټ هم پر خامو خښتو ندی ولاړ ، چې د وخت او زمان پیښی به یی ونړوی .

د شهادت د کلمی په دویم توک کې یعنی د شهادت برخه " محمد رسول الله ( محمد د الله جل جلاله استاذی دی ) د دغه اصل بریدونه په څرګنده توګه تاکل شویدی او په هغه اصولو او نصوصو کې ضبط شویدی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړیدی .

khanlibrary.org



دا یې ښودلی ده ، چې د الله جل جلاله لار هماغه اصول دی ، چې د الله جل جلاله استاذی مونږ ته راوړی دی ، هغه یې په ټاکلو او مشخصو مسایلو کې معین او محدود کړیدی ، له هغه نصوصو سره چې په اصل کې راغلی دی ، که چیری د کومی مسئلی په هکله د قرآن " نص " موجود وی ، نو حتما به د هماغه نص پر اساس پریکړه کیږی .

ځکه د نص په موجودیت کې د اجتهاد لپاره ځای نه پاتی کیږی او که چیری د کومی ستونزی د حل لپاره نص موجود نه وی ، نو هغه وخت بیا د اجتهاد ضرورت پیدا کیږی ، البته د هغو اصولو او نصوصو د لارښوونی تر سیوری لاندی ، چې الله تعالی بیان کړی دی ، نه دا چې زمونږ د شخصی أغراضو او هوا وهوس تابع وی .

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ [د النساء سورت ۵۹ آیت]

( که په کومه پیښه کې ستاسو ترمینځ شخړه پیښه شی ، نو د پریکړی واک الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پریږدی )

د اجتهاد او استنباط لپاره هم اصول او قوانین ټاکل شویدی ، هغه ډیر روښانه او څرګند دی ، هیڅ ابهام په کې نشته ، نه په کې څه کمزورتیا او بی ارزښتی لیدل کیږی ، خو هیڅا ته هم دا اجازه نشته چې هغه خپل جوړ کړی قانون د الله جل جلاله شریعت په ځای په خلکو ومنی .

که چیری څوک داسی قانون جوړ کړی ، چې د الله جل جلاله حاکمیت پکې تر هر څه لوړ او لومړی وی ، ( ځکه چې د ټولو ارزښتونو منبع هماغه پاک ذات دی ، نه قوم ، نه ګوند او نه هم د انسانانو له ډلی نه څوک دا حق لری ) که چیری کوم قانون چې د خلکو له خوا تصویب کیږی ، سرچینه یی د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم له کتاب نه وی ) نو په داسی صورت کې هغه د شریعت په حدودو کې شمارل کیږی ، خو دا حق هغه چاته نه ورکول کیږی ، چې د الله جل جلاله د قدرت او حاکمیت په نامه غواړی ، د خپل قدرت او حاکمیت زغ د خلکو پر څټ کیږی دی .

خپلی غوښتنی د الله جل جلاله د غوښتنو په نامه پر خلکو ور وتپی ، لکه هماغه دول حکومت چې په اروپا کې نن د (Theocracy) یا " مقدس

khanlibrary.org



سلطنت " په نامه یادیږی او هغوی یی د ناخوالو مزه څکلی ده ، دغه ډول حکومت په اسلام کې نه ځائیږی ، او هیڅوک له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پرته دلحق نلری چې له خپله ځانه د الله جل جلاله په نامه لږ تر لږه کومه خبره وکړی ، ځکه چې مونږ ته واضح او څرګند نصوص موجود دی ، چې الهی شریعت یی مونږ ته څلور خواوی تاکلی دی .

"دین د ژوند لپاره دی " دا یوه داسی جمله ده ، چې ډیره غلطه او ناسمه معنی ، ځینی اخیستل شویده او خلک هم پری سم ندی پوهول شوی ، په دی کې هیڅ شک نشته چې " دین د ژوند لپاره دی " خو د څه ډول ژوند لپاره ؟ دا دین د هغه ډول ژوند او واقعیتونو لپاره دی چې دغه دین یی په خپله د ودانولو بنسټ ږدی او د خپلو اصولو او کړنلاری له مخی یی لوړوی او وده ورکوی ، دغه ژوند له انسانی فطرت سره اشنا دی او د انسان د ټولو فطری ارتیاوو پوره کوونکې دی .

له ارتیاوو نه مقصد هماغه ارتیاوی نه دی ، چې هر انسان یی په خپل تصور خپلی ارتیاوی ګڼی ، بلکې هغه ارتیاوی یوازی هغه هستی تاکلی شی ، چې انسان یی هم پیدا کړیدی ، د ده او همدا رنګه د خپلو نورو مخلوقاتو له ټولو ارتیاوو نه په ښه توګه خبر دی .

أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ [د الملک سورت ۱۴ آیت ]

( ایا هغه ذات چې مخلوقات یی پیدا کړی دی له حاله یی خبر ندی ؟ هغه ډیر باریک بین او با خبره دی ) .

د دین وظیفه دا نه ده ، چې د ژوندانه د هر نظام د تائید او حقانیت د اثبات لپاره هلی ځلی وکړی ، د هغه لپاره د جواز سند پیدا کړی او داسی شرعی فتوی ورته برابره کړی ، چې هغه یی د یوی لوحی په توګه په خپله دروازه وځړوی .

دین د دی لپاره دی چې د ژوند واقعیتونه په خپل قالب او میتود برابر کړی ، او په خپله تله یی وتلی ، هغه واقعیتونه چې په کنډه برابر وخیژی او له انسانی او الهی معیارونو سره سم وی ، هغه خپل کړی او هغه چې سپک وخیژی اوله الهی او انسانی معیارونو سره سمون ونه خوری ، هغه لیری

khanlibrary.org



وغورځوی ، ځکه چیری د ژوند ټول نظام او واقعیتونه د دین له میتود سره ضد واقع وی ، نو هغو له یوی مخی پاک کړی او د هغو پر ځای نوی اصول او نوی ژوند دود کړی .

د دین دغه ډول جوړ کړی ژوند په حقیقت کې ریښتونی ژوند دی ، د هغی جملی مفهوم دا دی چې " اسلام د ژوندانه دین دی " په هغه جمله کې له دغه مفهوم نه پرته د بل مفهوم لټول یو بی ځایه او نا سم کار دی ، دا و له ژوند او د ژوند له واقعیتونو سره د اسلام چلند ، څرنګه چې اسلام د واقعیتونو دین دی ، نو دلته باید یوه واقعیت ته پوره ځیر شو ، دلته دا پوښتنه را پیدا کیږی ، چې ایا د بشریت خیر او مصلحت په دی کې دی چې د خپل آر ( اصلی ) حقیقت او واقعیت پر اساس وده وکړی ؟

خو مونږ دلته بیا هماغه پوښتنه ګرانو لوستونکو ته را مخکې کوو چې ، اسلام په خپله کړیده او ځواب یی هم ورکړی دی .

انتم اعلم ام الله ؟ ! ( ستاسو پوهه ډیره ده که د الله تعالی ؟ )

والله یعلم وانتم لا تعلمون ( الله ډیر پوه او عالم دی او تاسو نه پوهیږی ) ، الله جل جلاله چې الهی شریعت په کومه بڼه نازل کړیدی او په کومه بڼه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته رالیږلی دی ، هغه په خپله بشری مصالحوته پوره پوره پاملرنه کړیده .

ځکه له خالق نه څوک د خپل مخلوق په بښیګړو بڼه ترا پوهیدای شی ؟ که چیری کله کوم انسان په دی ګومان او وهم اخته شی ، چې د ده مصلحت د هغه قانون په پابندی کې نه دی ، چې الله تعالی د انسانانو لپاره غوره ګڼلی دی ، بلکه په خلاف ورزی کې دی ، نو لومړی خو دده اتکل او احساس په دغه برخه کې له یوه وهم او وسواس نه زیات نه دی .

ځکه الله جل جلاله فرمایی :

إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْأَنْفُسُ وَلَقَدْ جَاءَهُمْ مِنْ رَبِّهِمُ الْهُدَى()أَمْ لِلْإِنسَانِ مَا تَمَنَّى()فَلِلَّهِ الْآخِرَةُ وَالْأُولَى [د نجم سورت ۲۳- ۲۵ آیتونه]

( دغه خلک د خپل فاسد وهم او ګمان او نفسی غوښتنو پیروی کوی ، سره له دی چې د پروردګار له خوا نه دوی ته لارښوونه هم شویده ، ایا

khanlibrary.org



انسان ته هغه څه چې زړه یې وغواړي په لاس ورغلی دی ؟ د دنیا او اخرت نیکې د الله جل جلاله په واک او اختیار کې ده )

او دویم دا چې : دی باید په پوره توګه په دی باور ولری چې د شریعت په هکله دغه ډول شکمن دریځ غوره کول د کفر اندول دی ، تاسو فکر وکړی چې آخر دا څنګه کیدای شی ، چې یو څوک دا اعلان وکړی ، چې د ده په فکر د ده خیر او ګټه د الهی شریعت په مخالفت کې ده ، نه په پیروی او اطاعت کې .

-له دغه ډول اعلان او اند دود ( طرز فکر ) سره بیا هم د دین پیرو ورته وویلی شی ، دغه کسان نه یوازی دا چې د دین په پیروانو کې نه شمیرل کیږی ، بلکه د دین دښمنان هم دی .

khanlibrary.org



## شپږم فصل

# د ژوند نړیوال فطری قانون

اسلام د فکر او عمل په ډګر کې د خپلې ګروهی مانی د الله جل جلاله د کاملی بندګی پر بنسټ ودانوی ، په عبادت ، عقیده ، ایمان ، سربښندنه او په تیره بیا د ژوند په ټولو اړخونو کې باید د الهی قانون او بندګی ورانګی په برابره توګه وځلیږی .

دا ځکه چې بندګی او عبودیت په کامله توګه یوازی د الله تعالی لپاره دی او په دغه هر اړخیزه بندګی د لا اله الا الله مفهوم ښه ترا تحقق موندلای شی ، ځرنګه چې مونږ ته د الله جل جلاله د بندګی په برخه کې د پوهی او بصیرت وسیله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دی ، نو تر لومړی توک وروسته د شهادت د کلمی د دویم توک منل هم د لومړی هغی د منلو نتیجه ده .

" محمد رسول الله " محمد د الله جل جلاله استازی دی " ، اسلام خپله مانی په دی توګه ودانوی چې د شهادت د کلمی دواړه توکه د اسلامي نظام د ټولنیز ژوندانه اصول وټاکي ، د اسلامي ایډیالوژی خطوطه انځور کړی او د هغی ځرنګوالی روښانه کړی .

که چیری اسلام د دغه ډول بی ساری اصولو پر بنسټ د خپلی ټولنی مانی ودانه کړی ، چې د تاریخ په ټولو نظامونو کې یی د مثبتو اړخونو درلودلو له امله ساری ونه لیدل شی ، نو په حقیقت کې به اسلام له هغه " مرکزی قانون " سره اړخ لګولی وی ، چې نه یوازی پر بشریت حاکم دی ، بلکه پر ټولو کائناتو هم حاکم دی ، هغه نظام چې له ټولی نړۍ نه یی غیږ راچاپیره کړی ده او په لمن کې یی رانغښتی ده .

## ټوله دنیا د یوه مرکزی قانون تابع ده

د اسلامي ایډیالوژی اساس پر دی ګروهه ولاړ دی ، چې د ټولی نړۍ خالق یوازی الله جل جلاله دی ، چې ټولو کائناتو ته یی د تخلیق ویاړ وربښلی دی ، د الله جل جلاله اراده په دی وه ، چې کائنات هست شي نو

khanlibrary.org



هست شول ، بیا الله تعالی په خپل قدرت سره په کائناتو کې د فطرت داسی نوامیس خلق کړل ، چې د هغی پر اساس به هر څه په خپل فطری او حقیقی دود په پرله پسی او همیشنی توګه حرکت کوی .

د همدی نوامیسو له امله د پنځ ( طبیعت ) په تولو کوچنیو او سترو برخو کې د حرکت یو رنګوالی ، تناسب او هم اهنګی لیدل کیږی او په کلی حرکت کې هم نظم ، ضبط او توازن لیدل کیدای شی .

إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَنْ نَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ [د نحل سورت ۴۰ آیت]

کله چې د څه شی پیدا کول وغواړو نو له دی نه پرته زمونږ بله وینا نشته چې ورته ووایو ، وشه ! نو بیا کیږی .

وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا [د الفرقان سورت ۲ آیت]

(هر څه یی پیدا کړل او بیا یی د هغوی لپاره د هغوی وړ ، اندازی وټاکلی)

د دغه کائناتو تر شا یوه اراده موجوده ده ، چې هغه اداره کوی ، یو قدرت او خواک دی ، چې هغه ته حرکت ورکوی ، یو قانون دی چې هغه یی د نظم پابند کړی دی ، همدغه قدرت او خواک د کائناتو په مختلفو برخو کې نظم وضبط ساتی او د هغوی حرکت تنظیموی .

د دی لپاره چې د هغوی ترمینځ ټکر رانشی او کوم خلل هم پکې پیدا نشی ، هیڅکله یی ترمینځ برخورد او بی نظمی پیښه نشی او د پرله پسی او منظم حرکت ترمینځ یی وقفه پیدا نشی ، دا حرکت به تر هغه وخته روان وی ، څو چې د الله جل جلاله اراده وی .

په داسی توګه چې دغه ټول کائنات په هغومره عظمت او لویې د الله جل جلاله د امر په وړاندی لاس پر نامه دی او کوچنی والی یی غوره کړیدی ، ان تردی چې د یوی شیبی لپاره هم ممکنه نده ، چې له دغی قاهری او غالبی او ضابطی نه سرغړونه وکړای شی او د هغوی د تاکلی قانون پر خلاف حرکت وکړی .

د همدغی کامل اطاعت او فرمانبرداری له برکته کائنات په سمه توګه او سلامتیا په حرکت کې دی ، تر هغه وخته به په دغه پرله پسی او منظم

khanlibrary.org



حرکت کې خلل او فساد پیدا نشی ، ترڅو چې د الله جل جلاله مشیت او ارادی د هغی د له مینځه وړلو پریکړه نه وی کړی .

إِنَّ رَبَّكُـــمْ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ [الا عراف : ۵۴ ]

( په حقیقت کې ستاسو پروردګار هغه ذات دی ، چې څمکه او اسمانونه یی په شپږو ورځو کې پیدا کړل او بیا هغه پر عرش استوا وکړه چې شپه په ورځی سره پټوی او شپه په ډیره چټکې سره ورځ لټوی ، لمر سپوږمی او ستوری د هغه په امر تسخیر او پیدا شوی دی ، په دی پوه شی چې د خلقت حکم او فرمان یوازی د هغه لپاره دی ، دا د الله جل جلاله ستر برکت دی چې د ټولو نړیوالو ( جهانیانو ) پروردګار همغه دی )

## د انسان غیر ارادی برخی د فطرت د قوانینو تابع دی

انسان د کائناتو یو جز دی ، هغه قوانین چې د ده پر فطرت حاکم دی ، هغه د کائناتو له هغه مرکزی نظام نه بهر او مستثنی ندی ، چې پر ټولو کائناتو باندی یی مطلق حاکمیت روان دی ، لکه څنګه یی چې انسان ته دغه ویاړ وربښلی دی ، کائناتو ته هم الله جل جلاله د خلقت جامه ور اغوستی ده .

د انسان مـادی خلقت له خـاوری دی ، خـو الله جل جلاله دغی مـادی ( خاوری ) ته داسی خصوصیات وربښلی دی ، چې فضیلت یی تر خاورو زیات دی ، نو ځکه یی انسان تری پیدا کړ ، دغه خصوصیات او ځانګړتیاوی ، الله تعالی په یـوه ټاکلی اندازه هغه تـه وربښلی دی ، انسان د خپل جسمانی وجود د جوړښت د څرنګوالی له امله جبرا او قهـرا د پنځ ( طبیعت ) د قوانینو تابع او مطیع دی ، چې الله تعالی هغه مقرر کړیدی ، د هغو تخلیق د الله جل جلاله په مشیت او ارادی پوری اړه لری ، نه د ده په خوښی او رضا پوری ، یا د ده د مور او پلار په خوښی او رضا پوری .

khanlibrary.org



د ده مور او پلار یوازی له یو بل سره په یو ځای کیدو قادر دی ، خو د هغه یوه ځانګې اوبو په بدلون چې انسانی وجود تری مینځ ته راځی هیڅ قادر نه دی ، الله جل جلاله چې د زوکړی د مودی او زیږیدو لپاره کوم اصول ټاکلی دی ، انسان د هماغو له مخی پیدا کیږی ، له هماغی هوا نه تنفس کوی ، چې الله جل جلاله ورته پیدا کړیده ، په کوم مقدار او کیفیت چې الله جل جلاله ورته ټاکلی ده ، په هماغه اساس به یی کوی ، انسان د ادراک او احساس قوت لری .

درد یی متاثر کوی ، لوږه او تنده یی ځوروی ، خوراک او څښاک کوی ، لنډه دا چې که انسان وغواړی که ونه غواړی ، دی په ټول ژوند کې مکلف دی چې د فطرت د قوانینو او الهی نوامیسو پر اساس ژوند وکړی ، د ده اراده او اختیار په دی کې هیڅ دخل نه لري .

د پنځ له قوانینو نه د مطابقت په برخه کې د انسان او په کائناتو کې د ټولو ژوندیو او مړو موجوداتو ترمینځ هیڅ توپیر نشته ، ټولو د الله جل جلاله د مشیت ، ارادی او قدرت په مقابله کې بی له کوم قید او شرط نه د اطاعت او تسلیم سر ټیټ کړیدي .

هغه ذات چې کائناتو ته یی د تخلیق ویاړ وربښلی ، انسان یی پیدا کړی او هغه چې انسان یی د فطرت د هغو نوامیسو په اطاعت اړ کړیدی چې دا ټول کائنات یی مطیع او فرمانبردار دی ، همغه پاک او بی مثله ذات د انسان د ژوندانه د سمون لپاره هم یو شریعت مقرر کړیدی ، چې په هغی سره د خپل ارادی ژوندانه چاری هم سنبال کړای شي .

او هم یی له فطری ژوند سره هم اهنګی او اندول پیدا کړی ، نو د همدغه اعتبار له مخی دا شریعت ، د هغه نړیوال الهی قانون یوه برخه دد ، چې د انسان او په ټولنیز ډول د ټولو کائناتو پر فطرت فرمانرواریی کوی او هغه د یوه منظم قانون تر سیوری لاندی اداره کوي .

د الله جل جلاله هره کلمه ، امر ونهی ، هره وعده او ژمنه ، هر قانون ، او هره لارښوونه د کائناتو د مرکزی قانون یوه برخه ده ، داسی نظم او ریښتونولی پکې موجوده ده ، لکه څنګه چې په هغو قوانینو کې موجوده

khanlibrary.org



ده ، چې مونږ ورته د فطرت نوامیس یا د الله جل جلاله د کائناتو قوانین وایو چې په خپل پوره فطری او ازلی صداقت په کائناتو کې جریان لری ، د پنځ د قوانینو ( نوامیس فطرت ) په فرمانروایی کې د الله جل جلاله د مقرره حدودو او اندازو څرک له ورایه څرګند دی ، چې هغه پاک ذات د دغو قوانینو لپاره تاکلی دی .

## الهی شریعت د پنځ له نوامیسو سره هم اهنګی لری

د دی خبری د اثبات لپاره تردی څرګند دلیل نشته ، چې ووایو هغه شریعت چې الله جل جلاله د بشریت د ژوندانه د سمون لپاره وضع کړی دی ، په حقیقت کې یو " کائناتی شریعت " دی ، دا ځکه چې هغه د پنځ " طبیعت ، کائنات " له فطری او مرکزی قوانینو سره برابر او هم اهنګ دی .

ددغه حقیقت په نظر کې نیولو سره د الهی شریعت پیروی او متابعت د بشریت د ژوندانه نظام د سمون لپاره یو ستر ضرورت دی ، ځکه چې همدا یوازینی لاره ده چې د انسان او کائناتو ترمینځ پری ( چې دی یکې ژوند کوی ) توافق او هم اهنګی پیدا کیدلای شی .

یوازی په دی برخه کې نه بلکه واقعیت دا دی چې د انسان په طبعی ژوند کې حاکم قوانین (Physical Laws) او د هغه د ارادی ژوند د اخلاقي قوانینو (Moral Laws) په برخه کې هم اهنګی او توازن د الهی شریعت د متابعت په نتیجه کې را پیدا کیدلای شی ، یوازی په همدی توګه د دننه او د ( بهر ) انسان ترمینځ یو والی او وحدت پیدا کیدلای شی .

دا انسان د پنځ دټولو قوانینو او په هغه کې د حاکم مرکزی قانون د څرنګوالی له پوهیدلو نه عاجز دی ، د کائناتو د قوانینو په څرنګوالی پوهیدل خو غټه خبره ده ، هغه خوار تر اوسه د هغو قوانینو په څرنګوالی هم نه پوهیږی ، چې ذاتا همدی په کې را ایسار دی ، او یو ویښته هومره انحراف هم ترینه نشی کولای .

دا د انسان هغه عجز ، کمزوری او نیمګړتیا ده ، چې د هغی له مخی انسان پردی قادر نه دی چې د خپل ژوند د سمون لپاره داسی شریعت وضع کړی ، چې د هغه تر انفاذ وروسته د انسانی ژوند او کائناتو د حرکت

khanlibrary.org



ترمینځ هر اړخیز توافق او برابری خو لا څه کوی ، چې په خپله د ده د فطرت د پټو غوښتنو او ظاهری ژوند دود ترمینځ هم اهنګی او توازن پیدا کړای شی ، دغه قدرت او صلاحیت یوازی هغه ذات لری ، چې د کائناتو خالق هم او د انسان پیدا کوونکې هم دی .

د کائناتو تدبیر او انتظام یی هم په لاس کې دی او د انسانانو د ژوندانه د اړیکو او چارو سموونکې هم دی ، ټول یی د هغه مرکزی قانون په لومه کې را ایسار کړیدی چې پخپله یی ورته غوره ګنلی دی .

دا هغه حقایق او واقعیتونه وو ، چې سړی حتما د شریعت تابعیت او فرمانبرداری ته اړ باسی ، د دی لپاره چې له کائناتو سره یی مکمل موافقت پیدا شی ، د دغو قوانینو متابعت دومره لازم او ضروری دی لکه څومره چې په نظری او عقیدوی برخه کې د اسلام قیام او پاځون .

د هر وګړی یا ټولی ژوند به تر هغه وخته د اسلام په نور منور نه وی ، تر هغی چې د الله تعالی د کاملی بندګی په اصولو روان نشی او د بندګی د ادا کولو پر هغه لاره لاړ نشی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم انسانانو ته ښودلی ده ، یا په بله وینا تر هغه چې د اسلام د لومړی رکن د دواړو توکونو ( لا اله الا الله محمد رسول الله ) اثرات یی د عملی ژوند په ډګ کې ونه ځلیږی ، ژوند به تر هغه وخته پوری د اسلام په نور منور نه وی ، که انفرادی وی او که ټولنیز .

## د الهی شریعت متابعت ولی ضروری دی ؟

د انسانی ژوند او کائناتو د قانون ترمینځ هر اړخیز توافق د بشریت لپاره سرا سر د خیر او برکت منبع ده ، همدغه یوازینی لاره ده ، چې د بشریت ژوند پری له شر او فساد نه خوندی پاتی کیدلای شی ، که انسان غواړی چې له کائناتو سره په روغه جوړه ژوند تیر کړی او په خپله هم په امن و امان کې واوسی ، نو له دی امله د ده لپاره له کائناتو سره توافق او هم اهنګی پیدا کول پکار دی .

پاتی شوه د کائناتو له خوا نه د انسان د مامون او خوندی ژوند مسئله ، هغه یوازی د انسان او کائناتو ترمینځ د حرکت په خپل مینځی سمون او یو

khanlibrary.org



رنګی پوری اړه لری ، په همدی توګه د انسان او د ده د فطرت غوښتنو ترمینځ د امن امان او سلامتی خوندی ساتلو امکان هغه وخت موجودیدلای شی چې د انسان په ظاهری حرکت او د هغو د سمو فطری غوښتنو ترمینځ همنوایې موجوده وی .

ددی لپاره چې د انسان او فطرت ترمینځ تصادم او تکر مینځ ته رانشی ، دا یوازی د الهی شریعت کمال دی چې په دی توګه د انسان د مادی ژوند او د هغه د فطری حقیقت په مینځ کې په ډیره اسانی سره توافق او توازن پیدا کولای شی ، کله چې د انسان او فطرت ترمینځ د توازن او یو رنګی فضا پیدا شی ، نو په نتیجه کې د انسانانو له خپل مینځی اړیکو او د ژوند په عمومی هلو ځلو کې په خپله د مرستی او هم اهنګی روحیه پیدا کیږی .

ځکه کله چې انسان له فطرت سره د تعاون سلوک غوره کوی ، نو د دی په نتیجه کې د انسانی ژوند او کائناتو ترمینځ مکمل توافق پیدا کیږی ، په انسان او کائناتو کې د یوه نظام او قانون حاکمیت جاری کیږی ، په همدی توګه د انسانی ژوند ټولنیز اړخ هم د یوه بل له بلوسی او تیری نه خوندی پاتی کیږی ، په دی توګه بشری ټولنه د یوه کلی خیر او سلامتیا له نعمت نه برخورداره کیږی .

تردی وروسته د کائناتو مختلف اسرار هم د هغه لپاره د اسرارو په حیث نه پاتی کیږی ، انسان د فطرت له پټو رازونو سره اشنا کیږی ، د کائناتو پټ قوتونه ورځرګندیږی او د کائناتو په پراخه څنډ ( افق ) کې د پټو خزانو څرک هم هغه ته لګیدای شی .

هغه دغه قوتونه او خزانی د الله جل جلاله د شریعت په لارښوونه د انسانیت د پوره نیکمرغی لپاره پکار اچوی او دغه ډول ټول کارونه یوازی د الله جل جلاله قانون په وسیله وده او پرمختګ کوی او خپل فطری تګ لوری تعقیبوی ، تر هغه چې د ټول بشریت لپاره د خیر او نیکې ارمان تحقق ومومی ، البته په داسی ډول چې کوم تکر او تصادم پیدا نشی ، ځکه چې د الله تعالی د شریعت په مقابل کې تل د بشر نفسی غوښتنی او هوسونه سر راپورته کوی ، په دی برخه کې الله تعالی فرمایی :

khanlibrary.org



وَلَوْ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتْ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ [د مؤمنون سورت ۷۱ آیت]

( که حق د هغوی د هیلو او غوښتنو پیروی وکړی ، نو پر ځمکه او اسمانونو کې چې څه موجود دی ، هغه به له فساد سره مخامخ شی )

## حق نه شنل ( تقسیم او تجزیه ) کیږی

له دی نه څرګنده شوه چې د اسلامي نظریی له مخی حق یو وحدت دی ، هغه حقیقت چې اسلام د خپلو اصولو او کړنلاری په عملی کولو د هغی د تنظیم لپاره راپورته شویدی او هغه حقیقت چې ځمکه او اسمانونه پری ټینګ دی او د دنیا او اخرت کار د هغی په واسطه د نیکې منزل ته رسیږی او سمیږی ، یو دی ، همدغه وحدت او یو والی د دغه دین ( اسلام ) بنسټ دی .

پر همدی بنسټ د ځمکې او اسمان نظام دریدلی دی او د انسانانو د دنیوی او اخروی راکړی ورکړی چاری پری سمون مومی ، د همدغه په برخه کې به انسانان د الله تعالی په مخکې ځواب وایې ، هغه څوک چې تری سرغړاوی کوی ، هغه ته سزا هم ورکوی ، " حق " یو وحدت دی چې ویشل ( تجزیه ) یی یو ناممکن کار دی او د کائناتو هغه مرکزی قانون ته ویل کیږی ، چې الله تعالی د ټولو حالاتو د سمون لپاره جاری کړی دی او ټول مجبور دی چې د اطاعت لاسونه ورته پر سینه کیږدی ، د نړۍ ټول موجودات ساکښ دی ، که بی ساه یو یی هم د قدرت تر ساحی وتلی نه دی :

لَقَدْ أَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ()وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا آخَرِينَ()فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا إِذَا هُمْ مِنْهَا يَرْكُضُونَ()لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوا إِلَى مَا أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَاكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ()قَالُوا يَاوَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ()فَمَا زَالَتْ تِلْكَ دَعْوَاهُمْ حَتَّى جَعَلْنَاهُمْ حَصِيدًا خَامِدِينَ()وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ()لَوْ أَرَدْنَا أَنْ نَتَّخِذَ لَهْوًا لَاتَّخَذْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا إِنْ كُنَّا فَاعِلِينَ() بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ وَلَكُمْ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ()وَلَهُ مَنْ

khanlibrary.org



فِـــي السَّـــمَاوَاتِ وَالْـــأَرْضِ وَمَـــنْ عِنْدَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ() يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ [د انبياء سورت ۱۰ - ۲۰ آيتونه]

(ای خلکو ! مونږ تاسې ته داسې يو کتاب ليږلی دی چې په هغه کښې همداستاسې يادونه ده ،آيا تاسې نه پوهيږئ ؟ څومره ظالمې سيمې دي چې مونږ هغه ورانې ويجاړې کړې اوله هغو وروسته مو نور قومونه راپاڅول ، کله چې هغوته زمونږ عذاب څرګند شو نوهغو له هغه ځايه په تيښته لاس پورې کړ ، هغزي ته (وويل شول ) " مه تښتئ ورشئ خپلو همغو کورونو اودعياشۍ وسايلو ته چې تاسې پکښې بې غمه اوسيدلۍ ،ښائي چې له تاسې نه پوښتنه وشي " ، ويې ويل "های زمونږ بدمرغۍ ،بيشکه چې مونږ ظالمان وو" ، اوهغوی همدغه ناړې وهلې تردې پورې چې مونږ هغوی غوبل کړل ، دژوند يوبڅری قدرې په هغو کې پاتې نشو- مونږ دغه آسمان اوځمکه اوهر څه چې په دي کې دي دلو بې په ډول ندي پيداکړي ، که مونږ څه دلوبو وسايل جوړول غوښتلی اوهمدغه زمونږ کړنچاره وای نوله خپل لوري به موکړې وای ، خومونږ پرباطل باندې دحق ګوزارکوو چې دهغه سرماتوي اوهغه ګوري محوه کيږي اوستاسې له پاره دهغو خبرو لامله تباهي ده چې تاسې يې جوړوئ ، په ځمکه او آسمانونو کې چې هرمخلوق دی دالله دی ، اوکومې پرښتې چې له هغو سره دي هغوی نه په لوئۍ کولوسره دهغه له بندګۍ نه سرغړوي اونه ستومانه کيږي ، شپه اوورځ دهغه پاکي بيانوي وقفه تکښې نه راولي ) .

## کائنات پرحق او حقيقت استوار دی

د انسان فطرت دغه " حقيقت " د خپل وجود په تل او ژورتيا کې احساسوی او رينښونوالی يی درک کوی ، له يوی خوا په خپله د انسان جوړښت او له بلی خوا د ده شا وخواته د بی پايه کائناتو منظم جوړښت او حرکت ، هره شيبه د دی خبری تصديق کوی چې کائنات پر " حق " ولاړ او استوار دی او همدغه د دغه نظام اصل جوهر دی ، دا له يوه داسی مرکزی

khanlibrary.org



او کلی قانون سره ارتباط لری چې ده ته یی ثبات او دوام وربښلی دی او د بشرژوند له فساد او تباهی نه ساتی .

په دی کائناتو کې هیڅ ډول زیان نه پیدا کیږی ، لاری یی سره بیلی نه دی او په توکونو کې یی تضاد نشته ، همدا رنګه دغه نظام د کوم تصادف له مخی ، روان ندی او نه د بخت وطالع د احسان مرهون دی او نه د یوه دقیق او منظم پلان نه پرته حرکت کوی .

د هر چا د هر دم خیاله فکر او هوس په لاسونو کې لوبځی هم ندی ، بلکه د خپل دقیق ، منظم او سخت ګیره قانون له مخی په ټاکلی لاره سم سیده او منظم روان دی ، د اختلافاتو پیل د انسان او د فطرت ترمینځ له تصادم او ټکر څخه کیږی او دا هغه وخت پیښیږی چې انسان له هغه " حق " نه بی لاری او منحرف شی ، چې د ده د فطرت په تل کې پټ دی او نفسی غوښتنی پرده غلبه ومومی .

او بیا دی د خپل ژوندانه د سمون قانون د الله تعالی د ټاکلی شریعت پر ځای د خپلو خواهشاتو د شریعت له قانون نه اخلی او لکه څنګه چې دا ټول کائنات د الله جل جلاله د فرمان او قانون په مخکې لاس پر سینه دی د دی پر ځای د سرغړونی او سرکشی لار غوره کوی .

## له حق نه د بی لاری نتیجی :

لکه څنګه چې د انسان او د هغه د فطرت او انسان او کائناتو ترمینځ اختلاف او بډوالی ( تضاد ) پیدا کیږی ، په همدی توګه دغه اختلاف ورو ، ورو زیاتیږی او د وګړو ، پرګنو ، اولسونو ، ملتونو او مختلفو بشری نژادونو ترمینځ د اختلاف بڼه غوره کوی ، د دی اختلاف نتیجه به دا وی چې د کائناتو ټولی ګټوری زیرمی او خزانی د دی پر ځای چې د بشریت د خیر ، او ښیګړو لپاره پکار واچول شی برعکس د هغوی د تباهی او بربادی لپاره کارول کیږی .

له پورتنی تفصیل نه دا څرګندیږی چې د هغه واضح مطلب لپاره چې په نړۍ کې د الله تعالی د شریعت قیام او پاڅون ضروری دی ، هغه یوازی د آخرت لپاره تونبه غوندول نه دی ، لکه څنګه چې صوفیان وایې :

khanlibrary.org



ښه ده ښه ده دا دنیا چې توښه ده د عقبا

دنیا او آخرت دوه مختلف څیزونه هم نه دی ، بلکه د یوه منزل دوه پړاوونه دی ، دواړه یو برابر حثیت او ارزښت لری او یو د بل بشپړوونکې دی ، د الله جل جلاله شریعت له یوی خوا نه په انسان کې ددغو دواړو پړاوونو ترمینځ توافق او برابری پیدا کوی او له بلی خوا نه د ټول بشریت د ژوند دود توافق له مرکزی قانون سره پیدا کوی ، له همدی امله که چیری د کائناتو له مرکزی قانون سره توافق پیدا شی ، نو د هغی له برکته چې انسان ته کومه نیکمرغی ور په برخه کیږی ، هغه به یوازی د منزل د دویمی مرحلی " آخرت " لپاره پکار نه وی ، بلکه د منزل د لومړی مرحلی ( دنیا) لپاره به هم ډیره ګټوره وی ، البته په آخرت کې به هغه د کمال او عروج پړاو ته رسیږي .

دا و د ټولو کائناتو او همدا رنګه د کائناتو د یوه توک ( انسان ) په برخه کې د اسلامي ایډیالوژی بنیادی تصور ، دغه تصور د خپل فطرت او اصلیت له مخی له هغو ټولو تصوراتو سره بنیادی توپیر لری ، چې تر اوسه په نړۍ کې دود دی ، همدغه علت دی ، چې هغه مسئولیتونه ، ذمه واری او فرایض ، چې دغه تصور یی له ځان سره راوړی د هغی څرک د دنیا په نورو تصوراتو او د ژوند په قوانینو کې نه لیدل کیږی .

د دغه تصور له مخی د الهی شریعت متابعت او پیروی په حقیقت کې د هغی اړتیا غوښتنه ده ، چې د انسانی ژوند او کائناتو د ژوند.ترمینځ او د هغه قانون ترمینځ ، چې په انسانی فطرت او کائناتی فطرت حاکم دی کامل ارتباط او توافق موجود وی ، د دغی اړتیا یوه بله غوښتنه دا ده ، چې د کائناتو د مرکزی قانون او د انسانانو د ژوند سموونکې قانون "شریعت " ترمینځ هم پوره موافقت او مطابقت موجود وي .

همدا رنګه د الهی شریعت تر متابعت وروسته انسان لکه څنګه چې ښایی د الله جل جلاله د بندګی وظیفه سر ته رسولای شی ، لکه څنګه چې دا کائنات په صادقانه توګه یوازی د الله جل جلاله بندګی کوی ، بل هیڅ مخلوق د الله جل جلاله د بندګی وظایف داسی سر ته نشی رسولای ، د

khanlibrary.org



هغه توافق او مطابقت اړتیا ته چې مونږ مخکې اشاره کړې ده ، د هغې اشاره مونږه د هغو خبرو اترو ترمینځ هم موندلای شو چې د حضرت ابراهیم علیه السلام د ( مسلمان امت بابا ) او نمرود ترمینځ هم شوی وي .

نمرود یو ظالم او تیری کوونکې حاکم و ، ځان یې د خپل هیواد د وګړو الله باله ، خو له دی سره دستور و ، سیارو او افلاکو دنیا د ده د قدرت له دایرې نه وتلی وه ، کله چې حضرت ابراهیم علیه السلام د هغه په مخکې دا دلیل ووایه چې هغه ذات چې د تولې نړۍ د مخلوقاتو د حکومت واکمن دی ، یوازې هماغه ذات دا حق لري ، چې د انسانانو پر ژوند هم تسلط او اقتدار (Sovereignty) ولري هغه په دی خبره حیران شو ، د دغه دلیل لپاره یې هیڅ ځواب نه درلوده ، په اسمانی کتاب قرآنکریم کې دا پیښه داسې راغلې ده .

" ایا تاسو د هغه چا په حال غور ندی کړی چې له ابراهیم علیه السلام سره یې په دی خبره جګړه کوله چې ابراهیم علیه السلام ورته وویل : زما الله جل جلاله د مخلوقاتو د ژوند او مرګ واک لري ، او هغه وویل چې : دا کار زه هم کولای شم .

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [د البقره سورت ۲۵۸ آیت ]

( ابراهیم علیه السلام بیا ورته وویل: الله تعالی لمر له ختیځ نه راخیژوی ته یې له لویدیځ نه راوخیژوه ، هغه د حق منکر چې دا خبره واوریدله نو حیران شو ، الله تعالی ظالمانو ته لارښوونه نه کوي ) .

الله تعالی په دی برخه کې فرمایلی دی :

أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ [د ال عمران سورت ۸۲ آیت]

khanlibrary.org



( ایا دغه خلک د الله تعالی له دین نه پرته کومه بله لار غوره کوی ، په داسی حال کې چې د ځمکې او اسمانونو موجودات په خوښی او ناچاری د الله جل جلاله د امر او فرمان تابع دی او د همغه په لور به تول ورګرځی ) .

khanlibrary.org



# اوم فصل

## اسلام ریښتونی تمدن دی

### د اسلامي او جاهلی ټولنی اساسی توپیر :

اسلام یوازی دوه ډوله ټولنی پیژنی یوه اسلامي ټولنه او بله جاهلی ټولنه ، اسلامي ټولنه هغه ده ، چې د مشرتابه واګی یې د اسلام په لاس کې وی ، د انسانانو پر ګروهه ، عبادت ، اخلاقو ، معاملاتو ، د حکومت د چارو او نورو قوانینو او همدا رنګه د ژوند په هر ارخ کې عملا د اســلام واک موجود وی ، جاهلی ټولنه هغه ده چې اســلام د ټولنی په عملی ژوند کې بی واکه وی .

نه د اسلام عقایدو او تصوراتو ته څوک په درنښت ګوری او نه اسلامي اوامر او نواهی څوک منی ، نه د اسلامي قوانینو او ضوابطو حکومت وی ، او نه پکې اسلامي لوړ او غوره اخلاق ، څه برتری لری .

اسلامي ټولنه هغه نه ده چې له یو څو انسانانو نه چې ( د مسلمان په نامه یادیږی ) جوړه شوی وی ، خو اسلامي شریعت هلته هیڅ قانونی او اجرایې ارزښت ونلری ، په داسی ټولنه کې که د لمونځ روژی او حج مراسم پر ځای هم شی ، بیا هم ورته اسلامي ټولنه نشو ویلای ، بلکه هغه به یوه داسی ټولنه وی چې د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د احکامو او پریکړو نه پرته د خپلو نفسی غوښتونو تر اغیزی لاندی غواړی ، چې اسلام په یوه نوی بڼه رامینځ ته کړی او د مثال په توګه هغه د " ترقی غوښتونکې " اسلام په نامه ونوموی .

جاهلی ټولنه په هره بڼه راڅرګندیدلای شی ، چې ټولی بڼی یې له جاهلیت نه سر چینه اخلی ، کله هغه د یوی داســي ټولنی کمیس واغونــدی ، چې د الله تعالی له وجــود نــه یو مخیزه سترګی پټوی او د بشــری تاریخ جدلي توجیه (Dialectal Interpretation) کوی او علمي سوسیالیزم (Scientific Socialism) د ژوندانــه د بنسټیز نظـــام په توګه منی .

khanlibrary.org



کله د یوی داسی ټولنی په بڼه رابښکاره شی چې د الله جل جلاله له وجود نه بالکل انکار نه کوی ، خو د هغه خدایې ځواک یوازی په اسمانونو پوری محدود ګڼی ، د ځمکې په فرمانروایې کې د هغه خدایی له سره نه منی ، نه خدایی شریعت ته د ژوند د سموونکې قانون په توګه د انفاذ حق ورکوی او نه د الله جل جلاله له خوا لالهانده بشر ته د غوره کړای شوو ابدی او نه بدلیدونکو معیارونو پر اساس د ژوندانه حق ورکوی .

هغوی یوازی خلکو ته دا اجازه ورکوی ، چې په جوماتونو ، کلیساوو او نورو عبادت ځایونو کې د الله جل جلاله ستاینه او یادونـــه وکړی ، خو دا نشی زغملای ، چې خلک دی د ژونـد پـــه نـــورو ارخونو کې هم د اســلام د عملی تعلیماتو حکومت تـــه غاړه کیږدی ، نو له دی امله دغـــه ټولنی د الله جل جلاله پـــه ځمکه کې د الله جل جلاله له خـــدایې نه باغی ګڼل کیدای شي .

ځکه چې هغوی د الله جل جلاله قوانینو ته په عملی ژوند کې څه ارزښت نه ورکوی ، په داسی حال کې چې الله تعالی صریحا فرمایلی دی :

وهو الذی فی السماء اله وفی الارض اله ( هماغه الله جل جلاله دی چې په ځمکه کې هم الله دی او په اسمان کې هم الله دی ) ، د دوی د دغه دول عمل له مخی ټولنه د الله جل جلاله د هغه سپیڅلی نظام په تعریف کې نشی راتلای ، چې الله تعالی په لاندنیو آیتونو کې د دین قیم په نامه تعبیر کړیده .

إِنْ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ [د یوسف سورت ۸۴ آیت ]

( فرمانروایې یوازی هماغه پاک ذات لره ښایې ، د هغه فرمان دی ، چې له هغه نه پرته به د بل چا بندګی نه کوی ، همدغه دین قیم ( د ژونـد پاکه او سمه لار ده ) .

همدغه عمـل ، هغـه ټولنیز عمل دی ، چې د هغی له امله دغه ټولنه هم د جاهلی ټولنو په قطار کې دریږی ، که هغوی سل ځله هم د الله جل جلاله په شته والی ایمـان راوړی او خلک په جومـاتونو ، او کلیسـاوو کې د الله جل جلاله له عبادت نه ایسار نه کړی .

khanlibrary.org



## یوازی د اسلامي ټولنه مهذبه ټولنه ده

د دغی څیړنی په پیل کې ، چې مونږ د اسلامي ټولنی کومه پیژندنه وکړه ، نو د هغی له مخی بی ځایه نه ده ، چې ووایو په حقیقت کې یوازې اسلامي ټولنه مهذبه ټولنه ده ، جاهلی ټولنه چې په هر رنګ او بڼه وی . بنیادی توګه به وروسته پاتی او نا مهذبه ټولنه وی ، پکار ده چې د دغه اجمال وضاحت وکړو .

یو څل ما د خپل تر چاپ لاندی کتاب اعلان خپور کړ او د هغه نوم می نحو مجتمع اسلامي متحضر ( د مهذبی اسلامي ټولنی په لور اینبی و) ، خو په بل اعلان کې می له دغه نوم نه د مهذب کلمه لری کړه او نوم می پری یوازی " اسلامي ټولنه " کیښوده .

دغه موضوع د یوه الجزایری لیکوال له نظره چې په فرانسوی ژبه لیکنی کوی ، تیره شوی وه ، هغه په دی برخه کې د تبصری په لړ کې لیکلی وو چې د دغه بدلون انګیزه هغه روحی عمل دی ، چې له اسلام نه د دفاع او پلوی په وخت کې ذهن متاثره کوی ، نوموړی په دغه حالت خواشینی ښکاره کړی وه او ویلی یی وو ، چې دغه عمل د فکری کمزوری او خامی نښه ده ، چې لیکوال له اصلی ستونزی سره له یوه ریښتونی او عالمانه برخورد نه ایسار وی .

زه دغه الجزایری لیکوال معذور ګڼم ، زه په خپله هم پخوا د هغه هم فکره وم او کله چې ما د لومړی څل لپاره پر دغی موضوع د څه لیکلو لپاره قلم راپورته کړ همداسی فکر می کاوه ، لکه څنګه یی چې اوس دغه الجزایری کوی ، له کومی ستونزی سره چې اوس دی مخامخ دی .

هغه وخت زه هم ورسره مخامخ وم یعنی دا چې " تهذیب خـه ته وایې ؟ تر هغه وخته پوری لا زه له خپلو علمی او فکری کمزوریو نه خلاص شوی نه وم ، چې زما له روحي او ذهنی جوړښت سره اخښل شوی وی ، د دغو کمزوریو علت دا و چې هغه وخت زما پر ذهن د لویدیځو اثارو ، افکارو او تصوراتو ګرد پروت و چې زما د اسلامي احساس او شعور هینداره یی خیرنه کړی وه .

khanlibrary.org



او په هغه وخت کې هم زما د څرګند اسلامي ذوق او مفکورې مخالف وو ، همدغو اساسي کمزوريو زما د فکر او ضمير لوحه خيرنه کړې وه او د هغو سپيڅلي اسلامي انځورونه يې مسخ کړې وو ، د تهذيب هغه تصور چې د لويديځ ، مفکر انځور کړې و زما سترګو ته به کيده ، زما پر ذهن يې توره پرده غورځلې وه ، زه يې د سپيڅلي او څرګند حقيقت په پوهيدلو کې بې وسې کړې وم .

خو وروسته بيا د الله جل جلاله په فضل د اسلام اصلي تصوير زما مخې ته راغې او دا راز راته څرګند شو ، چې اسلامي ټولنه په اصل کې مهذبه ټولنه ده ، نو کله چې ما د خپل کتاب پر نامه غور وکړ نو ماته په کې د " تهذيب " لفظ زايد ښکاره شو .

ځکه چې د هغه له شته والی نه په مفهوم کې زياتوالی او څرګند والی نه راځي ، بلکه دا لفظ به د کمزورې ويونکې پر ذهن او احساس د هماغه پردې فکرې ( لويديځ فکر ) سيورې وکړې چې زما پر ذهن هم شوې و ، چې زه يې د يوه سم نظر له لرلو نه بې برخې کړې وم .

اوس تر څيړنې لاندې موضوع دا ده ، چې تهذيب څه ته وايي ؟ د دغه حقيقت څرګندول ضروري دي ، په کومه ټولنه کې چې حاکميت يوازې د الهي شريعت لپاره مخصوص کړای شوی وي او د دې عملي ثبوت دا دی ، چې د خلکو د ژوندانه چاري هم په عمل او هم په نظر کې د الهي قانون تابع وي ، نو يوازې په داسې ټولنه کې انسان د ځان په څير انسان له مرئيتوب نه د پوره ازادي خوند څکلی شي ، د دغې کاملې او حقيقي ازادي نوم " انساني تهذيب " دی .

دا ځکه چې انساني تهذيب يوه داسې اساسي اداره غواړي چې د هغې په ټاکلو بريدونو کې انسان له کاملې او ريښتونې ازادي نه برخورداره وي او د ټولنې هر وګړې بې له کومې اړې او شرط نه په پوره ازادي د انساني شرف او فضيلت له ښيګړو نه برخه من وي .

په کومه ټولنه کې چې دا حال وي ، چې څوک له ځانه شريعت جوړوي او پر خلکو يې ورتپي او پاتې نور خلک مريان وي ، نو په داسې ټولنه کې

khanlibrary.org



انسان د انسان په توګه له انسانی ازادیو نه بی برخی وی ، له هغه شرافت او فضیلت نه هم ګټه نشی اخیستلی ، چې له انسانیت سره ټرلی دی .

دلته په ضمنی توګه باید دا ټکې هم روښانه کړو ، چې د قانون ساحه یوازې تر احکامو پوری محدوده نه ده ، لکه څنګه چې اوس د شریعت د لفظ په باره کې د خلکو په ذهن کې یو ډیر لنډ تنګ مفهوم ځای نیولی دی ، مختلفی نظریې ، اوامرو ، نواهی ، ژوند دودونه او دستورونه ، دا ټول د قانون په دایره کې راتلای شی په قانون سره تنظیمیدای شی او پر خلکو اغیزه کوی .

که د انسانانو یو مخصوص ټولی د الهی قانون دغه ټول میتودونه تر پښو لاندې کړی او داسی وانګیری ، چې په دغو مسایلو کې د الله جل جلاله قانون تـه اړتیا نشته ، پـه خپله قانون جوړ کړی او د ټولنی نـور خلک پـه هغو مقید وګنی ، نو داسی ټولنی تـه څوک ازاده ټولنه ویلای شی ؟ دا خو داسی ټولنه ده ، چې ځینی خلک په کې د ربوبیت مقام لری او نور خلک د هغوی د بندګی په مصیبت اخته دی ، له همدی امله دغی ټولنی ته وروسته پاتی ټولنه یا په اسلامي اصطلاح جاهلی ټولنه وایی .

یوازی اسلامي ټولنه دا ځانګړتیا لری ، چې د قدرت واګی به یی یوازی د الله جل جلاله په لاس کې وی ، په دی توګه انسان د خپلو هم نوعو د غلامی زولنی ماتوی او د الله جل جلاله د غلامی په دایره کې داخلیږی ، په همدی توګه د بشپړی ازادی له نعمت نه چې د وګړیز تهذیب اصل ښیګړه ده برخه من کیږی ، په دغه ډول ټولنه کې انسان د ریښتونی انسان فضیلت او شرف په نور چې الله تعالی ورته غوره کړیدی منور کیږی .

په دغه ټولنه کې انسان له یوی خوا نه د الله جل جلاله د نیابت په منصب محسور ( سرخروی ) کیږی او له بلی خوا نه ، هغه ته دا اعلان کیږی چې دوی د ډیر لوړ مقام او دریځ د لاسته راوړلو وړ دی ، چې په غوره ځای " ملاء اعلی " کې ورته ټاکل شویدی .

khanlibrary.org



## د اسلامي او جاهلی ټولنی جوهری خصوصیات

په کومه ټولنه کې چې د وګړو ترمینځ يې د اړیکو او مدنیت بنیادی جړې عقیده ، نظـر او ژوند دود وی او د هغی منبع او ماخذ هم یـوازې الله جل جلاله وی او انسان ته هم د هغه د نیابت ویاړ ور په برخه وی ، داسی نه وی چې د انسان په غاړه کې د ځمکنیو اربابانو د غلامی کړی پرته وی ، بلکه برعکس ، انسان یوازې د الله جل جلاله بنده وي .

نو هغه وخت یوه داسی سپیځلی انسانی ټولنه مینځ ته راتلای شی ، چې په هغه کې به ټولی انسانی ځانګړتیاوی د ځلنده لمر په توګه څرګندی وی ، چې د انسان په روح او فکر کې په امانت ایښودل شویدی ، خو که د دی برعکس په ټولنه کې د انسانی اړیکو بنسټ د رنګ ، نژاد ، قوم ، هیواد او داسی نورو اساساتو باندی ولاړ وی ، نو ښکاره خبره ده ، چې دغه اساسات به د زنځیرونو پشان وی او هیڅکله به د انسانانو لوړو ځانګړتیاو ته د څرګندیدو زمینه برابره نه شی .

انسان چې د رنګ ، نژاد ، قوم او وطن له ځنځیرونو نه خلاص نه وی ، هم د انسان په توګه ژوند کولای شی ، خو له روح او عقل نه پرته هغه د انسان په څیر نشی اوسیدای ، پردی سربیره هغه کولای شی ، چې د خپلی ګروهی په برخه کې پخپله غور وکړی او په خپله ازاده اراده د هغی د بدلولو اختیار لری ، خو د خپل رنګ او نسل په بدلولو قادر نه دی او نه هغه د دی خبری قدرت لری ، چې د ځان په برخه کې په کوم مخصوص قوم او وطن کې د زوکړی پریکړه وکړی .

نو له دی امله دا ثابته شوه هغه ټولنه چې د جوړښت بنسټ یی په یوه داسی خبره ایښودل شوی وی ، چې هلته هرڅه د هغوی په ازادی او خوښی پوری اړه لری ، هماغه ټولنه د تهذیب په نور منوره ده او له دی نه پرته هغه ټولنه ، چې وګړی یی له اسلامي او انسانی مفکوری نه پرته پر کوم بل اساس راټول شوی وی ، هغه وروسته پاتی ټولنه ده یا په اسلامي اصطلاح جاهلی ټولنه ده .

khanlibrary.org



یوازی اسلامي ټولنه دا امتیاز لری چې د بنسټ ډبره یی پر ګروهه ولاړه ده او په هغی کې یوازی او یوازی ګروهه قوی سند کیدای شی ، تور ، سپین ، ژیړ ، عربی ، رومی ، فارسی ، حبشی او دغه ډول قومونه ، چې د ځمکې پر مخ میشت دی په یوه صف کې یی دروی او په یوه امت کې یی راټولوی ، چې معبود به یی یوازی الله جل جلاله وی او یوازی به د هغه په مخکې د عجز او بندګی سر ټیټوی .

په دوی کې به د عزت او پت خاوند هغه وی ، چې متقی وی او له الله جل جلاله نه ویره ولری ، د هغوی ټول وګړی د قانون په مخکې یو برابر حیثیت لری ، هغه قانون چې الله جل جلاله د دوی د ژوند د سمون لپاره غوره کړیدی ، نه د دوی په ځیر کوم انسان چې د خپلو شخصی اغراضو او ګټو څرک یی په کې وخلیږی .

په کومه ټولنه کې چې د انسان انسانیت له ډیرو لوړو اهدافو او معیارونو نه ګنل کیږی او انسانی خصوصیات پکې د عزت او درناوی وړ وی ، نو هماغه ټولنه مهذبه او متمدنه ټولنه ده ، که چیری مادیت په هره بڼه چې وی ، له اساسی او لوړو معیارونو نه وګنل شی .

پرته له دی نه چې هغه د نظریی په بڼه وی ، لکه څنګه چې د تاریخ د مارکسیستی نظـریې په اساس لوړ معیارونه ماده پرستی ده یا د مـادی پیدا وارو په رنګ کې لکه څنګه چې پـه امریکا ، اروپا او هغو ټولو ټولنو کې همدا حال دی ، چې مادی پیدا وار د ژوند اساسی بنسټ ګڼی ، او د هغی په وړاندی ټول انسانی خصوصیات او معیارونـه په سولی ( دار ) خیژوی ، داسی ټولنی تـه وروسته پاتی یا په اسلامي اصطلاح جاهلی ټولنه ویل کیږی .

مهذبه ټولنه یعنی اسلامي ټولنه مادی ته په سپکاوی نه ګوری ، نه د فکر او نظر له مخی هغه بی ارزښته ګڼی او نه مادی پیداوارو ته په سرسری نظر ګوری ، د اسلام نظر دا دی ، په دغو کائناتو کې چې مونږ ژوند کوو ، مونږ پری اثر کوو او ترینه متاثره کیږو له مادی نه جوړ شویدی ، اسلام مادی پیدا وار په دنیا کې د اسلامي خلافت ادا نه ( پشتوانه ) ګڼی .

khanlibrary.org



فرق یوازی همدومره دی ، چې اسلامي ټولنه مادی ته دومره لوړ مقام او دریځ نه ورکوی ، چې معبود تری جوړ کړی ، داسی چې د تقدس په درشل به یی د انسان ټول روحانی او عقلی خصوصیات او د انسانیت لوازم سر په سجده وړی ، او یا د فرد ازادی او شرف تری ځار کړی .

د کورنی نظام ، بنسټ او اساس د همدی لپاره ونړوی ، ټولنیز اخلاق او د ټولنی سپیځلی اړیکې تری ځار کړی ، لنډه دا چې ټول لوړ انسانی فضایل ، پت ، عزت شرافت او .... چې وګړوا له " بشریت " پری ویاړی ، له خاورو سره خاوری کړی ، لکه څنګه چې په ټولو جاهلی ټولنو کې د مادی پیدا وارو د زیاتوالی لپاره دغه ټول کارونه شوی دی او کوی یی .

که د ټولنی د چارو واګی د لوړو انسانی معیارونو او د هغی پر بنسټ روزل شوو انسانی اخلاقو په لاس کې وی ، نو بی له شکه به دغه ټولنه په ریښتونی بڼه د تهذیب او تمدن زانګو وی ، انسانی معیارونه او اخلاق څه داسی څیزونه نه دی ، چې څوک پری برلاسی نشی او نه د تاریخ د مادی تفسیر او علمی سوسیالیزم Scientific Socialism د داعیانو د نظر پر اساس د زمانی له بدلون سره هره ګړی بدلون او تغیر ته چمتو دی .

چې په هیڅ حال کې پر خپل حال او خپل ځای استقرار نلری او له کوم مرکز سره په کومو مزو تړلی نه دی ، دا هغه انسانی ځانګړتیاوی دی ، چې د انسانی ځانګړتیاوو ریښی ( چې انسان پری له حیوان نه توپیر کیږی ) خړوبوی او د انسانانو په کتار کې دروی .

دغه اخلاقي معیارونه او میتودونه ، چې انسان د حیواناتو له کتار نه راوباسی او د انسانانو په کتار کې یی دروی داسی نه دی ، چې په انسان کې هغو ځانګړتیاوو او صفاتو ته وده ورکړی چې په انسان او حیوان کې سره شریک دی .

## د تمدن پیمانه

که د تهذیب مسئله په دی تله وتلل شی ، نو دا به د لمر په څیر څرګنده شی ، چې هغه ټولی هڅی او هلی ځلی چې ترقی غوښتونکې او د علمی

khanlibrary.org



سوسیالیزم پلویان یی کوی ، بی ګټی دی ، چې وایې د تهذیب او تمدن ، اخلاقي معیارونه ، تغیر او بدلون منی .

د تهذیب د مخکینی او پورتنی څیړنی نه دا هم څرګنده شوه چې د " محیط " او " عرف " اصطلاحات په حقیقت کې د اخلاقي معیارونو ټاکونکې نه دی ، بلکه د متغیر محیط او عرف تر شاه یو نه بدلیدونکې پوخ معیار او میزان موجود دی ، چې دغه معیارونه ټاکي .

همدا رنګه باید ووایو چې د اخلاقي معیارونو لپاره په ټاکل شوو بریدونو کې د دی خبری ځای نشته ، چې مونږ یو لړ اخلاقو ته زراعتی اخلاق یا فیوډالی اخلاق ووایو ، چې د هغی په مقابل کې " صنعتی اخلاق " او پانګوالی اخلاق راشی او یا هم څه سوسیالیستی اخلاق ، بورژوازی اخلاق او پرو لتاری اخلاق وی ، چې هغه هم بیا څه موده وروسته له مینځه لاړ شی ، ځکه چې د بدلیدونکې محیط او چاپیریال محصول دی .

د دغه سرسری او برسیرن ( سطحی ) ویش پر خلاف په اسلامي ټولنه کې انسانی اخلاق وی ، چې په مقابل کې یې حیوانی اخلاق موجود دی ، په اسلامي اصطلاح دا خبره مونږ داسی کولای شو ، چې اخلاق یوازی دوه ډوله لری : اسلامي اخلاق او معیارونه ، جاهلی اخلاق او معیارونه .

اسلامي اخلاق او معیارونه د انسان په نفس کې هغو خصوصیاتو ته وده ورکوی ، چې انسان پری له حیوان نه توپیر کیږی ، اسلام په هغو ټولو ، ټولنو کې چې بری او حکومت یی ور په برخه شی ، د همدغه ډول اخلاقي معیارونو تخم شیندی او بیا د هغی په وده او روزنه کې ربړ او زیار ګالی ، چې وده وکړی او میوه ونیسی ، اسلام هڅه کوی چې د دغه ډول تخم نیالګیو ریښی او ولی ډیری ژوری او کلکې شی ، چې د پیښو توپانونه یې بی ځایه نکړای شی .

دا مهمه نده چې دغه ټولنی د کرنی په پړاو کې وی که په صنعتی پړاو کې ، بدوی ټولنی وی او که درمو ساتلو اوشپنی په پړاو کې ، متمدنی ، شتمنی او استقرار لرونکې ټولنی وی او که خواری او نیستمنی ټولنی وی ، اسلام په هر وخت کې هڅه کوی ، چې لوړو انسانی ځانګړتیاوو ته وده

khanlibrary.org



ورکړی ، او له اخلاقي پلوه حیوانیت ته د هغوی له ورنژدی کیدو نه مخنیوی کوی .

په حقیقت کې د اخلاقي معیارونو او اصولو په دنیا کې د برید لیکه له حیوانیت سره له ښکې نه پورته خواته ځی او د حیوانیت له ټیټی پوړی نه د انسانیت لوړی او غوره پوړی په لور حرکت کوی ، خو که چیری دغه برید لیکه سرچپه بڼه غوره کړی او له پورته نه ښکته خواته لاړه شی ، سره له دی چې په ټولنه کې به مادی پرمختګ ( تهذیب ) موجود وی ، خو بیا هم ورته د تهذیب نوم نشو ورکولای ، ځکه چې دا به تنزل او ټیټوالی ، یا جاهلیت وی .

## د تمدن په پرمختګ کې د کورنی اهمیت

که چیری کورنی د ټولنی اساس او بنسټ وی او د کورنی اصول د ښځی او نر ترمینځ د کار د ویش پر اصولو ولاړ وی او هغه څوک چې د کوم کار فطری وړتیا او لیاقت لری او د هغی پر اساس خپل مسئولیتونه ښه ترسره کولای شی ، او هم د نوی نسل با مسئولیته پالنه او روزنه خپلو اصلی وظایفو نه وګنی نو داسی ټولنی ته بی له شکه مهذبه ټولنه ویلای شو .

د کورنی دغه دول نظام او جوړښت به ربښتیا هم د اسلامي ژوند دود تر سیوری لاندی داسی چاپیریال مینځ ته راوړلی شی ، چې هلته د انسانی لوړو معیارونو او انسانی اخلاقو غوټی وغوړیږی او نوره هم وده وکړی او نوی توکم ( نسل ) په خپلی تازګی او خوږلنی د ریښتونی ژوند له خوږو سره اشنا کړی .

دغه لوړ اخلاقي معیارونه د کورنی له غیږی نه پرته بل ځای کې په سمه او فطری توګه د حقیقت جامه نشی اغوستلای ، خو کله چې جنسی اړیکې او ازادی ، چې په اوسنی پیړۍ کې ورته " د ازادو جنسی اړیکو " نوم هم ورکوی زیاتی شی او د دی پر اساس په ټولنه کې یو ناروا او نا مشروع نسل مینځ ته راشی او د نر او ښځی ترمینځ اړیکې یوازی د نفسی غوښتنو جنسی تندی ، او حیوانی پاروونکو اصولو پر اساس ټینګی شی ، د کورنیو مسئولیتونو او فطری وړتیا او صلاحیتونو پر اساس د کار ویش نه وی .

khanlibrary.org



د بنځې کار یوازې ، زینت ، بنکلا ، ناز او هڅول وی ، د نوی توکم له روزنې نه ، چې اساسي وظیفه یې هم دا ده لاس واخلي او یا په خپله د تولنیزو غوښتنو او ارتیاوو پر اساس په کوم هوتل ، الوتکه او یا سمندري جهاز کې د میلمه پالنې دنده ( وظیفه ) غوره وګڼي او په دې توګه خپل ټول اهلیت او صلاحیت د انسان جوړونې پر ځای د مادیاتو په پیدا کولو او جوړولو کې په کار واچوي .

خکه چې د انسان جوړولو پر ځای هغې ته د مادیاتو ګټل زیات ګټور ، پتمن او د ستاینې وړ کار بنکاري ، نو داسې تولنه له انساني تمدن سره د پرتلې په وخت کې ډیره سپکه خیژي او یوه بیرته پاتې تولنه ده یا په اسلامي اصطلاح جاهلي تولنه او جاهلي زمانه ده .

د کورنۍ سیستم د اړیکو بنیاد او اساس د بنځې او نر ترمینځ یوه داسې اسلامي مسئله ده ، چې د تولنې د خانګړتیاوو ( مشخصات او خصوصیات ) په تاکلو کې غوڅ او پریکنده نقش لري ، د هماغو اصولو پر اساس د تولنو په برخه کې مونږ دا پریکړه کولای شو ، چې کومه تولنه وروسته پاتې ، کومه پرمختللې او مهذبه ، کومه جاهلي ده او کومه هم اسلامي تولنه ده .

په هغو تولنو کې ، چې حیوانې اخلاق ، معیارونه حیوانې جذبات او اصول حکومت کوي ، هغو ته هیڅکله هم مهذبې تولنې نشي ویل کیدای ، که له صنعتي ، علمي او اقتصادي پلوه هر څومره پرمختللې هم وي ، دا هغه پیمانه ده چې د " انساني پرمختګ " د اندازې په تاکلو کې هیڅ ډول تیروتنه ( سهوه ) او غلطي نه کوي .

## د لوبدیځ تمدن څرنګوالی

د اوسنۍ پیړۍ په جاهلي تولنو کې د اخلاقو مفهوم دومره لنډ او تنګ شوی دی ، چې د دغه مفهوم له کړۍ نه د اخلاقو هر هغه ارخ بهر شویدی ، چې د انسان او حیوان ترمینځ به د توپیر برید لیکه وه ، په دغو تولنو کې ناروا جنسي اړیکې خو لا څه کوي ان تردې چې د هم جنسو ترمینځ هم جنسي افعال اخلاقي نیمګړتیا او عیب نه ګڼل کیږي ، اخلاقي مفاهیم په

khanlibrary.org



اقتصادي معاملو او کله کله په سیاست کې هم د اعتبار وړ ګڼل کیږي ، هغه هم د ګټو د خوندی ساتلو تر حده پوری نه له هغی نه زیات او نه کم .

د ساری په توګه د کرستن کیلر او برطانوی وزیر دفاع پروفیمو افتضاح په انګلیسی ټولنه کې د جنسی اړیکو له امله کومه د شرم او اهمیت وړ خبره نه وه ، دغه پیښه که د شرم وړ وه ، نو یوازی له دی پلوه وه ، چې کریستن کیلر په یوه وخت کې هم د پروفیمو محبوبه وه او هم یی د روسی سفارت له سمندری اتاشه سره د معاشقی اړیکې موجودی وی .

نو له دی امله د دغی ښکلی او کم عمره نجلی د اړیکو له امله د انګلستان د دفاع له وزیر سره دا ویره وه ، چې د برطانیی نظامی اسرار د روسانو لاسته ورنشی ، پردی سربیره دا هم ، چې نوموړی وزیر د پارلمان د غړو په مخکې د دغی پیښی په هکله درواغ وویل او هغه څرګند شول د همدغې پیښی په څیر د امریکا د سنا په مجلس کې هم یوه رسوایې مینځ ته راغله ، چې د امریکایې او انګریزی جاسوسانو ( څرو) او دولتی مامورینو د حیا سوزوونکو اعمالو له مخی یی پرده پورته کړله .

هغوی وتښتیدل او روسانو ته یی پناه ور وړه ، خو دا ټولی پیښی په هغو ټولنو کې له دی امله د تاسف او شرم وړ نه وی ، چې تر شا یی د هم جنسو ترمینځ د جنسی افعالو ناوړه ډرامه روانه وه ، بلکه یوازی له دی امله د تاسف او شرم وړ وی ، چې د امریکا دولتی اسرار پکې د روسانو لاسته ورتلل .

په اوسنیو جاهلی ټولنو کې مونږ وینو چې د قلم خاوندان ، ادبیان ، او افسانه لیکونکې ، په ښکاره او څرګنده توګه په خپلو لیکنو کې پیغلو نجونو او واده شوو ښځو ته دا تبلیغ کوی ، چې د آزادو جنسی اړیکو درلودل کومه اخلاقي نیمګړتیا او عیب نه دی .

نیمګړتیا او عیب دا دی ، چې کومه نجلی له هلک سره او یا کوم هلک له نجلی سره د دوی په اصطلاح د ریښتونی مینی پر ځای دروغژنه مینه ولری او یو بل و دروهوی او دوستی یی پاکه نه وی !!!

دا هم ستر عیب او نیمګړتیا ده ، چې کومه پیغله تر پایه پوری خپل عفت وساتی او هغه یوازی د خپل خاوند حق وګڼی ، دا هم په هغو ټولنو کې

khanlibrary.org



پرمختیا لپاره له هغو قوانینو نه ګټه واخلی او د ځمکې د بی بها خزانو او خوراک د بی پایه ذخیرو د پیدا کولو لپاره یی پکار اچوی .

چې الله جل جلاله د کائناتو په سینه کې پټ ساتلی دی او انسان ته یی دا قدرت ورکړیدی ، چې دغه پټ مهرونه تر هغه اندازی پوری ماتولای شی او پر اسرارو یی ځان پوهولی شی تر کومی اندازی چې د الهی نیابت د وظیفی د سر ته رسولو لپاره ضروری او لازم دی .

لنډه دا کله چې انسان په نړۍ کې د الله جل جلاله له عهد او میثاق سره سم د الهی خلافت توغ پورته کړی او د دغه خلافت تر سیوری لاندی د رزق خزانی را پیدا کړی ، اومه مواد په صنعتی موادو بدل کړی ، او دول دول صنعتی مواد مینځ ته راوړی او له هغو ټولو فنی تجربو او علمی معلوماتو نه کار واخلی ، چې د بشری تاریخ ثمره ده ، هغه دغه ټول کارونه د یوه موحد او الله جل جلاله پرست انسان په توګه او د الله جل جلاله د ریښتونی خلیفه او ستایونکې په توګه سر ته رسوی .

کله چې یو انسان د ژوند په مادی او اخلاقي برخه کې دغه دول سلوک او رویه ولری ، نو بی له شکه به دغه انسان د تهذیب له مخی لوړو پوړیو ته ورسیږی ، یوازی همدغه ټولنه د تهذیب لوړتیا پر بنسټ خپله مانی ودانولای شی ، یوازی مادی پرمختګ د اسلام له نظره تهذیب او تمدن نه دی .

مادی پرمختګ او جاهلیت د یوه بل منافی نه دی ، دا خبره هیڅ له امکانه لری نه ده ، چې ټولنه د مادی پرمختګ لوړو پوړیو ته رسیدلی وی او له دی سره سره به پکې د جاهلیت دوره هم وی ، له همدی امله الله جل جلاله د قرآن کریم په ګڼو ځایونو کې د جاهلیت د بیانولو په وخت کې د جاهلی ټولنو د مادی پرمختګونو بیان هم کړیدی ، په لاندنیو آیتونو کې یی مثالونه لیدلای شی .

أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ()وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ()وَإِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ() فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ()وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُمْ بِمَا

khanlibrary.org



چې څلورو خواوو ته یې د ساتنې لپاره داسې دیوالونه موجود وي ، چې د اوسیدونکو اذهان یې په پوره توګه ارام ، او مطمئن وي او د جذباتو سمندر یې په پاروونکو شهوانی تبلیغاتو توپانی نشی .

د دغه ښوونځی بنسټ باید د یوه داسې ستر مسئولیت د سر ته رسولو لپاره اینښودل شوی وي ، چې د وخت او مهال له شرایطو نه متاثر نه شی ، خو د هغې ټولنې د ریښو اوبه خوړ چې له ناپاکو تعلیماتو او زهرجنو مشورو له چینې څخه وي او د اخلاقي معیارونو ساحه پکې دومره تنګه وي ، چې له ټولو جنسې ادابو نه خالی شی ، نو په داسې ټولنه کې د یوه انسان جوړوونکې ښوونځی د جوړونې او بنسټ اینښودنې لپاره هیڅ ځای نشته .

پورتنی مسایل په خپله د دی خبرې ستر دلایل دی ، چې یوازې اسلامي اخلاق او معیارونه او اسلامي تعلیمات د انسان د اخلاقي روزنې لپاره ګټور ثابتیدای شی او د پرمختګ د کوټلی او نه بدلیدونکې پیمانې له مخې اسلام اصلی او ریښتونی تهذیب دی ، او اسلامي ټولنه د تهذیب اصلی زانګو ده .

## الله تعالی ستایونکې تمدن او مادی پرمختګ

کله چې انسان په نړۍ کې د الله جل جلاله خلافت په هر اړخیزه توګه پر پښو ودروی او د هغه دغو پښتو له مخې یوازې د الله جل جلاله بندګی ته ځان وقف کړی او له الله جل جلاله نه پرته د هر ډول بندګی څخه یرونه وشلوی ، یوازې د الله جل جلاله غوره کړی نظام په خپل ژوند کې عملی کړی ، او نور ټول غیر الهی نظامونه په یو مخیزه توګه رد کړی او د بل هر قانون او شریعت له پیروی او منلو نه لاس واخلی او د خپل ژوند په هر اړخ کې د الله جل جلاله شریعت حاکم کړی .

په هغو اخلاقو او معیارونو عمل وکړی ، چې الله جل جلاله ته غوره دی او د تش په نوم اخلاقي معیارونو دیوالونه ونړوی ، له یوې خوا نه دغه ډول سلوک غوره کړی او له بلې خوا نه د هغو طبعی قوانینو پلټنه وکړی ، چې الله جل ج له په مادی اسبابو کې په امانت اینښودلی دی او د ژوند د

khanlibrary.org



تَعْلَمُونَ() أَمَدَّكُمْ بِأَنْعَامٍ وَبَنِينَ()وَجَنَّاتٍ وَعُيُونٍ()إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ [د الشعراء ۱۲۸ - ۱۳۵ آیتونه]

( دا ستاسو څه حال دی ، چې په هر لوړ ځای یوه بی ګټې او عبث یادګاری مانې جوړوی او ستر قصرونه جوړوی لکه چې تاسو د تل لپاره اوسی ، او کله چې مواخذه کوی نو ډیره ظالمانه مواخذه کوی ، ځرنګه چې تاسو ظالمان یی نو له الله جل جلاله نه وویریږی او د هغه اطاعت وکړی او همدا رنګه له هغه ذات نه وویریږی چې له تاسو سـره یی مرسته کړیـده ، تاسو سره یی د ځارویو ، اولادونو ، باغونو او چینو پـه درکولو مرسته وکړه ، ورته ووایه زه ستاسو په برخه کې د قیامت له سخت عذاب نه په ویره کې یم ) .

أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَاهُنَا آمِنِينَ()فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ()وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ()وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا فَارِهِينَ()فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ()وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ()الَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ [الشعراء : ۱۴۶ - ۱۵۲ ]

( ایا تاسو به د دی ټولو څیزونو ترمینځ چې دلته موجود دی همداسی په ډاډ ژوند وکړی ؟ په دغو باغونو او چینو کې ؟ په دغو کروندو او یا د خرما په باغونو کې ، چې غوټی یی پستی او نازکې دی ، تاسو په غرونو کې ځان ته پر تکلفه ودانی جوړی کړی دی او فکر کوی چې تل به پکې اوسی ، له الله جل جلاله نه وویریږی او زما د اطاعت او بندګی پـه لار روان شي ، د هغو مسرفو او تیری کوونکو خلکو او مشـرانو اطاعت مه کوی ، چې د الله جل جلاله په ځمکه کې فساد کوی او هیڅکله د خلکو ترمینځ د سولی او سمون لپاره اقدام نه کوی )

فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً فَإِذَا هُمْ مُبْلِسُونَ(٤٤)فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ [د الانعام ۴۳ - ۴۴آیتونه]

( کله چې هغوی ، هغه ټول نصیحتونه چې ورته شوی وو هیر کړل مونږ هم د هر ډول نعمتـ ـه دروازی ورته پرانیستلی ، تر هغی چې د هماغو

khanlibrary.org



نعمتونو له امله چې ورکړی مو وو ، خوښ او مغروره شول ، نو بیا مو ناڅاپه هغوی د خپلو بدو اعمالو په سزا ورسول ، هغه وخت بیا خوار او نا امیده شول ، نو په دی توګه مو د ظالمانو بنیاد جړی وایستلی ، ټوله ستاینه الله جل جلاله لره ده ، چې د نړیوالو پروردګار دی ) .

حَتَّى إِذَا أَخَذَتْ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا أَتَاهَا أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِيدًا كَأَنْ لَمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ [یونس ۲۴ ]

( تر هغه وخته چې ځمکه سمسوره شی او له ښکلا نه د شنو کروندو په ګانه سینګار شی او د هغوی څښتنانو دا فکر وکړ ، چې اوس دوی له هغی نه په تصرف او ګټې اخیستو قادر دی ، ناڅاپه په شپه یا ورځ زمونږ حکم او فرمان راغی ، نو هغه مو د ریبل شوی کښت په څیر وچه دښته وګرځوله ، ته به وایې پرون هلته هیڅ نه وو ) .

خو لکه څنګه چې مونږ مخکې وویل ، اسلام د ما ی پرمختګ او مادی وسایلو مخالف نه دی او د هغو د اهمیت او ارزښت د کمولو په تکل کې هم نه دی ، بلکه الله جل جلاله د الهی نظام تر سیوری لاندی مادی پرمختګ ته د یوه نعمت حیثیت ورکوی او د اطاعت ، فرمانبرداری په صله کې انسان ته د دغه نعمت د ورکولو زیری هم ورکوی :

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا()يُرْسِلْ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا()وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا [د نوح سورت ۱۰- ۱۲آیتونه ]

(نوح علیه السلام فرمایی : ما خپل قوم ته وویل ، له خپل پروردګار نه ښښنه وغواړی ، بی له شکه هغه ډیر ښښونکې دی ، چې هماغه تاسو په پرله پسی توګه د رحمت بارانونه وروی او له تاسو سره به د اولادونو او شتو په درکولو کې مرسته وکړی ، تاسو ته به باغونه جوړ کړی او ویالی به روانې کړی ) .

وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِنْ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَكِنْ كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُمْ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ [د الاعراف سورت ۹۶ آیت ]

( که د کلیو خلکو ایمان راوړی وای تقوی او پاکې غوره کړی وای ، نو مونږ به له ځمکې او اسمان نه د برکتونو دروازی هغوی ته خلاصی کړی

وای ، خو هغوی درواغ وکړل ، نو له همدی امله مونږ له هغوی نه د ناروا ګټې له امله هغه څه واخیستل چې دوی تولول ) .

مادی ګټې او پرمختګ د اسلام له نظره اصل او غایه نه ده ، اصل او غایه هغه تصور او عقیده ده ، چې د مادی پرمختګ او صنعت مانی یی پر بنسټ ودانیږی او د ژوند هغه معیارونه دی ، چې په تولنه کې یې ارزښت او اهمیت پیدا کیږی او د مجموعی له عملی کیدو نه یی د انسانی تهذیب د ځانګړتیاوو اساسی خطوط جوړیږی .

## د اسلامي تولنی د پیل او پرمختګ پنځیز ( فطری ) نظام

په اسلامي تولنه کې د ازادی اساس او د هغی د بنسټ د ډبری اینبودنه په داسی ډول چې د غړو ترمینځ دی د یوه ارګان د غړو په ځیر یو والی او نظم موجود وی ، دواړه هغه ښیګړی او غوره صفتونه دی ، چې اسلامي تولنی ته یی داسي ځانګړی او غوره بڼه ورکړیده ، چې ساری یی نه لیدل کیږی ، هغه تیوری او نظریات چې په جاهلی تولنو کې د پرمختګ لپاره ازمایل شویدی او د هغوی له پرمختیا یی فطرت سره اړخ لګوی په اسلامي تولنه کې د تطبیق وړ ندی .

د اسلامي تولنی مینځ ته راتګ او پاڅون د یوه حرکت د زیار او ستونزو نتیجه ده ، د حرکت دغه اصل به په دغه تولنه کې تل موجود وی ، یوازې په همدی تولنه کې دغه حرکت د هر ډګری دریځ ، ارزښت او مقام تاکي او بیا د دغه تاکل شـوی ارزښت له مخی په تولنه کې د هغه اصلی دنـده او تولنیز دریځ څرګندیدلای شي ، د هغه حرکت له بطـن نه چې دغـه تولنه زوکړه کوی د هغه حرکت فکری او عملی ماخذ او منبع د انسانی چاپیریال له بریدونو نه بهر دی .

دغه حرکت پـه حقیقت کې د هغـی ګروهی خوځنده انځور دی ، چې د الله جل جلاله له خوا نه پر انسان نازل شویدی ، انسان ته د پنځ ( طبیعت ) ژوند ، او انسانی تاریخ پـه برخه کې یو مخصوص تصور او نظر ورکوی ، د ژوند مقاصدو او معیارونو تـه نوی مفهـوم وربښی او د زیار او

khanlibrary.org

ستونزو ګاللو ځانګړی لار ورښیی ، چې د دغـه تحریک له ټولنیز مزاج سـره ارخ لګوی .

هغه لومړی محرک چې د تحریک د لمر څرک باعث شو د هغه د وړانګو مرکز انسانی نفسونه نه وو ، او نه د مادی کائناتو کومه برخه د هغه د حرارت او ګرمی مرکز و ، بلکه لکه څنګه چې مونږ مخکې وویل د هغه محرک منبع او ماخذ له بشری نړۍ نه ماوراء قدرت او خواک وو ، او همدغه هغه ځانګړی ښه والی دی ، چې اسلامي ټولنه او د هغی جوړوونکې اجزا له نورو ټولو ټولنو نه جلا کوی .

## د اسلامي پاڅون پنځیر ( طبیعی ) پراوونه او د هغه د کار کولو ځانګړی مقام :

دغه غیر مادی عنصر د الهی تقدیر او غیب له پردی نه مینځ ته راځی ، د هغه له رامینځ ته کیدو نه مخکې د انسان ذهن بیخی خالی وی او د هغه په پیل کیدو کې هم انسان لاس نه لری ، د همدغه غیبی عنصر په غوښتنه اسلامي تحریک د اسلامي ټولنې د تخم شیندلو لومړی ګام پورته کوی .

او له دی سره د هغه عنصر له خوا د " انسان جوړونی " عملیه پیل کیږی ، د یوه داسی انسان د جوړولو عمل پیل کیږی ، چې پر هغه ګروهه ایمان ولری ، چې د غیب له منبع نه القاء شویده او له یوی مخی د الهی تقدیر په غوښتنه جاری شویده ، که چیږی یو انسان هم پر دغه ګروهه ایمان راوړی ، نو اصولا د اسلامي ټولنی د بنسټ ډبره ایښودل کیږی .

کله چې دغه یوازینی انسان دغه ګروهه ومنی نو داسی دی نکوی چې هغه د خپل ذهن په ځرندی ( زیر زمینی ) کې پټه وساتی ، بلکه د همدی ګروهی د مزاج او غوښتنی له مخی مکلف دی چې راپورته شی او هغه د نړۍ ګوټ ، ګوټ ته ورسوی .

دا ځکه چې ددی ګروهی د فطرت غوښتنه همداسی ده او د یوه فعال تحریک او نهضت خصوصیت او فطرت هم همداسی وی ، هغه لوړ ذات او قدرت چې د دغی ګروهی ډیوه یی د انسان په زړه کې روښانه کړیده هغه په دی ښه پوهیږی ، چې د دغی ډیوی وړانګی د زړه له کوره راوځی د انسان

khanlibrary.org



او کائناتو په ذره ، ذره به خپل نقش ثبت کړی ، د ایمان هغه لومړی ځلنده پلوشی ، چې د هغی له برکته د زړه دنیا د ایمان په نور منوره شویده ، هغه به ضرور بهرنی دنیا ته هم راوځی او خپری به شی .

د دغی ګروهی د ګروهمنو شمیر چې دریوو ته ورسیږی ، نو دغه عقیده هغوی ته وایې چې " تاسو اوس یوه ټولنه یی " یوه جلا اسلامي ټولنه ، او له هغی جاهلی ټولنی نه غوره او ممتازه ټولنه ، چې دغه ګروهه نه منی او د دغی ګروهی بنیادی اصولو تـه پکې په څه ارزښت او لوړوالی نه دی قایل ( هغه بنیادی اسلامي اصول چې مونږ مخکې ورته اشاره وکړه ) اوس اسلامي ټولنه عملا مینځ ته راغلی ده ، همدغه دری کسان به لس شی او د لسو له زیار او کړاو ، نه به سل ، زر ، او دولس زره شی ، په دی توګه به اسلامي ټولنه په پوره پوره توګه جوړه شي .

د تحریک د پرمختګ په دوران کې له جاهلیت سره شخړی او جګړی هم پیښیږی ، له یوی خـوا هغه نـوی جوړه شـوی ټولنه وی چې د ګروهی او تصوراتو له امله ، د ژونـد د معیارونو او تهذیبی اصولو له امله ، د خپل تنظیم او جلا مـوجودیت له امله ، له جاهلی ټولنی نه بیله شـوی وی او بل اړخ تـه جاهلی ټولنه وی ، چې له هغی نـه اسلامي ټولنه غـوره خلک ځانته راجذبوی .

دغه تحریک د پرمختګ په دی پراو کې چې له پیل نه یی مشخص او ځانګړی هویت د ټولنی د جوړښت تر پراو پوری خرګند دی ، خپل غړی په ښه توګه د اسلامي ازمیښت په تله تلی او هر وګړی ته په ټولنه کې هماغومره دریځ ، پوړی او وزن ورکوی ، چې ځومره د اسلامي تلی او کانی په تول درونـد ختلی وی ، د ټولنی له خوا په خپله د هغه په وړتیا او غوره والی اعتراف کیږی ، هغه ته دا ضرورت نه پیښیږی ، چې په خپله راولاړ شی د خپل اهلیت او وړتیا ثبوت وړاندی کړی او بیا هر چیرته دا مسئله اعلان هم کړی .

هغه عقیده او سپیځلی معیارونه چې دی او دده ټولنه یې جوړه کړی ده ، هغه دی دیته اړ باسی ، چې له هغو سترګو نه خپل ځان پټ وساتی چې د

khanlibrary.org



داسی وګړو په لټون کې وی ، چې کوم وړاو اهل سړی ته ستر مسئولیت ( د مسلمانانو چاری ) ور په غاړه کړي .

خو اسلامي تحریک چې د اسلامي ګروهی پنځیزه ( طبعی ) نتیجه ده ، او د همدغی ګروهی په ورشو کې د راټوکیدلی ټولنی پنځیز ( فطری ) جوهر دی ، هیڅکله دا اجازه نه ورکوی چې خپل فعال غړی د ګوشه نشینی نذر کړی ، ددغه تحریک هر وګړی ته پکار دی ، چې تل مصروف وي .

د هغه ټولنه باید تل ( سیمابی ) کیفیت ولری او د دغی ځواکمنی ( توانا ) ټولنی د تکمیل لپاره باید هر غړی دسپیلنی ، د دانی په ځیر ناکراره وی او له هغه جاهلیت سره دغره ووهی ، چې د ده پر چاپیریال مسلط دی ، ان تردی چې ځینی واړه اثرات یی د ده او د ده د ملګرو په نفس کې موجود دی ، نو له دی امله دغه جګړه او کشمکش یوه همیشنی جګړه ده ، د نبوی ارشاد مفهوم هم همدا دی چې فرمایي : جهاد به تر قیامته پوری جاری وي .

د خپل سفر په دوران کې چې تحریک له کومو لوړو ژورو نه تیریږی ، په حقیقت کې دا هم ځانته څرګند وی ، چې د دغې تحریکې ټولنی د هر غړی دریځ او د کار کیفیت څرنګه دی ، پر دی حقیقت باید هیڅکله هم سترګی پټی نشی ، چې د وګړو ، منصبونو او وظایفو ترمینځ مناسبت او ورتیا د تحریک د پرمختګ لپاره بیخی ضروری ده .

د اسلامي ټولنی د پیل ډول او د تکمیل دغه اسلوب دوه داسی څرګندی ځانګړتیاوی دی ، چې د هغی د موجودیت او ترکیب ، مزاج او بڼه ، نظام او د هغی د عملی کار لاره ، له نورو ټولو ټولنو نه بیلوی او هغی ته یو ځانګړی او غوره دریځ ورکوي .

تر دی مسئلی وروسته دغه پوښتنه فکر کوم له بحث نه بهر ده چې څوک ووایي : په نورو ټولنیزو نظریاتو سره هم اسلامي ټولنه او هغه صفات او ځانګړتیاوی ، چې مونږ اوس بیان کړی مینځ ته راتلای شی ، یا په کوم تعلیمی نظام سره هم لاسته راتلای شی .

khanlibrary.org


## اسلامي تمدن د بشریت میراث دی

د تمدن د مخکینی تعریف له مخی اسلامي ټولنه یوازی د یوی مجردی تاریخی مرحلی نوم نه دی ، چې تیری خاطرې او افسانی راته بیان کړی ، بلکه اسلامي ټولنه هغه ټولنه ده ، چې تل د حال او ګاندی ( آینده ) د هوساینی او ارامتیا لپاره په هڅه او هاند کې ده .

یا په ساده وینا یوه داسی ژوند جوړوونکې ټولنه ده ، چې ټول انسانیت ترینه اوس هم ګټه اخیستلی شی او په آینده کې هم ، همدا رنګه د همدی ټولنی د جوړښت له امله د جاهلیت د خوسا ډنډونو د ذلت له ژوند نه چې اوس پکې تر ستونی ډوب دی راوتلی شی ، د ذلت په دغو خوسا ډنډونو کې هغه قومونه هم په اخلاقي لحاظ سلګی وهی ، چې د صنعتی او مادی پرمختګونو په لحاظ د نورو د رهبری حیثیت لری او هغه ټولنی هم چې کمزوری ګڼل کیږي .

دغو معیارونو ته چې مونږ په سرسری توګه اشاره وکړه ټول انسانی معیارونه دی او بشریت تر اوسه پوری یوازی یو ځل په عملی توګه لیدلی دی او هغه د اسلامي تهذیب او تمدن دوره وه ، له اسلامي تهذیب نه زمونږ مطلب هغه تهذیب دی ، چې دغه معیارونه پکې د اتم په درجه په عملی توګه موجود وی ، هغه تمدن چې دغه معیارونه پکې نه وی که د اقتصادي او ساینسی پرمختګ له مخی یی هوایي پیړۍ په مریخ کې هم ګرځی ، هیڅکله اسلامي تهذیب نه دي .

دغه معیارونه تخیل نه دی ، چې څوک یی عملی کیدو ته هیله من ونه اوسی ، بلکه سر تر پایه علمی معیارونه دی او د حقیقت له دنیا سره اړیکې لری ، که څوک هر وخت د سمو اسلامي مفاهیمو او اصولو په رڼا کې د دغو معیارونو د عملی کولو هڅه وکړی ، او هغه په سمه توګه وپالی او خلک په هماغه دود وروزی نو په پوره یقین او باور سره دا ویلای شو ، چې په هر ماحول او چاپیریال کې عملی جامه ور اغوستلی شی ، که هلته د ژوند هر ډول نظام موجود وی او هغه ټولنه د صنعت او پرمختګ په هر پړاو کې وي .

khanlibrary.org



او ولی دی نه وی ، څکه چې دا اصول او معیارونه خو انسانی ژوند په یوه اړخ کې هم له پرمختګ او ترقی نه ، نه یوازی دا چې نه ایساروی بلکه لا هڅه هم کوی ، چې د پرمختګ لاری ورته پرانیزی ، دا څکه چې د اسلامي عقیدی فطرت همدا غوښتنه کوی ، چې په دی برخه کې له انسان سره مرسته وکړی ، د ژوند دغه معیارونه په هغو هیوادونو کې د یوه لیدونکې په توګه چپه خوله نشی پاتی کیدلی چې له اخلاقي پلوه د بی تهذیبی او بی شرمی په ډډونو کې غوپی وهی .

دا څکه چې دغه تهذیب او تمدن یو نړیوال تمدن دی او په هر ډول محیط او هر وخت ومهال کې وده کولای شی ، خو یوازی د هغو معیارونو پر بنسټ وده کولای شی ، چې د دغه نهضت خپل مشخص او غوره معیارونه دی ، د دغو معیارونو مادی تشکیلات او مظاهر هیڅ حد وحصر نه لری ، څکه چې مادی تشکیلات په محیط او ماحول کې د هماغه محیط له صلاحیتونو او قوتونو نه چې هلته موجودوی ګټه اخلی ، هغه استعمالوی او وده ورکوي .

له پورتنی توضیح نه دا څرګنده شوه ، چې اسلامي تولنه د خپل جوړښت ، حجم ، پراختیا او د ژوند دود له نظره کوم جامد او نه بدلیدونکې تاریخی انځور ندی ، خو سره له دی هم د اسلامي تولنی وجود او تهذیب په اساسی اصولو کې لازما له ډیرو پخو ، نه بدلیدونکو او د انسانی تاریخ له څرګندو حقایقو نه جوړ شویدی ، د ژوند له هغو اسلامي معیارونو نه چې مونږ ورته ( تاریخی حقایق ) وایو ، زمونږ مطلب یوازی دا دی ، چې دغه حقایق د تاریخ په یوه مخصوص پړاو کې په عملی توګه موجود وو .

او انسان له هغو سره اشنا دی ، له تاریخی معیارونو او حقایقو نه مطلب دا نه دی ، چې دا د تاریخ محصول دی ، حقیقت دا دی ، چې دغه معیارونه د خپلې پنځیزی ( فطری ) ځانګړتیا له امله د کومی خاصی او تاکلی زمانی سره تړلی ندی ، بلکه د هر وخت او زمان له شرایطو سره اړخ لګولی شی او دا سپیڅلی معیارونه انسانانو ته له هغی ازلی چینی نه

khanlibrary.org



راغلی دی چې زباتی منبع لری او د مادی کائناتو او انسانانو له څواک او واک نه په بهرنی ایمانی دنیا پوری اړه لري .

د اسلامي تمدن مادی بنې د وخت او محیط له غوښتنو سره بدلیږی

اسلامي تهذیب د خپل مادی او ظاهری تنظیم لپاره ډول ، ډول بنې غوره کولای شی ، خو د کومو اصولو پر بنسټ چې د دغه تمدن مانې ولاړه ده ، هغه بی له شکه دایمی نه بدلیدونکي اصول دی ، دا څکه چې دا اصول د دی تمدن ریښتونی او اساسی ستن ده .

هغه اصول دا دی : یوازی د یوه الله جل جلاله بندګی ، د توحید د ګروهی پر اساس د انسانی ټولنی جوړونه ، پر مادیت باندی د انسانیت بری ، د انسانی معیارونو وده او پرمختګ او د هغی په واسطه په انسان کې دننه د حیوانی صفاتو مثبت بدلون ، د انسانی صفاتو په پرمختګ کې د دغو اصولو کارونه ( استعمال ) د کورنی نظام درناوی ، د الهی تعلیماتو لاربسوونو او ژمنو پر بنیاد په نړۍ کې د الله جل جلاله د خلافت قیام او د خلافت په ټولو سترو او کوچنی مسئلو کې یوازی د الهی شریعت او د ژوند د قانون حاکمیت ؟

مخکې مو وویل اسلامي تمدن د خپل مادی نظم او انتظام لپاره له هغو معیارونو نه کار اخلی ، چې عملا په کوم ماحول کې موجود وی ، له همدی امله د اسلامي تمدن مادی بنې او خاکې سره له دی ، چې اساسا پر ابدی او نه بدلیدونکو اصولو ولاړی دی بیا هم د ساینس ، اقتصاد او صنعت له پرمختګ سره په مختلفو اندازو او مرحلو کې متاثری کیږي .

څکه چې په فروعاتو کې بدلون راوستل یوه ارتیا ده ، دغه تبدیلی په خپله د دی خبری ضمانت کوی ، چې په اسلام کې دومره اهلیت او نرمی شته چې په هر ډول محیط او هره سطحه کې د ژوند چاری په معموله توګه په خپل پنځیز ( فطری ) مسیر روانولای شی .

د اسلامي تمدن په ظاهری او خارجی بڼو کې د نرمش او بدلون موجودیت پر اسلامي عقیده ( ګروهه ) باندی ، چې د دی تمدن منبع ده له بهر نه د

khanlibrary.org



وخت او زمان د شرایطو مجبوریت نه ده تحمیل کړی ، بلکه دا په خپله د همدی دین او عقیدی د پنځ او مزاج غوښتنه ده .

البته دا خبره مو باید په یاد وی ، چې په کوم څیز کې د نرمش او انعطاف موجودیت دا معنی نه لری ، چې هغه دی د اوبو په څیر د هر لوښی بڼه او رنګ غوره کړی ، په نرمش او انعطاف او د وخت او محیط غوښتنو ته ځواب ویل او د اوبو حالت غوره کولو کې دیر توپیر موجود دي .

اسلام په منځنی افریقا کې د لوڅو لپړو وحشی او ځنګلی خلکو ترمینځ د تمدن وړانګی خپری کړلی او د هغی اثر دا و چې څومره به هغوی زیات د اسلام پر اصولو پوهیدل هماغومره به ورو ، ورو د هغوی ستر او پرده هم زیاتیدله ، چې په پای کې هغه لوخ لپړ خلک د کالیو اغوستلو سره اشنا شول او د تهذیب او تمدن په دایره کې ننوتل ، دا ټول د اسلامي تعلیماتو او لارښوونو مثبت اثر و ، چې هغه وحشی او بدوی ذهنونه یی له حقایقو سره اشنا کړل .

انسانی ذهنونه یی منور کړل ، او انسان ته یی دا ورټیا ور وبښله چې د کائناتو مادی خزانی او پټ اسرار ، رابرسیره کړی ، د همدغو ګټورو اصولو له امله و ، چې انسان د قبیلی او کورنی له محدود چاپیریال نه راووت او د امت او ملت پراخه چاپیریال ته ورننوت ، په سوړو او غارونو کې یی د لمر د ستایلو پر ځای د نړۍ د خالق او پروردګار بندګی غوره کړه ، نو که چیری د دغو سترو بدلونونو او انقلابونو نوم تهذیب او تمدن نه وی ، نو بیا به تمدن او تهذیب د کومی بلا نوم وی ؟

دا د هغه خاص محیط تهذیب دی ، چې د هماغه ماحول په موجود و ، وسایلو او ذرایعو اعتماد او باور کوی ، که اسلام هر ډول محیط او ماحول ته ورمخه کړی نو هلته به خپل تهذیب ته هغه بڼه ورکړی ، چې د هغه ماحول د وسایلو او اسبابونو او همدا رنګه په هغه کې د سملاسی موجودو معیارونو او صلاحیتونو د کارونی او لا پرمختګ لپاره ضروری دی .

لنډه دا چې د اسلامي ژوند دود ، تر سیوری لاندی د اسلامي تهذیب پاڅون د صنعتی ، اقتصادي او علمی پرمختګ په کومو خاصو مراحلو

khanlibrary.org



پوری اړه نه لری ، هر چیرته چې دغه تمدن ریښی وغځلوی ، د هغه ځای مادی وسایل به په خپله ګټه په سمه توګه وځرخوی او پرمختګ به ورکړی .

د هغوی مقاصدو ته به لوړ او انساني حیثیت او موقعیت ورکړی ، په هغه ځای کې چې دغه مادی وسایل او اسباب موجود نه وی هلته به یی دغه تمدن په خپله خلق کړی او د پرمختګ او ودی لپاره به یی زیار او ربړ وګالی ، خو په هر شکل او بڼه چې وی اسلامي تمدن به بیا هم له آره " اصلا " پر خپلو مستقلو ، ابدی او نه بدلیدونکو اصولو ولاړ وی ، کله چې د دی تمدن په واسطه اسلامي ټولنه مینځ ته راشی ، د هغی ځانګړتیا ، مزاج ، او مخصوص تحریکي نظام به په خپل حال باقی وی ، هغه مزاج او تحریکي نظام چې د اسلامي ټولنی ترمینځ ته راتلو وروسته به له هماغی لومړی ورځی نه هغی ته د نورو ټولو جاهلی ټولنو په پرتله ، غوره او ممتازه خصوصیت وربښی : صبغة الله ومن احسن من الله صبغة !

khanlibrary.org



## اتم فصل

# اسلام او ثقافت

د همدی کتاب په شپږم فصل کې مونږ ویلی وو ، چې د اسلام د لومړی رکن لومړی توک دا دی چې : مطلقه بندګی یوازی الله جل جلاله لره ښایی او د ( لا اله الا الله ) په ویلو د همدغه مفهوم شهادت ادا کیږی ، د دغه رکن دویم توک دا دی چې : د دغی بندګی د اصولو د تفصیل او څرنګوالی پوهیدلو لپاره باید رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رجوع وشی .

د " محمد رسول الله " په ویلو کې د همدغی مسئلی شهادت ته اشاره شوی ده ، د الله جل جلاله د مطلقه بندګی عملی ډول دا دی ، چې یوازی د الله جل جلاله ذات عقیدتا ، عملا او قانونا د معبود په توګه ومنل شی ، یو مسلمان هیڅکله دا عقیده نشی لرلای چې له الله جل جلاله نه پرته بل چاته هم د الله جل جلاله منصب ورکړی او نه کوم مسلمان دا تصور کولای شی ، چې له الله جل جلاله نه پرته د بل چا عبادت هم کیږی یا چاته د حاکمیت اعلی مقام ورکول کیدای شی .

په تیرو پاڼو کې مو دا څرګنده کړه چې د بندګی ، عقیدی ، او عبادت سم مفهوم او موخه ( هدف ) څه ده ، تر څیړنی لاندی فصل کې به مونږ دا څرګنده کړو چې د حاکمیت (Sovereignty) سم مفهوم څه دی او دغه مفهوم له ثقافت (Culture) سره څه اړیکې لری ؟

د الهی شریعت د کار ساحه :

د اسلامي نظریې له مخی د الله جل جلاله د حاکمیت مفهوم یوازی همدا نه دی چې قانونی احکام یوازی له الله جل جلاله نه اخذ شی او بیا د ژوند په پیښو کې د پریکړو د صادرولو لپاره هماغو احکامو ته رجوع وشی ، په اسلام کې په خپله د " شریعت " مفهوم هم یوازی د قانونی احکامو په دایره کې محدود نه دی ، دا خو لا څـه کوی ، چې د حکمرانی د اصولی ضوابطو ، نظام او د هغه د مختلفو تشکیلاتو تر دایری پـوری هم محـدود نه دی ، د شریعت پـه هکله لنډ تنګ تصور د اسـلامي نظـریې سمه ترجمانی نشی کولای .

khanlibrary.org



هغه څه چې اسلام الهی شریعت وایي ، هغه د هغو ټولو قوانینو حاوی دی ، الله تعالی جل جلاله د بشر د ژوندانه د تنظیم لپاره وضع کړی دی د فکر او نظر ضوابط هم پکې شامل دی او د حکومت اصول هم ، د اخلاقو او تمدن اصول هم په دی دایره کې کې راتلای شی او د معاملاتو " راکړه ، ورکړه " او علم او فن اصول هم له دی دایرې نه بهر نه دي .

لنډه دا چې الهی شریعت د انسانی فکر او نظر په ټولو زاویو محیط دی د الهی ذات په برخه کې د انسان تصور او نظر وی ، که د کائناتو په برخه کې د مادی دنیا په برخه کې ، د هغه نظر وی ، چې د انسان د مشاهدی او ادراک په ساحه کې راتلای شی او که د ماوراء د طبیعت حقایق وي .

چې د انسان له ادراک او احساس څخه بهر دی ، د ژوند تکوینی دایره وی ، که تشریعی ، د انسان د حقیقت او څرنګوالی پوښتنه وی او که په کائناتو کې په خپله د انسان د حیثیت او موجودیت څېړنه وی ، اسلامي شریعت د انسان د ژوند ، دغه ټولی برخی څېړی او رښا پرې اچوي .

په همدی توګه اسلامي شریعت د انسان د ژوند عملی برخه لکه سیاست ، ټولنه ، اقتصاد ، عدالت ( نیاو ) او د دغو معیارونو اساسی اصول ، هم نه یوازی دا چې له نظره نه غورځوی ، بلکه غواړی ، چې په دغو اصولو کې هم د الله جل جلاله د کاملی بندګی او اطاعت نور وځلیږی ، اسلام غواړی چې د دی ترڅنګ هغه قانونی احکام هم تر خپلو اصولو لاندی راولی ، چې د ژوندانه د دغو ټولو شعبو او برخو تنظیم ور په غاړه دی ، دا هغه څه دی ، چې نن سبا د ( شریعت ) په نوم یادیږی .

په داسی حال کې چې د شریعت دغه لنډ او مختصر مفهوم ، هیڅکله هغه پراخه مفهوم نشی افاده کولای ، چې اسلام په خپله ورته قایل دی .

د انسانی ژوند په اخلاقو او معاملاتو کې د شریعت ضوابط او اصول جاری دی ، او د هغو معیارونو او پیمانو په واسطه د شریعت اظهار او ښودنه کیږی ، چې په ټولنه کې عملا موجود شی او په ټولنیز ژوند کې د اشخاصو او څیزونو ارزښت او بیه وټاکي .

khanlibrary.org



په همدی توګه دغه شریعت د علم او فن په ټولو برخو مسلط دی ، او په ټولو فکری څیړنو او فنی سرګرمیو کې یی اثار لیدل کیږی ، ځکه په پورتنیو ذکر شوو څیزونو کې هم مونږ همدا رنګه د الله جل جلاله لارښوونی او هدایت ته اړ یو .

لکه څنګه چې په هغه محدود او لنډ مفهوم او قانونی احکامو کې د الهی لارښوونو ته اړ او محتاج یو ، تر کوم ځایه پوری چې د حکومت او قانون په هکله د الله جل جلاله حاکمیت ته د تسلیمیدو پوښتنه رامینځ ته کیږی ، هغه مونږ په تیرو بحثونو کې څرګنده کړیده .

او همدا رنګه امید دی چې د اخلاقو ، معاملاتو ، او ټولنی په ټولو مسایلو کې به د الله جل جلاله د حاکمیت ضرورت څرګند شوی وی ، ځکه چې په ټولنه کې د ټولو دود شوو معیارونو ، منلو او نه منلو پیمانی ، او د اخلاقو ، او معاملاتو ضوابط ، ټول له هغو تصوراتو نه سرچینه اخلی ، چې په هماغه ټولنه کې غالب وی او هغه تصورات هم له هغی عقیدی نه سرچینه اخلی ، چې الله جل جلاله خپلو بندګانو ته غوره ګڼلی ده .

خو سره له دی هم ، هغه خبره چې د عامو خلکو لپاره خو لا څه کوی ، چې د اسلامي ادبیاتو د لوستونکو لپاره هم د اریانتیا وړ ده هغه دا ده ، چې په فنی او فکری ساحو کې هم باید اسلامي تصور او ربانی منابع او ماخذ زمونږ مرجع او لارښود واوسی .

د هنر (Art) په موضوع باندی یو مستقل کتاب لیکل شویدی ، چې دغه موضوع یی پکې په دی ډول څیړلی ده : ټولی هنری څیړنی په حقیقت کې د انسان د تصوراتو او وجدان د انفعالاتو تعبیر او تفسیر دی ، د انسان په وجدان کې چې د ورځینی ژوند او هستی کوم انعکاس را پیدا کیږی ، هنر د هماغو عکاسی کوی ، یا په بله وینا د هنر مند د هنری اثارو په تخلیق کې د ده د ټولنی تاثرات حتما څلیږی او همدا رنګه په ټولنه باندی د حاکم فکری نظام انعکاس هم په کې موجود وی .

دا ټول هغه کارونه دی ، چې نه یوازی دا چې اسلامي اصول او تصورات کنټرولوی ، بلکه د یوه مسلمان او مومن په ژوند کې د همدغو اصولو او

khanlibrary.org



معیارونو تخلیق هم کوی ، څکه چې اسلامي تصورات او افکار فطرتا په ټولو کائناتو او شخصا په انسان او د هغه د چاپیریال په ټولو اړخونو باندی محیط وی .

او د ژوندانه د دغو اړخونو چې له خپل خالق سره یی کومی اړیکې دی ، د هغو څرګندونه او ښودنه هم کوی ، د هنر خصوصی موضوع د انسان حقیقت او په کائناتو کې د هغه دریځ دی ، د هغه د وجود مقصد ، فرایض ، او د ژوند حقیقی او ریښتونی معیارونه دی .

دغه ټول معیارونه د اسلامي اند دود " طرز فکر " ضروری توکونه دی ، څکه چې اسلامي اند دود ، محض یو فکری قالب نه دی ، بلکه د یوه ژوندی ، فعال ، اغیزمن او محرک حقیقت نوم دی ، په هغو ټولو جذباتو او احساساتو اغیزمن اثر لری ، چې په انسان کې پیدا کیږی [1] .

د فکر او فن مسئله او د هغی اړوندول ( مربوطول ) له اسلام سره په دی توګه ، چې د علم په دغه برخه کې هم د الله جل جلاله د کاملی بندګی نور وځلیږی ، د یوی مفصلی څیړنی غوښتنه کوی ، لکه څنګه چې مونږ د مخه وویل د اوسنی پیړی د زده کړه وال پاتکې ( طبقه ) لپاره او همدا رنګه د هغو مسلمانانو لپاره ، چې د الله جل جلاله په وحدانیت او قانون جوړونه ایمان لری ، دا بحث بالکل نوی او اریانوونکې دی .

## هغه علوم چې انسان پکې الهی وحی ته اړ دی :

مسلمانان په داسی مسایلو کې چې له عقیدی ، عبادت ، اخلاق او همدا رنګه د پنځ په هکله عمومی نظر ، د ورځینی ژوند معاملاتو ، معیارونو ، سیاست او ټولنی ، د ژوند اصولو او قواعدو ، د انسانی سرګرمیو توجیه یا د انسانی تاریخ له تعبیر او تفسیر سره اړه ولری دا حق نلری ، چې له الله

---

[1] - د لیکوال مقصد د ارټ Art په برخه کی د محمد قطب د " منهج الفن الاسلامی " نومی کتاب دی ، پورتنی مطلب له همدغه کتاب نه را اخیستل شویدی .

khanlibrary.org



جل جلاله نه پرته د کومی بلی فکری منبع او مرجع په رښا کې هغه تعبیر او تفسیر کړی او یا لاربښوونه حاصل کړی .

په همدی توګه مسلمان باید د دغه اصل پابند هم وی ، چې هغه دغه رښا او لاربښوونه له یوه داسی مسلمان څخه ترلاسه کړی ، چې د هغه په دین او تقوی پوره داد او باور ولری او د هغه په عقیده او عمل کې دوه رنګی موجوده نه وی .

## هغه علوم چې انسان یکې الهی وحی ته اړ نه دی :

مسلمانان دا حق لری ، چې مجرد علوم لکه کیمیا Chemistry فزیک Physicsبیولوژی Biology ستوری پیژندنه Astronomy طب Medicine ، صنعت Industry ، کرنه Agriculture ، اداره او تنظیم Adminstration ( یـوازې د فنی اړخونو په لحاظ ) تکنالوژی د جګړی اصول ( د علمی میتود له مخی ) او همدا رنګه نور علوم او فنون چې پـه ژونـدانه کې ورته اړتیا لیدل کیږی له مسلمان او نا مسلمان دواړو تـه زده کړی .

سره له دی چې اصلا خو باید په دغه برخه کې اسلامي ټولنه پخپله هڅه وکړی ، چې په پورتنیو علومو کې اهل او وړ خلک ور وځی او د پرمختګ لپاره یی لار هواره کړی ، چې له هر څه نه په خپل کور پوره شی ، ځکه چې دا ټول علوم او فنون فرضی کفایی دی او په ټولنه کې د ځینو خلکو روزل په پورتنیو علومو کې یو ضروری کار دی ، که چیری په یوه ټولنه کې ، د دغه ډول صلاحیتونو د پیدا کولو لپاره هڅه ونشی او داسی فضا هم مینځ ته رانشی ، چې د علم د ودی لپاره برابره وي .

نو ټولنه په مجموعی توګه ګناهګاره ده ، خو تر هغی چې یوه داسی فضا مینځ ته نه وی راغلی ، مسلمانان دا حق او اجازه لری ، چې دغه علوم له مسلمان او کافر دواړو نه هر چیرته چې وی ، زده یی کړي ، د مسلمان او نا مسلمان دواړو د ځیرنو او تجربو له نتایجو نه ګټه واخلی .

همدا رنګه په ټولنه کې د نورو د زده کړی لپاره مسلمان او نا مسلمان دواړو ته دغه وظیفه ور وسپارلای شی ، ځکه چې دا مسایل په هغو امورو

khanlibrary.org



کې شامل دی ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو په هکله فرمایلی دی : انتم اعلم بامور دنیا کم ( تاسو د خپلو دنیاوی کارونو په سمبالولو ډیر ښه پوهیږی ) .

دغه علوم له هغو مسایلو سره تعلق نه لری ، چې د کائناتو او ژوند په برخه کې د مسلمان له عقیدی سره اړیکې لری ، یا له انسان او د هغه د تخلیق له مقصد سره ، د هغه د مکلفیتونو او مسئولیتونو سره او له کائناتو سره د هغه د اړیکو په څرنګوالی او له الله جل جلاله سره چې د کائناتو پیدا کوونکې دی ، د هغه د اړیکو په نوعیت او څرنګوالی باندی بحث او څیړنه وکړی ، د دغو علومو اړیکې د شریعت له هغو اصولو او ضوابطو سره هم نه دی ، چې د انسانی ژوند د تنظیم لپاره دی .

له اخلاقو عباداتو ، دودونو ، روایاتو او د هغو معیارونو سره هم اړیکې نه لری ، چې په ټولنه کې ورته اهمیت او سیادت حاصل وی او په ټولنه کې خپله اغیزه ښندی ، له دی امله د دغو علومو په زده کړه کې له مسلمانانو سره دا ویره نشی پیدا کیدلای ، چې د هغوی د عقیدی په خرابوالی او کمزورتیا کې به اثر ولری او یا به بیا د جاهلیت لور ته تمایل پیدا کړی .

خو تر کومه چې د انسان په زیار او هڅې پوری اړه لری ، په انفرادی توګه وی او که په ډله ئیزه توګه ، د دغو هلو ځلو اړیکې په خپله له " انسان " سره وی او که د انسانی تاریخ له نظریاتو سره او په همدی توګه تر کومه چې د کائناتو د ژوند په پیل او په خپله د انسان د پیل په تعبیر او توجیه پوری اړه لری ، نو څرنګه چې د دغو ټولو مسایلو تعلق له ماوراء طبیعت یعنی Metaphysics سره دی او که کیمیا ، فزیک ، طب او نورو سره نه دی ، له همدی امله د دوی اړیکې له هغو اصولو او ضوابطو سره دی ، چې د انسانانو د ژوند د تنظیم او سمون لپاره دی .

نو بی له شکه د هغوی اړیکې له عقیدی او اسلامي فکر سره موجودی دی ، له دی امله مسلمان دا اجازه نلری ، چې هغه دغه علوم هم له مسلمان نه پرته له بل چا نه زده کړی ، بلکه دغه علوم باید یوازی له هغه مسلمان نه زده کړای شی ، چې د هغه په عقیده او ایمان کامل اطمینان او باور

khanlibrary.org



موجود وی او هغه کاملا په دی ډاډه وی ، چې دغه پوهاند په داسی مسایلو کې یوازی او یوازی د الله جل جلاله په لارښوونه روان دي .

له پورتنیو خبرو نه زمونږ اصلی هدف دا دی ، چې د مسلمان په احساس او شعور کې باید دا خبره په پوره توګه ځای ونیسی ، چې د ژوند ټول امور له عقیدی نه اخیستل شویدی او اړیکې ورسره لری ، دا په ښه توګه په یاد ولری چې په دغو کارونو کې د الهی وحی نه ګټه اخیستل د الله جل جلاله د بندګی لازمی او ضروری غوښتنه ده یا د هغه شهادت نتیجه ده ، چې په هغه کې دا اعلان شویدی ، چې له الله جل جلاله نه پرته بل معبود نشته او محمد د الله جل جلاله رسول دي .

البته په دی کې هیڅ قباحت نشته ، چې یو مسلمان عالم په دغه برخه کې د جاهلی څیړنو او تجاربو نتایج راوسپړی ، له دی امله نه چې له دغو تحقیقاتو نه د ځان لپاره د علومو په برخه کې کوم تصور پیدا کړی ، بلکه یوازی د دی خبری د څرګندونو لپاره ، چې جاهلیت څه انحرافات کړیدی او انسان دغه انحرافات څنګه سمولای او ورکولای شی او انسان د اسلامي ژوند دود د اصولو تر سیوری لاندی روزلای شي .

## په انسانی علومو د جاهلیت اغیزې :

فلسفه ، د بشری تاریخ تعبیر ، سایکالوژی " په استثنا د هغو مشاهداتو او اختلافی نظریو چې له توجیه او تعبیر څخه بحث نه کوی " اخلاقي علوم ، مذهبی علوم ، او د مذاهبو پرتلیزه مطالعه ، ټولنیز او نور عمرانی علوم " له هغو مشاهداتو او د خپل لومړی لاس د معلومات د حاصلولو نه پرته یوازی هغه نتائج چې له دغو معلوماتو او مشاهداتو نه راچاڼ شویدی او هغه اساسی نظریات چې پر بنسټ یی ( دغه ) علوم مرتب شوی دی " په مجموعی توګه د دغو ټولو علومو نصب العین ، په پخوانی او اوسنی دواړو دورو کې له جاهلی عقایدو او خرافاتو نه نیغ په نیغه متاثر شویدي .

یا په بله وینا مانی یی د جاهلی خرافاتو او معتقداتو پر بنسټ ودانه شویده ، همدا علت دی چې له دغو علومو څخه زیاتره علوم په خپلو بنیادی اصولو کې له مذهب سره متصادم دی ، له مذهب سره بالعموم او له

khanlibrary.org



اسلامي طرز فکر سره بالخصوص پته او ښکاره دښمنی لری ، په بشری علومو کې پورتنی یاد شوی علمونه د انسان په ژوند کې دومره اهمیت نلری ، لکه څومره یی چې کیمیا ، فزیک ، استرانومی ، بیولوژی ، طب او نور علوم لری ، هغه هم په دی شرط چې دغه وروستی علوم یوازی تر عملی تجربو او د هغو نتایجو پوری مربوط شی او د فلسفیانه تاویلاتو او توجیهاتو مرحلی ( په هره بڼه چې وی ) پوری تجاوز ونکړی .

د مثال په توګه لکه څنګه چې د ارونیزم د بیولوژی د مشاهداتو او تجاربو څخه ناوړه استفاده وکړه او له خپلو جایزو حدودو نه یی بی له کوم دلیل او حجت څخه تجاوز وکړ او د خپلو جذباتو او احساساتو پر اساس یی دا نظریه وړاندی کړه ، چې د ژوند د پیل او پرمختګ لپاره د طبیعی دنیا له ځواک نه پرته د کوم بل قدرت موجودیت منلو ته هیڅ ضرورت او اړتیا نشته ده .

مسلمان ته په دغو برخو کې د خپل پروردګار له خوا کره او باوری معلومات رالیږل شویدی ، دغه معلومات دومره لوړ پاخه او کره دی چې د هغی په پرتله انسانی معلومات ډیر د خندا وړ ښکاری ، خو له دی سره سره بیا هم انسان په همدغو مسایلو کې مداخله کوی ، چې تعلق او اړیکې یی د الله جل جلاله له عقیدی او بندګی سره دی .

## ثقافت او صهیونیزم

دغه تعریف چې ثقافت یو انسانی میراث دی ، نه په کومی مخصوصی سیمی پوری اړه لری او نه په کوم مخصوص قوم او نژاد پوری او نه له کوم مخصوص مذهب سره څه اړیکې لری ، دغه تعریف د ساینسی او فنی علومو او د هغوی د علمی تشریح له نظره سم دی ، په دی شرط چې مونږ د دغو علومو له بریدونو نه تجاوز ونکړو یعنی دا چې د دغو علومو فلسفیانه تعبیر Metaphysical Interpretation وکړو .

د انسان او انسان د ژوندانه غورځی پرځی او انسانی تاریخ په فلسفیانه تاویل کې را ایسار نه شو ، د فن او ادب او وجدانی تعبیراتو د مظاهرو تر حده فلسفیانه تاویلونو ته پاملرنه وکړو .

khanlibrary.org



خو هغه نظریه چې د ثقافت برخه کې مونږ په پورته ډول بیان کړه ، په حقیقت کې د نړیوال صهیونیزم د رنګا رنګ چالونو له جملې نه دا هم یو چال دی ، د نړیوال صهیونیزم هدف له دغه ډول تعریفونو څخه دا دی ، چې د ټولو حدودو او قیودو کړی چې په سر کې یې د مذهب او عقیدې کړی راځي له مینځه یوسي .

تر هغې چې د صهیونیزم زهر د ټولې نړۍ په ځسم کې چې نیم ځانه او خمار شوی دی په اسانۍ سره سرایت وکړي ، له دې وروسته به بیا یهودیان وکړلای شي ، چې په ټوله نړۍ کې خپلې شیطانۍ سرګرمۍ په پوره ازادۍ جاري وساتي .

د دغو سرګرمیو په سر کې د هغوی د پانګې او ګټې کاروبار دی ، غواړي چې د ټول بشریت د کړاوونو حاصل د هغو یهودي ادارو په جیبونو کې ور ولویږي چې د ( سود ) د ګټې پر اساس جوړې شوې دي او چلیږي .

د اسلام په نظر د دغو ټولو ساینسي او فني علومو او د هغوی د عملي تجاربو تر شا دوه ډوله ثقافتونه موجود دي ، یو اسلامي ثقافت چې د اسلام د ژوندانه د قانون پر بنسټ ولاړ دی او دویم جاهلي ثقافت چې په ظاهره په مختلفو اصولو او میتودونو ولاړ دی .

خو په حقیقت کې د ټولو اساس او بنیاد یو دی او هغه انساني فکر ته د " اله " د دریځ ورکولو داعیه ده ترڅو وکړلای شي د خپلې ادعا د اثبات په صورت کې الله جل جلاله د ټولو امورو د یواځینۍ مرجع او منبع په حیث رد کړي ، اسلامي طرز فکر او ثقافت د انسان په ټولو فکري او عملي سرګرمیو محیط دی او د هغه لمن له داسې اصولو ، قواعدو او ځانګړتیاوو نه ډکه ده ، چې نه یوازې د انساني فکر د سرګرمیو د لا زیاتې ودې ضمانت کوي ، بلکه هغوی ته ابدي حیات او ښکلا هم وربښي .

د اروپا علوم د اسلامي دورې محصول دي :

له دغه حقیقت نه باید هیڅوک بې خبره پاتې نشي چې هغه تجربي علوم Empirical Sciences چې په اوسنۍ عصر کې د اروپا د تمدن روح ورته ویلای شو ، اصلي وطن یې اروپا نه ده ، بلکه د هغوی اصلي ټاټوبی

khanlibrary.org



اندلس او د ختیځو اسلامي ممالکو اسلامي پوهنتونونه دی ، د دغو علومو بنیادی اصل د اسلام د هغو تعلیماتو او لارښوونو څخه اخیستل شویدی چې په هغو کې د پنځ او د هغه په سینه کې د زرګونو د فن شوو اسرارو په برخه کې څرګندی اشاری موجودی دی ، وروسته بیا په همدغه ډول په اروپا کې یو مستقل او جلا علمی تحریک مینځ ته راغی او ورو ، ورو یی د پرمختګ او تکمیل پړاوونه ووهل ، په دغه وخت کې د اسلامي نړۍ دا حال و ، چې ورځ په ورځ له اسلام څخه لری کیدله ، چې د هغی په نتیجه کې د اسلامي نړۍ علمی نهضت په پیل کې ورو ، ورو د جمود او سهل انګازی ښکار شو او بیا څور له مینځه ولاړ .

ددغه نهضت په له مینځه تللو کې مختلفو عواملو رول درلوده ، ځینی عوامل د همدغه وخت د اسلامي ټولنو په داخلی جوړښت پوری اړه لری او ځینی عوامل هم په هغو پرله پسی حملو او یرغلونو پوری اړه لری ، چې د صلیبی او صهیونی دنیا له خوا نه په اسلامي هیوادونو کیدلی .

اروپا چې له اسلامي نړۍ نه د تجربی علومو کومه زده کړه کړی وه ، د هغوی د اړیکو ریښی یی له اسلامي اصولو او اساساتو سره غوڅی کړی او بالاخره هغه وخت چې اروپا د کلیسا یعنی الله بادشاهی **Heavenly Kingdom** د مظالمو څنګیرونه وشلول نو د همدی الغا وتلغاو په دوره کې یی د تجربی علومو اړیکې هم له الهی هدایت سره بالکل وشلولی او هغه یی له دغو لارښوونو څخه بی برخی کړل[1] .

د اروپا فکری پانګه په مجموعی توګه په هر وخت او هر ځای کې د جاهلی فکر په څیر بالکل د یوه نوی څیز په توګه پاتی شویده ، چې د خپل فطرت او بنسټ له امله له اسلامي طرز فکر سره نه یوازی دا چې بیګانه او پردی وه ، بلکه بالکل ورسره متضاده هم وه ، تل به ورسره په ټکر کې وه .

نو له دی امله د یوه مسلمان وظیفه ده چې یوازی اسلامي طرز فکر او د ژوند اصول او قواعد د خپلو لارښوونو مرجع او منبع وګرځوی ، او یوازی د

---

[1] - وګوری د " المستقبل لهذا الدین " نومی کتاب باب : الفصام النکد .

khanlibrary.org



الهی تعلیماتو په نور ځان منور کړی ، که چیری په ده کې دومره فهم او درک موجود وی ، چې نیغ په نیغه په اسلامي اصولو وپوهیږی خو ډیر ښه او که نه نو له کوم داسی مسلمان او موحد انسان څخه دی هغه زده کړي ، چې د هغه په عقیده ، تقوی او ایمان پوره باور ولری ، ترڅو په پوره ډاډ له هغه نه زده کړه وکړلای شی .

## په علم او د علم ذریعه کې بیلوالی سم نه دی :

اسلام دغه نظریه چې علم جلا ځیز دی او د علم ذریعه جلا ، د هغو علومو په هکله نه منی چې د هغوی اړیکې د عقیدی له هغو تفصیلاتو سره دی ، چې د کائناتو او ژوند ، اخلاقي معیارونو ، دود و دستور ، انسانی نفسونو او انسانی زیار او هڅو سره ( مربوطو ) مسایلو کې د انسان په طرز فکر ، اغیزه کوی ، بی له شکه اسلام دومره پیرزوینه لری ، چې یو مسلمان ته دا اجازه ورکړی ، چې له یوه نا مسلمان او الله جل جلاله نه پیژندونکې څخه کیمیا ، فزیک ، استرانومی ، طب ، صنعت ، کرنه ، او داسی نور علوم او فنون زده کړی .

هغه هم په داسی حالتو کې چې داسی کوم مسلمان پیدا نشی ، چې دغه علوم ده ته ورښیی ، نن ټول مسلمانان له همدغی ستونزی سره لاس په ګریوان دی ، او دا حال هم ځکه پیدا شویدی ، چې دغه مسلمانان له خپل دین او د هغه له ژوند دود نه ډیر لیری شویدی او د اسلام هغه اند دود ( طرز فکر ) یی هیر کړی دی ، چې د الهی خلافت د غوښتنو د سر ته رسولو لپاره یی د علم د زده کړی په برخه کې وړاندی کړی وۀ .

هغه نظریی چې د خلافت د امورو د پرمختګ لپاره د الهی منشاء د اصولو پر اساس بالکل ضروری وی ، په هر صورت د تجربی علومو په برخه کې اسلام مسلمانانو ته اجازه ورکوی ، چې له کوم نا مسلمان نه یی زده کړی ، خو اسلام هیڅکله هغه ته دا اجازه نه ورکوی ، چې د خپلی عقیدی اصول ، د خپل اسلامي ژوند دود اساسات ، د قران تفسیر ، حدیث د نبوی سیرت تشریح د تاریخ فلسفه ، د حرکت فلسفیانه تعبیرونه ، د خپلی ټولنی دودونه او دستورونه ، د خپل حکومت نظام ، د سیاست کړنلار ، د خپل

khanlibrary.org



فن او ادب محرکات ، له غیر اسلامي ماخذو څخه واخلی او یا یی له یوه داسی مسلمان څخه زده کړی ، چې د هغه عقیده د باور ور نه وی او له الله جل جلاله نه ویره او تقوی هم ونه لری .

دا خبری تاسو سره هغه څوک کوی ، چې د هغه خپل عمر څلویښت کاله د کتابونو په لوستنه تیر کړی دی او په دغه ټول عمر کې د هغه ارزو همدا وه چې د بشر علم او څیړنو چې کوم نتایج په مختلفو برخو کې تهیه کړیدی ، هغه په غور او دقت مطالعه کړی .

ځینی برخی خو د دغو علومو داسی هم وی ، چې په هغو کې ده تخصص Specialize کړی و ، او په ځینو نورو برخو کې یی د خپلی فطری تندی د ماتولو لپاره څیړنی کړی وی د علم او پوهی دغی پانګی ته چې کله هغه د خپلی اصلی عقیدی تر سترګو لاندی په غـور او بی طرفی وکتل نو هغه خـه چې پخوا هغه تـه سره زر ښکاریدل ، هغو د کودړی هومـره ارزښت هم نـه درلوده .

هغه ته دا څرګنده شوه چې تر اوسه یی څه ویلی دی د عقیدی د خزانو په مقابله او پرتله کې نهایت خوار او بی ارزښته دی او همداسی هم باید وی ، هغه په دی خبره پښیمانه نه دی چې د خپل ژوند څلویښت کاله یی پر څه تیر کړیدی ، ځکه چې په دغه وخت کې هغه د جاهلیت د ښامار ټول اسرار رالوڅ کړیدی .

هغه د جاهلیت بی لاری د سر په سترګو لیدلی دی ، د جاهلیت علمی او تهذیـبی نیسـتی یـی لـیدلی ده ، د جاهلیـت رذیلانـه اعمـال ، پـو چـې ادعاګانی او شور و زور یی هم لیدلی دی ، د هغوی له غرور او استکبار سره هم اشنا دی ، هغه په دی متیقن او باوری دی چې یو مسلمان عالم ته پکار ندی چې له دوه متضادو ذریعو او وسیلو نه " الهی وسیله او ذریعه ، جاهلی وسیله او ذریعه " په یوه وخت کې استفاده وکړی .

خو سره له دی هم دا زما شخصی نظریه نه ده ، ځکه چې مسئله تردی ډیره لوړه او مهمه ده ، چې د هغی په هکله دی د شخصی نظریی پر اساس پریکړه وشی ، د الهی عدالت په تله کې چې دا مسئله څومره وزن لری د

khanlibrary.org



هغی په پرتله د کوم مسلمان په شخصی نظریی د باور او نه باور کولو پوښتنه اصلا مینځ ته نه راځی .

دا خو د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی او همدا فرمان به زمونږ ترمینځ حکم وی ، مونږ باید په دی مسئله کې الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داسی رجوع وکړو ، لکه څنګه چې د مؤمنانو روش وی .

چې د خپل مینځی اړیکو د حل لپاره الله جل جلاله او د هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رجوع کوی ، د مسلمانانو په برخه کې چې نصارا او یهود کوم ناوړه نیتونه لری ، الله جل جلاله مونږ ته له هغی نه پرده پورته کړیده او فرمایلی یی دی :

وَدَّ كَثِيرٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِنْ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا حَسَدًا مِنْ عِنْدِ أَنفُسِهِمْ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ إِنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ [د البقره سورت ۱۰۹ آیت]

( د نصارا او یهودو زیاتره خلک غواړی چې په پوه نه یوه ډول تاسو له اسلام نه راوګرځوی او د کفر په لوری مو بوځی ، دا د خپل نفس د کینی او رخی له امله ، وروسته له هغه نه چې هغوی ته حق ښکاره شوی دی ، نو تاسو له عفوی او ښښنی نه کار واخلی تر هغی چې الله جل جلاله خپله پریکړه نافذه کړی ، بی له شکه الله جل جلاله پر هر څه قدرت لری ) .

وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ [د البقره سورت ۱۲۰آیت]

( یهودان او نصارا به هیڅکله هم له تا نه خوشحاله نشی ترڅو تاسو د هغوی دین ونه منی ، په ډاګه یی ورته ووایه چې د الله جل جلاله لارښوونه تر ټولو غوره ده او که تاسو له دی وروسته چې پوه شوی یاست بیا هم د هغوی ( نصاری یهود ) د غوښتنو پیروی وکړه نو د الله تعالی له نیولو نه د خلاصی لپاره ستاسو دوست او مرستیال نشته ) .

khanlibrary.org



يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تُطِيعُوا فَرِيقًا مِنْ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ [د ال عمران سورت ۱۰۰ آیت]

( ای مؤمنانو ! که تاسو د اهل کتابو ( نصارا او یهود ) نه د کومی یوی ډلی خبره ومنله نو په دی پوه شی چې دوی به بیا تاسو د کفر په لوری بوځی ) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد چې حافظ ابویعلی د حماد او شعبی په روایت له حضرت جابر رضی الله عنه نه رانقل کړیدی ، د قرآن کریم د آیتونو په تشریح او سپړنه ښه رڼا اچوی ، هغه مبارک صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

لا تسئالوا اهل الکتاب عن شئ فانهم لن یهدو کم وقد ضلوا ، وانکم اما ان تصدقوا بباطل ، واما ان تکذبوا بحق ، وانه والله لو کان موسی حیا بین اظهر کم ما حل له الا ان یتبعنی .

( له نصارا او یهودو نه د هیڅ شی په باره کې پوښتنه مه کوی ، هغوی تاسو ته سمه لار نه درښیی ، هغوی په خپله لار ورکه کړیده ، که د هغوی مو ومنله ، یا به دربانده د کوم باطل تصدیق وکړی او یا به دربانده کومه سمه خبره تکذیب کړی ) .

په الله جل جلاله سوګند دی که موسی هم په تاسو کې اوس ژوندی وای نو هغه ته به هم زما له متابعت نه پرته د بلی لار غوره کول جایز نه وای " .

څرنګه چې الله جل جلاله مسلمانانو ته د نصاری او یهودو خطرناک او زیانمن تصمیمونه د اسلام په هکله په څرګنده او واضحه توګه بیان کړیدی ، نو د دغو مبارکو آیتونو له لوستلو نه وروسته که بیا هم کوم مسلمان دا خوش باوری او خوشبینی لری ، چې نصارا او یهود چې د اسلامي عقیدی او تاریخ په برخه کې کومه څیړنه کوی او یا د اسلامي ټولنی د قانون ، اسلامي سیاست او اسلامي ژوند دود په هکله کوم نظر ورکوی ، په هغی کې دی نیک نیتی موجوده وی او یا دی هم په هغی کې د مسلمانانو خیر او ښیګړه موجوده وی .

khanlibrary.org



یا هغوی په ربښتیا دا نظر لری ، چې د اسلامي ژوند دود په کوم اړخ په مثبت ډول رنا واچوی ، هغه خلک چې د الله تعالی د دغه څرګند اعلان او غوښې پریکړې نه وروسته بیا هم د هغوی په برخه کې حسن نظر لری نو د هغوی په عقل او پوهه ماتم پکار دی .

په همدی توګه الله تعالی د هدایت او لارښوونی عمل په ځان پوری محدود کړیدی او فرمایی چې : قل ان هدی الله هو الهدی .

( ووایه چې یوازی د الله جل جلاله لار او هدایت ریښتونی لار او هدایت دی ) .

په پورتنی ارشاد کې د هدایت او لارښوونی منبع تاکل شویده چې یوازی او یوازی د الله تعالی د هدایت او لارښوونو یوازینی منبع ده ، مسلمان باید د خپل ژوند په ټولو وړو او سترو مسایلو کې ورته رجوع وکړی ، د الهی هدایت او لارښوونی نه له مخ ګرځولو څخه وروسته انسان ته له ګمراهی او سرګردانی نه پرته بل څه په لاس نشی ورتلای .

د یوه مسلمان په عقیده له الله جل جلاله نه پرته بله منبع له سره موجوده نه ده ، چې له هغی نه هدایت او لارښوونه ترلاسه شی ، په پورتنی ذکر شوی آیت کې چې په دی ډول فرمایل شویدی :

د الله جل جلاله لارښوونه او هدایت په حقیقت کې ریښتونی هدایت دی ، نو د حصر له دغی صیغی نه یی مطلب د دی خبری اثباتول دی چې د الهی وحی نه وروسته چې هر څه دی هغه ضلالت ، ګمراهی ، سرغړونه او څرګنده بد مرغی ده ، د ایت مفهوم دومره څرګند او ښکاره دی چې له سره په کې د شک او تاویل ځای نشته .

په قرآن کریم کې دا قطعی حکم هم راغلی دی چې له هغه سړی سره هیڅ ډول اړیکې مه ساتی چې د الله جل جلاله له ستاینی نه مخ اړوی او په ژوند کې یی یوازینی هدف د مال او شتو راغونډول وی ، قرآن د دغه ډول انسان په هکله دا څرګندونه هم کړیده چې :

هغه یوازی په ګومان او اټکل ایمان راوړی دی ، د علم او یقین هوا هیڅ پری نه ده لګیدلی ، په داسی حال کې چې قرآن مسلمانان له ګومان او

khanlibrary.org



اتکل نه ایسار کړیدی ، هغه څوک چې د ژوند په هکله یې نظر د دنیا د ظاهری شان وشوکت په چورلیځ ( محور ) چورلیږی ، د قرآن په نظر هغه د علم د جوهر او نظر د روغوالی دواړو نعمتونو نه بی برخی دی .

الله جل جلاله فرمایلی دی :

فَأَعْرِضْ عَنْ مَنْ تَوَلَّى عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا()ذَلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهِ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدَى [د النجم سورت ۲۹ ۳۰ آیتونه]

( ته هم ای رسوله ! له هغه چانه چې زمونږ له عبادت نه یې مخ ګرځولی دی او د دنیاوی نعمتونو نه پرته د بل څه خواهش نه لری مخ واړوه ، د هغوی د پوهی او علم انتها یوازی همدومره ده ، ستا پروردګار ښه پوهیږی په هغه چا چې د حق له لاری اووښتی وی او همدا رنګه په هغه چا چې د حق په سمه لار روان وی ) .

يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ [د روم سورت ۶ آیت]

(هغوی یوازی د دنیا په ظاهری ژوند پوهیږی او له آخرت نه غافل دی ) .

یوازی هغه سړی ظاهر بین ، دنیا پرست او له حقیقی علم او پوهی نه بی خبره کیدای شی ، چې د الله جل جلاله له یاد نه غافل وی او یوازی د فانی دنیا د نعمتونو او خوښیو په لاسته راوړلو پسی سرګردانه وی ، د اوسنی پیړی د تولو ساینس پوهانو او نورو فنی ماهرینو همدغه حال دی .

دغه خلک چې د کوم علم ، مخکښ دی ، هغه ، هغه علم نه دی ، چې یو مسلمان دی پری باور وکړلای شی او بی له څنډه دی ترینه استفاده وکړی ، د دغه ډول علم په برخه کې مسلمان ته هم دومره اجازه شته چې د خالص علمی ضرورت تر حده ترینه ګټه واخلی .

د هغه نظریات او توجیهات چې د انسانی نفس او په ژوند پوری مربوطو مسایلو پوری اړه ولری ، د اعتبار وړ ونه ګڼی ، ځکه چې د دوی علم هغه ډول علم هم نه دی چې قرآن کریم یې څو څلی ستاینه کړیده او فرمایلی یی دی چې :

khanlibrary.org



هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون ( آیا پوهان او ناپوهان سره برابریدلای شی ؟ )

هغه څوک چې دغه ډول آیتونه له خپل سیاق وسباق نه بیلوی او بی ځایه استدلال کوی ، چې دغه آیت د هر ډول علم په هکله برابر حکم لری په غلطه لار روان دی ، د علم په برخه کې غوځ او پریکړی بیان او د بیلښت امتیازی کربنه په لاندی مبارک آیت کې ښه ترا څرګنده شویده .

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ [د الزمرسورت ۹ آیت ]

( ایا هغه څوک چې شپه او ورځ د الله جل جلاله په عبادت او ستاینه په سجده او قیام تیروی او د آخرت له عذاب نه په ویره کې وی او له خپل رب نه د رحمت او ښښنی تمه او هیله لری ، ووایه ته ای زمونږ رسوله ، هغه خلک چې د پوهی او عقل خاوندان دی برابر دی له هغو خلکو سره چې له عقل او پوهی نه بی برخی دی ؟ بی له شکه پوه او عاقل خلک په دی حقیقت پوهیږی ) .

هغه بنده چې د شپو په تنهایې او چوپتیا کې الله جل جلاله ته په سجده پروت وی ، په قیام او سجده کې له خپل خالق سره راز ونیاز کوی ، د آخرت له عذابه تل په ویره کې وی ، او د خپل رب د رحمت او ښښنی په هیله او تمه وی ، د الله جل جلاله د نور په وړانګو یې زړه منور وی ، په حقیقت کې همدی هغه نیکمرغه او خوشبخته انسان دی ، چې په ریښتونی توګه د علم په دولت کې ستره برخه لری او دا هغه علم دی ، چې په پورتنی آیت کې ورته اشاره وشوه ، یعنی داسی علم چې انسان ته د الله تعالی جل جلاله په لور لارښوونه کوی ، د تقوی او فضیلت له نعمت څخه یی برخه من کوی ، دا هغه علم نه دی ، چې د انسان فطرت مسخ کوی او هغه د الحاد او کفر په کږه وږه لار روانوی .

د علم ساحه یوازی د عقایدو ، دینی فرایضو ، واجباتو ، احکامو او شرایعو تر علم پوری محدوده نه ده ، د علم دایره ډیره پراخه ده ، څومره چې

khanlibrary.org



علم له عقایدو ، فرایضو او شرایعو سره اړیکې لری ، هماغومره اړیکې د فطرت له قوانینو او الهی خلافت د مصالحو او ګټو سره هم لری .

البته هغه علم چې د ایمان پر بنسټ نه وی ولاړ د هغه علم له تعریف نه بهر دی ، چې قرآن ورته اشاره کړیده او د هغه علم د پوهانو ستاینه یی کړیده ، د ایمان د اساساتو او هغو علومو ترمینځ چې د کائناتو او پنځ له قوانینو سره اړیکې لری لکه د استرانومی ، ( ستاره شناسی ) بیولوژی ، فزیک ، کیمیا ..... ، یوه کلکه رشته موجوده ده ، یاد شوی علوم هغه علوم دی چې د الله جل جلاله د موجودیت څرګند او ښکاره دلایل وړاندی کوی ، په دی شرط چې د انسان د بی لاری شوو غوښتونو تر اثر لاندی رانشی او هغه د الله تعالی جل جلاله له یاد او تصور څخه خالی نه کړی ، لکه څنګه چې په اروپا کې د علمی پرمختګ له پراو سره دغه افسوسناکه پیښه مینځ ته راغلی وه .

په حقیقت کې د اروپا په تاریخ کې د دغی بی دینی علت د هغی وحشیانه دوری اعمال وو چې د پوهانو او تیری کوونکې کلیسا ترمینځ په نهایت کرکجنه او زهرجنه فضا کې مینځ ته راغلل ، په نتیجه کې د اروپا علمی نهضت قصدا له الله جل جلاله نه د بیزاری په لار روان شو ، دغه تحریک د اروپا د خلکو د ژوند په هر اړخ ژور تاثیر وکړه ، او د اروپا د ټول فکری نظام مزاج یی رټ بدل کړ .

د دی نتیجه دا شوه چې د خلکو په زړونو کې نه یوازی د کلیسا او کلیسایې افکارو په هکله د کینی او دښمنی اور بل شو ، بلکه د کرکې او دښمنی د دغه اور لمبی په ټولنیزه توګه د هر ډول مذهب له تصوراتو او افکارو نه را چاپیری شوی .

د دی په نتیجه کې چې د اروپا علمی تحریک څومره علمی پانګه نړیوالو ته په میراث پریښودله ، هماغومره یی ضد مذهبی پانګه هم نړی والو ته په سوغات پریښودله ، که هغه پانګه د ماوراء الطبیعه فلسفی په بڼه وه او که د هغی ترڅنګه د مجردو علمی څیړنو په بڼه چې په ظاهره له دین سره کوم ډ رو کار نه لری .

khanlibrary.org



تاسو ته به دا څرګنده شوی وی ، چې د لویدیځ اند دود ، ( طرز فکر ) او نړۍ لید ( جهان بینی ) او بیا د علم په هر ډګر کې چې د هغو د کار پیل په کوم اساس شوی و د هغی تر شا د مذهب په هکله د هغوی په فکر کې زهرجن اثرات ، او له دښمنی ډک احساسات موجود وو ، نو له دی نه وروسته په دی خبره پوهیدل څه ګران کار ندی ، چې د لویدیځ په فلسفه او افکارو کې ولی د اسلام په هکله له دښمنی نه ډک احساسات او جذبات موجود دی .

د اسلام په برخه کې دغه ډول کرکه او نفرت په ناڅاڼ خبرې توګه نه دی ، بلکه په شعوری ( ځان خبری ) توګه دی او زیاتره وخت دغه ډول اعمال تر یوه منظم پلان لاندی سر ته رسیږی ، په دغه پلان کې هڅه کیږی ، چې لومړی د اسلامي عقایدو او تصوراتو د مانی بنسټ په شکمنو خبرو متزلزل او سست کړی او بیا ورو ورو هغه اساسات تحریف او ګډوډ کړی .

چې اسلامي ټولنی ته له نورو ټولنو نه ځانګړی او امتیازی خصوصیت وربښی ، په دغو ناپاکو سازشونو له پوهیدو نه وروسته هم که مونږ د اسلامي علومو په تدریس کې د لویدیځ د ښوونی او روزنی د میتود په پلونو پل ږدو ، نو له دی نه به زیاته د شرم او ننګ خبره نه وی .

ځکه دا داسی ګناه ده چې د ښبلو وړ نده ، ځرنګه چې مونږ په ساینسی علومو او تکنالوجی کې دیته اړ یو چې له لویدیځو منابعو نه ګټه واخلو نو پکار دا ده چې په دغه برخه کې ډیر پام وکړو او هغه علوم د فلسفی اثراتو له سیوری نه لری وساتو دا ځکه چې د همدغو علومو فلسفیانه اثرات دی ، چې په عمومی توګه له مذهب او خصوصی توګه له اسلام سره ضد واقع شویدی او ډیر معمولی اثر یی هم د اسلامي ګروهی د سپیځلی چینی د رنو اوبو د خړولو لپاره کافی دی [1] .

---

[1]- وګوری ، " المستقبل لهذا الدین " نومی اثر د " الفصام الکند " باب .

khanlibrary.org



## نهم فصل

# د مسلمانو قومیت

## د مسلمانانو د ټولنیز تنظیم بنسټ

په هغه بختوره ورځ چې اسلام د نوی او متحرکې ایډیالوژی سره د بشریت د یو والی او تنظیم لپاره نازل شو او انسانانو ته یی د اخلاقو او ژوند دود نوی معیارونه او دودونه وښودل او د دغو اخلاقي معیارونو د حاصلولو نوی لاری چاری یی هم ور وښودی ، په هماغه نیکمرغه ورځ یی انسانانو تـه د خپل مینځی اړیکو د لا سمون لپاره هم نـوی افکار او نظریات وښښل .

اسلام د خپل نزول په ورځ له نوو غوښتنو او ارمانونو سره نړۍ ته راغی او بشر ته یې د نوی ژوند او اصولو " چې د نیکمرغی په لوری یې روانول " زیری ورکړ ، دا یې هم ورته وښودله چې اسلام غواړی همدغه نوی اصول او قوانین د ټولنی د فساد او تباهی د له منځه وړلو لپاره عملی کړی ، هغه لاری چې دغه اصول او معیارونه پری تحقق مومی روښانه کړي .

اسلام د دی لپاره نازل شو چې د انسان او د هغه د رب اړیکې سره برابری کړی ، انسان په دی پوه کړی چې د کائناتو خالق هغه واحده او ټول واکه هستی ده ، چې د هغه د پت او عزت له درشل نه باید انسان د خپل ژوند د امر او نهی ټول اصول او قوانین زده کړی .

ځکه چې همدی لا شریکه ذات هغه ته د هستی خلعت او د ژوند پانګه وربښلی ده ، په خپلو ټولنیزو اړیکو ، کې هم باید د همدغه بی ساری ذات اصول او قوانین نافذ وګڼی ، ځکه دی په دی پوهیږی چې راپورته شوی هم د همده په اراده دی او بیرته به هم د همده په لور ورځی .

اسلام راغی او انسان ته یې د لهجی په پوره قوت او صراحت وویل : د الله جل جلاله په نظر د انسانانو د یو والی مزی ایکې یو دی ، که په دغه مزی سره ټول انسانان وترل شول ، نو د هغی په مقابله کې د وینی مودت او الفت نور مزی ډیر سست او پرسمن دي .

khanlibrary.org



لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ [ مجادله : ۲۲ ]

( هیڅکله به داسی خلک پیدا نکړی چې پر الله جل جلاله او د قیامت په ورځ ایمان ولری او د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم له دښمنانو سره دوستی وکړی ، که څه هم هغه دښمنان د دوی پلرونه ، زامن یا ورونه او د خپلی قبیلی خلک وی )

ځکه چې اسلام یوازی یو حزب پیژنی او هغه هم د الله جل جلاله حزب دی ، هیڅکله تعدد نه منی ، پرته له دغه حزبه نور ټول حزبونه شیطانی او طاغوتی دی .

الَّذِينَ آمَنُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا [د النساء سورت ۷۶ آیت ]

( هغو چې ایمان راوړی دی د الله جل جلاله په لار کې جهاد کوی او هغو چې نه دی راوړی ، هغه د طاغوت په لاره کې جګړه کوی ، نو ای مؤمنانو د شیطان له دوستانو سره جګړه وکړی او باور ولری چې د شیطان چلونه ډیر کمزوری دی ) .

الله جل جلاله ته د رسیدلو ایکې یوه لاره ده ، نوری لاری سړی بی لاری کوی .

وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ [د انعام سورت ۱۵۳ آیت ]

( همدغه زما سمه لار ده چې باید پری لاړ شی ، په نورو لارو مه ځی چې ستاسو د بیلوالی او تفرقی سبب ګرځی ) .

د انسانانو د ژوند لپاره یوازی یو نظام حق دی او هغه هم اسلام دی ، له دی نه پرته چې نور څومره نظامونه دی هغه ټول جاهلی نظامونه دی .

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ [د المائده سورت ۵۰ آیت ]

khanlibrary.org



( ایا ( سره د دی دومره کامل قانون او محکمو اسمانی اصولو ) بیا هم د جاهلیت د وخت د احکامو غوښتنه کوی ؟ کوم حکم به د الله جل جلاله له حکم نه د یقین خاوندانو ته ښه وی ) :

په نړۍ کې یوازی یو ډول قانون او شریعت جایز او واجب الاطاعت دی ، چې هغه هم د الله جل جلاله شریعت او قانون دی ، له هغه پرته چې څومره قوانین دی هغه د هوا ، او هوس له مخې جوړ شویدی .

ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنْ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ [د جاثیه سورت ۱۸ آیت ]

( ای رسوله مونږ ته د دین په برخه کې په یوه پاکه لار ( شریعت ) روان کړی ، چې د الله جل جلاله په هماغه لاره لاړ شی هیڅکله د نا پوهو خلکو غوښتنی مه منه ، چې نه پوهیږی ) .

په دنیا کې " حق " یوازی یو دی چې په هغه کې تعدد او تنوع محال دی ، له حق نه پرته چې هر څه دی هغه ضلالت او ګمراهی ده .

فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ فَأَنَّى تُصْرَفُونَ [د یونس سورت ۳۲ آیت ]

( د حق له وینا نه وروسته نور له ګمراهی او ضلالت نه پرته څه پاتی کیږی ؟ آخر تاسو چیرته ځی ؟ )

په نړۍ کې یوازی یوی سیمی ته دار الاسلام ویل کیدای شی چې هلته اسلامي حکومت وی ، د الهی شریعت حاکم وی ، د الله تعالی د ټاکلو حدود و درناوی پکې وشی ، هلته چې مسلمانان په ګډه سره د اسلامي حکومت چاری سمبالوي .

له دی نه پرته چې څومره سیمې موجودی دی ، هغه دی دار الحرب تر حکم لاندی راځی ، له دار الحرب سره یو مسلمان دوه ډوله سلوک اختیارولای شی : جګړه یا دامن تر ټرون لاندی سوله ، هغه ځای چې اسلام هلته حاکم نه وی او د الله جل جلاله شریعت د ټولو جاهلی قوانینو ځای ونه نیسی ، له اسلام سره هیڅ مناسبت نه لری ، د مسلمانانو او هغه خلکو ترمینځ هیڅ ډول یو والی او دوستی موجوده نه وی .

khanlibrary.org



إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَنَصَرُوا أُوْلَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يُهَاجِرُوا مَا لَكُمْ مِنْ وَلَايَتِهِمْ مِنْ شَيْءٍ حَتَّى يُهَاجِرُوا وَإِنْ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ إِلَّا عَلَى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ()وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ()وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَنَصَرُوا أُوْلَئِكَ هُمْ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ()وَالَّذِينَ آمَنُوا مِنْ بَعْدُ وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا مَعَكُمْ فَأُوْلَئِكَ مِنكُمْ [د الانفال سورت ۷۲ - ۷۵ آیت]

( هغه چا چې په الله جل جلاله ایمان راوړ او له خپل وطن نه یې هجرت وکړ ، او د الله جل جلاله په لار کې یې مالی او ځانی هڅه او سرښندنه وکړه او هغو چې مهاجرینو ته پناه ورکړه او مرسته یی ورسره وکړه ، هغوی د یو بل دوستان دی ، هغه چا چې ایمان راوړی دی خو هجرت یې نه دی کړی ، تاسو هیڅکله د هغوی دوستان او پلویان مه اوسی ، تر هغه چې هجرت وکړی ، خو که له تاسو نه یې مرسته وغوښتله د دین په کار کې نو په تاسو لازم ده چې مرسته ورسره وکړی ، خو په داسی صورت نه چې د هغه قوم سره دښمنی ته ملا وتړی چې تاسو ورسره د سولی تړون کړی دي او په دی پوه شی چې هغه څه ( نیک او بد ) چې تاسو کوی الله جل جلاله په هغی خبر دی ، ځکه هغه چا چې له حق نه انکار کړی دی او کفر یې غوره کړی دی ، په هغو کې هم ځینی له ځینو سره دوستی او مرسته کوی ، او که تاسو مسلمانان په هغه څه چې الله جل جلاله درته حکم کوی عمل ونه کړی ، پوه شی چې د نړۍ پر مخ به ډیری ستری فتنی او فسادونه را پیدا شی .

هغه چا چې ایمان راوړی دی او هجرت یی کړیدی ، د الله جل جلاله په لار کې یی ربړ ګاللی او سرښندنه یی کړیده او هم هغه چا چې مهاجرینو ته پناه ورکړیده او مرسته یی ورسره کړیده ، هغوی په ریښتونی او حقیقی توګه مؤمنان دی ، د الله جل جلاله ښښنه او د جنت رزق د هغوی لپاره دی ، هغه چا چې ایمان راوړ او له تاسو نه یې وروسته هجرت وکړ او له تاسو سره

khanlibrary.org



یی څنګ په څنګ د الله جل جلاله په لاز کې جهاد وکړ ، هغه هم ستاسو مؤمنانو له جملی څخه دی ) .

اسلام له دغه ډول بشپړی او پریکنده ( قاطع ) پریکړی سره د هدایت او لارښوونی مشال په لاس دنیا ته راغی ، انسان یی له خاوری او ځمکې سره د پیوستګی او د وینی او غوښی د سکون له زولانو نه خلاص کړ او لوړ انسانی دریځ یی ورکړ .

د اسلام له نظره مسلمان هیڅ وطن نه لری ، او که لری یی نو یوازی هغه سیمه د ده اصلی تاټوبی او وطن دی چې هلته د اسلام د ازادی بښونکې شریعت رپی " بیرغ " په رپاوی ، او د اوسیدونکو ترمینځ یی اړیکې د الله جل جلاله د اصولو پر بنسټ ولاړی وی ، د اسلام له نظره مسلمان هیڅ قوم پوری اړوند ( مربوطه ) ندی ، او که دی نو یوازی هغه قوم دی چې د اسلامي ګروهی تر توغ لاندې په دار الاسلام کې استوګن دي ، د اسلام له نظره مسلمان خپل او خپلوان نلری ، او که لری یی نو هغه یی خپلوان دی چې د ګروهی غوښتنو پر اساس مینځ ته راځی چې له دی وروسته بیا دده او د ده د دینی ملګرو ترمینځ یوه نهایت کلکه رشته او پیوند چې د خپلوی له رشتی او پیوند نه څو ګرایه مضبوطه او کلک دی مینځ ته راځی .

د مسلمان پلار ، مور ، ورور ، خور ، ښځه او کورنی تر هغه وخته د ده خپلوان نشی ګڼل کیدای ، ترڅو د دوی ترمینځ هغه رشته او پیوند مینځ ته رانښی ، چې له الله جل جلاله سره پری اړوند ( مربوطه ) کیږی .

چې وروسته بیا د دغی خدایې رشتی او پیوند پر اساس د دوی ترمینځ د وینی او توکم پر اساس د خپلوی مزی هم ښه ترا ټینګیدای شی .

يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ [د النساء سورت ۱ آیت]

( ای خلکو ! له خپل رب څخه وویریږی چې تاسو یې له یوه نفس نه پیدا کړی یې او د هماغه نفس نه یی د هغه جوړه ( ښځه ) پیدا کړه او له دغو

khanlibrary.org



دواړو نه یې ډیری ښځې او نارینه په دنیا کې خواره کړل ، او هغه الله جل جلاله نه وویریږي چې هغه یو بل ته واسطه کوی او خپل حق غواړی)

دغه خدایې رشته او پیوند یا د مذهب اختلاف د دی مانع نه دی ، چې یو مسلمان دی له خپل مور او پلار یا نورو خپلوانو سره راشه درشه نه کوی ، البته تر هغه وخته پوری چې د ده خپلوان د اسلام د دښمنانو په صف کې نه وی دریدلی ، خو که چیری د ده مور او پلار یا نور خپلوان د اسلام په مخالفه جبهه کې ودریدل او له کفارو سره یې په ځرګنده مرسته او خواخوږی لاس پوری کړ ، نو په داسی پیښه کې د مسلمان د خپلوی تولی اړیکې او له یو بل سره د نیک برخورد مسئولیتونه له منځه ځی ، په دی برخه کې حضرت عبدالله چې د عبدالله بن ابی ( د مکې منافقینو رئیس ) زوی و مونږ ته یو روښانه او بی ساری مثال پریښی دی .

ابن جریر له ابن زیاد نه روایت کوی چې : رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله درود او سلامتیا دوی په هغه او د هغه په کورنی ، د عبدالله بن ابی زوی حضرت عبدالله ځانته راوغوښته او ورته وی فرمایل : تا ته څرګنده ده چې ستا پلار څه ویلی دی ؟

عبدالله عرض وکړ ، ای رسوله زما مور او پلار دی له تانه ځار وی ، هغه څه ویلی دی ؟

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ستا پلار ویلی دی څنګه چې مونږ مدینی ته ور ورسیږو نو د عزت او پت خاوند به ذلیل او بی پته کسان په خواری او ذلت له مدینی نه وباسی .

حضرت عبدالله وویل :

وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ() وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ [حشر: ۹-۱۰ ]

khanlibrary.org



( د انصارو هغه ټولی چې د مهاجرینو له هجرت نه مخکې په مدینه کې اوسیدل او ایمان یی راوړی و ، هغوی له مهاجرینو سره دوستی او مینه کوله او په زړه کې به یی هیڅ نه تیریدل ، د هغو مرستو په وجه چې مهاجرینو سره به یی کولی ، که څه هم دوی به هم ورته اړ وو ، په هر څه کې به یی مهاجرین تر ځان مستحق ګڼل ، هر چا چې خپل ځان د بخل او حرص له زولانو نه خلاص کړ بی له شکه دغه ډول انسان د دنیا د نیکو خلکو څخه دی ، او هغه څوک چې وروسته له مهاجرو او انصارو ور اغلل هغوی د الله تعالی جل جلاله په دربار کې دعا کوی چې ای پروردګاره مونږ او زمونږ دینی وروڼه چې له مونږ نه یې مخکې ایمان راوړی دی وښښه ، زمونږ زړونه د مؤمنانو په هکله له کینی او رخی نه پاک که ، ای خدایه ! بی له شکه ته په خپلو بندګانو ډیر مهربان او روؤف یی ) .

## په هر وخت کې د یو والی او تفریق اساس عقیده وه :

الله تعالی په خپل کتاب " قرآن " کې مسلمانانو ته د تیرو غوره انبیاو ډیری روښانه کیسی او مثالونه بیان کړیدی ، د الله جل جلاله دغو غوره انبیاء و په وخت کې د ایمان ډیوی روښانه کړیدی او تل به کله چې د ایمان او ګروهی مزی ټینګ شی .

نو که بیا د خپلوی رشتی د چا ترمینځ موجودی هم نه وی ، ټول مؤمنان سره وروڼه وی ، د دوی ترمینځ هغه پخه رشته مینځ ته راځی ، چې له هغوی نه یو قالب او یو ځان جوړوی ، الله جل جلاله فرمایې : انما المؤمنون اخوة ، ( ټول مؤمنان سره وروڼه دی ) ، په دغه لنډه وینا کې حصر هم شته او تاکید هم .

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ [انفال : ۷۲]

( هغه چا چې ایمان راوړی دی او هغه چا چې د الله جل جلاله په لار کې هجرت کړیدی او د الله جل جلاله په لار کې یی په سر ومال جهاد کړیدی او

khanlibrary.org



هغه چا چې مهاجرینو ته پناه ورکړې او مرسته یې ورسره کړیده هغوی په حقیقت کې د یو بل (ولی) دی .

دغه دوستی ، سرپرستی او هغه ولایت چې په دی آیت کې ذکر شویدی ، په یوه نسل او یوی دوری پوری مربوطه نه دی ، بلکه تر ډیرو راتلونکو نسلونو پوری هم منتقل کیدای شی ، د مسلمان امت وروستی نسل د لومړنی سره او لومړنی نه وروستی سره د دوستی ، سرپرستی ، مؤدت ، ولایت په رشتو پیوند وی چې د یوه بل ژوند ته پوره پاملرنه وکړی ، دغه د وفاداری ، غم شریکې ، مهربانی ، صله رحم او شفقت پاکه او سپیڅلی رشته به د دوی ترمینځ له ازله تر ابده موجوده وی .

وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ

( [ او هغه د هغو خلکو لپاره هم دی ] چې د دغو مهاجرینو له راتګ نه مخکې یې ایمان راوړی په دارلهجرت کې استوګن وو . دوی له هغو خلکو سره مینه کوي چې دوی ته یې هجرت کړی دی)

په الله جل جلاله دی زما سوګند وی ، تر هغی چې د الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم اجازه ونکړی ، د مدینی سیوری به هم نور ستا نصیب نه شی او نه به هیڅکله هم په مدینه کې پناه واخیستلای شی .

دا بی زوی ، چې خپل زوی توره په لاس ولاړ ولیده نو چیغی یی کړی : ای د خزرج قومه ! ګوری چې زما زوی ما له خپل کوره ایساروی .

ای د خزرج کهوله ! ګوری چې زما زوی ما خپل کور ته نه پریږدی ... هغه دوه ځلی دا ناری وکړی .

خو حضرت عبدالله ورته وویل : په الله جل جلاله سوګند چې هر څومره شور و زوږ وکړی کور ته به دی پری نږدم ، مګر د الله جل جلاله د رسول په اجازه .

په دغه شور و زوږ د اوس او خزرج قبیلو ځینی خلک راټول شول او له هغه سره یی په دی برخه کې خبری وکړی ، د پلار سپارښتن یی پری وکړ ، خو حضرت عبدالله په خپله خبره ټینګ ولاړ و ، او ویل یی چې ، ترڅو د الله جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم نه وی تر هغی به یې کور ته پری نږدم .

khanlibrary.org



له دی امله څو کسه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضور ته ورغلل او له دغی پیښی نه یی خبر کړ ، هغه مبارک چې پوه شو نو وی فرمایل : عبدالله ته ورشی او ورته ووایې چې خپل پلار له کوره مه ایساروه " .

هغه خلک عبدالله ته راغلل او د هغه مبارک صلی الله علیه وسلم له پیغام نه یی خبر کړ ، حضرت عبدالله وویل : که د الله جل جلاله د رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم وی ، نو دی کور ته تلای شی .

( ای د الله رسوله ! په الله جل جلاله سوګند چې هغه ربښتیا ویلی دی ، ځکه دا خبره د همده په برخه کې سمه ده زما دی په الله جل جلاله سوګند وی چې تاسو ای د الله رسوله ! پتمن او عزتمن یاست او هغه بی پته او بی عزته دی .

یا رسول الله صلی الله علیه وسلم په الله جل جلاله سوګند چې مدینی ته ستاسو د راتګ په وخت د یثرب ټولو خلکو ته دا څرګنده ده چې له ما نه زیات هیڅوک هم د خپل پلار خبره نه اوری او اوس که د یثرب خلک له هغه څه نه چې ده ویلی خبر شی بی له شکه به یې مړ کړی ، په داسی حال کې چې تاسو پوهیږی اوس له ما نه زیات هیڅوک هم زما له پلار سره دومره کینه نلری .

نو که د الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم خوښی په دی کې وی ، چې زه د خپل پلار سر هغوی ته وړاندی کړم ، نو اجازه راکړه چې ورشم او سر یې ستاسو حضور ته راوړم ، ځکه ویریږم چې دا ویـــار د بل چا پـــه برخـه نشی .

هغه وخت به زما په زړه کې د پلار د مینی له امله د کوم مسلمان ورور پـه هکله کینه او رخـــه پیدا شی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفـــرمایل : داسی مه کوه ! خو سره له دی هم کله چې مسلمانان مدینی ته را ورسیدل .

عبدالله ، د عبدالله بن ابی زوی د خپل پلار د کور په لوری لاړ ، د کور دوره په مخکې ودریده توره یی له تیکې راویستله او پوښتنه یی ترینه وکړه

khanlibrary.org



، هغه ته وی چې ویلی دی و که مدینی ته را ورسیدل نو د عزت او پت خاوندان به بی پته او ذلیل کسان په خواری او ذلت له مدینی نه بهر کړی ؟

په الله جل جلاله سوګند دی چې ته ناپوهه یی او یا دی ځان په ناپوهی وهلی دی ، په داسی حال کې چې پوهیږی عزت او درناوی ستا د ایمان او عقیدی د قافلی په سر کې روان وو ، په دغو مثالونو کې الله تعالی جل جلاله څرګنده کړیده چې د هر نبی په نظر د خپلوی اصل رشته د اسلام او عقیدی رشته ده ، د دی په مقابل کې نوری رشتی او خپلوی په هیڅ ډول ګټوری نشی ثابتیدلای .

وَنَادَى نُوحٌ رَبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنْتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ()قَالَ يَانُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْأَلْنِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنِّي أَعِظُكَ أَنْ تَكُونَ مِنْ الْجَاهِلِينَ() قَالَ رَبِّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْأَلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِي أَكُنْ مِنْ الْخَاسِرِينَ[د هود سورت ۴۵ - ۴۷ آیت ]

( نوح علیه السلام خپل رب ته ناری کړی او وی ویل : ای ربه ! زما زوی زما له کورنی دی او ستا وعده ریښتونی ده ، ته تر ټولو حاکمانو ښه او غوره حاکم یی ، په ځواب کې ورته وفرمایل شول : ای نوح ! هغه ستا له کورنی نه نه دی ، هغو خو یو نا صالح عمل کړیدی ، نو له دی امله ته د هغی خبری غوښتنه له ما نه مه کوه ، چې په حقیقت یی پوهه نه یی ، زه تا ته نصیحت کوم چې ځان جاهلانو ته مه ورته کوه ، نوح علیه السلام سمدستی عرض وکړ : ای زما ربه ! زه ستا نه پناه غواړم د هغه څه په برخه کې چې زه یی له تا نه غواړم ، خو په حقیقت یی نه پوهیږم ، که ته می ونه ښښی او رحم راباندی ونه کړی نو زه به تباه او برباد شم )

وَإِذْ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ [د البقره سورت ۱۲۴ آیت ]

( یاد کړه هغه وخت چې ابراهیم علیه السلام خپل رب په څو خبرو وازمایه او هغه په کې بریالی شو ، نو الله جل جلاله ورته وفرمایل : " زه تا د

khanlibrary.org



ټولو خلکو امام او پیشوا کوم " ابراهیم عرض وکړ ، ای ربه همدغه ژمنه زما له ځوځات سره هم ده ؟ ځواب ورکړ شو ، زمونږ له ژمنی ظالمانو او تیری کوونکو ته ګټه نشی رسیدای)

وَإِذْ قَـالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنْ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلَى عَذَابِ النَّارِ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ [د البقره سورت ۱۲۴ آیت]

( کله چې ابراهیم علیه السلام دعا وکړه : ای زما ربه ، له دغه ښار نه د سولی او امن ښار جوړ کړه او هغو اوسیدونکو ته یې چې په الله جل جلاله او اخرت ایمان لری د هر ډول میوو روزی ورکړه ، الله تعالی وفرمایل : هغه څوک چې په الله جل جلاله او آخرت ایمان نه لری ، زه د څو ورځنی ژوند وسایل او روزی هغوی ته هم ورکوم ، خو په پای کې به یې جهنم ته ولیږم او هغه ډیر بد ځای دی ) .

کله چې حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل پلار او کورنی تینګار په کفر باندی ولیده ، نو له هغوی نه یې ځان ګوښه کړ او وې فرمایل :

وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَى أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّ ( زه له تاسو سره خپلی اړیکې پریکوم او همدا رنګه له هغو موجوداتو سره چې تاسو ورته د الله تعالی جل جلاله په ځای رجوع کړیده ، زه به خپل رب ته رجوع وکړم او هیله لرم چې د خپل رب په رجوع کې به نا مراده نشم ) .

الله جل جلاله د حضرت ابراهیم علیه السلام او د هغه د قوم د یادونو په ترڅ کې د مؤمنانو لپاره ځنی خاصی یادونی هم کړیدی ، چې مؤمنان باید په هماغه لار ولاړ شی .

الله تعالی جل جلاله فرمایی : .

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِي إِبْرَاهِيمَ وَالَّذِينَ مَعَهُ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَآءُ مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَاءُ أَبَدًا حَتَّى تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُ [د ممتحنه سورت ۴ آیت]

khanlibrary.org



( بی له شکه تاسو ته ابراهیم علیه السلام او د هغه ملګری ښه مثال دی ، کله چې هغوی خپل قوم ته په ډاګه وویل : چې مونږ له تاسو او له هغه چا نه چې تاسو یی پرستش او ستاینه کوی بیزاره یو ، له الله جل جلاله نه پرته چې د هر څه عبادت کوی مونږ یې له سره نه منو ، زمونږ او ستاسو ترمینځ د تل لپاره څرګنده میرځی ( دښمنی ) پیل شویده ، تر هغه پوری چې تاسو یوازی په یوه الله جل جلاله ایمان نه وی راوړی ) .

هغه لوړ همته او ځوان وروڼه چې د اصحاب کهف په نامه یادیږی ، هغوی د دین او عقیدی په لاره کې د خپلو خپلوانو ، د کورنی له غړو ، پانګی او شتو ، هر څه سره الله پامانی وکړه او له خپل قوم نه یی ځانونه ګوښه کړل ، هغوی چې له خپل وطن نه هجرت وکړ یوازی د ایمان متاع ورسره موجوده وه ، له هماغی معنوی توښی سره د الله جل جلاله په حضور کې ودریدل ، چې د هماغه دین او ایمان پر بنسټ د یوه الله جل جلاله بندګی او عبادت وکړای شی .

إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى()وَرَبَطْنَا عَلَى قُلُوبِهِمْ إِذْ قَامُوا فَقَالُوا رَبُّنَا رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَنْ نَدْعُوَ مِنْ دُونِهِ إِلَهًا لَقَدْ قُلْنَا إِذًا شَطَطًا() هَؤُلَاءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوا مِنْ دُونِهِ آلِهَةً لَوْلَا يَأْتُونَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطَانٍ بَيِّنٍ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا() وَإِذِ اعْتَزَلْتُمُوهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ فَأْوُوا إِلَى الْكَهْفِ يَنْشُرْ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ وَيُهَيِّئْ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ مِرْفَقًا [د الکهف سورت ۱۳-۱۶ آیتونه ]

( هغوی څو ځوانان وو ، چې پر الله جل جلاله یی ایمان راوړی و او مونږ هغوی ته په لاربښوونه کې ترقی او پرمختګ ور په برخه کړ ، مونږ د هغوی زړونه هغه وخت محکم کړل ، چې هغوی راپورته شول او اعلان یی وکړ چې زمونږ رب یوازی هغه دی ، چې د ځمکو او اسمانونو رب هم دی ، مونږ به هغه هیڅکله پری نه ږدو او د بل معبود ستاینه به ونه کړو ،که چیری مونږ داسی وکړل ، نو بالکل به مو بی ځایه کار کړی وی ، " بیا هغوی وویل " دا زمونږ قوم دی چې د کائناتو د الله جل جلاله بندګی یې پریښی ده او بل الله

khanlibrary.org



یی ځان ته جوړ کړیدی ، دغه خلک د خپلی ګروهی د ریښتونوالی لپاره ولی کوم دلیل نه راوړی ؟ له هغه چا نـه به نـور ستر ظالم او تیری کوونکې څوک وی چې په الله جل جلاله باندی په درواغو تور لګوی ؟ نو څرنګه چې تاسو اوس له دوی سره او همدا رنګه د دوی د غیر الله له معبودانو سره اړیکې شلولی دی نو لاړ شی په پلانی غار کې پناه واخلی ، ستاسو رب به د خپل رحمت لمن پـه تاسو وغوړوی او ستاسو د کار سر و سامان به برابر کړی ) .

د حضرت نوح علیه السلام او حضرت لوط علیه السلام د میرمنو یادونه هم په قرآن کې شویده ، د دوی او د دوی د میرمنو ترمینځ بیلتون یوازی په همدی خبره راغلی دی ، چې د میرمنو ګروهه یی د خاوندانو له ګروهی نه بیله وه ، د هغوی ګروهه د شرک په ایرو لړل شوی وه .

ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَأَةَ نُوحٍ وَامْرَأَةَ لُوطٍ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدَّاخِلِينَ [د تحریم سورت ۱۰ آیت ]

( د کافرانو د عبرت لپاره الله جل جلاله د نوح علیه السلام او لوط علیه السلام د میرمنو مثال ورکړیدی ، دغه دواړه ښځی زمونږ د ډیرو بندګانو له جملی نه د دوه بندګانو په نکاح وی ، دغو دواړو له هغوی سره خیانت وکړ ، خو د الله جل جلاله له مواخذی نه د هغوی خاوندانو خلاصی نه کړای شوی او د دواړو ښځو په هکله دا حکم راغی چې ځی لاړی شی له نورو خلکو سره تاسو هم دوزخ ته ننوځی ) .

د دی ترڅنګ د جابر او سر غړوونکې حاکم فرعون د میرمنی مثال هم بیان شویدی او د مسلمانانو لپاره د نمونی په توګه وړاندی شویدی .

وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا لِلَّذِينَ آمَنُوا امْرَأَةَ فِرْعَوْنَ إِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِـي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ [د تحریم سورت ۱۱ آیت ]

khanlibrary.org



( مسلمانانو ته د پند او نصیحت لپاره الله جل جلاله د فرعون د میرمنی مثال بیانوی ، کله چې هغی دعا وکړله . ای زما پروردګاره ! ماته په جنت کې له ځان سره یو کور ودان کړه ، ما له فرعون او د هغه له بدو اعمالو نه خلاصه کړه او ما له ظالمو او تیری کوونکو خلکو نه هم وژغوره ) .

په همدی توګه قرآن د هر ډول رشتو او خپلویو په برخه کې ډیر مثالونه بیان کړیدی ، د نوح علیه السلام په کیسه کې د پلار ولی رشته موجوده ده ، د ابراهیم علیه السلام په کیسه کې د زوی او وطن د رشتی او اړیکو مثال بیان شویدی ، د اصحاب کهف په کیسه کې د خپلوانو ، قبیلی ، ورونو ، وطن او قوم یو جامع مثال وړاندی شویدی ، د حضرت نوح علیه السلام او لوط علیه السلام او فرعون په کیسو کې د نر او ښځی د ازدواجی اړیکو مثالونه وړاندی شویدی .

خو د قرآن له نظره د خپلوی دا ټولی رشتی هغه وخت بی ارزښته او کمزوری ګڼل کیږی ، حتی چوری شلیږی ، چې د ګروهی د ازلی او ابدی اړیکو مزی یی سره وشلیږی .

## د هاشمی رسول د قوم د جوړښت اساس :

مونږ مخکې د الله جل جلاله د غوره بندګانو او ټولی ( انبیاؤ ) د اړیکو او تعلقاتو مثالونه او د ګروهی له مخی د هغی سپیڅلی انځور وړاندی کړ ، اوس غواړو چې د منځنی امت ( امت وسطه ) د خلکو په هکله هم په دغه برخه کې څیړنه وکړو .

د الله جل جلاله د عقیدی په رڼا کې د منځنی پوړی خلکو هم په خپل وار په پورتنی مسئله کې د یادولو وړ مثالونه پرینبی دی ، دغه خلک هم د هماغی الله لاری لارویان دی ، چې الله جل جلاله د مؤمنانو لپاره له ازله انتخاب او غوره کړی وه ، په دغو خلکو کې هم تاسو لیدلای شی چې کله د ایمان رشته او مزی د دوی ترمینځ شلیږی .

یا په بله وینا کله چې د یوه انسان او بل انسان ترمینځ لومړنی رشته او مزی ( د ایمان او عقیدی ) وشلیږی نو د یوی قبیلی او یوی کورنی خلک

khanlibrary.org



سره جلا جلا اوسيږی ، او په مختلفو ډلو سره ويشل کيږی ، الله جل جلاله د ريښتينو مؤمنانو د ستاينی په ترڅ کې فرمايې :

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَـــانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُولَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَـــانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِـــيهَا رَضِـــيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُولَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ [د مجادله سورت ۲۲آيت ]

( پيدا به نه کړی داسی خلک چې په الله جل جلاله او آخرت هم ايمان ولری او له هغو خلکو سره دوستی وکړی چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول دښمنان وی ، که څه هم دغه خلک د دوی پلرونه ، ورونه ، زامن يا د خپلی قبيلی خلک وی ، اهل ايمان هغه خلک دی چې الله جل جلاله ايمان د هغوی په زړونو کې نقش کړيدی او له غيبی برکته يی د هغوی مرسته کړی ده ، هغه به دوی داسی باغونو تـــه داخل کړی ، چې د اوبو نهرونه پکې روان دی ، دوی به په هغه کې تل اوسيږی ، الله جل جلاله بـــه له دوی نـــه خوښ وی او دوی به له الله جل جلاله نـــه دغـــه ډله د الله جل جلاله ډله ( لښکر ) ده او خبر اوسی چې پـــه يقين سره بـــه د همدغې ډلی خلک د خير او فلاح څښتنان شی ) .

مونږ وينو چې د اسلام په تاريخ کې بی ساری مثالونه د عقيدوی رشتی او خپلوی د ځلانده تاثيراتو په برخه کې موجود دی ، له يوی خوا د محمد صلی الله عليه وسلم خپل تره ابو لهب او د خپلی قبيلی د سړی عمرو بن هشـام ( ابو جهل ) سره د وينی او قوميت مزی شليږی او له بلی خوا د مکې مهاجرين د خپلو خپلوانو په مقابل کې د بدر په جګړه کې توره په لاس دريږی .

پـه مکـه کـې د همدغـو مهاجريـنو او د يـثرب د انصـارو پـه مينځ کـې د ګروهی نـه شليدونکې مزی ټينګيږی او هغوی د يوه بل سکنی ورونه کيږی ، داسی وروری چې ساری يی د وينی او توکم ( نژاد ) په رشتو او خپلويو کې هم نه ليدل کيږی ، د خپلوی دغی رشتی د مسلمانانو ترمينځ يوه نوی

khanlibrary.org



ورورولی پیدا کړه ، په دغی ورورولی کې عرب هم ګډون او برخه لری او غیر عرب هم .

د روم صهیب هم یکې برخه لری ، د حبشی بلال او د فارس سلمان هم ، د دوی ترمینځ د قبیلوی امتیازونو دیوالونه نړیږی ، په اصل و نسب باندې ویاړ له مینځه ځی ، د وطن او قومیت شعارونه کمزوری کیږی ، او د الله جل جلاله ، پیغمبر هغو ټولو ته په خطاب کې فرمایې :

۱ - دعوهـــا فانهـــا منتنه ( له دغو بی ځایه ویاړونو نه لاس واخلی دا خوسا شوی او بوین اجساد دی ) .

۲ - لیس منا من دعا الی عصبیة ولیس منا من قاتل علی عصبیة ولیس منا من مات علی عصبیه " هغه څوک چې جاهلی عصبیت ته خلک رابولی هغه زمونږ نه دی ، هغه څوک چې د عصبیت ( قومی او نژادی ویاړونه ) لپاره جګړه کوی هغه هم زمونږ نه دی او هغه څوک چې په عصبیت مری هغه هم زمونږ له ډلی نه نه دی .

## دار الاسلام او دار الحرب

لنډه دا چې د دغو وروستو او کمزورو عصبیتونو دوره ختمه شوله ، د نسبی تعصب او ویاړونو مردار او خوسا شوی جسد دفن شو ، د نژادی او نسلی امتیازاتو او لوړتیا جاهلی شعار تر پښو لاندی له خاورو سره برابر شو ، د قومی افتخاراتو او ویاړونو توغ رابنکته کړای شو او نوم و نښان یی ورک کړای شو .

انسان د ټولو ټولنیزو قیودونه لکه قوم ، نژاد ، وطن ، نه ازاد شو ، د نړۍ په معطر بن کې یی د ازادی هوسا ژوند غوره کړ ، له همدغی ورځی نه د مسلمان وطن هم له جغرافیای پولو او بریدونو نه ازاد شو ، ټول دار الاسلام د هغه خوږ وطن شو .

هغه وطن چې هلته د ایمان او عقیدی حکمرانی وی او یوازی د الهی شریعت توغ یکې رپیږی ، همدغه وطن د مسلمان د پناه اخیستلو ځای شو ، د ساتنی لپاره یی تل ملا تړلی ولاړ وو ، د پردو له بلوسی نه یی د خپل

khanlibrary.org



باغ د ساتنی لپاره خپل ځان نذر کړ ، د هغه د پراختیا او پرمختیا لپاره یې د شهادت سور کفن واغوسته .

دار الاسلام د هر هغه سړی وطن دی ، چې د اسلام او الله جل جلاله د بندګی کړی یی په غاړه کې پرته وی ، او اسلامي شریعت د خپل ژوند د ازادی ببنونکې قانون په توګه منی .

هغه څوک هم له دی پناه ګاه نه ګټه اخیستلای شی ، چې مسلمان نه وی خو اسلامي شریعت یی د حکومت د یوازینی قانون په توګه منلی وی ، لکه څنګه چې د هغو اهل کتابو مسئله ده ، چې په دار الاسلام کې استوګن دی ، خو هغه سیمه چې د اسلام د حکومت توغ پکې په رپا نه وی او الهی شریعت د حکومت یوازینی قانون نه وی ، هغه د مسلمان لپاره او د دار الاسلام د اوسیدونکې متعهد ذمی لپاره د دار الحرب حیثیت لری .

مسلمان باید تل هغه ته توره په لاس ولاړ وی ، که څه هم هغه د ده د زوکړی وطن وی او یا یی د نسب او خپلوی اړیکې ورسره موجودی وی یا د ده پانګه او شته هلته موجود وی او یا یې هم نوری مادی ګټی هلته خوندی وی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې پر خلاف توره راپورته کړه ، که څه هم مکه د هغه پلارنی او د زوکړی وطن وه هماغلته یی د خپلی کورنی غړی او نور خپلوان اوسیدل ، د هغه مبارک صلی الله علیه وسلم او اصحابو ، کورونه مال او شته هم هلته وو .

چې د هجرت په وخت کې یی پریښی وو ، خو سره له دی هم مکه تر هغه وخته پوری د الله جل جلاله د پیغمبر او د هغه د یارانو لپاره دار الاسلام نه وه تر هغه چې هلته د اسلام توغ پورته نشو او محمدی غوره شریعت د حاکمیت پر مسند تکیه ونکړه .

د ژوند دغه ډول بی ساری تصور او معیارونو ته اسلام وایې اسلام د څو شعرونو او نظمونو مجموعه نه ده او نه مذهبی سرودونه دی ، چې یوازی د هغو تکرارول مطلب وی ، نه په کومه ځانګړی سیمه کې ( چې د اسلام نوم یی د اعلان په دود په تندی لیکل شوی وی او یا تش د اسلام په نامه

khanlibrary.org



یادیږی ) تر پیدا کیدو وروسته په خپله د اسلامي اصولو له عملی کولو نه پرته چاته د مسلمان خطاب کیدای شی ، نه اسلام چاته په وراثت رسیږی ، چې څوک په مسلمانه کورنی کې پیدا شو ، نو ضرور به مسلمان وی ، د ده په مسلمانی کې د ده خپل اعمال د اعتبار وړ دی :

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا [النساء سورت ۶۵ آیت]

( ای محمده ستا په رب می دی قسم وی ، دوی هیڅکله هم مؤمنان کیدلای نشی تر هغی چې د خپل مینځی اختلافاتو د اوارولو لپاره تا د حکم په حیث ونه منی او بیا ستا په پریکړه د زړه تنګوالی او خفګان احساس ونکړی ، بلکه په خوښی یی ومنی ).

یوازی دیته اسلام ویلای شو او یوازی هماغه سیمه دار الاسلام ده ، چې هلته د اسلام حکومت وی چې دا د وطن ، توکم ( نژاد ) نسب ، وینی او قبیلوی خپلوی او وروری تر حدودو او بریدونو ډیر لوړ او عالی دی .

## د اسلامي هیواد ، د ساتنی اصلی محرک :

د اسلام په راتګ د انسان روح د مرئیتوب له هغو ځنځیرونو نه خلاص شو ، چې دی یی د ځمکې په ذلت پوری تړلی و د روح په ازادی سره انسان د دی وړ کیږی ، چې د ایمان په پراخه افق کې یی فکر ونظر د الوتلو وړ شی ، د وینی او نسب ځمکنی زولنی ماتی شوی ، انسانان په ایمانی مزو سره وتړل شول ، د خپلی خاوری ځمکې او تاټوبی له قید او بند نه هم ازاد شول .

ځکه اسلام هغوی ته وښوده چې ستاسو وطن د نړۍ کومه تاکل شوی جغرافیای سیمه نده چې د جلا والی په صورت کې یی په مینه کې ساندی ووهی او یا یی د ساتنی لپاره په سر لوبی وکړی .

د مسلمان قومیت چې په هغی سره پیژندل کیدای شی د کوم حکومت له خوا تاکل شوی ملیت او یا قومیت ندی ، د مسلمان ورور ولی ، چې تر سیوری لاندی یی پناه اخلی او د هغی لپاره جګړی کوی ، مرګ قبلوی ، د وینی او یا مورنی او پلارنی رشتی له مخی نه ده جوړه شوی ، د مسلمان

khanlibrary.org



توغ چې دی پری ویاړی او لوړ ساتل یی د سر په بیه هم ارزانه ګڼی د کوم خاص قوم توغ نه دي .

د مسلمان سوبه او بری چې دی ورته تل لیواله وی او په سوبمن کیدو یې الله جل جلاله ته د شکر سجده ادا کوی ، یوازی او یوازی کومه پوځی غلبه او سوبه نده ، بلکه هغه د حق سوبه ده چې الله جل جلاله په قرآن کې داسی بیان کړیده :

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ()وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا()فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا [سوره النصر ]

( کله چې د الله جل جلاله له خوا مرسته او سوبه راشی ، نو خلک به ووینی چې ډله ، ډله د الله جل جلاله دین ته داخلیږی ، نو ته د خپل الله جل جلاله ستاینه او تسبیح وکړه ، له هغه نه ببنښنه وغواړه بی له شکه هغه توبه منونکې دي ) .

دغه بری او سوبه یوازی د ایمان تر توغ لاندی ترلاسه کیدای شی ، د کومی بلی جنډی عصبیت په دې کې نشی ګډیدلای ، دا جهاد یوازی د الله جل جلاله د دین د نصرت او اسمانی شریعت د سر لوړی لپاره کیږی ، نه د کومی بلی ګټی او مقصد لپاره .

دا جهاد د هغه دار الاسلام نه د دفاع لپاره کیږی ، چې څانګړتیاوی یی مونږ مخکې بیان کړی ، په دغه دفاع او ساتنه کې د وطنی او قومی تصوراتو او معیارونو ځای نشته ، تر سوبی وروسته د سوبمن پوځ د پاملرنی وړ تکې یوازی او یوازی د ولجی او غنیمت مال لاسته راوړل نه وی او نه دا جګړه د کوم دنیاوی شهرت او نامه د ګټلو لپاره کیږی ، د دی جګړی مقصد لکه څنګه چې یی نوم پاک دی مقدس جهاد ( Holy War ) هماغه ډول یی هدف هم پاک او سپیڅلی دی د الله جل جلاله رضا .

د الله تعالی د رضا حاصلول او د هغه تسبیح او استغفار د دغی جګړی اصلی مقصد دی ، دغه جګړه د وطنی حمیت او قومی غیرت او عصبیت پر بنسټ هم نه ده ولاړه ، او نه یی د کورنی او مال او شتو ساتنه اصلی هدف دی ، که چیری د کورنی او قبیلی ساتنی جذبه پر دی اصولو ولاړه وی ،

khanlibrary.org



چې د هغوی دین او ایمان لـه فتنی او ازمېښت نـه بچ پاتی شي دا هیڅ باک ندي .

له حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چا پوښتنه وکړه ، څوک چې د زړورتیا د ښودلو لپاره جګړه کوی ، بل د غیرت لپاره جګړه کوی او دریم د ریا او ځان ښودنی لپاره جګړه کوی ، له دوی نه څوک د الله جل جلاله په لار کې جګړه کوی ؟

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ : هغه څوک چې یوازی د دی لپاره جګړه کوی چې یوازی د الله جل جلاله کلمه لوړه شی یوازی هماغه سړی د الله جل جلاله په لار کې جګړه کوی .

د شهادت لوړه پوړی یوازی د هغی جګړی په نتیجه کې لاسته راځی چې یوازی د الله جل جلاله لپاره وی ، د نورو مقاصدو لپاره چې جګړه او صف ارایې کیږی ، په هغو کې دغه لوړه مرتبه نشی ترلاسه کیدای ، هغه هیواد چې د مسلمان له عقیدی سره په جګړه بوخت وی ، د دینی فرایضو په سر ته رسولو کې خنډونه پیښوی ، او د شریعت له متابعت نه خلک ایساروی ، هغه هیواد د مسلمان لپاره دار الحرب دی ، که څه هم د ده خپلوان ، عزیزان ، ځمکه او پانګه پکې وی ، د ده سوداګری او خوښی ورپوری تړلی وی .

د دی په مقابله کې هره هغه سیمه چې د مسلمان د ګروهی ډیوه پکې روښانه وی ، د الله جل جلاله په شریعت عمل پکې جاری وی ، هغی ته دار الاسلام ویل کیږی ، که څه هم په دی سیمه کې د مسلمان کورنی او نور خپلوان ، قوم ، تجارت او مادی ګټی نه وی .

وطن په اسلامي اصطلاح ، د هغی سیمی نوم دی ، چې په هغی کې د اسلامي عقیدی حکومت موجود وی او د اسلام د ټولنیز ژوندانه قانون ، پکې نافذوی ، الهی شریعت پکې تر نورو ټولو اصولو او قوانینو غوره وګڼل شی ، او عمل پری وشی .

بی له شکه د وطن دغه تعریف او مفهوم د انسان له رتبی او مقام سره برابر دی ، په همدی توګه قومیت هم د اسلامي اصطلاح له نظره له عقیدی او د ژوندانه له اسلامي قانون نه عبارت دی ، د انسانیت له

khanlibrary.org



شرف ، فضل ، او کرامت سره هم چې کوم تعریف مناسبت او ورتیا لري ، هغه د قومیت همدغه تعریف دی چې اسلام کړیدی .

قومی او نژادی شعارونه د جاهلیت د کرغیړنې ایډیالوژی تعفن دی

د قوم ، قبیلی ، نژاد ، ژبی ، رنګ او وطن عصبیت او دعوت نه یوازې دا چې تنګ نظری ، لنډ اندی او پوچ مغزی ده ، بلکه دغه شعارونه د بشریت د وروسته پاتی والی او وحشت د وخت یادګارونه دی ، دغه جاهلی عصبیت په هغو وختونو کې پر انسانانو باندی مسلطه و چې بشر له فکری او روحی پلوه له زوال او انحطاط سره مخامخ و .

رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه شعارونه په " خوسا او متعفنو " شعارونو تعبیر کړی دی ، یعنی داسی مرداری چې تر اوسه یی هم ډډوذی خیژی ، د انسان نفیس ذوق اغیږ کوی او د کراهت او کرکې احساس تری کوی .

کله چې یهودو ، دا ادعا وکړله چې مونږ د نسل او نژاد له مخی د الله جل جلاله غوره او محبوب قوم یو نو الله تعالی د دوی د بی ځایه ادعا د تردید لپاره وفرمایل چې د هر قـوم ، هر نژاد او نسل د خلکو لپاره د تاریخ په هر پړاو کې یو پر بل د شرافت او فضیلت معیار یوازی او یوازی پر الله جل جلاله او د هغه کاملی بندګی ته ځاړه کیښودل دی ، بل هیڅ معیار نشته .

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَى تَهْتَدُوا قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ() قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ إِلَى إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ وَالْأَسْبَاطِ وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى وَمَا أُوتِيَ النَّبِيُّونَ مِنْ رَبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ() فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ() صِبْغَةَ اللَّهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ [ د البقره سورت ۱۳۵ - ۱۳۷ آیتونه ]

( یهودان وایي چې یهود شی نو سمه لار به پیدا کړی ، عیسویان وایي چې : د عیسی علیه السلام دین ومنی نو هله به لارښوونه درته وشی ، هغوی ته ووایه ، دا یوه هم مه منی ، تولی لاری پریږدی او د ابراهیم علیه

khanlibrary.org



السلام لاره غوره کړی ، چې حنیف و او د مشرکانو له ډلی نه وو ، مسلمانانو ! ورته وایې چې : مونږ ایمان راوړی دی پر الله جل جلاله باندی او په هغه هدایت او لارښوونه چې په ابراهیم علیه السلام ، اسمعیل علیه السلام ، اسحاق علیه السلام ، یعقوب علیه السلام ، او د یعقوب علیه السلام پر اولاده باندی نازل شوی و او همدا رنګه هغه هدایت او لارښوونه چې موسی علیه السلام او عیسی علیه السلام او نورو پیغمبرانو ته د هغوی د الله تعالی له خوا نه شوی وه ، مونږ د دوی په مینځ کې هیڅ توپیر نه کوو ، مونږ مسلمان یو ، نو که چیری بیا هغوی داسی ایمان راوړ لکه څنګه چې تاسو راوړی دی نو هغوی ته به هدایت شوی وی او که چیرې یې ایمان را نه وړ نو څرګنده خبره ده چې هغوی په بی ایمانی اخته شویدی ، نو له دی امله ډاډه اوسی چې په مقابله کې الله تعالی ستاسو د ساتنی او ملاتړ لپاره بس دی ، هغه هر څه اوری او پر هر څه پوهیږی ، د الله جل جلاله روش غوره کړی د هغه له روش نه به بل ښه روش د چا وی ؟ او مونږ د هغه بندګان یو) .

د الله تعالی غوره او محبوب قوم په حقیقت کې هماغه " مسلمان امت " دی چې د قوم ، نژاد ، ژبی او وطن له مغایرت سره سره بیا هم د الله جل جلاله تر ویاړلی توغ لاندی راټولیږی او د الله جل جلاله د کلمی د لوړ والی لپاره د جاهلیت په مقابله کې یو موټی کیږی :

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ [دآل عمران سورت ۱۱۰ آیت]

( تاسو هغه نیک او غوره ټولی یی چې د بشر د لارښوونی او سمون لپاره میدان ته راوستل شوی یاست ، تاسو خلکو ته د نیکې کولو امر کوی ، له بدی نه یې ایساروی ، او پر الله تعالی ایمان لری ) .

دا هغه الله پرست امت دی چې مخکښ یی د عربو د درنی کورنی د سترګو تور حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه و ، د حبشی بلال رضی الله عنه ، د روم صهیب رضی الله عنه او د فارس سلمان رضی الله عنه د دغه اسمان څلنده ستوری وو ، د دغه امت د قومیت بنسټ ... د توحید عقیده

khanlibrary.org



... ده ، دار الاسلام د دوی وطن دی . د ... الله پاک جل جلاله حاکمیت ... د دوی غوره او امتیازی شعار دی ، او... قرآن ... د دوی ژوند دود ، دی .

## د وطن او قوم عصبیتونه د توحید منافی دی :

د وطن ، قومیت او خپلوی دغه پاک او سپیخلی تصور باید د حق د لاری تلونکو پر زړونو په پوره ډول انځور شی ، داسی چې د هغوی په زړه ، دماغ او د وجود په رګ رګ کې یی د جاهلیت د شک او شبهی د انځور لپاره له سره ځای پاتی نه شی ، او د خفی شرک د اثراتو دوړه هم باید پری ونه غورځیږی .

نه یوازی د خفی شرک له ایرو نه باید پاک وی ، بلکه له هر ډول شرک نه باید د دغه تصور د سپیخلی چینی رنی اوبه پاکې وی لکه د وطن پالنی شرک ، نژاد پالنی شرک ، قوم پالنی شرک ، د دنیاوی ګټو پالنی شرک ، لنډه دا چې له دی ټولو نه باید پاک وی .

د شرک دغه ټول ډولونه الله تعالی په یوه ایت کې راټول کړیدی او د تلی په یوه پله کې یی اچولی دی ، د ایمان او د هغه غوښتنی یی په بله پله کې ، بیا یی انسان ته دا اجازه ورکړیده چې هره پله غوره ګڼی .

قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّى يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ [د التوبه سورت ۲۴ آیت]

( ای نبی ورته ووایه ! چې که ستاسو پلرونه ، زامن ، ورونه ، ښځی ، خپل او خپلوان ، او هغه شته چې تاسو ګټلی دی او ستاسو هغه تجارت او کاروبار چې له زیانمن کیدو یی تاسو ویره لری ، ستاسو کور چې ډیر مو خوښ دی ، تاسو ته د الله تعالی په لار کې له جهاد کولو نه ډیر ګران وی ، نو انتظار وکړی تر هغه وخته چې الله تعالی خپله پریکړه تاسو ته څرګنده کړی ، الله جل جلاله فاسقو خلکو ته لارښوونه نه کوی ) .

د حق د لاری د لارویانو او اسلامي نهضت د توغ اوچتوونکو په زړونو کې باید د اسلام د حقانیت ، ریښتینولی ، دار الحرب او دار الاسلام د

khanlibrary.org



تعریف او څرنګوالی په هکله هیڅ ډول شک او شبه موجوده نه وی ، په حقیقت کې همدغه شکونه او شبهی د کمزورو خلکو په اسلامي تصور ، یقین او باور په سختو شرایطو کې ډاکه غورځوی ، نو له دی امله یې باید له ځانه لری وساتو .

که نه نو دا خبره خو د لمر په څیر څرګنده ده ، چې په هغه هیواد کې چې اسلامي نظام او اسلامي شریعت حاکم نه وی هغه هیواد له اسلام او مسلمانی سره هیڅ اړیکې نه لری او نه د اسلامي هیوادونو په لړ کې راتلای شی ، دا خبره هم څیرنی او سپړنی ته اړه نلری ، چې هیڅ داسی هیواد ته د دار الاسلام خطاب نشی کیدای ، چې په هغه کې د اسلام غوره او منل شوی ژوند دود او قانون د اقتدار په څوکې نه وی ناست ، په دغه ډول چاپیریال کې اسلام ته خو لا پریږده چې د کفر خواته نژدی کیږی ، په کوم ځای کې چې اسلام نه وی هلته به ضرور د جاهلیت قوانین دود وی ، د حقی لاری نه تر مخ ګرځولو وروسته به له ضلالت او ګمراهی نه پرته نور هیڅ په برخه نشی ؟

khanlibrary.org



## لسم فصل

# ژور بدلون ته اړتیا

## اسلام په څه ډول خلکو ته وښیو

کله چې مونږ خلکو ته د اسلام ریښتونی ځیره ښیو ، نو که زمونږ اوریدونکي مسلمانان وی او که غیر مسلمان ، یو بدیهی حقیقت مو باید له نظره ونه غورځیږی ، دا هغه حقیقت دی ، چې په خپله د اسلام د مزاج او ( فطرت ) د غوښتنو له مخی مینځ ته راغلی دی ، د اسلامي تاریخ په زرینو پانو کې د هغی د اثبات لپاره پریمانه دلایل موجود دی ، په لنډو الفاظو کې دغه حقیقت داسی انځورولای شو :

اسلام چې د ژوند او کائناتو د حقیقت کوم انځور او تصور مونږ ته راکړی دی ، هغه ډیری غوره او امتیازی ځانګړتیاوی لری ، له دغی منبع نه چې د انسانانو د ژوند دود ، " طرز زندګی " کوم نظام اخیستل شویدی ، هغه هم له خپلو ټولو سترو او کوچنیو توکونو سره ، بشپړ او مستقل نظام دی او له ځانګړو امتیازاتو نه برخه من دی ، د ژوند او کائناتو د حقیقت او واقعیت د بیانولو له مخی ، دغه بشپړ تصور په بنیادی توګه له هغو ټولو جاهلی تصوراتو سره بډوالی ( ضدیت ) لری ، چې په لرغونی زمانه کې دود وو او که د اوسنی زمانی په نوی جاهلیت کې دود دی .

کیدای شی چې دغه اسلامي تصور کله نا کله په ځینو ، ضمنی او سطحی جزئیاتو او تفصیلاتو کې له جاهلی تصوراتو سره سمون وخوری ، خو تر کومی اندازی چې په هغو کلی اصولو پوری اړه لری ، چې دغه جزئی او سطحی معلومات تری اخیستل شویدی ، نو هغه د اوسنی پیړی او لرغونی زمانی له جاهلی تصوراتو ، افکارو او نظریاتو سره هر اړخیز بدلون او توپیر لری چې په انسانی تاریخ کې تر اوسه پوری دود او د پرمختګ په حال کې دی .

khanlibrary.org



له همدی امله د اسلام تر ټولو لومړی کار دا دی ، چې یوه داسی بی ساری ټولنه جوړه کړی چې د اسلامي تصور هر کلی او جز ئی توک په کې د لمر په څیر ځلنده وی ، او د ټولو اسلامي قوانینو عملی تفسیر وی ، داسی نظام وی ، چې د الله جل جلاله د غوره کړی شوی ژوند دود ، کامل انځور وی ، ځکه چې الله جل جلاله مسلمان امت د همدی لپاره راپورته کړیدی ، چې د الهی غوره کړی شوی ژوند دود ، ترجمانی وکړی او هغه نړۍ والو ته د عمل په ژبه وړاندی کړی .

الله جل جلاله فرمایی :

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنْ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ [د ال عمران سورت ۱۱۰ آیت]

( تاسو هغه غوره ډله یاست چې د انسانانو د لارښوونی لپاره راپورته کړای شوی یاست ، تاسو خلکو ته د نیکې کولو حکم کوی او له بدو نه یی ایساروی او په الله جل جلاله ایمان لری ) .

الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوْا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنْ الْمُنْكَرِ [د الحج سورت ۴۰ آیت]

( دا هغه خلک دی ، چې که مونږ په ځمکه کې واک او ځواک ورکړ ، دوی به لمونځونه کوی ، زکات به ورکوی ، خلکو ته به په نیکې کولو حکم کوی او له بدو به یی ایساروی ) .

د اسلام له شان سره دا نه ښایي ، چې د نړۍ له واکمنو جاهلی تصوراتو او افکارو سره روغه جوړه او سازش وکړی یا له جاهلی نظامونو او جاهلی قوانینو سره د ګډ ژوند د اصولو پر اساس معامله وکړی ، دغه ډول کمزوری دریځ اسلام په هغه وخت کې هم نه وه غوره کړی ، چې د نړۍ په تورتم او جاهلی افق کې یی نوی سترګی پرانیستلی وی ، نه به اوس دغه ډول دریځ غوره کړی او نه په ګانده ( آینده ) کې دا هیله شته ، چې دغه ډول دریځ به غوره کړی ، جاهلیت چې د تاریخ له هر پړاو سره اړیکې لری ، هغه جاهلیت دی .

khanlibrary.org



جاهلیت په حقیقت کې د الله تعالی له بندګی نه سرغړونه او د رالیږل شوی غوره نظام نه بغاوت دی - جاهلیت د الله جل جلاله نه پیژندونکو اشخاصو او منابعو د ژوند دود ، قوانینو ، قواعدو ، اصولو ، عاداتو ، او معیارونو د راخیستلو نوم دی ، د جاهلیت برعکس اسلام د الله جل جلاله په دربار کې د تواضع او بندګی نوم دي .

اسلام د کومی مخصوصی تاریخی مرحلی لپاره خاص کړای شوی ندی ، بلکه د بشر لپاره په هره دوره او هر حالت کې ګټور دی ، د اسلام کړنلاره او مشن د جاهلیت له تیارو نه د انسانانو را ایستل دی او د اسلام د هدایت په نور منور کول دی .

په زیاتو څرګندو الفاظو جاهلیت دا دی چې انسان د ځان په څیر انسانانو مرئیتوب کړی یعنی ځینی انسانان ځان لوړ او زور ور وګڼی او د نورو انسانانو لپاره د الله جل جلاله د مشیت په خلاف قوانین جوړ کړی او په دی نه پوهیږی چې د قانون اختیارات په څه ډول او تر کوم حده استعمالیدای شی .

اسلام دا دی چې ټول خلک د یوه الله جل جلاله بندګی وکړی ، د خپلو ټولو تصوراتو ، عقایدو ، قوانینو ، شرایعو ، د ژوند دودونو ، او رد او قبول معیارونه د الله جل جلاله احکام وګڼی ، مخلوق له بندګی نه ازاد شي او په بشپړه توګه ځان د الله جل جلاله بندګی ته نذر کړی .

په حقیقت کې دا په خپله د اسلام د فطرت غوښتنه ده ، او د اسلام له هغه عمل نه څرګندیږی ، چې په نړۍ کې یی عملا سر ته رسولی دی ، یا غواړی چې سر ته یی ورسوی ، همدغه حقیقت باید مونږ هغو ټولو انسانانو ته ، چې مونږ یې اسلام ته رابلو ، مسلمان وی که نا مسلمان په یوه ډول واضح او څرګند کړو .

## د اسلام او جاهلیت ترمینځ سوله نشی کیدی :

اسلام له جاهلیت سره هیڅ ډول روغه جوړه نشی کولای ، که د فکر او نظر روغه جوړه وی او که په فکر او نظر باندی د مرتب شوو قوانینو مسئله وی ، خبره څرګنده ده ، یا به اسلام وی یا جاهلیت .

khanlibrary.org



دریمه بڼه چې نیم به اسلام وی او نیم به جاهلیت ، دغه د وروری ویش د اسلامي اصولو له خوا مردود دی ، په دغه برخه کې د اسلام دریځ بالکل روښانه دی ، اسلام وایي : حق نه تجزیه کیږی ، که حق نه وی باطل به وی ، د حق او باطل ګډون ، امتزاج او ګډ ژوند محال دی .

حکم به یا د الله جل جلاله وی او یا د جاهلیت ، یا به د الله جل جلاله د شریعت توغ په رپاوی ، یا به د جاهلیت د شخصی هوا او هوس نغاری وهل کیږی ، دغه حقیقت ته قرآن هم اشاره کړیده :

وَأَنْ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ [د المایده سورت ۴۹ آیت]

( نو ای محمده! صلی الله علیه وسلم ته د الله جل جلاله د نازل کړي قانون سره سمه د ې خلکو د چارو فیصله وکړه او د هغو د خواهشاتو پیروي مکوه، پام کوهع یچ دا خلک تا په فتنه کې ونه چوي یوه ذره قدري دې هم له هغه هدایت نه اووښتې ونه مومي چې الله جل جلاله تاته درلېږلی دی ) .

فَلِذَلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ [ د شوری : ۱۵ ]

( نو همدی خواته بلنه ورکړه او پر هغی ثابت اوسی لکه څنګه چې تاسو ته حکم شویدی او د هغوی د نفسی غوښتنو پیروی مه کوی ) .

فَإِنْ لَمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [د القصص : ۵۰]

( او که چیری ستاسو غوښتنو ته مثبت ځواب درنکړی نو پوه شی چې دا خلک د خپلو خواهشاتو مریان دی ، له هغه سړی نه به زیات ګناهګار او ګمراه څوک وی ، چې د خپلو غوښتنو پیروی کوی او د الله تعالی د هدایت او لارښوونی پرواه نه کوی ، بی له شکه ظالمان د الله تعالی له هدایت او لارښوونی نه بی برخی دی ) .

khanlibrary.org



ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنْ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ() إِنَّهُمْ لَنْ يُغْنُوا عَنكَ مِنْ اللَّهِ شَيْئًا وَإِنَّ الظَّالِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ [د الجاثیه سورت ۱۸ آیت]

(ای محمده ! مونږ ته د دین په مسئله کې په یوه سپیڅلی او ښکاره لار (شریعت) روان کړی یی ، نو لهذا ته په هماغه لار لاړ شه د هغو خلکو د غوښتنو مطابعت مه کوه چې علم نه لری ، له الله جل جلاله سره به د مخامخ کیدو په وخت کې دا خلک ستا هیڅ په کار نشی ، ظالمان د یوه بل ملګری وی ، او الله جل جلاله د پرهیزګارانو دوست دی) .

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنْ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ [د المائده سورت ۵۰ آیت]

(نو ایا دوی بیرته د جاهلیت فیصلی او حکمونه غواړی ، په داسی حال کې چې هغه خلک چې په الله تعالی یقین او باور لری د هغوی په نزد له الله تعالی نه پرته بل ښه فیصله کوونکې او حکم نشته دی) .

له پورتنیو ایاتونو نه په ډاګه څرګندیږی چې یوازی همدا دوه لاری موجودی دی ، دریمه لار هیڅ نشته ، یا خو به د الله جل جلاله او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت او بلنی ته غاړه ږدی او یا به په بل صورت د خپل نفس د خواهشاتو پیروی ، یا به د الله جل جلاله پریکړه منی او یا به هم جاهلیت ته سر ټیټوی .

که چیری د الله جل جلاله رالیږل شوی قوانین د پریکړو اساس ونه ګرځی ، نو په ښکاره توګه د الله جل جلاله له احکامو نه سرغړونه ده ، د کتاب الله د پورتنی سپیڅلی او څرګند بیان نه وروسته نور د بحث او مجادلی او کومی پلمی لپاره ځای نه پاتی کیږی .

## د اسلام کړنلار:

د اسلام هدف او مقصد څرګند دی ، د اسلام لومړی وظیفه په نړۍ کې دا ده ، چې جاهلیت د انسانی رهبری او قیادت له منصب نه بی برخی کړی ، او د چارو واګی په پخل لاس کې واخلی ، خپلی ځانګړی ژوند دود ، چې

khanlibrary.org



د جلا، غوره او مستقلو اوصافو لرونکې دی ، نافذ کړی ، له دغی صالحی رهبری او قیادت نه د هغه مطلب د انسان ښیګړه ده چې دغه ښیګړه یوازی الله جل جلاله ته د انسان په بندګی او د کائناتو او انسان ترمینځ د حرکت له هم اهنګی او توافق نه پیدا کیږی .

مقصد یی دا دی چې انسان په ریښتونی توګه د انسانیت هغه لوړ معنوی مقام ترلاسه کړی چې الله جل جلاله ورته غوره کړیدی ، د نفسی خواهشاتو او بی ځایه غوښتنو له لومی څخه یی وژغوری دا هغه حقیقت دی ، چې حضرت ربیع بن عامر د فارسی پوځ سر لښکر رستم ته بیان کړی و .

رستم پوښتنه کړی وه چې : تاسو دلته د څه لپاره راغلی یاست ؟

ربیع ورته ویلی وو چې : الله جل جلاله مونږ د دی لپاره رالیږلی یو چې انسانان د انسانانو له بندګی او مرئیتوب نه وژغورو ، او د یوه الله جل جلاله د بندګی په ویاړلی صف کې یی ودرو ، د دنیا پرستی له مصیبت نه یی خلاص کړو او د دنیا او آخرت له نعمتونو نه یی ځولی ډکه کړو ، د انسانی ادیانو له ظلم او تیریو نه یی خلاص کړو او د اسلام د عدل تر سیوری لاندی یی په یوه منظم صف کې ودرو .

اسلام د انسانانو د نفسی غوښتنو د تائید او توثیق لپاره ندی راغلی ، هغه چې انسان یی د مختلفو نظریاتو او تخیلاتو په بڼه کې د ډول ډول دودونو او رواجونو تر پردی لاندی اظهاروی .

د اسلام په پیل کې هم همداسی ناوړه دودونه او رواجونه موجود و او اوس هم د لویدیځ او ختیځ په انسانانو د نفسی خواهشاتو د غوښتنو سلطنت ، او بادشاهی ده ، اسلام د نفسی غوښتنو د بادشاهی د کا واکه ستنو د محکمولو لپاره نه دی راغلی .

بلکه د دی لپاره راغلی دی ، چې هغه د دغه ډول ټولو تصوراتو ، قوانینو ، دودو او رواجونو ورسته کمبله ټوله کړی ، او د هغی پر ځای د خپلو ځانګړو بنیادی اصولوی پر بنسټ د انسانی نوی ژوند مانی ودانه کړی ، یوه نوی دنیا تخلیق کړی .

khanlibrary.org



د ژوند یوه نوی نقشه او طرح جوړه کړی ، چې بنسټ او چورلیځ ( محور ) به یې اسلام وی .

## له جاهلیت سره د اسلام جزوی مشابهت :

ځینی وختونه داسی کیږی چې د اسلام ځینی جزوی اړخونه د هغه جاهلیت د ژوند له ځینو اړخونو سره ورته والی لری ، چې خلک عملا ورسره لاس په ګریوان وی ، خو د دی مطلب دا نه دی چې د جاهلیت ځینی اجزا او توکونه به په اسلام کې هم موجود وی ، دا هسی یوه اتفاقی خبره ده چې په ځینی سطحی او سرسری امورو او فروعاتو کې د اسلام او جاهلیت ترمینځ ورته والی موجود دی .

که نه نو دواړه بیلی بیلی ونی دی ، او د دواړو ریښی او ولی له مختلفو چینو نه خړوبیږی ، تنی او شاخونه یې هم بیل دی ، لکه تر دی نه لا زیات توپیر د هغوی ترمینځ موجود دی ، یوه هغه د رحمت ونه ده ، چې د الله جل جلاله په حکمت راټوکیدلی ده او پالنه یې شویده ، او بله هغه د خبائث ونه ده ، چې د انسانی ناروا غوښتنو په ښوره ځمکه کې رالویه شویده .

وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا [د الاعراف سورت ۵۸ آیت ]

( هغه ځمکه چې ښه وی هغه د خپل الله جل جلاله په حکم ښه میوه او دانه کوی او هغه ځمکه چې خرابه وی په هغی کې له ناقصو پیداوارو نه پرته بل څه نه رازرغونیږی ) .

جاهلیت یوه خوسا او ورسته ماده ده ، که د لرغونی زمانی وی او که د اوسنی زمانی ، د جاهلیت د خبث او فساد ظاهری بڼه په مختلفو زمانو کې په مختلفو بڼو راڅرګندیږی ، خو د هغی اصلی ریښه یوه ده ، لنډ اندی انسانان تل د جاهلیت په ګنو بڼو تیروځی او د خپلو نفسی خواهشاتو له لومی نه د وتلو متره او هوډ پکې نه وی ، یا د څو نفرو ، طبقو ، قومونو او نسلونو ، خود غرضی او ګټی د هغی اصلی ماخذ او منبع وی .

زیاتره د خود غرضی او شخصی ګټو تر دوړو لاندی ، د عدل او انصاف ، حق او صداقت ، خیر او اصلاح غوښتنی او مفاهیم پټ شی ، خو د الله جل

khanlibrary.org



جلاله د سپیځلی شریعت تیره توره د دغه ډول ټول مفاسدو ریښی غوڅوی ، د انسان لپاره یو داسی قانون رامینځ ته کوی ، چې انسان پکې د لاسوهنی حق نه لری ، ان تردی چې څوک دا شک هم پری نشی کولای .

چې په دی قانون کې به د انسانی جهالت ایری ګډی وی ، یا به د انسانی هوا وهوس او اغراضو په دوړو د دغی سپیځلی اسمانی چینی اوبه خړی شوی وی ، یا به د کوم خود غرضه انسانی ټولی د شخصی ګټو نه ځار شوی وی او د بی اعتدالی شوم سیوری به پری شوی وی .

د الله جل جلاله رالیږل شوی ژوند دود ، او انسانانو د اختراع کړی نظرئې ترمینځ بنیادی او جوهری توپیر موجود دی ، نو له همدی امله د یوه نظام او قانون تر سیوری لاندی د دواړو یو ځای کول محاله خبره ده او هیڅکله هم په دوی کې توافق نشی پیدا کیدلای .

له همدی امله د داسی یوه ژوند دود د جوړولو لپاره هڅی هم بی ګټی دی ، چې نیم له اسلام نه اخیستل شوی وی او نیم له جاهلیت نه ، ځکه دا شرک دی او الله جل جلاله به شرک هیڅکله ونه ښښی ، په همدی توګه الله جل جلاله د خپلی نازل کړی نظریی ترڅنګ د بلی نظریی موجودیت او یا ګډون نه منی .

د دغو دواړو اعمالو ارتکاب جرم دی ، او دا دواړه جرمونه الله جل جلاله ته یو ډول حیثیت لری ، په حقیقت کې دواړه د یوه ذهن محصول دی .

## ساو " خالص " اسلام ته بلنه :

کله چې مونږ خلک اسلامي ګروهی او اسلامي ژوند دود ته رابولو او د خلکو د پرګنو ترمینځ اسلامي تبلیغ کوو ، نو د اسلام په هکله باید دغه حقیقت زمونږ په ذهن کې په داسی ډول انځور او نقش شوی وی ، لکه د کانې کرښه ، د دی لپاره چې د اسلام د اظهار او اعلان په وخت کې نه زمونږ ، ژبه ، تړ ، تړی شی او نه د کوم شرم احساس وکړو .

ځکه په داسی صورت کې به خلک په مونږ شک وکړی او په بد ګومانی به راته ګوری ، هغوی باید مونږ په پوره قوی منطق او استدلال په دی خبره

khanlibrary.org



پوه کړو چې که چیرې هغوی د اسلام په درشل کې د الله جل جلاله د بندګۍ ویاړ ترلاسه کړي ، نو د هغوی ژوند په یوه مخیزه مثبت بدلون ومومي .

د هغوی کړه وړه ، اصول او قوانین به ټول بدل شي ، د دغو بدلونونو له برکته به اسلام دوی ته دنیاوی او اخروی خیر او ښیګړی ور په برخه کړي ، چې اټکل به یې د دوی له تصور نه پورته وي ، د دوی په افکارو او نظریاتو کې به سمون راشي او د ژوندانه د چارو معیارونه به یې لوړ شي .

په پای کې به هغوی ته هغه مقام او درېځ ور په برخه شي ، چې د انسانیت له ستر نامه سره وړوی ، د جاهلی ټیټ ژوند په کومه ناولتیا چې اوس دوی ککړ دی هغه به چوره ترینه لرې شي .

اسلام د دغه ستر انقلاب او بدلون نه وروسته مسلمانان د علومو او څېړنو له هغو برخو نه نه محروموی ، چې د مشاهدې او تجربې پر بنسټ یې مانې ولاړه ده ، نه یوازې دا چې څوک به په دغه برخه کې له څېړنې او تحقیق نه ایسار نه کړي ، بلکه د دغو علومو د لا پر مختګ لپاره به پوهان وهڅوی او هغوی سره به د هر ډول اسانتیاوو په برابرولو کې مرسته وکړي .

لنډه دا چې د اسلام مدعیان باید خلک په دې ابهام کې پرې نږدی ، چې اسلام هم د نورو وضع کړای شوو نظریاتو په څیر یوه له ځانه جوړه شوی نظریه او قانون دی ، چې تر مختلفو نومونو او بیرغونو لاندې موجودی دی ، د دی برعکس اسلام یو ساو او سپیڅلی ، ځانګړی نظام دی ، چې په خپلو پښو ولاړ او په خپل کور پوره دی ، د ژوند په هکله نوی او ځانګړی نظر لري او ځانګړی ژوند دود یې نړیوالو ته وربښلی دي .

اسلام چې انسانیت ته څه وربښي ، هغه د دنیاوی جوړو شوو نظامونو له خیالی جنت نه سل ځله زیات ارزښتمن او ګټور دی ، اسلام په نړۍ کې تر ټولو نظامونو غوره او لوړ نظام دی ، خلک یې د جاهلیت له تروړمی نه روښانه او ځلاندی دنیا ته راوایستل ، اسلام یو معتدل او متوازن نظام دی ، چې ریښې یې نیغ په نیغه د ستر الله جل جلاله د هدایت له ازلی او ابدی چینې له اوبو نه خړوبیږي .

khanlibrary.org



که مونږ په دی پیمانه اسلامي تصور حاصل کړای شو ، نو دغه اسلامي شعور به په مونږ کې دا فطری صلاحیتونه هم را پیدا کړی چې مونږ اسلام ته د بلنی لپاره په ډاډه زړه او پوره باور بلکه لا په پوره خواخوږی او زړه سوی خلکو سره خبری اتری وکړو .

خپل مخاطب په دی باوری کړو ، چې هغه څوک چې ده ته د اسلام بلنه ورکوی هغه سراسر په حقه دی ، او نور خلک چې د ده پر خلاف په کومه لار روان دی ، هغه له یوی مخی په باطله لار روان دي .

هغه څوک چې اسلامي شعور لری ، هغه په خپله د دی مسئولیت احساس کوی او له خلکو سره یی خواخوږی ته اړ باسی ، مثلا دی پوهیږی دغه انسان چې د شقاوت او بد مرغی په لومه کې ننبتی دی ، په څه ډول له دغی لومی نه خلاصیدای شی او د نیکمرغی په لاره روانیدلای شي .

یا هغه سړی چې د جهالت په تورو تیارو کې تیندکونه خوری او دی په دی پوهیږی ، چې هغه مشال به هغه ته له کومه را پیدا شی چې د حق په لاره پری لاړ شی ، نو دی باید چپوالی غوره نکړی .

اگر بینی که نا بینا و چاه است  اکر خاموش بنشینی گناهست

لنډه دا چې د اسلام د رینبتونی شعور له حاصلولو وروسته به مونږ دیته اړ نه یو چې په پټه او غلا باندی اسلام د خلکو اذهانو ته ور ننه باسو او د هغوی نفسی غوښتنو او بی لاری کوونکو نظریاتو ته له دی لار ماتی ورکړو ، بلکه مونږ کولای شو د غلا او پټو لارو نه په ځرګنده توګه د اسلام د دعوت اصول د هغوی مخی ته کیږدو او ورته ووایو چې دغه جاهلیت چې ته پکې تر مری ډوب شوی یی ډیر ناولی او کرغیړن دی ، الله جل جلاله غواړی چې تا د ناولتیا له دغه خوسا ډنډ نه را وباسی .

ځکه په دغه ماحول کې چې ته سا وباسی هوا یی د خبث او فساد له دورو نه ډکه ده ، او الله جل جلاله ستا لپاره پاکې او سپځلتیا غواړی ، دغه ژوند دود چې تا غوره کړیدی دا د ډیرو تیتو او انسانی خویونو نه نا خبره خلکو ژوند دی او الله جل جلاله غواړی چې تا ته د انسانیت لوړه پوړی در

khanlibrary.org



کړی ، ستاسو د ژوند دغه شپی ورځی چې د ذلت شقاوت ، بیرته پاتی والی او مړاوی توب په لوګی دود غړنی شوی دی .

آلله جل جلاله غواړی چې تاسو ته په دی برخه کې اسانتیا پیدا کړی ، تاسو د خپل رحمت په غیږ کې ونیسی او د نیکمرغی تاج در په سر کړی ، اسلام به ستاسو افکارو او نظریاتو کې نوی او مثبت بدلون راولی ، ستاسو د ژوند حالات به هم بدل کړی ، تاسو به د ژوند له نویو معیارونو سره اشنا کړی ، تاسو به له یوه داسی خواړه ژوند سره اشنا کړی چې دا اوسنی ژوند به مو په خپله هیر شی .

ستاسو د ژوند په لیل و نهار کې به داسی انقلابی بدلون راولی ، چې په خپله به له موجوده نړۍ والی وضعی نه کرکه وکړی ، تاسو به له داسی تهذیب او تمدن سره اشنا کړی چې دا اوسنی دود شوی تهذیب به په خپله درته خوار او جاهلی ښکاره شی .

که تا چیری د خپلی بد نصیبی او بد مرغی له امله د اسلامي ژوند دود عملی بڼه نه وی لیدلی ، ځکه چې ستا دښمنان په دی خبره پوه دی او د یو والی لاس یی سره ور کړیدی چې دا نظام د عمل جامه وا نه غوندی ، نو راځه چې مونږ دی د دغه نظام له خوږ والی او انسانی خصوصیاتو سره اشنا کړو .

ځکه چې د الله جل جلاله په توفیق د دغه ډول ژوند انځور مونږ د خپل زړه او ویښ ضمیر په آئینه کې لیدلی دی ، مونږ د خپل الله د کتاب قرآن ، او نبوي سنتو او اسلامي تاریخ له زاویو نه د هغه اصلی بڼه لیدلی ده ، د ګاندی د خواړه تخیل په پرده کې مو د هغه ښکلی نورانی بڼه لیدلی ده ، په راتلو کې یی د ذری هومره شک هم زمونږ په زړونو کې نشته .

مونږ ته پکار دی چې په همدی توګه او همدی دود اسلام نړیوالو ته وړاندی کړو ، د اسلام فطرت او طبیعت هم له مونږ نه همدا غوښتنه کوی ، او دا هماغه آره " اصلی " بڼه ده چې اسلام په پیل کې غوره کړی وه ، په جزیره العرب. فارس ، روم او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په همدی دود خلک رابللی وو ، اسلام انسانیت ته له ډیری لوړی پوړی نه کتلی دی .

khanlibrary.org



او په دی هکله یی د نظر افق ډیر پراخه او اوچت دی ، ځکه چې دا د انسان حق و ، او همدغه یی اصلی پوړی وه ، هغه له انسانانو سره به ، له درد او سوزه ډکه ژبه خبری ولی وکړی ؟ دا ځکه چې همدا د اسلام فطرت دی ، اسلام انسانیت ته بی له شک او شبهی په ډاګه سپینه خبره ځکه وکړه چې همدا د هغه لار ده ، اسلام هیڅکله هم خلک په دی خوش باوری اخته نه کړل ، چې اسلام به زمونږ د عملی ژوند معیارونه ، افکار ، اخلاق او نظریات نه بدلوی ، او که بدل یی هم کړی نو مازی سرسری بدلونو نه به وی !!

په همدی توګه اسلام هیڅکله هم د خلکو د خوښی اصول او قوانین په ځان پوری ونه تړل او نه یی ځان له هغوی سره ورته ګانډه ، لکه څنګه چې اوس ځینی اسلامي پوهان په دی ناروغتیا اخته دی ، کله د اسلامي ډیموکراسی (Islamic Democracy) ، اصطلاح وضع کوی او کله د اسلامي سوسیالیزم ، او کله وایې چې د نړۍ د موجوده سیاسی ، اقتصادي او قانونی نظامونو د اسلامي کیدو لپاره ډیر لږو بدلونونو ته اړتیا ده ، دغه ډول ګډی وډی خبری د دی لپاره کیږی چې د خلکو غوښتنی تسکین شی .

خو په دی باید پوه شو چې دا اسلام دی ، او د الله جل جلاله له خوا راغلی دی ، د چا د ترور او خوښی کور نه دی چې د خوشحالتیا لپاره یی هر څه پکې وشی ، دا اسلام له هغه اسلام سره رټ توپیر لری چې د اسلام ځینی لنډ اندی ، مفکرین یې وړاندی کوی .

د جاهلیت له دغه طوفان نه چې نن یې د نړۍ ټول مخ احاطه کړی دی ، د بشریت خلاصول او د اسلام پر امنه غیږی ته د هغوی رسول یوه ژور او پراخه بدلون ته اړتیا لری .

د اسلام د ژوند انځور د جاهلیت له هغو ټولو انځورونو سره پخوانی وی که اوسنی ، یو مخیز توپیر لری ، موجوده انسانیت چې د بد مرغی او بد حالی له کومو انبارونو لاندی پروت دی ، هغه په څو سطحی او برسیرنو بدلونونو باندې له مینځه نه ځی .

khanlibrary.org



بشریت که نن له بد مرغی او بد بختی نه د خلاصون لاره لری ، نو هغه یوازی همدغه یوه لاره ده چې یو پراخه ، ژور او جوهری انقلاب مینځ ته راشی ، د مخلوق د جوړو کړو نظامونو د مانیو ستنی ونړوی او د خالق نازل کړی نظام جاری شی .

انسانی جوړ کړای شوو قوانینو ته د رخصت پانه ورکړای شی او د هغی پر ځای الهی قوانین جاری شی ، د انسانانو د حکمرانی زولنی ماتی کړی او د یوه الله جل جلاله بندګی ته غاړه کیږدی ، د اسلام د قیام او پاڅون غوره لار همدغه لار ده ، مونږ باید د دغی لاری نښی خلکو ته څرګندی او واضح کړو ، په دی برخه کې باید د خلکو په اذهانو کې د ذری هومره شک او شبه هم پاتی نشی .

ګیدای شی د اسلامي دعوت په لومړنیو پړاوونو کې خلک له دغه ډول اند دود ، ( طرز فکر ) سره مینه ونه ښیی ، له هغی نه لری وتښتی او ترینه ویره ولری ، خو دا یوه خبره هم د اندیښنی وړ نده ، خلک هماغه وخت هم له اسلامي دعوت نه تښتیدل ، په ویره او اندیښنه کې وو ، کله چې لومړی ځل دغه دعوت هغوی ته وړاندی شو ، نو په هغوی ډیره سخته تیریدله چې محمد صلی الله علیه وسلم د هغوی افکار او دودونه بی ګټی او بابیزه شیان بولی د هغوی په بتانو انتقاد کوی او خوشی کانی او ډبری یی بولی .

د هغوی له ژوند دود ، او عادتونو نه بیزاره دی ، د ځان او څو نورو پلویانو لپاره یی د دوی د ټولو ، قوانینو ، دودونو او رواجونو پر خلاف نوی اصول او قوانین وضع کړی دی ..... خو په آخر کې څه وشول ؟ هماغه خلک چې د حق خبره پری ترخه لګیدله د حق لمن ته یی پناه ور وړه ، او په حق یی ځانونه قربان کړل ، له هغه حق نه چې دوی به ترینه داسی ویریدل ؛ کانهم حمر مستنفرة فرت من قسورة ( تا به وی هغوی ځنګلی خره ده چې د زمری په لیدلو تیښته کوی ) .

هغه حق چې هغوی خپل ټول قوتونه د هغی پر خلاف جنګ او جګړو کې صرف کړل ، هغه حق چې منونکو ته یې دوی د مکې په بی وسه ژوند کې ډول ډول کړاوونه او عذابونه ورکړل او بیا یې مدینی ته له هجرت کولو نه

khanlibrary.org



وروسته هم له هغوی سره جګړې پیل کړی ، خو په پای کې لکه څنګه چې بری تل د حق په لوری و په هماغه ډول دوی هم د حق منلو ته غاړه کیښودله .

## د اسلامي دعوت د بری راز :

اسلامي نهضت او دعوت چې په پیل کې له کومو شرایطو او حالاتو سره لاس په ګریوان وه هغه له اوسنیو شرایطو نه په زړه پوری او امید ښونکې نه وو ، په هغه وخت کې هم دا دعوت خلکو ته نوی او نا اشنا و ، جاهلیت له هغه سره په مقابله بوخت وو .

د شان او شوکت خاوندانو یې دور کولو لپاره متی رانغاړلی وی ، په خپل وخت کې د ټولو خلکو لپاره یو نوی څیز ښکاریده ، د اسلام شا وخوا داسی جابر او مطلق العنانه بادشاهیو احاطه کړی وه چې دی یی د ټولو بنیادی اصولو دښمن و ، خو له دی ټولو ناوړه حالاتو سره سره ، دغه دعوت له هغو سختو نه ، سختو شرایطو کې هم خپل هوډ له لاسه ورنکړ او د معنوی ځواک ستره پانګه ورسره موجوده وه .

اوس هم د معنوی ځواک هماغه پانګه له اسلام سره موجوده ده ، په آینده کې به هم اسلام دی همدغه ډول بشپړ ځواک او قدرت پانګه ولری ، د اسلام د ځواک او بری راز د اسلام د ګروهی په فطرت کې پټ پروت دی ، همدغه علت دی چې له بدو نه بدو شرایط او اغزنی نه اغزنه لار کې هم د اسلام د قافلی سفر جاری دی ، د اسلام د قدرت او ځواک منبع هغه پاک سپیڅلی او روښانه " حق " دی ، چې د دغه دعوت د مانی ستنی پری ولاړی دی ، د هغه د بری راز له انسانی فطرت سره د هغه جوړ والی او برابری ده .

د هغه د ځواک او قدرت سرچینه د هغه په اریانوونکې " اهلیت او صلاحیت " کې پرته ده ، چې په هره مرحله کې د بشر د قیادت وړتیا لری او هغه د پرمختګ او سوکاله ژوند په لار روانولای شی ، که بشر په اقتصادي ، سیاسی او فکری لحاظ په انحطاط او زوال کې وی او که د ترقی او پرمختګ په لار روان وی .

khanlibrary.org



د اسلام د بری بل راز هم د هغه پریکنده ( قاطع ) او نه بدلیدونکې دریځ دی ، د جاهلیت او ټولو مادی قوتونو په مقابله کې په ځان ویسا او باور دی ، چې د جاهلیت د ټولو اصولو په مقابل کې د خپل اصل د یوی ذری هومره تحریف او بدلون هم نه شی زغملای .

هغه د جاهلیت له غوښتنو سره هیڅکله هم مصالحه نشی کولای ، او نه په جاهلیت کې د نفوذ لپاره له پلمو ، او چل ول نه کار اخلی ، هغه حق په رسا اواز اعلانوی او خلک په دی خبر وی چې دی سراسر حق ، خیر او برکت دی ، الله جل جلاله د انسانانو خالق دی ، هغه په دی ښه پوهیږی چې د انسان د فطرت غوښتنی څه ډول دی ، د هغوی د زړونو اسرار ورته څرګند دی .

هغه ته دا معلومه ده چې که حق په صراحت او قوت په ښکاره توګه وړاندی شی او د هغه په وړاندی کولو کې ، راز داری ، نقاب پوشی او نوری انې بانې نه وی هغه به ضرور د خلکو په زړونو کې ځای ونیسی .

## نیمګړی اسلام ته د خلکو رابلل زیانمن کار دی :

انسانان د یوه ژوند دود په پرېښودلو او د نوی ژوند دود په غوره کولو کې پوره وړتیا او استعداد لری ، ډیر ځله هغوی ته یو مکمل بدلون تر جزوی بدلونونو ډیر اسانه ښکاری ، له بلی خوا د یوه داسی ژوند دود غوره کول چې له مخکینیو نظامونو نه غوره ، لوړ سپیڅلی او په زړه پوری اصول لری ، د انسان له فطرت سره هم برابره او د منلو وړ خبره ده ، خو که د دی برعکس اسلامي نظام د ځینو جزوی او سطحی مسایلو په بدلون اکتفا کوی ، نو بیا به خلک څنګه د یوه بشپړ جاهلی نظام په ځای د یوه بشپړ اسلامي نظام منلو ته زړه ښه کړی ؟

څرګنده خبره ده ، چې له یوه مانوس نظام سره ژوند تیرول عقل ته نژدی ښکاری ، ځکه لږ تر لږه خو بر قرار نظام دی که نه ، اصلاحات او بدلونونه هم پکې راوستل کیدای شی ، نو بیا د داسی یوه نظام د راوستلو لپاره هڅه او سربندنه کول چې لږو ډیر خصوصیات یی له موجوده نظام سره

khanlibrary.org



ورته وی ، د خلکو لپاره به د موجوده برقرار نظام د نسکورولو او د نه بر قرار شوی نظام د راوستلو اړتیا او ضرورت څه وی ؟

**اسلام پر اسلام د لګول شوو ، تورونو پاکولو ته اړ ندی:**

اسلام ځینی داسی خواخوږی هم لری ، چې د خلکو په مخکې اسلام په داسی بڼه وړاندی کوی ته به وایې چې اسلام تورن ( متهم ) دی ، او دی غواړی چې د یوه مدافع وکیل په توګه د نړۍ په محکمه کې له هغه نه دفاع وکړی ، د هغوی دفاع له اسلام نه په داسی ډول وی چې اوسنی نظام پلانی او پلانی غوره کار کړیدی ، داسی ویل کیږی چې اسلام داسی کارونه نه دی کړی .

سړی دوی ته ویلای شی ، چې درنو عزیزانو ! اسلام دغه کارونه هغه وخت کړی چې اوسنی تهذیب یی څوارلس سوه کاله وروسته په کولو بری مومی او هغه هم په نیمګړی ډول ده ! !

اسلام هیڅکله هم د جاهلی نظامونو ، تباه کوونکې او ناوړه اعمال د خپلو اعمالو د جواز لپاره د نمونی په توګه نه وړاندی کوی ، دغه د اوسنیو تهذیبونو سترګی بریښوونکې ځلا چې د زیاتو خلکو زړونه او ماغزه یی تسخیر کړیدی دا یو مخیزه د جاهلی نظام ځانګړتیاوی او مشخصات دی او د اسلام په مقابله کې له هر اړخه نیمګړی ، تش مینځی او پوچ دی .

په دی برخه کې مونږ ته دا دلیل د منلو وړ ندی ، چې د اوسنی زمانی د مادی تهذیبونو تر سیوری لاندی چې کوم خلک اوسی هغه ډیر اسوده او سوکاله ژوند لری تر هغه چا چې د تش په نامه اسلامي حکومتونو تر سیوری لاندی ژوند تیروی .

د دغو سیمو اوسیدونکې خپل موجوده بد حالی ، خواری او نیستی ته له دی امله نه دی رسیدلی چې دوی مسلمانان دی ، بلکه له دی امله رسیدلی دی چې دوی اسلام شاته غورځولی دی ، اسلام خو خلکو ته د خپل صداقت په هکله دا دلیل وړاندی کوی چې هغه له جاهلیت نه دومره افضل او برتر دی چې له سره ورسره د پرتله کیدو ، وړ نه دی .

khanlibrary.org



هغه د جاهلیت د استحکام لپاره نه بلکه د هغه د نړولو او نوم و نښان ورکولو لپاره راغلی دی ، اسلام د دی لپاره نه دی راغلی چې نړۍ والو ته د دوی له موجوده ناولتیا سره چې د تهذیب په نامه پری ککړ دی ، شاباسی ووایې ، د دی لپاره راغلی دی ، چې انسان له دغه درک اسفل ، نه وژغوری او د انسانیت ریښتونی لوړی پوړی ته یی ورسوي .

مونږ باید دومره شکست خوړلی ذهنیت ونه لرو چې د اوسنیو دود شوو نظامونو ، نظریاتو او افکارو په مینځ کې اسلام ته ورته څیزونه ولټوو او ځان پری خوښ کړو ، مونږ باید دغه ټول نظریات او افکار د ختیځ زیږنده وی او که د لویدیځ لری وغورځوو .

ځکه چې دا نظریات او افکار د هغه لوړو اهدافو په پرتله ډیر بی ارزښته ښکاری چې د اسلامي نظریاتو او افکارو د پاملرنی وړ دی او غواړی چې انسانیت ته یی د هغوی د بی شمیره کړکیچونو د حل لپاره د سوغات په توګه وړاندی کړی .

که مونږ خلکو ته د ریښتونی اسلام بلنه ورکړو او هغوی ته د اسلام د جامع او هر اړخیزی ګروهی تصویر وړاندی کړو ، نو په خپله به د دوی د فطری غوښتنو پر اساس د دوی اواز د هغه په پلوی راپورته شی ، له یوه تصور نه بل تصور ته او له یوه حالت نه بل حالت ته به د هغوی د بدلون او انتقال جواز لا څه چې عوامل هم برابر کړی .

خو دغه دلیل به هیڅکله هم په هغوی اغیزه ونکړی چې مونږ ورته ووایو ، موجوده دود شوی نظام پریږده او له یوه نا دود شوی نظام سره مل شه ، دغه نظام به ستاسو په موجوده رایج نظام کې یو څه معمولی شان بدلونونه راولی او ته باید پر هغی هیڅ اعتراض هم ونکړی .

ځکه چې په موجوده نظام کې چې ته کوم کارونه کوی هغه ته په نوی نظام کې هم کولای شی ، یوازی همدومره چې ته به دی په ځینی عادتونو ، غوښتنو او اعمالو کې ډیر خفیف شان بدلون راولی او له دی نه وروسته چې ته په کومو څیزونو عادت یی او یا ورسره مینه لری ، هغه به په خپل

khanlibrary.org



حال وی ، هغی سره به هیڅوک څه کار نلری ، او که ویی لری هم نو ډیر سرسری او معمولی به وي .

دغه لاره په ظاهره ډیره ساده او اسانه ښکاری او د هیچا زړه بد والی هم پکې نه پیدا کیږی ، خو د خپل سرشت او فطرت په لحاظ کوم خوږوالی ، زړه رابنکون او جذابیت نلری ، سربیره پردی له حقیقت نه هم ډیره لری ده ، ځکه حقیقت خو دا ناری وهی چې اسلام یوازی د ژوند اصول او نظریات نه بدلوی ، یوازی د ټولنیز ژوند قوانین او شرایع نه بدلوی ، بلکه د احساساتو او جذباتو دنیا هم دومره بدلوی چې له جاهلیت سره یی بالکل اړیکې وشلیږی ، په لنډو الفاظو داسی ویلای شو چې اسلام غواړی چې انسان د ژوند له کوچنی نه کوچنی مسئله کې او له ستری نه ستری مسئله کې هم د انسانانو له بندګی نه خلاص او الله جل جلاله د بندګی ویاړ ور په برخه شي او له دینه وروسته :

فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ - مَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْ الْعَالَمِينَ

(که څوک غواړی ایمان دی راوړی او که څوک غواړی کفر غوره کولای شی - هغه څوک چې کفر غوره کوی بی له شکه الله جل جلاله له ټول جهان نه بی نیازه دی ) .

دغه مسئله په حقیقت کې د کفر او ایمان مسئله ده ، د شرک او توحید مسئله ده ، د جاهلیت او اسلام مسئله ده ، دغه بنیادی حقیقت باید له لمر نه هم روښانه شی ، د هغو خلکو ژوند چې په جاهلی اصولو ولاړ دی ، که هر څومره هم د اسلام دعوه وکړی مسلمانان نه دی ، په دوی کې که ځینی خلک هسی ځان تیر باسی او یا نور خلک تیر باسی او په دی خام خیال اخته دی چې اسلام په ځینو مواردو کې د دوی له جاهلیت سره همنوا کیدلای شی ، نو دوی به څوک ترینه ایسار کړی .

خو یو شی چې څرګند دی هغه دا ده چې د دوی په دغه عمل حقیقت نشی بدلیدای ، نه د دغو خلکو اسلام ریښتونی اسلام دی ، او نه مسلمانان دی ، که چیری اسلامي دعوت پیل کیږی نو لومړی باید دغه د جاهلیت مړ

khanlibrary.org



ژوندا ه کړی ، خلک د ریښتونی اسلام په لور راوبلل شی او له سره مسلمانان شی .

مونږ خلک اسلام ته د دی لپاره نه رابلو چې د څه اجر تمه تری وکړو ، او نه په خپل یا بل هیواد کې د اقتدار څوکې ته د رسیدلو او یا الغا وتلغاو د جوړولو څه مینه راسره شته ، د خپل ځان په هکله مونږ د هیڅ ډول ګټې غوښتونکې نه یو ، زمونږ د اعمالو او کارونو د اجر حساب وکتاب له الله تعالی سره دی ، له خلکو سره نه دي .

هغه څه چې مونږ دیته اړ باسی چې خلک د ریښتونی انقلابی اسلام په لور راوبلو ، هغه له خلکو سره زمونږ ریښتینی او بی لوثه مینه او همدردی ده ، او د خپل الله جل جلاله په نزد د مسئولیت سرته رسول دی ، که په دغه لار کې د مصایبو هر څومره درانه غرونه زمونږ پر اوږو بار شی او هر څومره طوفانونه د حق د دغه مشال د مړه کولو هڅه وکړی ، مونږ په هیڅ قیمت تسلیمیدو ته حاضر نه یو .

د حق د مدعیانو فطری لار همدغه لار ده ، ناوړه حالات د هغوی لپاره د متروکې حیثیت لری چې د دغی اغزنی لار په مزله کې یی لا چټک او ګړندی کړی .

نو له دی امله " خلک باید .... د حق د داعیانو په ژوند کې د اسلام ریښتونی او سپیڅلی انځور په څرګنده توګه ولیدای شی " .

هغوی ته باید د هغه بار د درنښت پته هم ولګیږی چې اسلام یی د هغوی په اوږو باروی ، او د هغی په مقابل کې ورته بی پایه خیر او برکت وربښی ، هغه خیر او برکت چې اسلام یی یادونه کړیده په همدی توګه خلکو ته باید دا هم څرګنده شی چې د هغه جاهلیت په هکله چې دوی پکې تر ستونی ډوب دی زمونږ نظر دا دی چې هغه یو سوچه او بوب جاهلیت دی ، چې له اسلام سره په هیڅ ډول اړیکې او ورته والی نه لری ، ځکه چې ماخذ یی الهی شریعت نه دی ، د دغه جاهلیت ماخذ له یوی مخی د انسان نفسی هوا وهوس دی او څرنګه چې له حق سره نا اشنا دی نو بی له شکه باطل دی .

فما ذا بعد الحق الا الضلال .

khanlibrary.org



د کوم اسلام توغ چې مونږ راپورته کړی دی او په نړیواله سویه یی پلوی کوو په هغی کې داسی کمزوری اړخ نشته چې مونږ پری د شرم احساس وکړو یا یی مونږ د اثبات او ښه والی لپاره دلایلو ته اړتیا ولرو ، او نه په هغه کې داسی کومه نیمګړتیا موجوده ده چې د هغی له امله مونږ خلکو ته د اسلام په اصولو کې له بوسو لاندی اوبه تیری کړو ، یا د اسلام د اصلی روح د غوښتنی له مخی په ډاګه اعلانولو پر ځای په ډول ډول نقابونو او څیرو کې وړاندی شی .

په حقیقت کې دغه ناروغتیا ځینی مسلمانانو ته د لویدیځ او ختیځ له سترو جاهلی نظامونو نه د روحانی او نفسیاتی ماتی له امله پیدا شویده ، او هغوی خواران په دی هڅه کې دی چې د انسانانو په لاس جوړو شوو قوانینو کې د اسلام سره څه داسی ورته والی پیدا کړی ، چې له اسلام سره اړخ ولګوی ، د اسلام د تائید وړ وی ، او یا هم د جاهلیت تاریخ او په اعمالو کې د داسی خبرو لټه وکړی چې د هغی له امله دا دلیل پیدا کړای شی چې اسلام هم دا کار کړیدی .

هغه څوک چې د اسلام د اصولو او تعلیماتو د ریښتینوالی د اثبات ضرورت احساسوی او یا معذرت خواهانه ذهنیت لری ، نو داسی سړی هیڅ کله هم د اسلام ریښتونی نمایندګی نشی کولای ، داسی سړی په حقیقت کې ناپوهه دوست دی ، چې په خپله یې د تش مینځی جاهلیت په مقابل کې ذهنا ماتی خوړلی ده ، او بیا هم له تضادو نه ډک او په نقایصو داغ ، داغ جاهلیت ته د جواز دلایل برابروی .

دغه حضرات ، د اسلام دښمنان دی او اسلام ته د مرستی او ښیګړی پر ځای زیان رسوی ، نور خلک هم دیته اړ کوی چې د دوی یاوه او ګاګیړی خبرو ته غوږ ونیسی او عمل پری وکړی ، د دغه ډول خبرو او استدلال په اوریدو سړی داسی احساس کوی ، چې اسلام په کومه محکمه کې د مجرم پر ځای ولاړ دی او ځان په خپله دفاع کې مجبور ګڼی .

khanlibrary.org



## د لویدیځ ځپلی ذهن نیمګړتیاوی

هغه وخت چې زه په امریکا کې اوسیدم ، د اسلام دغه ډول یو نا پوهه دوست به تل له ما سره په همدغه ډول مسایلو کې په جګړه اخته و ، زمونږ د مسلمانانو شمیر په دغه ځای کې کم و ، د اسلام د مخالفینو په مقابل کې زمونږ ځینی دوستانو دفاعی حالت غوره کړی و .

خو زه د دی ټولو سرچپه په دی نظریه وم ، چې اسلام له مغربی جاهلیت نه چې د اوسنی مادی پرمختګ بریښنایې د ځینی خلکو سترګی بریښولی دی ، څو ګرایه ښه او غوره لا څه چې هیڅ ورســره د پرتلی وړ نه دی ، د لویدیځ د نظــریاتو او افکارو په مقابل کې ما هیڅکله هم د کموالی احساس نه کاوه .

پردی سربیره به می د لویدیځ جاهلی تهذیب پر نیمګړتیاوو او کاواکه مذهبی ګروهو سخت تنقید هم کاوه ، د لویدیځ جاهلیت حیا سوزوونکې ټولنیز ، اقتصادي او اخلاقي ناوړه شرایط می خلکو ته بی پردی کول او ویل به می چې د مسیحیت دغه دری ګونی اقانیم او د ګناه او کفاری په برخه کې نظریات د سلیم عقل ، پاک او وینې ضمیر د خاوندانو لپاره د منلو وړ نه دی .

د دغه کرغیړن پانګوال نظام ، اجاره داری او سود کول او نوری ظالمانه او انسان وژونکې وسلی لکه بی خرته وګړیزی " فردی " ازادی ، چې تر هغه وخته ورسره د انسانی همدردی او ټولنیز مسئولیت احساس نه وی ، څو د قانون اواز وا نه وری ، د ژوند دغه ماده پرستانه سطحی او بی ځایه تصور ، دغه وینځی خرڅونه چې دوی پری د ښځو د ازادی نوم ایښی دی او په هره کاباره او نایټ کلب کې د یو ځل پر ځای څو څو ځلی خرڅیږی .

د طلاق ناوړه ، قانون او نوری بی بند وباره ازادی چې له عملی ژوند سره سم اړخ نه لګوی ، هغه مجنونانه نژادی توپیرونه ، او د ژوند سره نور منافی قوانین ، دا ټول اعمال او معیارونه دی ، چې د سلیم عقل خلاف او د انسانیت لپاره دتنګ او عار باعث دی .

khanlibrary.org



له دې سره به ما دوی ته ویل چې اسلام څومره علمی او عقلی دین دی ، څومره انسانیت پالونکې او ګټور نظام دی ، اسلام به انسان د ژوند او انسانیت هغی لوړی پوړی ته ورسوی ، چې نن یې له رسیدو نه عاجز دی ، اسلام د عملی ژوند نظام دی او د ژوند ټولی ستونزی د انسان د سلیم عقل او فطرت د غوښتنو په رڼا کې اواروی .

پورتنی حقایق د لویدیځ د ژوند عملی اړخونه و ، چې هغه خلک او مونږ ورسره مخامخ وو ، کله به چې ما د اسلام په رڼا کې هغوی ته د دغو ستونزو د اوارولو لارښودله ، نو د هغوی د پلویانو سر به له شرمه ښکته زړوند شو ، خو له دی سره سره بیا هم له بده مرغه د اسلام ځینی پلویان شته دی چې له همدغه ناولی نظام نه یې چې په جاهلیت کې تر ستونی ډوب دی روحا ماتی خوړلی ده .

هڅه کوی چې د لویدیځ ، د افکارو په خوسا ډنډونو او د ختیځ په شرمناکې او بد رنګه ماده پرستی کې هغه څه پیدا کړی ، چې له اسلام سره یې ورته والی ثابت کړی او یا اسلام له هغوی سره ورته او د هغو مماثل وګڼی !!

## د حق داعیانو لپاره سمه کړنلار :

له دینه وروسته ماته د دی وینا ضرورت نه احساسیږی ، چې ووایم له مونږ یعنی د اسلامي دعوت پلویانو او مخکښ ټولی سره دا نه ښایې ، چې د جاهلیت له کوم اړخ سره مرسته او ملګرتیا وکړو یا د جاهلیت له کومی نظریې سره ، یا یی له کوم ډول نظام سره ، یا د جاهلیت کوم دود او دستور سره ، کوم ډول سازش او سودا بازی وکړو .

که څه هم د حالاتو بهیر ټول زمونږ پر ضد وی ، د مصیبت غرونه مو پر اوږو بار شوی وی او د ظلم او تیری نظام زمونږ پر خلاف د ازمینښتونو طوفان راپورته کړی وی .

زمونږ لومړی کار دا دی ، چې د جاهلیت مانی نسکوره کړو او د هغه پر ځای اسلامي معیارونه او اصول د ځواک او قدرت په کرسی کینوو ، دغه

khanlibrary.org



ستر هدف له جاهلیت سره په همدردی او زړه سوی نه ترسره کیږی او نه په دی چې مونږ د سفر په پیل کې له هغه سره مله شو .

زمونږ ځینی دوستان دغه ډول خبری د سملاسی حالاتو او شرایطو سره د مخامخ کیدو له مخی کوی ، خو زمونږ په نظر د دی خبرو مطلب دا دی ، چې مونږ به په لومړی قدم کې ، خپله ماتی په خپله منلی وی ، ځکه چې په حقیقت کې به مونږ حتی ئومړی قدم هم په خپله اراده نشو اخیستلی .

په دی کې هیڅ شک نشته ، چې د موجوده نظامونو د ټولنیزو معیارونو او دودونو فشار ډیر سخت او ملا ماتوونکې دې ، په تیره بیا د ښځو په مسئله کې دا فشار زښت زیات دی ، مسلمانی ښځی د جاهلیت په دغه تورتم کې له ډیر سخت او ویروونکې مخالفت سره مخامخ دی ، خو هیڅ چاره نشته چې مونږ په لومړیو قدمونو کې د خپل زړور توب او سر تیری ثبوت ورنکړو ، مونږ باید لومړی دغه ډول ثبوت ورکړو ، نو بیا به پر حالاتو بری ومومو ، په همدی توګه مونږ باید خلکو ته د هغی ژوری کندی څلور خواوی هم وښیو ، چې جاهلیت پکې سقوط کړیدی ، په مقابل کې باید نړۍ والو ته د اسلامي سوکاله ژوند او پراخه افق څلا هم وښیو چې مونږ یې ادعا کوو ، دومره ستر کار په دی ډول هم سر ته نه رسیږی چې مونږ څو قدمه له جاهلیت سره څنګ په څنګ لاړ شو ، او نه په دی توګه سر ته رسیږی ، چې مونږ له همدا اوس نه له جاهلیت سره خپلی ټولی اړیکې پری کړو ، او ځانته یوازی په یوه ګوښه ځای کې غلی کینو ، دا دواړه فیصلی غلطی دي .

مونږ به له جاهلیت سره په یوه ټولنه کې ژوند کوو خو خپلی ځانګړتیاوی او مشخصات به هم ساتو ، له جاهلیت سره به راکړه ورکړه او نوری د ورځینی ژوند چاری پر مخ بیایو ، خو خپله لمن به هم پاکه او راټوله ساتو ، د حق اعلان به د سوز او محبت په الفاظو په څرګنده توګه کوو ، د خپل سپیڅلی ایمان او ګروهی په برکت به د لوړتیا دعوه کوو خو تواضع او انکسار به راسره مل وی .

khanlibrary.org



په پای کې باید دغه حقیقت زمونږ د زړه او ذهن پر لوحه ثبت شی چې : مونږ په جاهلی فضا او ټولنه کې ژوند کوو ، او د دغه جاهلیت په پرتله زمونږ تګ لاره ډیر سمه او سپیڅلی ده ، زمونږ کړنلاره دا ده چې یو ژور بدلون مینځ ته راولو ، یعنی دا چې بشریت د جاهلیت له تورتم نه راوباسو او د اسلام په نور یې منور کړو ، د جاهلیت او اسلام ترمینځ ډیره پراخه او ژوره ناوه موجوده ده ، چې هیڅکله هم پر هغی باندی څوک کوم (پُل) دی لپاره نشی ودانولای چې دغه دوه سره لری پراته نظریات دی یو ځای شی ، نه د دی لپاره چې جاهلیت له اسلام سره کومی اړیکې پیدا کړی .

بلکه دا پول یوازی او یوازی د دی لپاره جوړیدای شی ، چې په جاهلیت کې را ایسار خلک پری د اسلام غیږ ته پناه راوړی ، دا مهمه نه ده چې دوی دی یوه داسی هیواد اوسیدونکې وی ، چې هلته د اسلام ناری وهل کیږی او که د کوم بل هیواد .

مهمه دا ده چې هغوی له تیارو نه راوځی او رڼا ته راشی ، له دغه بد حالی او خواری نه چې له سره تر پښو پکې ډوب دی خلاص شی ، له هغه خیر نه ګټه واخلی چې پر اسلام مین خلک ترینه مستفید شوی دی او د اسلام تر سیوری لاندی د ژوند تیرولو هیله لری .

که د چا دغه دعوت او بلنه خوښه نه وی ، نو مونږ هغه سره هغه ډول چلند کوو ، چې الله جل جلاله خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم کړی و : لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ (ستاسو لپاره ستاسو دین دی او زمونږ لپاره زمونږ دین ) .

khanlibrary.org



## یوولسم فصل

# د ایمان واکمنی

الله جل جلاله فرمایی :

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ [ال عمران : ۱۳۹]

( سست او زړه ماتی مه اوسی ، غم مه کوی ، که تاسو مؤمنان یی بری به هم ستاسو په برخه شی )

له پورتنی آیت نه چې کوم مفهوم په ظاهره څرګندیږی ، نو د هغی اړیکې یوازی له هغه جهاد سره دی ، چې جګړه او مرګ ژوبله پکې وی ، خو د دغی لارښوونی اصلی روح او د هغی د انفاذ دایره د خپل پراخه پس منظر ، محرکاتو او اسبابو له مخی د جنګ او جګړی له مخصوص حالت نه ډیر جامع او پراخه ده ، دغه لارښوونه په حقیقت کې مونږ ته د هغه دایمی کیفیت نقشه راښیی ، چې هر وخت او مهال باید د مؤمن د احساساتو ، اعصابو ، ذهن او فکر ، د شا وخوا خلکو ، ټیزونو ، پیښو معیارونو او نظر په هکله پر لوحه انځور وی .

په بله وینا دغه لارښوونه د هغه روحی او نفسیاتی تفوق او لوړتیا څرګندونه کوی ، چې مؤمن باید هر وخت پری ټینګ ولاړ وی ، که څه هم له ډیرو ناوړه حالاتو او ستر غلیم سره مخامخ وی ، دا اندیښنه باید ورسره نه وی چې څه ډول خلک د هغه مخی ته خنډ دی او څه ډول معیارونو او اصولو سره دی په جګړه بوخت دی .

د ایمان دغه لوړتیا او ښیګړه باید د هغو ټولو معیارونو او ارزښتونو په برخه کې ، چې ریښی یی له ایمان نه پرته له کومی بلی چینی نه خړوبیږی او د نړۍ د هغو ستړو قوتونو په هکله هم چې دایمان او عقیدی له سمی لاری نه منحرف دی ، راڅرګنده شی ، همدا رنګه د ایمان دغه لوړتیا او ښیګړه باید د ورځینی ژوند په هغو ټولو معیارونو کې څرګنده شی ، چې نو دې یی د ایمان له ګوری ولی نه نه دی رابیلی شوی .

khanlibrary.org



همدا رنګه د ایمان دغه اظهارات باید د هغو دنیاوی دودونو او روایاتو په هکله هم وشی ، چې د ایمان په رنګ نه دی رنګیدلی او د نړۍ د هغو قوانینو او اصولو په هکله هم باید وشی ، چې د ایمان په فکر او لاسونو نه دی جوړ شوی ، د ایمان دغه کیفیت باید د ژوند هغو ټولو نظامونو ته هم څرګند شی ، چې د هغوی تومنه د ایمانی بصیرت او معرفت په رڼا کې نه ده جوړه شوی .

د ایمان تصویر باید د مادی کمزوری ، د شمیر د کموالی او ناداری په حالت کې هم زمونږ تر سترګو شی او د مادی قوت ، د شمیر زیاتوالی او خوښی په حالت کې هم ، د ګروهی او ایمان څواک به هیڅکله هم ماتی ونه خوری ، که څه هم له ډیر مغزو ، څواکمن او منحرف قدرت سره مخامخ شی .

اسلام نه د کومو ټولنیزو روایاتو او باطلو قوانینو په مقابل کې په ګونډو وهلو پوهیږی او نه د داسی کوم بل نظام په مقابل کې د اطاعت سر ټیټولای شی ، که څه هم هغه نظام د خلکو په مینځ کې ډیر منلی وی او زیات شمیر مینه وال او پلویان ولری .

خو چې د ایمان په وړانګو وړنګن ( منور ) او د حکومت ستنی یې د الهی او امرو پر اصولو ولاړی نه وی ، اسلام به دغه ډول حکومت حتما نړوی .

د جهاد په دوران کې ثبات ټینګښت او سربښندنه ، د ایمان د قوت له ګڼو خصوصیاتو نه یوازی یو خصوصیت دی ، چې الله جل جلاله په پورتنی آیت کې یاد کړیدی .

د ایمان له برکته چې کوم څواک او قدرت په انسان کې را پیدا کیږی ، هغه محض د یوه وخت د عزم او ارادی عارضی نتیجه نه وی ، نه د کوم احساس د جذبی له امله د غیرت ، حمیت او میړانی کومه څپه وی او نه د کوم ټولنیز حالت د مهالنی ( موقتی ) جذبی تاثیر او اغیزه وی ، چې له واره راپورته شی او د انګیزی ، په له مینځه تلو سره له مینځه لاړه شی .

د ایمان قدرت او څواک د یو ابدی او تلپاتی لوړتیا او څواک کیفیت دی ، او ستنی یې په هغه غیر متزلزل او دایمی " حق " ولاړی دی ، چې د فطرت او کایناتو په رګ او ریښه کې رانوتلی دی ، دغه قوت او طاقت د

khanlibrary.org



منطق ، ټولنیز چاپیریال ، د ټولنې د سمون او دود شوو انسانی معیارونو له قوتونو نه ډیر کلک او غښتلی دی ، ځکه چې د الهام منبع یې هغه قادر ، مطلق ذات دی چې هیڅ فنا نلری .

**د ایمانی ځواک ( قوت ) اغیزی :**

پر ټولنه ډیر قوتونه حکومت کوی ، یو د افکارو او نظریاتو حکومت وی او بل هم د دودونو او رواجونو واکمنی وی ، چې تر شا یې هم د همدغو حقایقو فشار او د ټولنیز جوړښت کلک ځینځیرونه موجود وی ، دغه ډول حالات د هغه چا لپاره درزغم وړ نه وی ، چې د کومې ځواکمنی هستی ملا تړ یې په برخه نه وی ځکه دی نشی کولای ، چې له یوه پاخه او اصولی ملاتړ نه پرته د ټولنې نا دودو او نا خوالو ته چیلنج ورکړی .

پر ټولنې حاکم او غالب افکار ځینې ځانګړی غوښتنې او اغیزې لری ، چې تر هغه وخته یې ځوک له تاثیراتو نه ځان نشی ژغورلای ، تر هغې چې انسان له کوم لوړ او ستر حقیقت سره اشنا نشی ، چې د هغه په مقابله او پرتله کې دغه افکار او نظریات ورته د خس هومره بی ارزښته ښکاره شی .

همدا رنګه ترڅو چې له یوی داسی منبع نه ځواک او ملاتړ ترلاسه نکړی ، چې د ده له افکارو او نظریاتو نه یې نظریات او افکار لوړ پرمختللی او زیات اغیزمن نه وی ، تر هغې نشی کولای د ټولنې ځنځیرونه وشلوی .

هغه ځوک چې د ټولنې دود شو معیارونو او اصولو د بهیر په مخالف لوری کې دریږی ، د ټولنې حاکم او واکمن منطق ته د مقابلې بلنه ورکوی ، د ټولنې دودونو ، مروجه قوانینو ، معیارونو ، افکارو ، نظریاتو ، او نا خوانو سره مقابله کوی ، تر هغې چې د کومې داسی هستی ملاتړ ورسره نه وی ، چې له انسانانو نه ډیر پیاوړی ، له غرونو نه ډیر درونده ، له کانې نه ډیر کروړ ( محکم ) او له ژونده ډیر خوږ نه وی .

نو نه یوازی دا چې په دی لار کې به د زیاتی کمزوری احساس کوی ، بلکه په ټوله نړۍ کې به ورته ځان یوازی ښکاری .... له همدی امله د الله شفیق او رحیم ذات خپل بنده په داسی میدان کې نه غورځوی ، چې یوازی به د ټولنې فشارونه او ستونزی زغمی ، او درونده بار به یې یوازی په اوږو

khanlibrary.org



بار وی ، په درد ، رنځ ، او کړاو دی اخته وی ، په دغـــه وخت کې هغه پاک ذات مـــؤمن تـــه دغـــه ډول روح ښښوونکې او پـــه زړه پـــوری پیغام ور استوی .

" دغه هدایت او لارښوونه د غمونو او دردونو په تورتم کې د مؤمن د مات زړه او اندیښنو لپاره د زخم ملهم دی "

دغه دواړه احساسه معمولا په ناوړه حالاتو او شرایطو کې انسان ته پیدا کیږی ، خو یو مومن دغه ډول احساسات یوازی د صبر او زغم په څپیړه نه ، بلکه د یوه لوړ احساس ، جذبی او لوړ نظر په ځواک ټکوی ، هغه د همدغی جذبی له امله د همت په داسی لوړه کرسی ناست وی .

چې له هغه ځایه ورته د نړۍ طاغوتی قدرتونه ، د ټولنی واکمن قدرت ، د اوسنی عصر پر مختللی افکار ، دنیاوی د سا تیر او قوانین ، رسوم او عادات ، چې خلک پری راټول وی ، ډیر بی ارزښته ټیټ او کمزوری ښکاری .

مؤمن په هر وخت کې د خپل ستر مرستیال او فکری ماخذ له پلوه غالب ، سوبمن او لوړ دی ، د هغه په نظر نه مملکت او سلطنت څه ارزښت لری او نه یې ستر ، ستر شخصیتونه ، هغه معیارونه چې په هیواد کې دود شوی وی او د خلکو هم خوښ وی ، د هغه له نظره هیڅ دی .

په عوامو کې د دود شوو نظریاتو او افکارو ، ځلا د هغه سترګی نشی بریښولی ، له همدی امله مؤمن یو لوړ او ستر موجود دی ، هغه تل یوازی او یوازی د الله جل جلاله د لارښوونی او هدایت د ابدی چینی په اوبو خړوبیږی ، هغه په هره پیښه کې د الله جل جلاله لوری ته مخ اړوی او هره شیبه د هماغه ذات له خوا ښودل شوی لار باندی قدم ږدی .

## د اسلامي ګروهی برتری او هر اړخیز والی

د کائناتو د حقیقت په درک او معرفت کې هم یو مؤمن له نورو خلکو نه په لوړه پوړی کې واقع دی ، ځکه چې ایمان په الله جل جلاله او د توحید نظریه په هغه بنه ، چې اسلام وړاندی کړیده د کائناتو د ستـ حقیقت د معرفت او پیژندګلوی د لاسته راوړلو په برخه کې د ماستر کې Master عمومی کیلی حیثیت دی .

khanlibrary.org



د کائناتو کوم انځور چې د توحید ګروهه وړاندی کوی ، هغه ډیر څرګند ، ځلانده او دومره ښکلی او متناسب دی ، چې که مونږ د هغی پرتله له هغو نظریاتو سره چې د کائناتو په هکله پخوا او اوس موجودی دی او یا یی له هغو نظریاتو سره ، چې د مشرکانه مذاهبو او تحریف شوو اسمانی ادیانو په نتیجه کې را پیدا شوی دی او یا هم له هغو نظریاتو سره ، چې مادی کرغیړنو تحریکونو مینځ ته راوستی دی وکړو ، نو د اسلامي ګروهی عظمت او لوړتیا به راته له ورایه څرګنده شی .

هغه خلک چې د کائناتو په هکله دغه ډول معرفت او درک لری ، هغوی باید بی له شکه د کائناتو له ټولو مخلوقاتو نه غوره او لوړ واوسی .[1]

د مؤمن تصورات د ژوند د هغو معیارونو او ارزښتونو په برخه کې هم ، چې د هغی له مخی د انسانی ژوند د پیښو ، ځیزونو او وګړو ارزښت او دریځ ټاکل کیږی تر نورو لوړ دی ، هغه څوک چې ګروهـــه یی د الله جل جلاله د پیژندګلوی ( د هغه الهی صفاتو په رڼا کې چې اســلام یی بیانوی ) پر اصولو ولاړه وی او د هغه د ارزښتونو او معیارونو په حقایقو پوره وی .

نو څرګنده خبره ده ، چې د هغه درک او فهم به د ځمکې په دی کوچنی ساحه کې محدود پاتی نشی ، بلکه ټول کائنات به یی د فهم او درک په لمن کې رانغښتی وی نو داسی ګروهه فطرتا یو مؤمن ته د ژوند د اصولو او معیارونو یو داسی ځانګړی تصور وربښی ، چې له هغو نیمګړو معیارونو او اصولو نه چې د عامو انسانانو په لاس جوړ شوی وی څو ګرایه ښه او غوره اړخونه ولري .

هغه انسانان چې نیمګړی پوهه لری څرنګه چې په یوه نسل کې د خپل ژوند د اصولو او معیارونو ډیری پیمانی بدلوی ، همدا رنګه یی د یوه قوم په مینځ کې یی هم بدلوی ، آن تردی ، چې د ټولنی د یوه فرد په باره کې هم د هغوی د اصولو او ارزښتونو پیمانی سهار یو ډول او مابنام بل ډول دی .

---

(۱) د تفصیل لپاره د لیکوال دغه اثر خصایص التصور الاسلامي ومقوماته وګوری .

khanlibrary.org



مؤمن د احساس ، ضمیر او اخلاقو په معیارونو کې هم تر نورو ، ریښتونی او نهایې لوړتیا ته رسیدلی وی ، ځکه په هغه الله جل جلاله ، چې دی ایمان لری ، هغه په بهرنیو صفاتو متصف دی ، دغه ګروهه فطرتا د مؤمن په زړه کې د لوړتیا عظمت ، سپیڅلتیا ، پاک لمنی ، تقوی او لوړ انسانی احساس را ژوندی کوی ، د نیک عمل او الهی خلافت سم مفهوم . هغه په زړه کې انځوروی ، سربیره پردی دا ګروهه مؤمن ته په دغه مسئله کې پوره ډاډ ورکوی ، چې د جزا اصلی ځای آخرت دي .

کوم اجر چې هلته مؤمن ته د هغه د نیکو اعمالو او سپیڅلی اسلامي ګروهی له امله ورکول کیږی د هغی په مقابله کې د دنیا ربړ او کړاو هیڅ دی ، دغه ډول ګروهه د مؤمن په زړه کې د اطمینان او سکون یوه داسی ډاډه او باوری فضا رامینځ ته کوی ، چې که ټول ژوند هم له دنیاوی نعمتونو نه بی برخی شی بیا به هم ګیله او شکایت ونه کړي .

مؤمن د کائناتو تر نورو مخلوقاتو د خپل ژوند دود " نظام زندګی " له مخی هم له نورو ډیرو لوړ او افضل دي .

انسان چې له پخوا نه تر اوسه پوری د ژوند د سمون لپاره کوم اصول او قوانین جوړ کړی دی ، که چیری مؤمن هغه له اسلامي اصولو او قوانینو سره پرتله کړی ، نو هغه ته به جوته شی ، چې له زرګونو کلونو راهیسی دغه د انسانی نیمګړی فکر هلی خلی او ځیړنی د اسلامي سپیڅلی شریعت او هر اړخیز نظام په مخکې د ماشومانو د لوبو او ړندو له اوتو بوتو نه زیات ارزښت نه لری .

نو له همدی امله کله چې د انسانیت په دغه لوړ او ارفع مقام ودریږی او د سرګردانه او لالهانده بشریت خواری اوزبون حالی ته د زړه سوی او مهربانی په نظر وګوری ، نو هغه ته به بی له دینه چې له دغه ډول بد مرغی او بی لاری نه د انسان د خلاصون لپاره متی راونغاړی بله چاره پاتی نشی .

## جاهلی اند دود ، او اسلامي اند دود :

دا هماغه ډول اند دود ( طرز فکر ) دی ، چې د اسلام د لومړی صدر مسلمانانو د جاهلیت د تش مینځی مظاهرو او قوتونو په مقابل کې غوره

khanlibrary.org



کړی و ، هغوی د جاهلیت په زمانه کې له انسانانو نه خپل غلامان جوړ کړی وو ، جاهلیت د تاریخ د کوم مخصوص پراو نوم نه دی ، بلکه دا یو خاص حالت دی ، چې په تیره زمانه ( ماضی ) او حال کې ، که اسلامي ټولنه د اسلام له سمی او سپیڅلی لاری نه بی لاری شی ، نو د جاهلیت دغه حالت ته ورګرځی ، او په راتلونکي کې هم که بشریت له سمی لاری نه منحرف شی ، نو دغه حالت مینځ ته راځی .

د قادسیی په جګړه کې حضرت مغیره بن شعبه د ایرانی پوځ د مشر رستم کیږدیو ته ورغی او هلته یې د جاهلیت هغه جاه وجلال ولیده ، نو د هغوی په برخه کې یی چې هغه وخت څه ویلی وو ، هغه ابو عثمان نهدی په لاندی توګه داسی بیان کړیدی .

" کله چې مغیره بن شعبه له سینده په پله پوری وت نو ایرانی پوځ ته ورسیده ، ایرانی پوځیانو هغه له ځان سره کیناوه او له رستم نه یی د هغه د لیدنی لپاره اجازه وغوښته ، هغه د خپلی ماتی د پټولو لپاره په خپل زیب وزینت او جاه وجلال کې هیڅ توپیر نه و راوستی ، مغیره چې مخکې ورغی نو وی لیدل چې ټولو خلکو خپل مخصوص لباسونه اغوستی دی او په سرونو یی تاجونه ایښی دی .

د طلاوو له تارونو نه جوړی شوی جامی یی پری دپاسه اغوستی دی ، او غالی یی تر څلور سوه مټره پوری لری غوړولی دی ، سړی به چې څلور سوه قدمه په غالیو لاړ نو بیا به رستم ته ور رسیدلای شو ، مغیره خیمی ته وردننه شو ، له ورننوتو سره سم د رستم په تخت برسیره کیناسته ، نورو درباریانو چې دا ولیدل ، نو مغیره یی له هغه ځایه بیرته راښکته کړ .

مغیره ورته وویل : مونږ ته خو خلکو وویل چې تاسو ډیر هوښیار یې خو زه چې وینم له تاسو نه به ناپوه نور څوک نه وی ، په مونږ عربانو کې خو دا تیت او پاس نشته ، مونږ یو هم د بل مرئیتوب نه کوو ، مګر دا چې په جګړه کې ونیول شو ، زمونږ دا ګومان و ، چې تاسو به هم د خپل قوم پالنه په همدی توګه کوی ، لکه څنګه یی چې مونږ کوو ، تاسو له ما سره ډیر ناوړه حرکت وکړ .

khanlibrary.org



ښه به دا وه چې ماته مو د مخه ویلی وای ، چې په تاسو کې ځینی خلک د ځینو نورو لپاره د رب مقام لری ، ستاسو د نظام سیستم ډیر کرغیړن دی ، زه خو تاسو ته خپله نه یم راغلی بلکه تاسو راغوښتی یم ، په دلته راتلو ماته څرګنده شوه چې ستاسو نظام به ډیـر ژر له مینځه ولاړ شی او تاسو بـه ماتی وکړی ، بی له شکه په دغه ډول سلوک او ذهنیت څوک حکومت نشی کولای .

ربعی بن عامر هم د قادیسې له جګړی نه مخکې د رستم او د هغه د درباریانو په مقابل کې همدغه ډول د ایمان له جرات نه کار اخیستی و .[1]

حضرت سعد بن ابی وقاص د اسلامي پوځ مشر رستم ته چې د ایرانی لښکرو مشرو ، ربعی بن عامر دخپل استازی په توګه لیږلی و ، ربعی بن عامر چې هلته ورسیده ، په دربار کې په ډیر شان و شوکت رنګا رنګ غالی او نیالی غوړیدلی و ، رستم ډیر سره او سپین ، یاقوت او غمی په ځان راڅرولی وو ، قیمتی جامی یی اغوستی وی ، تاج یی پر سر او د سرو زرو په تحت ناست و .

ربعی بن عامر په زړو او څیری شوو کالیو کې ور ورسیده ، پر یوه معمولی غوندی کوچنی اس باندی سپور وو ، هم داسی پر اس باندی سپور په فرش ورغی ، کله چې رستم ته ورنژدی شو له آس نه راښکته شو نو کومی قیمت بها کرسی پوری یی اس وتاړه او خپله د رستم په لور ور روان شو ، په سر یی جنګی خول او په تن یی زغره وه درباریانو ورته وویل : د جګړی لباس لری کړه بیا رستم ته ورشه .

خو عامر ورته وویل : زه خو په خپله نه یم راغلی تاسو رابللی یم که خوښه مو نه وی همدا اوس به بیرته لاړ شم ،

رستم ورته وویل : پریږدی چې راشی .

عامر په همدغه فرش نیزه د امسا په څیر لګوله هر ځای به یی فرش سوری کاوه ، رستم ورته وویل : ستاسو راتګ د څه لپاره دی ؟

---

(۱) ابن کثیر په البدایه والنهایه کی دغه موضوع را اخیستی ده .

khanlibrary.org



عامر ورته وویل : مونږ الله تعالی جل جلاله د دی لپاره رالیږلی یو ، چې که د چا خوښه وی ، هغوی د بندګانو له بندګی نه خلاص کړو او د الله جل جلاله د بدګی ویاړ ور وښنو ، د دنیا له سختیو او تنګیو نه یی خلاص کړو د آخرت وسعت او پراخی یی په برخه کړو - د مذاهبو له زیاتی او تیری نه یی خلاص کړو د اسلام د عدل تر سیوری لاندی یی سوکاله کړو ، له دینه وروسته یو انقلاب راځی او د مسلمان فکرو نظر د یوه مغلوب او مادی طاقت نه ، لرونکې سړی بنه غوره کړی ، خو بیا هم د برتری له احساس نه بی برخی نه وی ، خو که د ده په زړه کې اوس هم د ایمان د ډیوی تته رڼا بله وی نو غالب او حاکم قومونه به ورته له ځانه ښکته او خوار ښکاره شی د هغه یقین به په دی پوخ شی ، چې مادی محکومیت یوه عارضی مرحله ده که اوس نه وی سبا به له مینځه لاړه شي .

بالاخره به د سوبی او بری ویاړ د ایمان د لښکرو په برخه شی او که فرضا دغه مرحله ډیره زیانمنه هم ثابته شی نو د کمزوری سره سره به بیا هم مؤمن د هغی په مخکې سلامی نه شی ، هغه په دی پوخ ایمان لری چې ، نور انسانان خو په معمولی مرګ مری ، خو د ده به د شهادت مرګ به نصیب وی ، دی که له دی دنیا نه کوچ وکړی نو سم سیده به د خپل الله جل جلاله جنت ته ورشی .

هغه خلک چې په دی نړۍ کې پرده زور ور او تیری کوونکې دی ، هغه به له دی نړۍ نه په شرمندګی ستړګی پټی کړی ، په هغی دنیا کې به یې بوګنوونکې سزاګانی په برخه شی ، په دی دواړو انجامونو کې د ځمکې او اسمان هومره توپیر موجود دی ، په همدی ډول احساساتو کې به هغه ډوب وی ، چې هغه ته د خپل کریم رب دا فرمان واورولای شی .

لَا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ()مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ()لَكِنْ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا نُزُلًا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ وَمَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ لِلْأَبْرَارِ [ د ال عمران سورت ۱۹۶-۱۹۸ آیت ]

khanlibrary.org



" په ځمکه کې د الله جل جلاله د نافرمانه خلکو تله راتله په کبرګه او غرور تاسو تیر نه باسی ، دا به یوازی د تیریدونکې ژوند د یو څو ورځو خوند وی ، بیا به دوی ټول جهنم ته ځی ، چې ډیر بد استوګنځی دی ، خو د دوی برعکس څه خلک چې د الله جل جلاله نه وویریدل د هغوی لپاره داسی باغونه دی ، چې تل به تری لاندی ویالی بهیږی او هغوی به تل په دغو باغونو کې استوګن وی دا د الله جل جلاله له خوا نه هغوی ته میلمستیا ده او هغه څه چې له الله جل جلاله سره دی هغه د نیکانو لپاره تر ټولو ښه او غوره دی )

## لوړ نظر او خوږه وینا :

پر ټولنه به د داسی ګروهو ، افکارو ، ارزښتونو او اصولو واکمنی وی ، چې د مؤمن د ګروهی او فکر له ارزښتونو او اصولو سره به منافی څه چې کورټ مخالفت ولری ، خو دا انګیرنه به له مومن نه هیڅکله هم نه بیلیږی ، چې دی د یوه لوړ مقام او دریځ خاوند دی ، دغه ټول دنیا پرست او مزو چړچو پسی لیونی خلک له ده نه ډیر ټیټ دریځ لری ، کله چې دی د خپل لوړ دریځ او انسانی نړۍ لید له لوړ افق نه دوی ته راګوری ، نو له یوی خوا نه یی په خپل عزت نفس لوړتیا ، او همت باندی زړه خوږ شی او له بلی خوا نه یی زړه هغوی ته له همدردی او مرستی نه ټوپکې وهی .

د هغه دا هیله وی ، لکه څنګه چې د ده زړه د الله جل جلاله او ایمان په نور منور شویدی ، کاشکې د هغه بل انسان نصیب او برخه هم په کې شوی وای ، د افکارو او نظریاتو په کوم لوړ او پراخه څنډ ( افق ) کې چې دی الوت کوی ، هماغه ځای ته یې دی هم راپورته کړی وای ، دا ځکه هغه څه چې ریښتونی مومنان د ځان لپاره غوره او ور ګڼی هغه د نورو لپاره هم غوره او ور ګڼی .

باطل شور وزوږ جوړوی ، د تالندی او بریښنا په څیر غړمبهار کوی ، اوږی له مستی نه پورته غورځوی ، د میړانی او غیرت بریتونه تاو وی او له څلور خواوو نه یی ( غوږه مالان ) کړتن ، او ځان ښه وایې " .

khanlibrary.org



له دوي خلک راټول وی ، یوه داسی مصنوعی دایره یی څنی را چاپیره کړی وی ، د هغی له امله د انسانانو پر بصارت او بصیرت دواړو باندی پرده غوړیدلی وی .

هغوی دا نشی لیدلای چې د دغی څلندی دایـری تر شا څومـره خبیث روح ، کرغیړن انځور ، څومره تور او منحوس ( سهار ) پټ دی !!

مؤمن له خپل مقام او دریځ نه د دوی شور و زوږ او هنګامو ته ګوری او د تیروتلو انسانی ګروپونو په ناوړه ، حالت تاسف کوی ، خو دی باید هیڅکله د باطل په دغه ظاهری برم او پرتم ونه غولیږی ، کمزوری او ماتی پری بری ونه مومی ، نه یی سر د غم په زنګنو ورټیټ شی او نه یی هم باید د حق پر لاره په څغل کې سستی او لتی راشی ، پردی سربیره د بیلاری بشر د لارښوونی او ژوند د سمون لپاره چې د ده په زړه کې کوم احساس او انګیرنه ژوندی او نا کراره وی د هغی په مندو تړړو او هڅو کې هم باید کمی رانشی .

ټولنه په ناوړه او بی شرمانه غوښتنو کې ډوبه وی ، د ورستو او بو ینو جذباتو سیند په کې بهیږی ، په ناولتیا لړلی وی ، خو له دی سره هم په دغه خام خیالی او لنډ اندی اخته وی ، چې د ژوند په خوږو او لذایذو مړه دی او د هر ډول دودونو او معیارونو له زولنو نه ازاد دی ، څومره چې په ټولنه کې سالمه او سپیڅلی تفریح او یوه مړی حلاله روزی ورکیږی ، هومره چې ، هره خوا ګوری د فساد ، زنا ، غلا ، شوکې ، لوټ او ډول ډول ټولنیزو ناروغیو ویالی بهیږی .

مومن د ټولنی د فساد په خوسا ډنډونو کې تر مری ډوب انسانان له خپل لوړ مقام نه وینی سره له ده چې په دغه ټول ماحول کې به د خپل فکر یوازینی پلوی وی ، خو د ده حوصله او زغم باید د ماتی او په شاتګ او احساس ته غاړه کې نږدی ، د ده په زړه کې باید غم خونه جوړه نکړی .

هیڅکله هم باید د ده له نفس سره داسی غوښتنه را پیدا نشی چې خپلی پاکې او سپیڅلی جامی وغورځوی او په دغه ناولی حمام کې له نورو لوڅو لپړو سره، دی هم لوڅ شی او په دغه خوسا ډنډ کې ورسره غوپی ووهی ،

khanlibrary.org



مومن د ایمان په نشه او د یقین په خوږو مورې وی او له همدی امله خپل ځان د ډیر لوړ او اوچت دریځ خاوند ګڼی .

په یوه داسی ټولنه کې ، چې له دین نه باغی وی له اخلاقی فضایلو نه بی برخی وی ، له لوړو انسانی ارزښتونو نه تشه وی ، له شریفانه او مهذبو معیارونو سره نا اشنا وی .

لنډه دا چې هر هغه صفت پکې د مرغی پی شی ، چې د پاکې ، سپیڅلتیا ، ښکلا او نفاست په تعریف کې راتلای شی ، په داسی ټولنه کې به مومن ته د ایمان د لمنی ټینګول او په لاسونو کې د اور سکروټی نیول یو برابر وی ، خو مومن باید د حوصلی او زغم واګی له لاسه ورنکړی ، نور خلک ښائی د ده جرات ته ګوته پر غاښ شی ، د ده په افکارو به ملنډی وهی ، سپکې سپوری به ورته کوی ، د ده منلی ارزښتونه به تر پښو لاندی کوی ، خو دا به یوازی مومن وی ، چې دا هر څه به اوری ، وینی او زغمی ، خو پر خپل هوډ به له خپل الله جل جلاله سره ټینګ ولاړ وی ، د لوړتیا له عالی احساس سره به دغو تیروتلو او ناپوهو خلکو ته ګوری هغه کلمات به یی پر ژبه وی چې د دغی سپیڅلی ډلی د یوه غوره او نومیالی فرد حضرت نوح علیه السلام پر ژبه جاری شوی وو :

إِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ [ د هود سورت ۳۸ آیت ]

( نن که تاسو په مونږ پوری ملنډی او خندا کوی ، نو بیا بـه مونږ هم یـوه ورځ ، پـه تاسـو پـوری خندا او ملنډی وکړو لکه څنګه یې چې اوس تاسـو کوی ) .

مؤمن د دغی نورانی او نیکمرغه کاروان او په مقابل کې یې د بد نصیبه او بد مرغه قافلی د پای انځور د الله جل جلاله په کلام کې په څرګنده توګه لیدای شی .

إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ()وَإِذَا مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ()وَإِذَا انقَلَبُوا إِلَى أَهْلِهِمُ انقَلَبُوا فَكِهِينَ()وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ هَؤُلَاءِ لَضَالُّونَ()وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ() فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ

khanlibrary.org



يَضْحَكُونَ()عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ()هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ [ د المطففين سورت ۲۹- ۳۶ آیتونه ]

( بی له شکه مجرمانو ( په دنیا کې ) په مومنانو پوری خندل ، او کله به چې د هغوی له مخی تیریدل ، نو سترګی به یی ورته وهلی ، او کله به چې خپلو مینځو کې شول نو د ( مسلمانانو په یادولو په بدو ) به یی وخت تیراوه ، او کله به یې چې مسلمان ولیده نو راپورته به شول او ویل به یې چې بی له شکه دغه خلک ګمراه دی ، په داسې حال کې چې مونږ دوی د مسلمانانو پر سر څارونکې نه و مقرر کړی ، نن به ( په آخرت ) کې مسلمانان په کافرانو پوری خندا کوی و په تختونو به ناست د هغوی ننداره کوی ، ایا کافرانو اوس د خپلو کړو بدل ولیده ؟ )

له دی نه مخکې هم ، قرآن د کافرانو دغه وینا مونږ ته رانقل کړیده چې هغوی به مؤمنانو ته وویل :

وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَقَامًا وَأَحْسَنُ نَدِيًّا [ د سورت مریم ۷۲ آیت ]

( هغو خلکو ته چې زمونږ څرګند او ښکاره آیتونه لوستل کیږی ، نو کافران ، مؤمنانو ته وای ، ووائی چې له مونږ او تاسو ځینی کومه ډله او ټولی ښه حالت او دریځ لری او د چا مجلسونه پرتمین ( شاندار ) دی ) .

یعنی له دواړو ډلو نه کومه یوه ښه ده ؟ هغه شته من او بډایان ، چې په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ایمان نه راوړی او که هغه نیستمن ، خوار او بی کسه خلک ، چې له هغه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه راټول دی ؟

د نصر بن حارث ، عمرو بن هشام ، ولید بن مغیره او ابو سفیان بن حرب په څیر د قوم مشران که د بلال ، عمار ، صهیب او خباب په څیر بی وسی او بی اسری خلک ؟ که د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دعوت کومه ښیګړه لرلای نو پلویان به یې داسی خوار و زار وای چې په قریشو کې د هیڅ برم او پرتم خاوندان نه دی ؟ په خپلو مینځونو کې د لیدنو کتنو لپاره له یوه معمولی غوندی استوګنځی ( دار ارقم ) نه پرته بل ځای هم نلری .

khanlibrary.org



په داسی حال کې ، چې د هغه مخالفین د سترو مانیو خاوندان دی ، چاه وجلال ، شان و شوکت د هغوی قدمونه ښکلوی ، د قوم مشرتوب یی په برخه دی ، دا و د ظاهر بینو خلکو اند دود ، چې په هر وخت او مهال یی په سترګو د ناپوهی پردی پرتی وی ، معنوی برم او لوړ والی نشی لیدلای .

دا د الهی حکمت پریکړه ده ، چې ګروهه او ایمان به له دنیاوی ډول و سینګار او ظاهری ښکلا نه بی برخی وی ، د تحریص او ترغیب له ناوړه احساس نه به پاک وی ، د دین د قبلولو محرک به کوم حاکم ته د نژدی والی ، د څوکې او اقتدار حرص ، کومه په زړه پوری هیله او د کومی غوښتنی تسکین نه وی ، د دین د منلو محرک به جدوجهد ربړ او کړاو ګالل ، په سر لوبی کول وی .

نو هر هغه څوک ، چې دغی ډلی ته راځی په دی خبره به ئی پوره باور او یقین وی ، چې دغه نظریه یی یوازی د ګروهی په بڼه منلی ده ، نه د بل د چا د خوښی لپاره ، بلکه خالصا د الله تعالی د رضا او خوښی لپاره ، له هغو ټولو نفسی غوښتنو او خواهشاتو نه به بیزاره وی ،چې عام خلک پری لکه مچان په خوږو راټول وی ، دا د دی لپاره چې هیڅ څوک هم د ده ګروهه د هغو خلکو په څیر په بیه وانخلی ، چې په دنیاوی ګټو پسی سر ګردانه او لا لهانده دی ، د حرص برم ، پرتم ، او سرو سپینو مریان دی ، او د انسان افکار او تصورات ورته د الله تعالی له رضا او خوښی نه ډیر لوړ ښکاری ، که څه هم هغه د الله تعالی په نظر ډیر تیټ او بی ارزښته وی .

## د مؤمن دریځ

مومن د خپل ژوند ارزښتونه ، نظریات او افکار د خپلی ټولنی له خلکو نه زده کوی ، نو له دی امله د نورو په پلونو پل کیښودو او په هغوی پسی تلو ته هم اړ نه دی ، د مومن د افکارو ارزښتونو او معیارونو ماخذ د ټولو انسانانو الله جل جلاله دی ، همغه ماخذ او منبع د ژوند په هر اړخ کې د هغه لپاره کافی ده ، د مومن د ژوند معیارونه او ارزښتونه د انسانانو له غوښتنو او خواهشاتو نه ټاکل کیږی .

khanlibrary.org



نو ځکه خو ورته په هغوی پسی تګ او یا د نژدیوالی ضرورت هم نه احساسیږی ، د هغه د تول کاینی او تله د حق له خوا رالیږل شوی معیارونه او ارزښتونه دی ، چې هیڅ ډول بدلون پکې نشی راتلای ، او هیڅ کله هم د چا د خوښی او غوښتنې پر اساس یوه خوا او بله خوا کیدای نشی ، مؤمن دغه تول ارزښتونه د دغې محدودې او فانی دنیا له دودونو نه نه اخلی بلکه برعکس د هغه ضمیر او وجدان د هغې ابدی او لا زواله نور په وړانګو منور کیږی ، چې د تول کائنات تورتم یی رونړ کړیدی ، په داسی صورت کې به څنګه یو مومن یوازی او بی ځواکه احساس کړی چې اړیکې یی د تولو کائناتو له خالق سره وی ؟

هغه پر حقه دی ، او د حق له پرېښودلو نه وروسته له ګمراهی او بی لاری نه پرته نور څه لاس ته ورتلای شی ؟

که له ګمراهانو سره جاه و جلال ، اقتدار او برم وی ، د هغوی د ډول او سورنا مخی ته د خلکو ګڼه ګوڼه وی ، نو وی دی ، له دغه ډول د خندا وړ شان و شوکت نه د ( حق ) په کمیت او کیفیت کې د ذری هومره کمی او بدلون هم نه راځی ، مومن په حقه دی او د ( حق ) لاری له پرېښودلو نه وروسته بی لاری او ګمراهی نه پرته بل هیڅ شی هم لاس ته نشی راوړلای .

نو ولی به د حق په بیه د ضلالت سودا کوی ، که د حالاتو بهیر هر څومره د هغه پر ضد وی بیا هم له ریښتونی مومن نه دغه تمه کول ، چې د ( حق ) پر ځای به ( باطل ) غوره کړی بالکل عبث خبره ده :

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ() رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ [ د ال عمران سورت ۸ - ۹ آیت ]

( تا چې مونږ پر سمه لاره روان کړی یو ، نو بیا هیڅکله هم زمونږ زړونه په کږو لارو مه بیایه ، مونږ ته د خپل فیض له خزانی نه رحمت راوبښه ، ځکه چې ته حقیقی فیاض یی - پروردګاره ! ته به یقینا یوه ورځ دا تول خلک راټولوی ، چې په راتلو کې یی هیڅ شک او شبه نشته ، بی له شکه الله جل جلاله هیڅکله هم له خپلی وعدی نه اووښتونکې ندی ـ) .

khanlibrary.org



## اغزنه بیدیا

وَالسَّـــمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوجِ()وَالْيَوْمِ الْمَوْعُودِ()وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ()قُتِلَ أَصْحَابُ الْـــأُخْدُودِ()الـــنَّارِ ذَاتِ الْوَقُـــودِ()إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ()وَهُمْ عَلَى مَا يَفْعَلُونَ بِالْمُؤْمِنِينَ شُهُودٌ() وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ()الَّذِي لَهُ مُلْـــكُ السَّـــمَاوَاتِ وَالْـــأَرْضِ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ() إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِـــنِينَ وَالْمُؤْمِـــنَاتِ ثُـــمَّ لَـــمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَـــرِيقِ()إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ()إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ()إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ()وَهُوَ الْغَفُـــورُ الْوَدُودُ()ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ() فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ [ د البروج سورت ۱ - ۱۶ آیتونه ]

( سوګند دی په برجو د اسمان ، سوګند دی په هغی ورځی چې د راتلو ژمنه ( وعده ) یی شویده ، سوګند په هغی ورځی چې حاضر یی ( جمعه ) او سوګند په هغی ورځی چې د هغی لپاره حاضریږی ( عرفه ) چې مړه شول د خندقونو څښتنان په داسی اور کې چې ډیر لرګی ( لګوونی ) پکې دی ، کله چې هغوی د خندقونو پر سر ناست وو او له مؤمنانو سره یی چې کوم ظلم او تیری کاوه د هغی ننداره یی کوله او هغوی د مؤمنانو له دی خبری نه پرته " چې پر الله جل جلاله یی ایمان راوړی و چې تر ټولو ځواکمن او د ستاینی وړ دی " په بل څه انتظام وانه خیسته ، هغه چې د ځمکې او اسمانونو بادشاه دی او الله جل جلاله له هر څه نه خبر دی ، بی له شکه هغو خلکو چې مومنانی ښځی او نارینه د ایمان له املهٔ ځورولی دی او بیا یی توبه نه ده کړی ، د هغوی لپاره د جهنم عذاب دی ، او د هغوی لپاره سوځوونکې عذاب دی البته هغه چا چې ایمان راوړی او نیک عمل یې کړیدی د هغوی لپاره باغونه دی چې اوبه تری لاندی بهیږی او دا ډیر ستر بری دی ، بی له شکه ستا د الله جل جلاله مواخذه ډیره سخته ده هماغه دی چې

khanlibrary.org



لومړی هر څه پیدا کوی او هماغه دی چې د قیامت په ورځ یی بیا را پیدا کوی ، او هغه ښښوونکې او مهربان دی ، د عرش څښتن دی او د لوی برم او شوکت لرونکې دی ، هغه څه چې وغواړی کوی یی ) .

## د اصحاب الاخدود ( خندق ) کیسه

د اصحاب الاخدود کیسه چې د البروج په سوره کې راغلی ده د دی وړ ده چې ټول هغه مؤمنان پری غواړو څیړنه وکړی چې د تاریخ په هر پړاو ، او د دنیا په هر ګوټ کې چې وی چې د اسلامی نهضت مخکښان وی .

قرآنکریم چې په کوم دود ، د دغی کیسی څرګندونه او بنسټ ایښودنه کړیده او بیا یی چې پری د تبصری ترڅنګ کوم تعلیمی اصول ښوولی دی ، له دی ټولو نه په حقیقت کې د قرآن کریم هغه بنیادی کرښی راڅرګندیږی ، چې د الهی دعوت د فطرت او له دغه دعوت سره د انسانانو د رویی او د هغه احتمالی سختو کړکیڼچنو حالاتو ښودنه کوی ، چې د دی دعوت په ارته لمن کې چې تر ټولی نړۍ هم ویړه او عمر یی د دنیا تر عمره هم زیات دی ، مینځ ته راتلای شی .

قرآن په دغه کیسه کې مؤمنانو ته د هغوی د لاری څرګندی نښی هم ښوولی دی او هغوی یی دی ته چمتو کړیدی چې په لاره کې د راتلونکې هر ډول مصیبت او کړاو ( چې د الله جل جلاله د حکمت او ارادی تر سیوری لاندی د غیب په پرده کې پټ د تقدیر له خوا نه صادریږی ) هر کلی په ورین تندی وکړی .

## د مومنانو سوبه ( فتح )

دا د یوی داسی ډلی کیسه ده ، چې پر خپل الله جل جلاله یی ایمان راوړی و او غوښتل ئی چې خپله ریښتینولی په واضحه توګه ثابته کړی ، خو د جابرو او سړی خورو دښمنانو له لاسه یی بوګنوونکې ربړونه او کړاوونه وزغمل .

ځکه هغوی د انسان هغه بنیادی حقوق او ازادی له دوی نه ترور له چې پر حق باندی د ګروهیدنی او د الله جل جلاله پر واحدانیت باندی یی د ایمان

khanlibrary.org



راوړلو په برخه کې لرله ، د انسان په هغه کرامت او شرافت پوری یی خندل ، چې الله تعالی هغه په خاصه توګه انسان ته وربښلی دی .

ددی لپاره چې هغوی د چا لاس پوځی نشی ، او ظالم او تیری کوونکې واکمنان د ډول ، ډول کړاوونو په ورکولو ، او د هغوی په سوو ، او بوګنوونکو ساندو د خپلی خوښی او تفریح زمینه برابره نکړی ، د ایمان دغه ټوټی د داسی ریښتونی عقیدی په وسله سنبال وی ، چې حتی په دغه ډول ازمیښت کې یې هم بری ترلاسه کړ ، د ازموینی په هغه سره بټی کې هم بالاخره فانی ژوند د عقیدی او ایمان له لاسه ماتی خوړلی وه او څنګه ماتی !

دغه او څاره ډله د میرځمنو په هیڅ ډول د پکو او درکو ونه ویریدله ، د اور اسمان څکو لمبو ته وغورځول شول ، توری ایری شول ... خو .... له خپلی ګروهی نه یی د سر ویښته هومره سرغړونه ونکړه ، ځانونه یی د پتنګ په څیر ستی کړل ، خو جفا کارو تیری کوونکو ته یی غاړه کینښودله .

په حقیقت کې دغه سپیڅلی ارواګانی د دنیا له دروغجنی ( فریبی ) مینی او ستاینی نه خلاصی شوی وی .

له همدی امله یی دغه ډول وحشیانه مرګ چې په سترګو ئی لیده ومانه ، خو د ذلت ژوند ، د عقیدی او ایمان پریښودلو ته اړ نکړای شول ، د الله جل جلاله د ایمان په اغزنه لار او د ازمیښت په سره بټی کې یوازی د کلک ایمان او پاخه هوډ خاوندان بری ترلاسه کولای شی .

د هغوی روح له عالم سفلی نه د عالم علیا په لور په ډیر ویاړ والوت ، دغه پیښه پر فانی ژوند د عقیدی د بری یو ستر مثال دی .

تر ځناورو بده ډله د پاخه هوډ او کلک ایمان د خاوندانو ( اصحاب الاخدود ) په وړاندی یوه بله ډله هم وه چې له خدایه باغی او د تیټ فطرت خاوندان وو ، کله چې هغه د ایمان ټوټی په اور کې سوزیدلی ، نو دوی ورته د کندی پر غاړه ناست وو ، د هغوی د وریتیدلو نندارې کوله .

هغه د وحشت مجسمو له دینه هم خوند اخیسته چې د ایمان خاوندان څنګه سوزی او دغه نه سهیدونکې کړاو څنګه زغمی ، او څنګه به د اور

khanlibrary.org



لمبی دغه ژوندی انسانان په خپله لمن کې راونغاړی ؟ د سترګو په رپ کې به یی د ایرو ډیری کړی .

کله چې کوم ځوان هلک یا پیغله نجلی ، ماشوم یا بوډا مومن هغوی د اور دغی کندی ته ور وغورځاوه ، نو د دغو ځیروونکو لیوانو مستی او شور و زوږ به نور هم د هغوی د وینو دارو او د سرو غوښو د بوی او توتو په لیدلو زیات شو ، او د لیوانو په ځیر به یی ورته اتڼ اچولی و .

له دغی بوګنوونکې پیښی نه داسی څرګندیږی چې د هغو بد مرغه ظالمانو فطرت داسی خیرن او مسخ شوی و ، چې د هغوی لپاره دغه ډول وحشیانه او بوګنونکې عمل هم ساعت تیری او تفریح وه ، دا د ټیټوالی او رذالت هغه وروستی ځنګل دی ، چې تر اوسه به حتی یو ځناور هم نه وی ور رسیدلی .

ځکه ځیروونکې ځناور خو ښکار د دی لپاره کوی چې خپله روزی ترلاسه کړی ، نه دا چې د خپل نیم ژوندی ښکار له تړپیدو او ځوریدو نه خوند واخلی .

له دغی پیښی نه مونږ ته یوه بله مسئله هم څرګندیږی او هغه دا چې د الله جل جلاله موحدو بندګانو په دغه ازمیښت کې د سربښندنی ، ټینګار او هوډ یو داسی لوړ مثال وښوده او داسی له ویاړه ډکه او لوړه مانی یی ودانه کړله ، چې په هره زمانه کې به د لوړتیا او معراج سمبول وی .

په دغه جګړه کې بری د چا په برخه شو ؟

که مونږ دغه جګړه د دنیاوی معیارونو او ارزښتونو په تله وتلو ، نو داسی به راته څرګنده شی چې ګنی ظلم او تیری پر ګروهی بری موندلی دی ، د صالحو او الله د لاری د لارویو د ایمان ځواک ، چې بی له شکه د لوړتیا او کمال نقطی ته رسیدلی و د ایمان او ظلم په دغه جګړه کې یی میدان بایللی دی ، نه قرآن دغه خبره کوی او نه روایات مونږ ته په دی برخه کې څه وائی ، چې الله تعالی دغو تیری کوونکو ته هم داسی سزا ورکړه ، لکه څنګه یی چې د نوح علیه السلام ، هود علیه السلام ، صالح علیه السلام ، شعیب علیه السلام او لوط علیه السلام ټبرونو ته ورکړی وه .

khanlibrary.org



یا یی لکه څنګه چې فرعون او د هغه پوځیان په بشپړ ځواک او قاهرانه برم او پرتم غرق کړی وو .... نو له دی امله د ظاهر بینو او لنډ اندو خلکو له نظره د دغی پیښی پای ډیر غم لړلی او زړه دردوونکې دی .

خو ایا دا خبره یوازی په همدی ځای پای ته رسیږی ؟ ایا د ایمان د لورې والی وروستی پړاو ته رسیدلی الله پرست بندګان د هغو بوګنوونکو دردونو په نتیجه کې د اور په خندقونو کې برباد او توری ایری شول ؟ او هغه تیری کوونکې ډله چې د رذالت او پستی وروستی منزل ته رسیدلی وه ، په دنیا کې له سزا نه بیخی بی غمه پاتی شوه ؟

تر کومه چې په دنیاوی حساب و کتاب پوری اړه لری ، د دغی غمجنی پیښی د پای په هکله د انسان په زړه کې یو درد او سوز را پورته کیږی ، خو ( قرآن ) د مومنانو یو بل ډول روز نه کوی او د هغوی په مخکې د یوه بل ستر حقیقت له مخی پرده پورته کوی .

قرآن هغوی ته یوه بله پیمانه ورکوی ، چې په هغی سره د هر څیز په پوره وزن پوه شی او د حق او باطل له کومو جګړو او پیښو سره چې مخامخ کیږی ، د هغوی په اصلی حقیقت او اصل ارزښت هم پوه شی .

## بری ریښتونی معیار

د دنیا ژوند او د هغی ښی او بدی ، سوبی او ماتی د انسان لپاره پریکنده ( فیصله کن ) حیثیت نه لری ، دا هغه مال ومتاع نه ده ، چې ګټې او زیان وروستی حساب وښیی ، سوبه یوازی ظاهری برلاسی نده ، بلکه دا د بری د بی شمیره ډولونو یو ډول دی .

د الله جل جلاله د پریکړی په تله کې اصل درنښت او وزن د عقیدی دی ، د هغه بی ساری ذات لپاره یوازی د ایمان متاع ارزښت لری ، د سوبی او بری لورې معیار دا دی ، چې روح پر ماده بری ومومی او عقیده پر رنځ او محنت بری ومومی او د ازمیښت په وخت کې سوبه او بری د ایمان په برخه شی .

لکه څنګه چې د اصحاب الاخدود په پیښه کې د مومنانو روح پر ( ویری ، ربړ او کړاو ، د دنیا په عیش ونوش ، د ژوند په مینه ، او سخت

khanlibrary.org



ازمیښت ) داسی ستر بری ومونده چې د نړۍ تر پایه به د انسان لپاره د ویاړ ، وړ وی ..... اصلی سوبه او بری همدغه دی .

## د مومن مړینه عزت دی

ټول انسانان مری ، خو د مړینی اسباب او عوامل یی سره توپیر لری ، لیکن ټولو انسانانو ته دا بری نه ور په برخه کیږی او نه ټول د ایمان دومره لوړ معیار ښودلی شی ، نه دومره بشپړه آزادی تر لاسه کولای شی او نه په دومره لوړ افق کې الوت کولی شی ، دا د الله جل جلاله فضل او کرم دی چې په خپلو بندګانو کې یوازې یوه ډله غوره کوی ، چې په مړینه کې خوله ټولو سره شریک دی .

ولی تر مړینی وروسته یی داسی شرف او پت په برخه کیږی ، چې نور خلک ترینه بی برخی وی ، دغه شرافت او عزت نه یوازی په ملا اعلی کې د هغوی په برخه کیږی ، بلکه د پرله پسی راتلونکو انسانی نسلونو په نظر کې هم تر نورو خلکو هغوی لوړ اعزازی پوړی او درېځ حاصلولای شی .

## هغو مومنانو بشریت ته د ایمان درس ورکړی دی

دغو مومنانو د ایمان په بایللو خپل ځانونه ساتلای شول ، خو په دی کې به دوی خپله څومره زیان کړی وای او ټول بشریت ته به یی څومره زیان رسیدلای وای ! دا به زښت زیات زیان وای چې که هغوی دغه روښانه حقیقت تر پښو لاندی کړی وای ، چې "بی ایمانه ژوند په یوه کنجکه که هم نه ارزی .

د ازادی نعمت چې په ژوند کې نه وی هغه ژوند د کرکې او نفرین وړ دی ، که چیری تیری کوونکې او ظالمان دومره جرات پیدا کړی ، چې د خلکو پر جسم تر حکمرانی او تسلط وروسته د هغوی پر زړونو او روح هم حکومت وکړی ، نو دا د ژوند هغه نهائی پستی او تیتوالی دی !

دا هغه لوړ او سپیڅلی حقیقت دی چې مؤمنانو پری په ژوند کې عمل کاوه ، کله چې هغوی د اور لمبو په خپله لمن کې راونغښتل ، نو بیا هم د دغه لوړ او سپیڅلی حقیقت په اصولو ټینګ ولاړ وو ، له یوی خوا د دوی فانی جسمونه په اور سوزیدل او له بلی خوا نه د دغه ستر او سپیڅلی

khanlibrary.org



حقیقت اصولو د خپلې کامیابۍ ویاړلی حماسه ، په خلکو منله او د اور لمبو د هغې زرینې کرښې نور یې هم څلولی .

## د حق او باطل دلې او د جګړې میدان

د حق او باطل د جګړو میدان یوازې د همدې نړۍ سټیج نه دی او ژوند هم یوازې د همدې دنیاوی ژوند نوم نه دی ، دښمنی ( متخاصمی ) دلې هم یوازې همدا خلک نه دی ، چې له همدې نسل سره اړیکې لري ، چې جګړه یې ترمینځ روانه ده .

د دنیا په ټولو پیښو کې هغه ستر او لوړ ذات او مقام ګډون لري ، چې د هغوی ننداره کوی ، او پرې شاهد دی ، هغوی په هغه تله تلی ، چې د دنیاوی میزان په کوم خاص وخت او زمان او نسل پورې اړه نه لري ، هغه تله او کانې د ټول بشریت له تلو او کانو سره توپیر لري ، په یوه وخت کې چې په دنیا کې څومره انسانان ژوند کوی په هغه ستر او لوړ مقام کې تر هغې خهو ګرایه زیات پاک او سپیڅلی روحونه موجود وی .

نو بې له شکه د حق او عدالت پوځ ته چې کومه ستاینه ، عزت او تکریم له هغه ستر او لوړ مقام نه ور په برخه دی ، هغه د نړۍ والو د پریکړو ، ستاینو او عزت نه څو چنده زیات ستر او دروند دی ، تر د غو ټولو پراوونو وروسته د اخرت ورځ هم شته ده او د وروستی فیصلی او پریکړې میدان هم همدغه دی .

د دنیا نندارتون هم د واقعیت له مخې او هم د مومن د احساس او شعور له مخې له دغه میدان نه بیل ندی ، بلکه ګډ دی ، نو له دې امله د حق او باطل جګړه یوازې د دنیا پر سټیج پای ته نه رسیږي ، ځکه چې د ریښتونې پریکړې او پای پراو یې لا مینځ ته ندی راغلی ، د دنیا پر سټیج چې د دغې جګړې کومه برخه پای ته رسیدلی ده ، یوازې پر هماغې برخې باندی حکم کول او یا د سم او نا سم مهر لګول له انصاف نه لرې ده ، ځکه چې د دغه حکم اطلاق به یوازې د جګړې پر یوه معمولی برخه او پراو وی ، نه پر ټولو برخو او پراوونو .

## د مومنانو انعامونه :

khanlibrary.org



## د مومنانو انعامونه :

هغه څوک چې لومړی ډول نظر لري ، یعنی دا چې د دنیا ستیج د دنیاوی مسایلو او پیښو لپاره یوازینی او فیصله کوونکې ځای ګڼی ، هغه ډیر لنډ اندی او ، تلوار ګندی ، ( عجلت پسند ) انسانان دی ، د دویم ډول نظر لرونکې چې د حساب و کتاب په وروستی ورځ ګروهه لری ، د ژور فکر او پراخه نظر خاوندان دی ، قرآن غواړی چې د مومنانو په زړونو کې دغه وروستی ډول نظر پیدا کړی .

همدغه نظر د هغه حقیقت سمه ترجمانی کولای شی ، چې پر هغه د سم او پاخه ایمان د تصور مانی وداند ده ، له همدی امله الله تعالی چې مومنانو ته په ایمان او اطاعت کې د اثبات او ټینګار په ازمیښتونو کې د بری او د ژوند په غورزو پرزو کې د سوبی او ایمان کومه وعده ورکړی ده ، هغه د مومنانو لپاره د زړه ډاډ ده .

الله جل جلاله فرمائی :

الَّذِيـــنَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ [ د الرعد سورت ۲۸ آیت ]

( هغه خلک چې ایمان راوړی ، د هغوی زړونو ته د الله جل جلاله په یاد ډاډ ، ور په برخه کیږی ، خبر اوسی ، د الله جل جلاله یاد هغه شی دی چې زړونو ته ډاډ او اطمینان وربښی )

د الله جل جلاله د بخښش او محبت وعده پکې شویده :

إِنَّ الَّذِيـــنَ آمَـــنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَانُ وُدًّا [ د مریم سورت ۹۶ آیت ]

( هغو خلکو چې ایمان راوړی دی او نیک کارونه یی کړی دی ، نژدی ده چې الله جل جلاله به د هغوی لپاره په زړونو کې مینه پیدا کړی ) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

کله چې د الله تعالی د کوم بنده ( ماشوم ) مړ شی او الله جل جلاله له خپلو ملایکو نه پوښتنه کوی چې : تاسو زما د فلانی بنده د ماشوم روح

khanlibrary.org



قبض کړی دی ؟ هغوی ورته عرض وکړی چې هو الله تعالی فرمایی : تاسو زما د بنده د زړه د قطری روح قبض کړیدی ؟

ملایکې عرض کوی " هو پروردګار !

په دی خبره الله جل جلاله له هغوی نه پوښتنه کوی چې : په دغه مرګ زما بنده څه وویل ؟

فرښتی ورته وایی هغه ستاسو حمد وایه او " انا لله وانا الیه راجعون " یی وویل .

د دی په اوریدو الله جل جلاله حکم کوی چې زما دی بنده ته په جنت کې یو کور ودان کړی او نوم یی " بیت الحمد " کیږدی [ترمذی] لاندینی وعده د هغې خبری ده چې د ملاء اعلی موجودات د مومنانو لپاره دعا کوی او له دوی سره ژوره مینه او همدردی لری .

همدا رنګه له هغه حضرت صلی الله علیه وسلم نه روایت شویدی چې الله تعالی فرمایی : زه خپل بنده لره هغه څه یم چې د ده راباندی ګومان دی ، کله چې هغه زما ذکر کوی نو زه له هغه سره یو ځای یم ، که په زړه کې می یادوی زه یی هم په زړه کې یادوم ، که د خلکو په مینځ کې می یادوی ، نو زه یی هم د غوره خلکو په ډله کې یادوم که هغه یوه لویشت ماته رانژدی کیږی نو زه یو لاس ( ذراع ) هغه ته ورنژدی کیږم ، که هغه یو لاس رانژدی کیږی ، نو زه یو قدم د هغه په لور ورنژدی کیږم ، که هغه زما په لوری را روان شی ، نو زه به د هغه په لور په منډه ورشم [بخاری ، مسلم]

الَّذِيـــنَ يَحْمِلُـــونَ الْعَـــرْشَ وَمَـــنْ حَوْلَهُ يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْـــتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَحْمَةً وَعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ [ د المومن سورت ۷ آیت ]

( د الهی عرش حاملی ملایکې او هغه چې د عرش شا وخواته ولاړی وی تولی د الله جل جلاله له حمد سره د هغه تسبیح هم وائی ، هغوی پر الله جل جلاله ایمان لری او ایمان راوړونکو ته د ښښنی دعا کوی ، هغوی وائی : ای زمونږ خدایه ، ستا علم او رحمت په هر څه محیط دی ، نو هغه خلک وښښه چې توبه یی ایستلی ده ، هغه خلک چې ستا لار یی غوره کړیده له دوزخ نه وژغوره )

khanlibrary.org



په لاندینیو ایتونو کې هغه وعده بیان شویده چې د شهیدانو لپاره له الله جل جلاله سره همیشنی ژوند دی :

وَلَـــا تَحْسَـــبَنَّ الَّذِيـــنَ قُـــتِلُوا فِـــي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ()فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا بِهِمْ مِـــنْ خَلْفِهِـــمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ() يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِنَ اللَّهِ وَفَضْـــلٍ وَأَنَّ اللَّـــهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ[ د ال عمران سورت ۱۶۹-۱۷۱ آیتونه ]

( هغه خلک چې د الله جل جلاله په لار کې مړه شویدی مړه یی مه ګڼی ، هغوی په حقیقت کې ژوندی دی له خپل رب سره رزق خوری ، هغه څه چې الله تعالی په خپل فضل هغوی ته ورکړی دی ، پر هغی خوښ او خوشحاله دی ، او په دی ډاډه دی چې هغه مومنان چې د هغوی تر شا په دنیا کې پاتی دی او تر اوسه هغه ځای ته نه دی رسیدلی ، د هغوی لپاره هم د ویری او غم اندیښنه نشته ، هغوی د الله تعالی په انعام او فضل خوشحاله دی ، او دا ورته څرګنده شوی ده چې الله تعالی د مومنانو اجر نه ضایع کوی ) .

## د سر غړوونکو ( باغیانو ) انجام

په دی توګه الله تعالی په پرله پسی توګه ژمنی ( وعدی ) کړیدی چې هغه به دروغجن ، ظالمان ، سرغړوونکې او مجرمان په آخرت کې په سزا ورسوی ، په دنیا کې یی تر یوه تاـلی وخت پوری د هغوی واګی سست پریښی دی او مهلت یی ورکړیدی چې څه کوی ، سره له دی چې د دغه ډول خلکو نه یی ځینی کله ، کله په دنیا هم شرمولی دی ، خو د اصلی سزا لپاره یی د اخرت ورځ تاکلی ده :

لَـــا يَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي الْبِلَادِ()مَتَاعٌ قَلِيلٌ ثُمَّ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمِهَادُ [ د ال عمران سورت ۱۹۶-۱۹۷ آیتونه ]

khanlibrary.org



( د الله تعالی د نافرمانه خلکو د څو ورځو تله راتله په ښارونو کې تاسو تیر نه باسی ، ځکه چې دغه لطف د څو تاکلو ورځو لپاره دی ، بیا د هغوی ځای جهنم دی ، چې ډیر بد استوګن ځای دي ) .

وَلَـــا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَـــارُ() مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ [ د ابراهیم سورت ۴۲- ۴۳ آیتونه ]

( تیری کوونکې چې هر څه کوی ته الله تعالی له هغو نه غافل مه ګڼه ، الله جل جلاله هغی ورځی له هغوی ساتلی دی چې داسی حال پری راولی چې سترګی یی وازی پاتی شی ، سرونه به راپورته کړی او په منډه به روان وی ، د دوی په لور بیرته نه راګرځی د دوی سترګی ، زړونه به یی درزیږی او له امیده به تش وی )

فَذَرْهُـــمْ يَخُوضُوا وَيَلْعَبُوا حَتَّى يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي يُوعَدُونَ() يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَى نُصُبٍ يُوفِضُونَ()خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ذَلِكَ الْيَوْمُ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ [ د معارج سورت ۴۲- ۴۴ آیتونه ]

( نو پریږده ای محمده ! دوی عبث او بیهوده کارونو ته چې لوبی وکړی ، تر هغی چې له هغی ورځی سره مخامخ شی ، چې وعده ورکړ شویده ، هغه ورځ چې له قبرونو نه په بیړه او منډه راوځی ته به وائی چې د کومی نښی په لور منډی وهی ، سترګی به یی ښکته وی او په ځیرو به یی د خواری او ذلت دوړی پرتی وی ، دا ده هغه ورځ چې له دوی سره یی ژمنه یی شوی وه )

په همدی توګه د انسان ژوند د ملاء اعلی د ژوند سره اړیکې لری او د دنیا ژوند له آخرت سره ، نو له همدی امله د خیر او شر ، حق وباطل ، ایمان او بغاوت ، د جګړو او شخړو دار مدار ټول په همدی دنیا کې سر ته نه رسیږی او نه دنیا د دی ځای دی چې د دغو پیښو وروستی پریکړه پکې کې واورولای شی .

دنیاوی ژوند او په هغه پوری تولی مربوطی هوساینی ، کړاوونه ، خوندونه ، او محرومیتونه د الله جل جلاله د پریکړې لپاره اصلی معیارونه

khanlibrary.org



نه دی ، د همدغه روښانه حقیقت له مخی د خیر و شر د جګړی میدان هم ډیر پراخه دی او موده یی هم زښته زیاته ده .

د کامیابی او ناکامی پیمانی ، او تول ، معیارونه او ارزښتونه یی هم ډیر لوړ او اوچت دی ، له همدی امله د مومن د فکر او نظر په ساحه کې یوه غیر معمولی بدلون او پراختیا هم مینځ ته راځی او د هغه د پاملرنی وړ معیارونه د لوړی پوړی او درجی ښکاروندی وی .

د دی دنیا ، ظاهری ښکلا او د ژوند لوازم د هغه په نظر بی ارزښته کیږی ، څومره چې د هغه د فکر او نظر زاوئی لوړیږی ، هومره د هغه پوړی هم لوړیږی ، د یوه داسی بی مثله هر اړخیز او سپیڅلی ایمانی انځور د پیدا کولو لپاره د اصحاب الاخدود کیسه یو بی ساری مثال دی .

## د مکذبینو مختلف انجامونه

د اصحاب الاخدود له کیسی او د سوره بروج له مضمون نه د اسلامی دعوت د مزاج او څرنګوالی او همدا رنګه د وخت او زمان په هر ډول مکانی حالاتو کې د داعی د دریځ بڼ اړخ هم روښانه کیږی ، د الهی دعوت تاریخ د نړۍ د نورو ډول ډول دعوتونو په څیر مختلف انجامونه لیدلی دی ، د دغه تاریخ پانی د نوح علیه السلام ، هود علیه السلام ، شعیب علیه السلام ، او لوط علیه السلام د قومونو د بربادی له افسانو نه ډکې دی ، څو محدودی پانی یی د مومنانو د خلاصون او نجات په زیری هم ښکلی شویدی .

خو قرآن دا نه دی ویلی چې نجات موندونکو قومونو بیا وروسته په دنیا او دنیاوی ژوند کې څه کړیدی ؟ د پورتنیو قومونو د تباهی مثالونه څرګندوی چې کله کله الله جل جلاله مکذبین او ظالمان په دی دنیا کې هم د خپلو ناوړه اعمالو په خوند پوه کړیدی ، خو د بشپړی او پوره سزا ئی لپاره یې د اخرت ورځ تاکلی ده ، د دغه دعوت تاریخ په نیل کې د فرعون او هغه د لښکریانو د ډوبیدو نندارە هم کړیده او په دی هم شاهد دی چې څه ډول الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام او د هغه قوم ته نجات ورکړ او بیا یی هغوی په هماغه هیواد کې د واک او ځواک خاوندان کړل ،

khanlibrary.org



دا هغه وخت و چې دغه قوم په خپل ټول تاریخ کې تر نورو نسبتا صالح او نیک عمله قوم و ، سره له دی چې هغوی هیڅکله هم د پوره ثبات او مقاومت تر پوړی پرمختګ ونه کړ ، ځکه هغوی هیڅکله هم په نړۍ کې د الله جل جلاله د دین توغ د یوه جامع او هر اړخیز نظام په توګه ونه ړپاوه .

د دعوت د تاریخ پانې د هغو مشرکینو د بې شمیره مړو د انبارونو په افسانو هم ډکې دی ، چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له لارښوونو نه یې سر غړونه کړې وه او ایمان یې پرې نه و راوړی ، او دا یې هم لیدلی دی ، هغه وخت چې د مومنانو پر زړونو د عقیدی د بې ساری حکومت توغ ړپیدلای ، سولی او بری د هغوی قدمونه څنګه ښکل کړیدی .

د بشریت تاریخ د لومړی ځل لپاره دا هم ولیدل چې په څه ډول خدائی نظام د انسانی ژوند د اصلی حاکم په توګه عملا مینځ ته راغی ، دا یوه داسی مرحله وه چې د بشر د څو زره کلن زاړه تاریخ پانې یې نه په مخکې ساری لرې او نه را وروسته .

لکه څنګه چې مونږ د مخه وویل د اسلامی دعوت تاریخ د اصحاب الاخدود د پیښې نمونه هم لیدلی ده ، پر دی برسیره د تاریخ پانو په پخوانی او اوسنی دواړو زمانو کې ډیری ستری پیښې لیدلی دی ، چې د ایمان په تاریخ کې دومره لوړه پوړی نلری ، او تر اوسه لا د تاریخ دغه وچې او سپینې سترګې ډول ډول پیښې ګوری چې له تیرو شوو انجامونو نه په یوه نه یوه انجام پای ته رسیږی او له پیړیو پیړیو راهیسی د تاریخ د قارونی خزانې په څیر سینه کې خوندی پرتې دی .

## د اصحاب الاخدود د پیښې څانګړی انجام او د مومنانو لپاره د عبرت درس

د اسلامی تاریخ د نورو نمونو یادول هم ضروری ښکاری ، خود هغې پیښې یادول چې په اصحاب الاخدود پورې اړه لری ، ډیر ضرور ده ، دا د ایمان هغه ویاړلی حماسه او د عزم او ثبات هغه یوازینی نمونه ده ، چې مؤمنانو پکې خلاصون نه دی موندلی او کافرانو هم په دنیا کې د الله جل جلاله د عذاب خوند ، ندی څکلی ، دا د دی لپاره چې د حق لاری د

khanlibrary.org



مدعیانو او پلویانو په ذهن کې دا خبره په پوره توګه انځور شی ، چې ښائی د حق په لاره کې څوک له داسی بوګنوونکې انجام سره هم مخامخ شی .

په دی برخه کې دوی هیڅ واک او اختیار نلری ، د دوی او د دوی د ایمان مسئله په الله جل جلاله پوری اړه لری ، د دوی مسئولیت یوازی همدومره دی چې خپله دنده سر ته ورسوی او نور رخصت شی ، د دوی وظیفه دا ده چې یوازی د الله جل جلاله رضا د ځان لپاره غوره وګڼی ، ګروهه تر ژوند غوره وګڼی او د ازمیښتونو په ستونزو د ایمان په زور بری ومومی .

په ژبه او زړه هم د الله جل جلاله د صداقت او ریښتینولی ګواهی وکړی او په عمل و کردار کې هم ، له دی وروسته چې الله جل جلاله له دوی او د دوی له دښمنانو سره څه ډول سلوک خوښوی هغه به ورسره وکړی ، د خپل دین او دعوت لپاره هم چې کوم دریځ غوره کوی غوره به یی کړی ، که الله جل جلاله وغواړی دوی ته به هغه ډول انجامونه ور په برخه کړی چې په تاریخ کې د نورو مومنانو په برخه شویدی او یا به هم د هغوی لپاره داسی انجام خوښ کړی چې په خپله پری پوهیږی او وینی یی .

## مؤمنان د الله جل جلاله کار کوونکې دی

مومنان د الله جل جلاله اجیران او کار کوونکې دی ، هغه چې هر ډول کار ورځینی غواړی ، چیرته ، څنګه او څه ډول یی غواړی دوی مجبور دی ، چې د پخوانی تاکل شوی معاوضی په مقابل کې یی بی له ځنډه سر ته ورسوی ، دا چې د دعوت او کار انجام به څه وی د دوی مسئولیت او وظیفه کې شامل ندی او نه د هغوی د وسی خبره ده ، دا مسئولیت د لوی څښتن په مزدور او کار کوونکې پوری هیڅ اړه نلری .

مومنان د خپلی مزدوری لومړی قسط په دنیا کې ترلاسه کوی ، په دغه قسط کې د مومنانو لپاره په ټول ژوند کې د زړه ډاډ ، د احساس او شعور لوړ والی ، د نیکو افکارو او تصوراتو ښه والی او سپیڅلتیا ، له ادنی او حیوانی غوښتنو نه لری والی ، او له ویری او تذبذب نه خلاصون شامل دی ، د خپلی باړی ( مزد ) دویمه برخه هم په همدی دنیا کې حاصلوی ، په

khanlibrary.org



ملاء اعلی کې ورته د ملایکو له خوا د خیر ذکر هم د ستاینی او تکریم په توګه ورکول کیږی .

د اجر تر تولو ستره برخه په آخرت کې ورکول کیږی ، چې د ډیر معمولی او اسانه حساب و کتاب په مقابل کې ستر ، ستر او لوی نعمتونه ورکول کیږی ، پر دی تولو برسیره هغه ارزښتناک څیز چې له هری برخی سره ور په برخه کیږی ، هغه د الله جل جلاله د خوښی او رضا حاصلول دی ، او د الله تعالی هغه فضل وکرم دی ، چې دوی یی د دی ستر کار لپاره غوره ګڼلی دی ، چې د قضا په لاس کې دی د توری په حیث وی او د الله تعالی د قدرت او حکمت زغری دی شی ، چې په نړۍ کې الله تعالی څه وغواړی ، د همدی په واسطه یی سر ته ورسوی .

## د اسلام د لومړی صدر مومنان

قرآن چې د لومړی صدر غوره او څار مومنان په کوم ډول روزلی وو ، نو هغوی د هغی له امله د لوړتیا او کمال هغی ټوړی پوړی ته رسیدلی وو چې انفرادیت یی یو مخیزه له مینځه وړی و ، او د الهی دعوت په کار کې یی د " زه " کلمی ته د تل لپاره رخصت ورکړی و ، هغوی یوازی او یوازی د دعوت د څښتن لپاره کار کاوه ، هغه هم د مزدور په حیث په هر وخت او زمان کې به د الله جل جلاله په پریکړه او انتخاب خوښ او راضی وو .

دغی روزنی د هغوی زړونه او سترګی د جنت په لور ګرځولی وی او هغوی ته یی دا تلقین کاوه چې هغه کار چې د دوی لپاره غوره ګڼل شوی دی ، هغه باید په ثبات او تینګار سر ته ورسوی ، تر هغه چې الله جل جلاله خپله هغه پریکړه نه وی نازل کړی چې په دنیا او اخرت کې یی غوره ګڼی .

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به په مکه کې د حضرت عمار او د هغه د کورنی غړی ( مور او پلار ) په خپلو سترګو لیدل ، چې د حق په لاره کې له سختو ستونزو سره مخامخ دی ، خو له دینه به یی زیات څه نه فرمایل : صبرا ال یاسر ! موعدکم الجنه ( ای د یاسر کهوله ! د صبر او زغم لمن پرې نږدی ، له تاسو سره د جنت وعده شویده ) .

khanlibrary.org



حضرت خباب بن ارت وایی چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د کعبی د دیوال تر سیوری لاندی استراحت کاوه ، چې مونږ ورته د شکایت په توګه عرض وکړ تاسو ولی له الله جل جلاله نه مونږ ته سوبه نه غواړی او دعا نه کوی ؟

رسول اکرم وفرمایل : " له تاسو نه د مخه امتونو داسی حال و چې یو سړی به یی راونیوه په ځمکه کې به یی ورته کنده وایستله او په هغی کې به یی وغورځاوه ، بیا به یی اره راوړله ، له سره به یی تر پښو دوه څیری کړ ، د هغوی په غوښو او هډوکو کې به یی د اوسپنی سیخونه تومبل ، خو دی دومره کړاوونو هم هغوی له دین نه وانه ړول ، په الله جل جلاله سوګند چې الله جل جلاله به دا دین مکمل کړی او هغه وخت به راشی چې یو سپور به له صفا نه تر حضر موت پوری یوازی سفر وکړی ، خو هیڅ ویره به ورسره د الله جل جلاله له ویری پرته نه وی ، یا به دا ویره ورسره وی چې په وزو یې لیوه حمله ونکړی خو تاسو خلک ډیر تلوار کوی [ بخاری ]

مومن او د الله جل جلاله بی پایه حکمت

د دنیا په هر کار او هر وخت و زمان کې د الله جل جلاله حکمت موجود وی ، الله جل جلاله په خپل کامل حکمت د دی ټولو کائناتو د پیل او پای له مسئلی نه خبر دی او اداره کوی یی ، په نړۍ کې چې څه پیښیږی او د غیب د پردی تر شا چې د پنځ ( طبیعت ) کوم حکمت او اسرار پټ دی ، یوازی همدغه ستر ذات پری خبر دی او په هغه کې چې د بشریت د ښیګړی لپاره څه پټ دی پر هغی هم یوازی همدغه ذات ښه پوهیږی .

دغه حکمت او مصلحت د تاریخ د اوږده سفر په موده کې د الله جل جلاله د مشیت پر مبنا را روان دی ، ځینی وخت الله جل جلاله څو پیړی وروسته د یوی پیښی د پټ حکمت نه پرده پورته کوی ، چې د هغه وخت خلک پری نه وی پوه شوی ، ښائی هغوی به هغه وخت په دی لټه کې شوی وی چې دا پیښه څنګه مینځ ته راغلی وه ، او له خپل الله جل جلاله نه به ئی پوښتنی هم کړی وی چې خدایه داسی ولی وشول ؟

khanlibrary.org



دغه پوښتنه پـه خپله یو ډول جهالت دی چې مومن بایـد تری ځـان وژغوری ، ځکه مومن له پخوا نـه پـه دی ایمان لری ، چې د الله جل جلاله په هره پریکړه کې یـو حکمت موجود وی ، د مؤمن د نظر پـراخوالی او د الله جل جلاله د بی پایه قدرت په هکله د هغه ګروهه ، د زمان او مکان ، معیارونو او ارزښتونو په هکله د هغه ژور نظر ، هغه ته دا اجازه نه ورکوی ، چې د دی پوښتنی په هکله جاج ( فکر ) وکړی ، ځکه مومن باید په پوره رضا او تسلیم د قضا او قدر له کاروان سره په نړۍ کې هم سفره واوسی .

## د قرآن روزنه

قرآن د داسی زړونو په لټه کې و چې د امانت [1] دغه درونـد بار اوچت کړلای شی او یا د امانت د ساتلو وړ وی ، د دی لپاره تر هر څه د مخه دا ضرور وه چې دغه زړونه دومره ، کلک سپیځلی او پاکیزه وي ، چې د الله جل جلاله په لار کې خپل هر څه وښندلی شی ، د هر ډول سخت ازمیښت میدان ته په ورین تندی ور ودانګی او له بل خوا نه د دنیا د مال او متاع پر ځای خپله ټوله پاملرنه آخرت ته وکړی ، او موخه یی یوازی د الله جل جلاله د رضا حاصلول وی .

ځکه همدغه ډول پاک سپیځلی او کلک زړونه کولی شی چې دغه له ستونزو ډک سفر چې له رنځ ، درد ، محرومی ، بد مرغی ، ستونزو ، سرښندنو او ایثار نه پرته نور هیڅ هم په لاس نه ورځی سر ته ورسوی ، د دغو کړاوونو په مقابل کې د ونج او بدل تمه هم ونه لری .

که څه هم دغه پاداش او بدل د دعوت د پرمختګ او د اسلام او مسلمانانو د بری ، او پت د غوښتنی په بڼه وی ، او یا هم د هغو کسانو د بربادی او هلاکت، او عبرت ناک انجام غوښتنه وی چې د دعوت د پرمختګ په لار کې مرکوندی شیندی ، لکه څنګه چې د تیرو ظالمانو او مکذبینو سره الله تعالی همدغه ډول سلوک کړی .

دنیاوی بری د مومنانو لپاره حتمی سوال نه دی

---

(۱) د الهی خلافت پاڅون ته اشاره ده .

khanlibrary.org



کله چې په دغو صفاتو متصف زړونه مینځ ته راشی او په دی ګروهه وی ، چې د دنیا له ستونزو ډک سفر به بی له کوم مادی اجر او معاوضی له هر ډول کړاوونو او سربندنو سره سر ته رسوم او پر دی ایمان ولرم چې د حق او باطل ریښتونی اجر او معاوضی یوازینی ځای اخرت دی او وروستی پریکړه به هم هماغلته کیږی ، کله چې دغه ډول سوچه زړونه د الله جل جلاله په مینه سست وروزل شی او الله جل جلاله ته دا څرګنده شی چې دغو خلکو چې کومه سودا کړیده په هغه کې ریښتونی او مخلص دی .

نو بیا به الله جل جلاله د ځمکې پر مخ هغوی ته بری ورکړی او د ځمکې امانت به هغوی ته ور وسپاری ، خو بیا به هم دا امانت د دی لپاره هغوی ته نه وی ورکړ شوی ، چې د خپلو ځانګړو ګټو او نفسی غوښتنو لپاره تری کار واخلی ، بلکه د دی لپاره به ورسپارل شوی وی چې په هغه کې د حق او عدالت د نظام توغ اوچت کړی .

دوی له هغی ورځی نه د دغه ډول درووند بار د اوچتولو او امانت ساتلو جوګه شوی وو ، چې په دنیا کې ورسره د هیڅ ډول بری او ګټی ژمنه ونشوه ، خو سره له دی هم دوی د دغی اغزنی لاری له ستونزو نه ډک سفر پیل کړ ، د سفر په دوران کې یی نه خپل ځانګړی ګټی خوندی کړی ، لکه څنګه چې د هر انسان غوښتنه وی او نه یې د دنیاوی سرو سپینو او غنایمو څلا د ایمان سترګی وبریښولی .

بلکه په پوره ایمان داری ، متانت ، او سپیڅلتیا یی دغه سفر ته چې پای یی ورته څرګند او روښانه نه و ادامه ورکړله ، هغوی له هغی ورځی نه خاص د الله جل جلاله لپاره وقف شوی وو ، چې د هغوی په سترګو کې د الله جل جلاله د رضا له ، لټون او تلاش نه پرته د بل اجر د ګټلو او مزد هڅه نه لیدل کیده .

د قرآن په هغو ایتونو کې چې د سوبی او بری ژمنه شویده ، یا د ولجی او غنیمت ذکر شویدی یا دا مخکې وینه ( پیشګویی ) شویده چې په دنیا کې به هم کفار او مشرکین د مومنانو په واسطه د خپلو اعمالو په سزا ورسیږی ، ټول په مدینه کې نازل شویدی .

khanlibrary.org



هغه وخت دغه ټول څیزونه د مومنانو د پروګرام په جمله کې شامل نه وو ، او نه یې ورته انتظار درلوده ، هغه وخت چې دوی په سفر پیل کاوه نو دغه یوه وعده او هیله هم ورسره نه وه ، یوازې او یوازې د الله تعالی رضا وه او بس .

.وروسته بیا فتح او نصرت په خپله د دوی په برخه شو او دا د دی لپاره چې د الهی مشیت غوښتنه هم داسی وه ، چې د حق او عدالت نظام به د انسانانو په ژوند کې په عملی توګه مینځ ته راځی ، داسی ژوندی نمونه او انځور به خلکو ته ښیی ، چې انسانان یې په خپلو سترګو وګوری ، دغه سوبه او بری په دنیا کې د مومنانو د سربندنو او دردونو زغملو انعام او بخښش نه وو ، بلکه دا د الله تعالی ازلی پریکړه وه چې په بطن کې یې د الله تعالی جل جلاله هغه حکمتونه او مصلحتونه پټ پراته وو ، چې نن یې هم مونږ د لیدلو او پوهیدلو په لټه او هڅه کې یو .

سوبه او بری د الهی مشیت پر اساس مینځ ته راځی نه د انعام په توګه .

پورتنی مسئله د اسلامی دعوت هغه ارخ دی ، چې د هر هیواد ، ټبر او توکم خلک چې د حق لاری تلونکې او پلویان وی باید غور او څیړنه پری وکړی ، یوازې د همدغه یوه ارخ روښانتیا هغوی ته د حق لاری ټولی نښی او کرښې په څرګنده توګه ، بی له کومی ستونزی او کړکیچ ښیی او د دغی لاری هغو ریښتونو تلونکو او سپیڅلو بندګانو ته هم د ارادی ثبات او ټینګار وربښی چې په دغه لار به تر پایه څو ، که څه هم پای یې هر ډول وی ! الله جل جلاله چې د خپل دعوت او دوی لپاره کوم برخلیک ( سرنوشت ) غوره کړی هماغه سم دی .

د دغی له ستونزو ډکې ، پرا شوبه او وینی څښونکې لاری په مزله کې چې د انسانانو په کپریو فرش شوی ده ، هیڅکله هم د سوبی او بری انتظار ونلری ، او نه د حق او باطل ترمینځ د وروستی پریکړی لپاره ناکراره شی ، که په خپله د الله تعالی جل جلاله ذات د خپل دعوت او دین د مصلحت لپاره له دوی نه داسی کوم کار اخلی نو هغه به سر ته ورسوی .

khanlibrary.org



خو دوی دی هیڅکله هم دا فکر نه کوی چې دا ګڼی زمونږ د ربړ ګاللو ، او سربندنو صله ده ، دا ځکه چې دا دنیا دار الجزا نه ده ، بلکه دار الامتحان ده ، دا به د الله جل جلاله د مشیت او پریکړی انفاذ وی چې د خپل دعوت او انتظام لپاره یې ټاکلی وی او د هغی د عملی کولو لپاره یې یو څو بندګان غـوره کړی وی ، چې د هغوی پـه واسطه خپل مشیت سـر ته ورسوی .

د دوی لپاره همدومره ویاړ ، او برم کافی دی چې د انتخاب په وخت کې قرعه د دوی په نامه راوتلی ده ، همدومره ویاړ ئی بس دی چې الله تعالی د خپل مشیت د سر ته رسولو لپاره دوی غوره او مامور کړل او د دغه ستر امانت د سپارلو جوګه یی وګڼل ، د دغه ویاړ او شرف سره په ټول کې د دنیا ژوند او د هغی هوساینی نعمتونه او مزی چرچې .... ټول سپک خیژی او د قیمت د پرتلی له مخی ډیر بی ارزښته او ناځیزه دی ، د دغه ویاړ او شرف د لاسته راوړلو لپاره په ژوند او د ژوند په ټولو لذتونو سودا کول په توره شپه کې هم ګټور او سود من کار دی .

## د مؤمنانو جګړه د ګروهی ده سیاسی جګړه نه ده

دلته یو بل حقیقت هم چې قرآن ورته د اصحاب الاخدود په پیښه کې د لاندینی آیت په ترڅ کې اشاره کړیده د غور او څیړنی وړ دی :

وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ

( او له هغوی نه یی په بل څه غچ او کسات نه دی اخیستی مګر په دی علت ، چې پر ستر الله جل جلاله یی ایمان راوړی و) .

دا یو داسی حقیقت دی چې په دی ارزی د حق لاری تلونکې او پلویان چې د نړۍ په هر ګوټ کې وی پری غور وکړی .

د مومنانو او د هغوی د مقابل لوری خلکو ترمینځ چې کومه جګړه روانه ده ، هغه په حقیقت کې د فکر او ګروهی جنګ دی ، له دی نه پرته بل هیڅ نوم دغه جنګ ته نشو ورکولای ، دغه مخالفین یوازی د مومنانو له ایمان سره دښمنی لری ، او د دوی د ټولو دښمنیو او غصی یوازینی لامل ( علت )

khanlibrary.org



هم هغه ګروهه ده ، چې مومنان یې په نور منور دی او د هماغی له امله یې تری کسات واخیسته .

دا جګړه هیڅکله هم سیاسی جګړه کیدای نشی او نه کومه اقتصادی او یا نژادی جګړه ده ، او که فرضا داسی وای نو ستونزی ئی په اسانی سره اوریدلای شوی ، خو دا جګړه د خپل روح او جوهر له مخی یوه سوچه فکری جګړه ده ، دلته متنازع فیه مسئله دا ده ، چې یا به د کفر توغ لوړ او رپانده وی او یا به دی ایمان ، یا به جاهلیت وی یا اسلام ! ...

ځکه د مشرکینو مشرانو د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته د سرو سپینو او حکومت پیشنهاد وکړ ، او ورته وی ویل چې د دنیا له سرو او سپینو نه چې هر څه ستا پکار وی ، مونږ به یې درته پیدا کړو ، خو د دی هر څه په بدل کې تاسو زمونږ یوه غوښتنه ومنی او هغه دا چې تاسو له مونږ سره د عقیدی له جګړې نه لاس واخلی او په دغه برخه کې له مونږ سره سودا وکړی .

او زمونږ په ګټه یو څه پکې ځای کړی !! که چیری د دوی دغو ښتنیو یو توک هم پوره شوی وای ، نا ممکنه وه ، نو د دوی ترمینځ به هیڅ جګړه نه وای پیښه شوی ، له دینه څرګنده شوه چې دا د کفر او ایمان مسئله ده او د دغی مسئلی اساس او بنسټ هم ګروهه ده ، نو له دی امله مومنان چې د نړۍ په هر ګوټ کې له دښمنانو سره مخامخ کیږی .

د دغه بنیادی حقیقت انځور ئی باید د ذهن پر صفحه نقش وی ، ځکه چې د دښمنانو د ټولی دښمنی او خفګان لامل ( سبب ) هم یوازی همدا عقیده ده ، چې " پر هغه الله جل جلاله ایمان لرل دی ، چې غالب او حمید دی " او یوازی د هماغه عبادت او بندګی کوی .

## د اسلام دښمنان دغی جګړې ته بله جامه ور اغوندی

د اسلام دښمنان هڅه کوی چې دغی جګړی ته له فکری او عقیدوی نوم نه پرته کوم بل نوم ورکړی ، غواړی دا ثابته کړی چې دا جګړه اقتصادي ، سیاسي او یا نژادی ارخونه لری او د همدغو ګټو د خوندی ساتلو لپاره سر ته رسیږی ، د دی لپاره چې د جګړی حقیقت او واقعیت د مسلمانانو له

khanlibrary.org



نظره پټ پاتې شی او د عقیدی د اور ، سری سکروټی د دوی په زړونو کې په ایرو بدلی شی .

مومنان باید په دی پوه شی چې دا یوه زیر کانه حیله او نیرنګ دی چې د یوه مخکینی جوړ شوی پلان له مخی پری عمل کیږی ، هغه څوک چې دغو جګړو ته بل نوم ورکوی ، هغه په حقیقت کې غواړی چې مومنان له هغی سیکالوجیکې وسلی نه بی برخی کړی ، چې د دوی د بری او سویی اصلی راز پکې پټ دی .

که څه هم دا کامیابی په هره بڼه وی ، د روحانی لوړتیا او ازادی په بڼه وی چې د اصحاب الاخدود په پیښه کې د مومنانو په برخه شوه ، یا د همدغی روحانی لوړتیا په برکت مادی سویه او بری وی ، چې د لومړی صدر مسلمانان پری سر لوړی شول .

د جګړی د موخی او شعار د مسخ کولو لپاره د نړی وال صهیونیزم له خوا پراخه هلی ځلی روانی دی ، هغوی غواړی چې د دغو جګړو د اهدافو په هکله خلک شکمن کړی ، هغوی د تاریخی حقایقو د مسخ کولو لپاره هلی ځلی کوی او وائی چې صلیبی جګړی په حقیقت کې یو مذهبی نقاب و ، چې د صلیب متجاوزینو د خپلو شومو بنکیلا کې ( استعماری ) اهدافو پر مخ غوړولی و .

خو نه داسی هیڅکله هم نده ، حقیقت دا دی چې استعمار له صلیبی جګړو نه وروسته پیدا شویدی ، او غواړی چې صلیبی روحیه د خپلو مقاصدو لپاره پکار واچوی ، ځکه دغه استعمار چې په دی وروسیتو کلونو کې یی د خاپسی په څیر د ختیځی نړۍ په چنغړک کې منګولی لګولی دی .

یوه پرده ده چې د صلیبی تیری کوونکو د مقاصدو او اهدافو پر مخ غوړیدلی ده ، ځکه لکه څنګه چې صلیبی روح په منځنیو پیړیو کې په څرګنده توګه کار کاوه ، هغه اوس په دی توګه بی نقابه میدان ته نشی راوتلای په بله وینا دا په حقیقت کې صلیبی جګړی نه وی چې تر شا یی استعمار پټ و .

khanlibrary.org



بلکه دا هغه جګړې وی او اوسنی استعمار هم هغه استعمار دی چې تر شا یی صلیبی اهداف پټ دی ، یعنی د اسلام له مینځه وړل ، د دغی ګروهی حقیقت د اسلام په هغو جګړو کې ښه ترا څرګند شویدی چې د ګنو اسلامی رهبرانو تر بولی ( قوماندې ) لاندی سر ته رسیدلی دی .

سره له دی چې هغوی په مختلفو ملیتونو پوری اړه لرله ، خو هغوی د جګړې په میدان کې خپل ملیتونه ، قومونه او ژبی هیری کړی وی ، یوازی یی د ګروهی او فکر ذ یو والی پر اساس جګړه کوله ، چې په هغوی کې د یادونی وړ او نومیالی اشخاص سلطان صلاح الدین ایوبی رحمه الله و د ممالیک د کورنی ، تورانشاه کردی دی .

چې ټول قومی ، نژادی ژبنی او سیمه ایز اختلافات یی شاته غورځولی وو او یوازی یی د ګروهی تر بیرغ لاندی جګړه کوله ، د همدغی ګروهی او ایمان په زور بری ته هم ورسیدل .

وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ [دبروج سورت ۸ آیت ]

بی له شکه د ستر الله جل جلاله فرمان حق او ریښتونی دی او دغه د رانده فکر او پمنی ګروهی خاوندان مکار، دروغجن ( فریبکار) او درواغجن دی .

سبحانک اللهم وبحمدک اشهدان لا اله الا انت استغفرک و اتوب الیک